شعري ټولګه

نسیم ستوری



# ویښ اند

# ویـــښ انــد

لدې نه مخکي شعري ټولګي

د سبا نسیم «۲۰۱۳» ع کال
بیدارذهـن «۲۰۱۱» ع کال
نوی ســوچ «۲۰۰۹» ع کال
پښتون نظر «۲۰۰۸» ع کال


ما ته فکرونه را ډالۍ کړي دي خو هیڅ نه وائـي
زما تصویر خبري نه کړي ګڼي ډیر څه وائـي

نسیم ستوری

# کتاب پېژندنه


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | ــــــــــ | ويـــښ انـد |
| شاعر | ــــــــــ | نسيم ستوری |
| خپرونکي | ــــــــــ | قامي ادبي ديره « جرمني» |
| د چاپ شمير | ــــــــــ | ۱۰۰۰ |
| چاپ کال | ــــــــــ | ۲۰۲۴ ع کال |
| چاپ زيار | ــــــــــ | بصير بيدار ستوری |
| چاپ ځای | ــــــــــ | القلم پرنټرز پېښور 0345-9024778 |

# ډالــــــــــی



د پـــوهــنـي د ډګـــر لـوی اتـل اروابښـاد
الـحـاج څـارنـــوال محـمـد نعـــیم تـــه

زړه ئـي پـه زړښــــت کـي چـې زلـمـی وو
دا هـــم د دســـتار هـغـه ســـری وو
ځکـه مـي کـتاب ورتـه ډالــی کړلو
خـاورو پـه ایـرو کـي لوی غـــمی وو

نسیم ستوری

# څارنوال محمد نعیم

نـر غـــــيرتـي يــار سـرې دې واخيـــستو
مـرګـه ! د دســــتار سـرې دې واخيـــستو

سخـــتـه کـې د غـــر غونــدې ولاړ بــه وو
مـرګـه ! ډيــر د کار سـرې دې واخيـــستو

اوس د ژونــد مـــدار راتــه خـالــې ښــکاري
مـرګـه ! ويــښ بــيدار سـرې دې واخيـــستو

دا مـــو د خپل کـــور د کاروان مـــشر وو
مـرګـه ! ګل ګلـــزار سـرې دې واخيـــستو

دې بانــدې ابـــاد زمـونـــږ ذهـــنـونـه وو
مـرګـه ! ښه هوښـيار سـرې دې واخيـــستو

زړه کـې د نسیـم سـتوري بــه وي هـــميش
مـرګـه ! خـدمتـــګار سـرې دې واخيـــستو

# لنډي درني کرښي

## د چاپ شوو شعري ټولګیو د سریزو څخه

نسیم ستوری د لوی پښتون ارواښاد ډاکتر کبیر ستوري له رڼا رنګ اخیستی او د همغه ارواښاد ستوري  د زړه آواز دی، دا ستوری که له یوې خوا له خپل شاعرانه فطرت نه مجوره دی چې د شعر پلوشې وشیندي له بلې خوا دا رڼایی او غورځنګي ژبه پښتو شرنګول او ترانه کول په میراث هم ورته رسیدلي دی.

پیر محمد کاروان

شعري ټولګه : «د سبا نسیم»

چاپ کال : ۲۰۱۳ ع کال

چاپ ځای :ضیاء سنټر پرنټر پېښور

خپرونکې د پښتونخوا د پوهنې دیره پېښور

☆ ☆ ☆

ډیر ګران او بې کچه مهربان ملګری ښاغلی نسیم ستوری داسي شخصیت دی چې د خپل محترم پلار ارواښاد دوکتور کبیر ستوري د سیوري لاندې رالوئي شوی دی. نو

په دې اساس نسیم ستوری د یو ښه تمرین او ریاضت د مرحلو څخه راتیر شوی او اوس د باعمله قامي مبارزینو په شکل کې د خپل عملي جدجهد او پلار مشفق تربیب له کبله په پښتو ټولنه کې خپل نوم او څهره راڅرګندوي.
نسیم ستوری د خپل پلار په‌نقش روان‌دی او د پښتو ژبې ، خاورې او لوئې پښتونخوا د جوړښت، یووالي، اتفاق، پرمختګ ، خوشحالۍ او سوکالۍ د پاره عملي او قلمي مبارزه کوي.

فیروزافریدی
شعري ټولګه : «د سبا نسیم»
چاپ کال: ۲۰۱۳ ع کال
چاپ ځای: ضیاء سنټر پرنټر پېښور
خپرونکې د پښتونخوا د پوهنې دیره پېښور

☆ ☆ ☆

نسیم ستوري چې د یو زیرک او بیدار ذهن خاوند دی. که څو ئې د خپلو تودو او ځوانو جذبو په‌اساس د رومانیت رنګونه خپل کړي دي خو د شعر بنیادي محور ئې د خپل بابا اروابناد ډاکټر کبیر ستوري پیغام خلقو ته رسول دي دغه پیغام د پښتون قام‌یووالي پیغام‌دی، دغه پیغام‌د پښتنو د

ځان پيژندني پيغام دی ، يو داسي پيغام چې وختونه ئې نشي وژلی.

لایق زاده لایق
شعري ټولګه : «بیدار ذهن»
چاپ کال: ۲۰۱۱ ع کال
چاپ ځای:ضیاء سنټر پرنټر پېښور
خپرونکې د پښتونخوا د پوهنې دیره پېښور

☆ ☆ ☆

د نسيم ستوري د نوم سره سم راته يو شعر رايادېږي چې:

راغلي ستوري ئې په زمکه تماشي ته ناست وو
اسمان ته تلي کلي والې شين خالې ګډېږي

د نسيم ستوري خيالونه زمونږ د دردونو نه پيدا دي زمونږ دردونه د هغه د خپلو دردونو تصوير دی نسيم د ميني شاعر دی، نسيم زما او ستا شاعر دی،نسيم د نن شاعر دی ، نسيم د سبا شاعر دی، نسيم ستوری زمونږ دادبي دنيا د زمکې خلقو ته راکوز شوی هغه ستوری دی چې د ډاکتر کبير ستوري د اسمان نه هغه مونږ ته راليږلی دی. او زمونږ د ادبي رشتې او ادبي دنيا يو با وقاره غړی ، ملګری او دوست سړی دی. دده په قلم دې برکت وي، دده خيالونه دې هم دغسې تازه وي ،دده افکار دې زمونږ د شريکو دردونو تصويرونه وي ،

او دده فعالیتونه دې زمونږ د ژوند د ترخو ساعتونو ملګري وي ، د شاعر په قول:

ای د ګلو څانګې ستا ځوانۍ دې تل رنګینه وي
ما غوندې ډېر سرې به ئې سیورې ته دمې کوي

رحمت شاه ساحل

شعري ټولګه : «بیدار ذهن»
چاپ کال : ۲۰۱۱ ع کال
چاپ ځای :ضیاء سنټر پرنټر پېښور
خپرونکې د پښتونخوا د پوهنې دیره پېښور

☆ ☆ ☆

څو کاله وړاندې چې د پښتونخوا د نومورې مبارز لیکوال خدای بخښلي کبیر ستورې په کورنۍ کې کوم « نسیم » د قلم سره د خپلې مینې په تړون د کومو ورېمو د خپرولو ابتدا کړې وه نن په هغه ورېمو کې زیات وزن ښکاري کوم چې دا دې خبرې ثبوت دی چې ..... د نسیم ستورې د لا شعور اواز..... د قام او ولس په جذبو پوهه دی .

لایق زاده لایق

شعري ټولګه : «نوی سوچ»
چاپ کال : ۲۰۰۹ ع کال
چاپ ځای :ضیاء سنټر پرنټر پېښور
خپرونکې د پښتونخوا د پوهنې دیره پېښور

☆★☆

ښاغلی نسیم ستوری زما د یار ډاکتر کبیر ستوري د انګړ ستوری دی ، د خپل اروابښاد پلار په رنګ د خپل اسمان د پلوشو نه د خپلې خاورې د وږمو نه او د خپل قام د ساندو او نغمو نه خپله شاعري توانوي د خپلې پښتنې مینې منزل ته درسیدو د پاره د کوقاف د یوانو سره نوکې په شوکې دی ځن تر دې چې ددې مینې د لار هر دیوال په خپل سر نړول غواړي .

**اباسین یوسفزی**

شعري ټولګه : «نوی سوچ»

چاپ کال : ۲۰۰۹ ع کال

چاپ ځای :ضیاء سنټر پرنټر پېښور

خپرونکې د پښتونخوا د پوهنې دیره پېښور

☆★☆

نسیم خان ستوری د شاعرۍ په ژبه د پښتون قام د درد او محرومیانو خبره کولی شي.د هغه په شاعرۍ کې رواني شته ، نو موسیقیت هم شته ،که مشاهده لرې نو د مطالعې اثر هم لرې هغه کې د بې ساخنګۍ هم ګڼ مثالونه شته د زلمي شاعر نسیم خان ستوري شاعري په دریو برخو وېشلی شو .

اول : د ژوند خبري

دويم : د قام خبري

دريم : د مينې د جذبو خبري

نسيم خان د پښتون ننګيال پلار زوی دی چاچې هميش د پښتون قامي وحدت خبره کړې ده چا چې د لرو بر د فاصلو د ختمولو لپاره خپل اواز هر چيرته رسولی وو ښاغلی نسيم خان ستوری په خپله شاعری کې دغه پېغام په وړاندي بوځي.

لايق زاده لايق

شعري ټولګه: «پښتون نظر»

چاپ کال: ۲۰۰۸ ع کال

چاپ ځای: دانش خپرندوني ټولنې تخنيکي څانګه- پېښور

خپرونکې د پښتونخوا د پوهنې ديره پېښور

# ویښ اند

په‌شلمه پیړۍ کې د پښتو د شاعرۍ لمن دومره پراخه او خوره شوه... چې له‌ژوند د هر اړخ نه ئې رنګونه راټول کړل او هغه ټول موضوعات ئې په خپله لمنه‌کې له ځانه سره داسې راوانغاړل چې د پښتو شاعر ئې په دې خبره مجبوره کړو چې که‌هغه‌غواړي چې ځان له په پښتنه ټولنه کې یو ځای پیدا کړي نو هغه به ارومرو دغه موضوعات د خپلې شاعرۍ برخه ګرځوي او د ګل او بلبل سترګو او شونډو چینو او چینارونو سره سره به په خپله شاعرۍ کې د خپلې خاورې جغرافیائي پیښې سیاسي او سماجي ستونزې قامي او کلتوري غوښتنې او تاریخي واقیعاتي حقیقتونو له به په خپله شاعرۍ کې ځای ګوري.
او دا ټولې موضوګانې به په شاعرانه خوږه پسته ژبه د اولس زړه ته‌کوزوي.
او خپل اولس به‌ګوته نیولې له‌خپل فکر سره‌تړلې بیائې هم‌دغه‌د نن‌وخت‌د شاعر ځانګړتیا ده چې شاعر له‌په‌خپله ټولنه‌کې یو ځانګړې‌لاره او ځانګړې مقام‌ورکوي.
او د شاعر دغه کارد پخوا په نسبت د نن شاعر د سوشل میډیا اسان‌کړې‌دی پکار ده چې شاعر ددغې لارې څخه

ګټې ترلاسه کړي او خپلې شاعري په زړه پوري توريو او خوږو زمزمو سره ورته په خپل چاپيرچل کې د راپيښې ستونزي او کشالې هم ورپه ګوته کړي.
چې لوستونکي د ژوند د خوږو احساس سره سره هغه تراخه هم محسوس کړي کوم چې زمونږ د ټولني زمکني حقيقيتونه دي او هم دغه احساسات دي چې انسان په خپله ټولنه کې د راپيښو ستونزو هوارولو ته هڅوي او د دغي په رڼا کې خپل ژوند اوخپل اينده له يوه سپيڅلي د ګټې لاره پيدا کوي. د پښتنو لپاره يو نيک فال دغه دی چې د اولس د بيداري په هلو ځلو کې د پښتو ژبې ځلمي شاعران هم په هيڅ ډول له چانه روستو نه دي او د وخت سره اوږه په اوږه روان د خپلي ټولني په وداني کې خپله ونډه ښه په خلاص سره اچوي او مخ په وړاندي روان دي... او په خپله ټولنه کې ئې خپله دغه ځانګړتيا او ځانګړي اسلوب ټينګ ساتلي دي او ځان د خپل پښتون فکر په زور د خپل مينه والو زړه ته رسولي دي.. او په ټولنه کې ئې په عملي توکه ځان له يو جوت مقام پيدا کړی دی.
په دغه ځلمو کې يو نوم د ښاغلي ستوري هم دی.
ښاغلی نسيم ستوری يوي داسې ادبي کورنۍ کې زيږيدلی دی که زه اووام چې هغه ته پښتون فکر په بوتې کې ورکړي

شوی دی نو غلط به نه یم..ولې چې نسیم ستوری د هغه عظیم انسان‌نر پښتون ښه شاعر او عملی مبارز اروانباد ډاکتر کبیر ستوري صیب ځوی دی.
د کبیر ستوري د پښتنو او د پښتو لپاره خدمتونه له چا نه پټ نه دي هغه‌د پښتنو د حقونه یو نر مبارز وو چې تل ئې د پښتو او د پښتنو خبره ښه په‌داګه او ښه ښکاره کړي ده.
او که زه‌دلته دا اوایم چې مونږه پښتون له په‌کومو تورو سره نسبت‌ورکوو .. لکه پت ، ښیګړه ، توره ، وفا ، او ننګ ..نو چې په دغه ټولو صیفتونو پوره کبیر ستوری صیب وو..په‌ګور ئې نور.ښه‌زما غوندي ډیر شاعران ئې خپل روحاني استاد مني ـ
او که د نسیم ستوري د شاعري یو خپل اسلوب او ځانګړتیا ده.
خو د یو دومره عظیم پلار په‌سیوري کې د تربیه شوي نسیم ستوری په‌شاعری‌به‌ارو مرو د خپل پلار اثر خو وې او هغه په‌خپله هم ددې پخوالي او اعتراف په خپل دې شعر کې کوي او وائې چې.

د محبـت د امـیـدونـو د سـپرلـي رنـګـونـو
هو زما په شعر باندې د ستوري هم تاثیر پروت دی

ښاغلی نسیم ستوری د خپل پلار په قدم قدم ږدي او مخ په وړاندي د پښتنو د قافلئ سره روان دی.
دا ساعت زما مخي ته د نسیم ستوري د شعري ټولګي مسوده پرته ده څو واري مي ولوستله خو ماته چرته هم داسي محسوسه نه شوه چي دغه ځلمی چرته په خارج کي وخت تیر کړی دی څو که د هغه زیات ژوند په المان کي تیر دی.
خو خپله د شاعری ژبه دومره پاکه سوچه او اسانه ساتلي ده چي هر پښتون پري ښه په اسانه سره پوهیږي ځکه د پښتنو د پلارګنی ټاټوبی نه لري دی خو خپل فکر د ژوند تیرولو لپاره په خپله پښتنه خاوره پرېښي دی او په روحاني توګه هغه خپل ټول ژوند په پښتنه خاوره په پښتنه ټولنه کي تیر کړی دی او په دغه ډول ئې په شعر کي هم خپلو پښتنو له دا باور ورکړی دی چي زه د وجوده سخت یم او ستاسو اندام یم ستاسو په خوشحالی خوشحاله او په غم مو غمژن یم او هم دغه د یو ښه شاعر صیفت دی چي ځان د خپل ولس سره په نفسیاتي توګه تړلی وساتي او دا هرڅه هغه داسي په خوږه لهجه کي ویلي دي چي ښه په اسانه د اوریدونکي زړه ته کوزیږي د شاعري فني جوړښت یې زړه راښکونکی دی.

شاعري ئې په روزمره محاورو تشبیهاتو او کنایو ښایسته کړې ده او دغه ټول مزل ئې د خپلو پښتني روایاتو قدرونو او کولتور په چوکاټ کې دننه دننه کړی دي او ددغي نظرئي په رڼا کې ئې خپله خبره ښه په جار کړې ده.
د لفظونو پانګه ئې راټوله کړې ده او په خوږه ژبه ئې د خپل تاریخ د خاطرو په سویري کې د پښتنو د حجرو.. جرګو مرکو.. د مباحثو څخه استفاده کړې ده او ورسره ورسره ئې د پښتني ټولني د دود دستور او روایاتو هم خیال ساتلی دی.
زه به دا اووایم چې د ښاغلي نسیم ستوري شاعري بس مینه ده رورولي ده پښتونولي ده امن حسن او صداقت دي او دا هر څه هغه په خپله شاعرۍ کې په داسی هنر ځائی کړي دي چې د یوي غنچي ګمان وربانديې کیږي د هغه په اند دغه هر څه ژوند دی ژواک دی او د ژوند د تیرولو اسلوب او طریقه ده چې نسیم ستوري ورله د «ویښ اند» نوم ورکړی دی.

چې دستورو او سپوږمۍ په رڼا ګرځي
پدې زمکه پاس اسمان درسره واخله
چې ډګر د پوهي لا پسې رنګین شي
د قلم کتاب یاران درسره واخله

ښاغلی نسیم ستوری داسې یو فطرتي شاعردی ... چې لکه د بنجاري د ښایستونو پنډ په سر د پښتنو په کوڅو کې ګرځی او چغي وهي او غواړي چې خپل ټول صلاحیتونه له له دې پښتنو نه قربان کړي او په دغه لټون کې روان او خپل دغه لټون ئې هم له چا نه پټ کړی نه دی او ښه په میدان وائي چې.

ما خو پسي ټوله دنیا چانړ کړله
دلته حقیقت رانه ورک شوی دی
خپلو پسې نه ځمه پـردي پالـم
ګوره چې غیرت رانه ورک شوی دی

دا هر څه چې هغه کوي نو دې خپل وطن.. خپلي خاوري او خپل ولس له ئې کوي یو احساس دی چې د هغه دغه دننه شاعرئې ناقراره کړی دی چې وائي.

د ژوند احساس د سایل څنګ کې لیونی پروت دی
د وطن غیږه کې ملګرو مـړ سړی پروت دی
تل چې د امن او د سولي طرفـداره به وو
د وخت په پوله نن ویده هغه سړی پروت دی

هغه که پښتون ځلمی له غږ ورکوي نو هم د سولي او امن ورکوي او غواړي چې ځلمی د جنګ او شر څخه راوګرځوي او د امن په رڼا کې ورته د يو روښانه صباوون لاره سمه کړي او هم دغسي ډیر مثالونه دي چې د نسیم ستوري په شاعرۍ کې ځای په ځای بريښي ځو نور شعرونه د بيلا بيلو کلمونو څخه رانقل کوم په دې هيله چې لوستونکي به زما د غږ سره هم غږي شي .

راشــه وګـــوره ارمـــان نـيـمـګـړی پـاتــي
پــه دې زمکـه يو وجــود پـرهـر پـرهـر دی

☆☆☆

ستـا ټـوټـي تصويـر مـې زړه پـوري نيولی
پــه ژړا يــم پـــه خـنـدا مـې کـــړه جـانـانـه

☆☆☆

ماته مالوم دي چې د وخت لمني سري سکروټي
غږ ئې په ستوني کې نښتی بريالی به راشې

☆☆☆

داسـي خـو نـه ده ليـونـی خـو نـه يـم
چــې خـپـل پـردی او پــردی خپل اوګنم
د نــيـمـي لاري ستـنـيـدی خـو نـه شـــم
دا نـيـــمـه لاره ځـــنـګ مـنـزل اوګـنم

داسې ښکاري چې ښاغلی نسیم ستوري یو نه ستړې کیدونکي او نه جاروتونکي مبارزدی..چې په یوه لاره د تګ اراده وکړي نو بیا تر اخره هم په هغه لاره روان وي چې تر څو خپل مرام ته رسیدلي نه وي..د یو شاعر په حیث د هغه دغه مرام هیلي دی ارمانونه دي سوله ده امن او خوشحالي او سوکالي ده ملي کتي او ترقي او انسانیت خیر او بقا ده او هم دغه د نن وخت د هر انسان غوښتني دي او د هر انسان ورته اړتیا هم ده.

لاس په دعا یم الهه تعالی دې ښاغلی نسیم ستوری له ډیر ژوند او روغ وجود ورکړي.. چې خپل دغه ټول ارمانونه او هیلي په خپله پښتنه خاوره په عملي توګه اووینې او هم دغه احساسات د اراوښاد ډاکتر کبیر ستوري هم وو..

الله پاک دې د پښتون په وطن سوله ، امن او خوشحالي راولي چې پښتانه هم لکه د نړۍ د مخ په وړاندي تللو اولسونو غوندي په خپله خاوره د خوشحالۍ او سوکالۍ ژوند وکړي ... امین

په درناوي

خالد خان حسرت

عمومي سکتر

د اماراتو پښتو ادبي ټولنه متحده عرب امارات

# د نسیم ستوري پنځمه ګل قوده ویښ آند

تا چې ایرې راغونډې ولې ما ویل سکور دی پکـې
تا ویـلـې نه ، زما زخمونو ته ټکـور دی پکـې
د ارمانـونـو ستړې ستړې او نیمګـړې خوبـې
څیړنه وکړې چې بل شوی ځنګه اور دی پکـې
د قسمت سترګي د ثواب خاپونـه ولـي ورانـي
دا چې ګناه ته ئې جوړ کړی وو پیغور دی پکـې
هر سړی ځان تـه د دستار سـړی پخپله وائـې
په دې خبره اوس راغلی شـر او شـور دی پکـې
(نسیم ستوري)

د شاعرۍ زمکه د حساب ده دلته دم او قدم دواړه په حساب دي. بلکې دلته به په قدم قدم حساب ورکوې او کوم شاعر چې څومره د شعري قانون لاندې ښه حساب ورکوي هومره ښه ستر پیاوړې او تکړه شاعر وي.

که ستاسو د نظر نه د نسیم ستوري شعري ټولګې یا د (ویښ اند ) نه مخکې چاپ شوي د شاعـرۍ کتابونه « پښتون نظر ، نوې سوچ ، بیدار ذهـن او د ، سبا نسیم»

تیر شوې وي نو تاسو ته به معلومه وي چې نسیم ستوري د لفظونو جادوګر نه دې چې ردیف او قافیه ئې برابره کړې ده او بې مقصده شعرونه ئې لیک کړي دي.
د نسیم ستوري تیر څلور د شاعرۍ چاپ کتابونه او دا اوس ستاسو په لاسونو کې شعري ټولګه (ویښ اند ) مونږ ته دا احساس راکوي چې د نسیم ستوري د قلم څوکه څلورویشت ساعته د پښتون قام په نبض پرته وي او هم دغه وجه ده چې نسیم ستوري کله خپل په څلور ټوټې ویش قام ته د اتفاق و اتحاد تړون او پیوستون او یووالي په خاطر د خپل ګل ګل هیواد دنګ دنګ شنه غرونه ستایي اؤ کله په دغه غرونو ولاړې ننښترې او ګور ګورې کله ورته د خپل هیواد ښایستونه او ښکلا ګانې زمزمه کوي اؤ کله ورته د پښتنو پیغلو سپورې څنې او کله تار تار لوپټې ژاړي کله ورته د خپل پلار نیکه ننګونه رایاده وي او کله د دوي په نفاق اوښکې څڅوي په دې خاطر چې د خپل قام اؤ ولس دا ویدۀ ضمیرونه راویښ کړي.
نسیم ستوري یو مقصد اؤ منشأ لري او هغه دا چې که په مینت وي او که په زارۍ که په زور وي او که په پیغور خو چې پښتون قام راویښ کړي اؤ هډیالې قام هغه مقام ته ورسوي کوم مقام چې په نړۍ کې د دوي د پلار نیکه وو

د شاعرۍ په حقله ما ته اروابناد اجمل خټک بابا ویل شبیر
جانه شاعري الهام دې دا خو مونږه په داسې خلکو کې ژوند
کوو که چرې مونږ دا خبره ښکاره کړله چې شاعري الهام دې
نو دغه ناپوهه خلک ترینه نعوذبالله وحي مقصد اخلي ګنې
بچیه تا کله په دې خبره سوچ کړې چې یو انسان په خپله
مورنۍ ژبه کې پي ایچ ډي وکړي ډاکټر جوړ شي ولې چې
په هغه الهام نه کیږي نو د یو شعر لیکلو طاقت نه لري ولې
بل اړخ ته یو انسان د مکتب یا مدرسې مخ نه وي لیدلې
خپل نوم نه شي لیک کولې او نه یوازې دا چې شعرونه
لیکي بلکې په شعرونو کې ئې دومره فلسفه پراته وي چې
انساني عقل ورته حیران شي او د اروابناد اجمل خټک بابا
د دې پورتنیۍ لیک خبرې لپاره لرې نه ځو هم دلته وخت
که مونږ د اروابناد ملنګ جان په تعلیم او شاعرۍ نظر
واچوو نو مونږ ته به ډیره په اسانه معلومه شي چې شاعري
الهام دې. نه په عقل او زور ده او نه په تعلیم او پوهنه، ولې
دلته د یوې خبرې وضاحت ضروري ګنړم او هغه دا چې هر
انسان یو خپل فطرت لري زمونږ په دا پښتنه منطقه
د شاعرۍ سره یوه خبره تړلې ده او هغه دا چې د شاعر په
حقله عام ولس دا سوچ لري چې یو انسان د عشق په تنور

لمبه شي نو د دۀ د سوي وجود نه پورته سپرغۍ په شعرونو بدلې شي او د عام ولس دا خبره سل فیصده ټیک هم ده .
د شاعر په حقله جبران خلیل جبران چې ټول دنیا کې د خپل پلار بابا خلیل جبران په نوم شهرت لري وائي چې د شاعر مثال د هغه بادشاه دې کوم چې د خپل سوزیدلي محل اؤ تحت و تاج د ایرو په ټوپکي ناست دې او د دغه خپل سوزیدلي محل اؤ تحت و تاج د ایرو نه رنګ رنګ شکلونه جوړي د کومو نه چې عام ولس خوندونه او مزې اخلي ولې زمونږ په پښتنه منطقه چې کله د شاعرانو څخه دا پوښتنه وشي چې ته عاشق وې څکه شاعر شولې ؟
نو هغه شاعران چې د عشق په فلسفه پوهه دي هغوي وائي هو او هغه شاعران چې د عشق د فلسفې نا خبره دي هغوي د دې سؤال جواب به منفي ورکوي .
ولې یوه خبره یاد ساتې چې هر شاعر عاشق وي دا کوم چې په نا کې جواب کوي دوي ته عشق صرف د ښځینه سره د مینې نوم ښکاریږي په دغه فلسفه دوي په منفي جواب کوي ولې عشق قسمونه لري د وحدانیت یا روښانیت سره عشق د قومیت سره عشق د انسانیت سره عشق اؤ د نزاکت سره عشق ، ولې مونږ عشق صرف په نزاکتونو پسې تړلې دې حالانکې د تصوف خپل رنګونه رنړاګانې او ښکلا

ګاڼي دي د قوميت خاورې او ژبې سره عشق او مينه يوه خپله نشه خمار او سرورو لري.
او د انسانيت سره محبت ځانله يو مذهب منطق او فلسفه ده هغه منطق او فلسفه چې په ټولو مسلکونو بريا لري.
اوس څرنګې چې ما مخکې ليک کړل چې هر انسان د الهام وروسته يو خپل فطرت لري او د هغه فطرت لاندې بيا شاعري کوي. د مثال په توګه څوک لکه د اکمل ليوني پشان په طنز و مزاخ شعرونه ليک کوي څوک لکه د غني خان بابا پشان په حسن او جمال شعرونه ليک کوي ، څوک لکه د رحمان بابا په شان د تصوف لاره خپله کړې او څوک لکه د ستر ختک خوشحال خان بابا ، اجمل ختک بابا ، محمد امين ملنګ جان ، او ډاکټر کبير ستوري پشان د قوميت عاشقان شي.
ولې عاشقی کې دا درې واړه لارې خپلو کې يو دي او بيا په دې دريو واړو لارو تګ کونکو کې يوه خبره مشترکه هم ده او هغه دا چې دوي قدم د مجاز نه اخلي هغه د وحدانيت يا روښانيت شاعر دې او که د انسانيت قاميت يا نزاکت بله دا چې د تصوف شاعران حسن و جمال او د قوميت په پله راځي او د قوميت انسانيت او نزاکتونو شعرونه ليکونکي د مجاز نه حقيقت پله ځي ولې ټولګې لاره د ټولو

ځان ځاني وي که ستاسو د اجمل خټک بابا . لیوني فلسفي غني بابا . پوهاند عبدالروف بېنوا صیب. ملنګ جان او ډاکټر کبیر ستوري شعرونه وګورې نو دغلته به تاسو ته په اسانـتیا څخه اندازه وشي چې د دوي شعرونه د ګلونو یوه داسې ګلدسته ده کوم چې د غـاټول. ډمبر ګل. لونګ. کشمالو رامبیل. لالا. ګلاب او ریـدي مطلب هر رنګ او قیسم ګلونه لري مقصد مې دا دي چې د دوي په شعرونو کې تصوف. انسانیت. روښانیت. نزاکت او قومیت مطلب ټول موضوعات شامله دي. ولې څنګه چې ما مخکې ذکر کړې دي چې هر شاعر یو خپل فطرت لري نو د دوي فطرتي مینه د خپلې ژبې خاؤرې او قام څخه ده نو د دوي په شعرونو د قومیت رنګ غلبه دې که دوي د ښایستونو اؤ ښکلا ګانو ذکر کوي نو هم د خپل قام او ژبې ښایستونه اؤ ښکلا ګانې ستایي او که د دین پرستۍ خبره کوي نو هم ئې په أول صف کې خپل قام ودرولې دي او که د انسانیت ذکر کوي نو هم پښتون د انسانیت پیغمبر یاده وي .

په شاعر خپل ماحول معاشره او چاپیریال ډیر اثر غورځوي او د نسیم ستوري دا خوش بختي ده چې په یوه داسې علمي او ادبي کورنۍ کې ئې سترګې غړولي دي چرته

چې قـامـپرستي او د خپلې خاروې او ژبې سره مینـه پـه غورځنګونو وه. زمونږ پښتنو یا افغانانو ړومبنې جومات مکتب یا مدرسه هم د خپلې مور جانې غیږه وي مونږ چې کله په ښونځي یا مدرسه کې تعلیم ته کینو نو پنځه کلیمې لمونځ شمیره قایده او د ښه اؤ بد تمیز مونږ د مور جانې په غیږه کې زده کړي وي.

مطلب مور جانه زمونږ د پښتنو یا افغانانو ړومبنې استاذه او پلار جان ړومبنې رهبر یا لارښود وي زموږ پښتنو زیات وخت د مور جانې په ځائې د پلار بابا سره وي او لازم خبره ده چې پلار جان د اولادونو لپاره په مثال د یو ائیډیل هیرو وي او هم په دغه فلسفه په مونږ کې د ښه اؤ بد عادتونو سره سره مینه اؤ نفرت د پلار جان نه په وراثت کې راځې هم په دغه فلسفه نسیم ستوري لیکي چې.

زه په پښتو یمه ښاغلی ضرورت نه لرم
ما هم منزل ځان ته ټاکلی ضرورت نه لرم
د بل د امر لاندې ژوند نه کړم پښتون یمه زه
ما مې د پلار فکر خپل کړی ضرورت نه لرم

نسیم ستوري د هغه قامپاله او قامپرست پلار جان اروا ښاد ډاکټر کبیر ستوري زوې دې د کوم د ننګ غیرت قامپرستۍ او پښتونولې جنډې چې د آمو تر اټک جګې

ولاړې دي د نسیم ستوري پلار بابا نه یوازې دا چې په بره پښتونخوا د پښتنو د اتفاق و اتحاد ترون او پیوستون لپاره سختې او تکلیفو نه تیر کړي دي بلکې په کوزه پښتونخوا کې ئې هم په بندي خانو کې د ښپو خاپونه پراته دي او وا ښاد ډاکټر کبیر ستوري د پښتنو د اتفاق و اتحاد لپاره په کوزه پښتونخوا هم زولنې اؤ زنځیرونه خپلو لاسونو ته بنګړي کړي دي.

او هم دغه وراثتي قامي مینه ده چې که نسیم ستوري په خپل تخیل د خپل جانان ښځه هم ناست دې نو که هر څومره لوبې د خپل جانان د زلفو سره کوي خو د شعرونو په ژبه ورته قیصه د خپل زېلي قام او خاؤرې کوي.

د مثال په توګه د نسیم ستوري دا شعرونه،

دنګ چینارونه پدې کلي کې کاږه ولاړ دي
لیونۍ مخ مه پټوه دلته ړانده ولاړ دي
زما او ستا خبري نه اوري ورته مه ګوره ته
یو خو هم نه دی دلته ټول هغه کاڼه ولاړ دي
دا حقیقت دی چې درمل د مئین زړونو نه شته
بیا هم عبس د هر یو کس دلته بانه ولاړ دي
بل ته چې ګوته نیسې ځان ته ئې لا فکر نه دی
اوبو کې ډوب دي او د سر پورې لامده ولاړ دي

د نسیم ستوري یوه بله خوش نصیبي دا ده چې په ګوته کوم او هغه دا چې د ارواښاد ډاکټر کبیر ستوري څـرنګې د بـره پښتونخوا د ټولو قامپاله او په خپله خاوره او ولـس مئینانو لیکوالانو او سیاست مدارو سره ناسته ولاړه او ملګرتیا وه هم دغه رنګې ئې د کوزې پښتونخوا میړنـو قامپرستو سره مینه محبت او ملګرتیا وه د مثال په توګه د فخر افغان باچا خان بابا سره د خان شهید عبدالصمد خان اچکزي بابا سره د خان عبدالولي خان بابا سره د خان لالا محمد افضل خان لالا سره د ارواښاد اجمل ختک بابا سره د محمود خان اچکري کاکا سره د عبدالرحیم مندوخیل کاکا سره د لیوني فلسفي غني خان بابا سره د پي ټي ایم د وکیل او لیبر پارټۍ د صدر شهاب ختک پلار بابا ډاکټر فضل دین ختک بابا سره د پروفیسر جهانزیب نیاز بابا سره او داسې په زرګونو لیکوالانو او سیاست مدارانو سره که زه ئې دلته نومونه لیک کول شروع کړم نو خبره رانه غزیږي خو لنډه دا چې د شلمې پېړۍ داسې قامپاله یا قامپرست شاعر یا سیاست مدار نشته د کوم له دعا چې به نسیم ستوري محرومه پاتې شوې وي نسیم ستوري هغه خوش نصیب انسان دې چې د پورتنیو لیک شاعرانو او سیاستوالو سره سره ئې نه یوازې دا چې په محفلونو کې

ناسته کړې ده بلکې د دې قامپاله میړنو مینه او دعاګانې
ئې هم اخستې دي ځکه خو نسیم ستوري وائي چې،
د پښتو په مینه مست دي د پښتون بچي ښاغلي
دا زما د پلار ملګري اوس زما دي هم ملګري
دوی په ما د حده ګران دي زه په دوي باندې ډیر ګران یم
زما ویاړ زما مشران دي هم همځولي ښکلي ښکلي
(نسیم ستوري)
که تاسو د نسیم ستوري په شاعرۍ سوچ وکړو نو د نسیم
ستوري شاعري د هغه په عمر ډیره پخه او کوټلې ده او د
هغې وجه هم دا ده چې نسیم ستوري تل پیاوړو لیکوالانو
او قامپرستو سیاستوالو سره ناسته کړې ده پښتانه مشران
وائي انسان د صحبت نه اثر اخلي مونږ پښتانه دا عادت لرو
چې خپل کشران د خپلو محفلونو حجرو او یارانو دوستانو
نه اکثره لرې ساتو هم دغه وجه وي چې د اکثرو پښتنو
پلرونه د یو منشور او نظرې لاندې ژوند کوي او اولادونه
ئې په بله لاره تګ کوي ولې اروابناد ډاکټر کبیر ستوري یو
عادت درلود چې خپل زامن به ئې لکه د خپلو یارانو د ځان
سره ګرځولو اؤ دغه عادت ډاکټر کبیر ستوري ته دا فائده
ورکړله چې قامي خدمتونه ئې لکه د صدقه جاریه روان په
روان پاتې شول کومه مینه چې اروابناد ډاکټر کبیر ستوري

د پښتني خاوړې او ولس سره لرله هم هغه مینه ئې د اولاد په سینه کې پراته ده کومه مبارزه چې ارواښاد ډاکټر کبیر ستوري د پښتنو د ټرون پیوستون اتفاق او اتحاد لپاره کوله هم هغه مبارزه نن د ارواښاد ډاکټر کبیر ستوري اولاد کوي که ډاکټر کبیر ستوري د پښتو پښتون اؤ پښتونولۍ د غرور شمشاد وو نو اولاد ئې د دغه شمشاد ګلان دي کوم چې د پښتنو د مبارزې ګلشن په خپل ښایست رنګینه کړې دې

مــلا نـــشـــتـه مـقــتـــدي مـلا امـام دی
دا چې تـل بـه وو کامیاب نن خو نـاکام دی
دار پـه سـر مـې خـیـژوي سـتـرګـي تـړلـي
زمـا سـر بـانـدې اخـیـستـی چـا انـعـام دی
پـښـتـو سـتـا پـه سـر سـودا کـوي زوریـږم
بـل څـوک نـه دی دا وګـړی مـې د قـام دی
ټـول لـوبغـاړي پـښـتـانـه ، د پـردۍ لـوبـه
زمـونـږ خـاوره کـې د جـنـګ نـړیـوال جام دی
نـور ټـوپـک پـر ځـای قلم او کـتـاب واخلۍ
دا پـیـغـام مـې پـښـتـنـو تـه خـاص او عـام دی
بـې اتـفـاقـه نـظـرئـي دي نسیمه سـتـوریـه
څـڅـیـدلـی د پـښـتـون ولـس مـې بـام دی

پښتو او پښتانه دا وخت د ډېر نازک دور څخه تیریږي پردي ځلویښت کلن جنګ پښتو او پښتانه برباد کړل په دې تیرو ځلویښتو کلونو کې په دې پردي جنګ زمونږ څه د پاسه دیرش لکه پښتانه د بارودو په تنور لمبه شول او له لړې پیل ده.
که مونږ په دې تیرو ځلویښتو کلونو نظر واچوو نو که بې عرضه کومو خلکو د دې پردي جنګ نه د پښتنو د ویستلو کوششونه کړي دي نو هغه شاعران دي او په دغه شاعرانو کې زلمي نسیم ستوري هم شمیر دې اللّٰه ج د شعوري چینې هم دغه رنګې تاندې لري امین

شبیر دراني
صدر غني خان پښتو ادبي تحقیقي ثقافتي جرګه
خیبر پښتونخوا
کوزه پښتونخوا پیښور

# نعت

د تـیـارو پـر مـخ رڼـا ئـې مـحمد رسول الله
د نـادان ذهـن ښـکلا ئـې محـمـد رسـول الله
تـه اسـتـازی د سـبحان ئـې
تـه سـردار ددي کاروان ئـې
ستا زړګی له میـنـي ډک هـم
تـه نـبـي اخـر زمـان ئـې
پـه ویـنـا کـې تـل رښـتـیـا ئـې محمد رسول الله
د نـادان ذهـن ښـکلا ئـې محـمـد رسـول الله
نـوراني پـه ټـول جـهان ئـې
هم مې ځان هم مې جانان ئـې
ستا د نـوم نـه شـم قـربـان زه
تـه لارښـود د هـر انـسـان ئـې
ټـولـه مـیـنـه او وفـا ئـې محـمـد رسـول الله
د نـادان ذهـن ښـکلا ئـې محـمـد رسـول الله
مـیـنـه تـه ئـې مـحـبـت ئـې
تـه د زړونـو لـوی جـنـت ئـې
سـمـه لار خلکو تـه ښـائـې
پـه رښـتـیـا انـسـانـیـت ئـې

تــه هــم پــاک تل د ګنـاه ئـې محـمـد رسـول الله
د نـادان ذهـــن ښـــکلا ئــې محـمـد رسـول الله
ستا قانون د خدای قـران دی
ستا زړګی ئـې ترجـمـان دی
زړه دې پـاک هـم د نـفـرتـه
پــه الله دې تــل ایــمـان دی
ته آینه د پــاک سـبا ئــې محـمـد رســـول الله
د نـادان ذهـــن ښـــکلا ئــې محـمـد رسـول الله
فـــرض شـــوې بـه څـه کـیـږي
داسـې ده داســې بــه کـیـږي
دا پـنځـه وخـــتـه لـمـونـځـونـه
بې له ستا نوم نه ، نه کیږي
نـــازولـــــی د الله ئـــې مـــحـــمـــد رســـول الله
د نـادان ذهـــن ښـــکلا ئــې محـمـد رسـول الله
تــه زمـونـــږه پـیـغـمـبر ئــې
تـه د ټـول امـــــت رهـبـر ئــې
نسیم ستوری لــه تــا زار شــه
تـه د مـیــنـې لوی جـوهـر ئـې
تــه ګـلـشـــن د دې دنــیـا ئــې مـحـمـد رسـول الله
د نـادان ذهـــن ښـــکلا ئــې محـمـد رسـول الله

# اشنا

دا ستا د مینې ما ورکړی لـوی قیمت دی اشنا
ما خو په تا او تا په ما کړی غېرت دی اشنا

ژوند موسمسور د پسرلي په شان خزان دې ورک شي
کرکه دې نه وي دا د مینې لوی برکت دی اشنا

نظـر دې وچ مـه شـه خوارې خوارې همداسې ګوره
زمونږ پـه زړنو کې وېښ شوی محبت دې اشنا

نړۍ دې نـوره نیغه ګوتـه خپله ځان تـه نیسي
مـونـږه خـو کړی د هـر نـر سړي عـزت دی اشنا

هغه دې ناست اوس خو بیلګه زمونږ د مینې ورکې
زمونږ همت تـه سلامي زمونږ صفت دی اشنا

د نسیم ستوري شاعـري کـه د چا نه خوښـیږي
کډه دې بـار کړې چې ځولۍ کې نفرت دی اشنا

# بندوبس

په دې ښار کې هـر یو نـر سـرې ورک کـېږي
د کاروان مــشر رهــبر سرې ورک کـېږي

تـوفـانـي هـوا لګـېږي سـیلاب راغـی
وریـځې راغـله او لــمر سرې ورک کـېږي

چې پـه مـینه بانـدې تا بانـدې مئین وو
سـتا د مینې اوس دلـبر سرې ورک کـېږي

پـه لمـیو کـې مـې پـه لاپـو اوبـه ښـکارې
نـن د سـترګو لـه نـظر سرې ورک کـېږي

دې حـالاتـو کـې بدلـون راوسـتـل غـوارې
پـښـتـنو سـتـاسـو د ســر سرې ورک کـېږي

بـندوبـس ئـې لـړ پـکار دی نسیم سـتوریه
هــم پـه کـوټه پـېښور ســرې ورک کـېږي

# تعبیر

یو مې په زړه باندې د ستوري لوی تصویر پروت دی
بل مې د ژوند په افسانو کې خپل تقدیر پروت دی

د زړه ګلشن مې دی اباد د ستوري فکر باندې
ژوندي خیالونو کې د مینې لوی بهیر پروت دی

د محبت د امیدونو د سپرلي رنګونو
زما په شعر باندې د ستوري هم تاثیر پروت دی

ددې وختونو ډیوه تته مزل ستړی ستړی
دا په لمن د سباوون کې څه تغیر پروت دی

اسمانه ستا غېږه خالي ده رڼا ورکه ښکاري
د کونړ خاورو کې پښتون ستوری کبیر پروت دی

ما نسیم ستوري سه د خپل ستوري رڼا مل ده
د ستوري هر یوه خبره کې تعبیر پروت دی

---

سه « سره »

# اخ

چې د خـــان ســـره پــه جـــنـــګ دی
د دهــــقــان ســـره پــه جـــنـــګ دی

اخ دا ځـــرنـــــګـــه انـــســـان دی
د انـــســان ســـره پــه جـــنـــګ دی

د خپل وروور نـــه جــــــدا کـيږي
د جــانــان ســـره پــه جـــنـــګ دی

دا ژونـــدون ئـــې خـــپــل تـــباه کـړ
د ارمـــان ســـره پــه جـــنـــګ دی

اخ طـبــیــب تـه کـــوهـــې کــــنـي
د درمـــان ســـره پــه جـــنـــګ دی

اوس پــه ســینـد عـقـل لاهــو شـــو
د ایـــمـان ســـره پــه جـــنـــګ دی

تـــريــــنه ورکــه خــوشحالـــي شـــوه
د خـــفـګان ســـره پــه جـــنـګ دی

دي اغـــزي اغـــزي مـــاحـول کـــي
د خـــــزان ســـره پــه جـــنـګ دی

د نـــاوي لانـــدي ئـــي شـــپـه شـــوه
د بـــــاران ســـره پــه جـــنـګ دی

خپل قــســمـت ئـــي تــود تـــنـور شـــو
خـــپـل وجـدان ســـره پــه جـــنـګ دی

بس هــمــدغــه تـــنـــګ نـــــظــره
خـــپـل ګـريـوان ســـره پــه جـــنـګ دی

نـســـيم ســـــتـوري تــه خـــبــر ئـي
د خـــپـل ځان ســـره پــه جـــنـګ دی

# مور

مـــور د ژونـــد د محبـــت لـــوی فلسفه ده
حـقـيـقـت دی مـــور د مـيـنـي فـرېښته ده

دا کـنـډر کـنـډر زړګـی پـه مـور اباد وي
مـور تـيـارو کـي د رڼـا بـلـه ډيـوه ده

ښـايـسـتـونـه پـه تـل ويـاړي داسـي وائـي
مـــور د واړه جـهـانـونـو مـعـجـزه ده

د قسـمـت تـوري تـيـاري پـدي رڼـا دي
مـور د ننګ غـيـرت ايمان لـويـه ټـوټـه ده

لکه ځمکي په سر چت چي لوی اسمان دی
داسـي مـور ده دا د ټـولـو عـقـيـده ده

نسيم ستوريه د مـور خـپـو لاندي جـنـت دی
مـور سـه مينه عـبـادت لـوی سـجـده ده

سه « سره »

# پاڅه

څوک چې د بل په غيبتونو باندې نه مړيږي
هغه د ځان په صفتونو باندې نه مړيږي

که د نړۍ ټول ښايستونه ورته کړمه ډالۍ
بدرنګ سړی په ښايستونو باندې نه مړيږي

د ژوند مانا باندې پوه شوي دغه خلک نه دي
تيارو کې ډوب په نفرتونو باندې نه مړيږي

باچا ويده ولس فقير د ځان ژوغورنه کوې
قاتل ولاړ دی په قتلونو باندې نه مړيږي

پام دې په ځان باندې لږ کړه چې پرې تير نه وځې
چاپېروس سړی په تعريفونو باندې نه مړيږي

د قام په ننګ د نسيم‌ستوري سره دواړه ځو مونږ
پاڅه راويښ شه په خوبونو باندې نه مړيږي

# حيران

چا چې زما د پاکي مينې نه انکار کړی دی
هـغـې زمـا هـم پـه کلـونـو انـتـظار کړی دی

وخته قسمت مې د سکروټـو پـه سر مه ورولـه
زما ژوندون په خپل قسمت باندې اتبار کړی دی

څوک د کاروان نه پاتې شوي په چا سترې کاروان
باران د اوښکو ئې څه غلی شان اقرار کړی دی

مـا ورتـه مينـه کې د زړه وينـه ورکـړې وه تل
زما د سر ساتونکي نن پـه مـا ګـوزار کړی دی

چې د هنداري مخ ته ودريدم ګونګی غوندې شوم
په ړندو سترګو چا د ښکلې مخ ديدار کړی دی

نسيمه ستوريه ما په خوب کې دی ليدلی جانان
حيران شوم ځان ته چې مې څه عجبه کار کړی دی

# ویښ بیدار

چـې ولاړ پـه ســــــر د دار یـــم
زه بـه خـــومـره ګـنــــګار یـــم

هــو قـسم مـې ســتا پــه مینـه
ســتا د مـیـنـي طــبـګار یــم

زه چـې ځـــان تـه فـکـر وکــړم
پــه رښـتـیا چـې زه د کـار یــم

داچي زه پـه کـټ کـي پـروت یـم
د پـــردو اوس تـابــیـــدار یــم

ورک کـوی مـي بل ځوک نه شـي
زه د خپل ځان خـپل اغیار یـــم

پـدي خـــپل وطـــن کـي ځـکـه
زه بـي واکـه بـي اخـتـیـار یـــم

ســـتا ښـــايـست زمـا څو چـنده
تـــه د کلـــي زه د ښـــار يـــم

سـوداګــر د خـــپـل ضـمـيـر يـم
ســـوداګـــر هــم د خــپل يـار يــم

راشـــه وپـــوښـــتــه نـــن حـــال مــــې
د شـــلـيـدلي ګـريـوان تـــار يــم

دا مــې کـــړي پـــه ځـان خـــپـلـه
يـــم کــمـقـل کــه هـــوښــيـار يـــم

تـــا ســـره د قـــام خـــدمـــت تــه
هـــر ډګـــر بانــدې تـــيــار يــم

نســـيـم ستـــوری شـــاعـــري دې
زه يـې ويـښ کـړمـه بـيـدار يـم

---

# بینا

دا ستـا لمنـه مـې نیـوله وس مـې نـه رسیدو
ټوټې ټوټې به مې ګـنډله وس مـې نـه رسیدو

د کلي چم مې د قـاتل قاتل له جنګه تنګ وو
سپـینه کوتـره قـتلـیدلـه وس مـې نـه رسیدو

شپه په رامنـډو وه ډیوې ته هم لږ تیل پکار وو
هـر ځـای رڼـا بـه تـتیـدلـه وس مـې نـه رسیدو

سپـیـره خـزان ورتـه پـه زړه د اغزو کر کړی وو
د غـــم ســـنـدره غـریـدله وس مـې نـه رسیدو

څه د بدرنګو پسي ګـرځي ښـایـسـت نـه پیـژني
ښـکلـي لـیـلا بـه ژړیـدلـه وس مې نه رسیدو

نسیمه ستوریه چا زمـا پـه سر سـودا کـولـه
ما پـه بـینا سترګو لـیدله وس مـې نه رسیدو

# تنګ

د ایــمان پــه تلــه دا ســړی بـــدرنـګ دی
سولـه تـښـتي چې د ځان سره پـه جنـګ دی

خـپل دولـــت بــانـدې ګـنـاه ده اخیـسـتلـي
د ګـنـاه بـدرنـګ رنـګـونـو کـې نـن رنـګ دی

هـر ژونـدي تـه چـې د شــک پـه نـظر ګـوري
نـه پاک کېږي چې پـه زړه بانـدې هم زنګ دی

بــې اتـفـاقـه نـظـریـې ئـې خـــپـرولــــې
پخـپل کـور کـې بــې اختـیاره شـو ملـنګ دی

د غـېـرت پـه وخـت کـې مــلا ده ماتـه شـوې
د بــې ننګـو یـارانــې کـې دا بــې نـنـګ دی

ســتا فـکـرونـه د پـښـــتو پـښـتونـولــۍ دي
نسـیم ستوریـه سـتا قلـم نـه دی پـه تـنـګ دی

# غورځیدل

دي ښــار کې مې خوبونه ورکیدلو ته جوړیږي
دا زړه مې ستا د زلفو زنکــیدلو ته جوړیږي

په مخه چې ورتلم یو چا نیولی وم د لاسه
دا سترګې مې د سترګو جنګولو ته جوړیږي

زما د میني تول نور هم په مینه باندې وکړي
بیا مخکي ورته ګوره څه کولو ته جوړیږي

ما خپل او د جانان نوم سره مل چې محبت کړو
د میني نه منکر به شرمیدلو ته جوړیږي

د هغه دي خدای مل شي چې وطن کې مسافر وي
د داسي مسافرو زړه چاودلو ته جوړیږي

زمونږ چي پکار نه شو د خپل ځان هم پکار نه شو
نسیم ستوريه هغه اوس غورځيدلو ته جوړیږی

# اختيار

هــنــرمــنــد چــې د هــنــر ســره کار نــشــتــه
عقلـه بــس دی نــور پـه تـا مـې اتـبـار نــشــتــه

پــه لــمــنــه کــــې ســــکــــروټــــي دي راوړي
ځان تـه اور اچې پـه دې کې هـوښـيـار نــشــتــه

بــې ګــنــاه بــه قــتــل کــيــږي داســي کــيــږي
خو قــاتــل سـري تــه دلــتــه کــې دار نــشــتــه

پـــه رڼـا ورځ د تــــيــــارو ســــره چـــې مـــل وي
نــو پــه ويــښه بــانــدې څــکــه بــيــدار نــشــتــه

ای پــښــتــو پـه تـا چې ننګ نکړي بې ننګ دي
پــدي کلــي کــې بيـا ستا خــدمــتــګار نــشــتــه

زمــــا زړه بــه ولـــي نـــه چـــوي نسيم ستوريه
چې په خپل وطن مــې خپله اخــتــيــار نــشــتــه

# سودا

دا خلک ځکه نن د کلي او ښاره تښتي
د جنګ پرستو د ظلمونو له کرداره تښتي

دلته راڼده دي بینا شوي بینا بیا راڼده شول
څوک له تیارو نه څوک د ورځې له سهاره تښتي

دلته د هر چا په مخونو باندې ویره پرته
څوک په مړه ګیډه او څوک خو لا په نهره تښتي

د چا په سترګو کې اوبه او د چا تښتي سپیني
ویده ویده ئې ځان سره کړل او بیداره تښتي

ژوند د سکروټو په سر سوزي مرګی خاندي ورته
دا انسانیت دی وارخطا په هره لاره تښتي

دلته اتبار دی سر خوړلی ژوند نیمګړی پاتې
ورور خو د ورور نه پلار د ځوي او ځوي د پلاره تښتي

چې ورته وګوري د سترګو به دې اوښکې توی شي
هغه کاره ټول ديــوالــونــه لــه مــيــمــاره تــښــتي

د هــر ژونـدي نــه ســاه ده وتــي څــه بـلا راغـلـي
هـر يـو مئين خـو اوس د مـيـنـي د دريـاره تـښـتي

ټـول ښــه فكــرونـه د مـنـزل د رســيــدو بې وســه
دا وچــي شـونـډي لـه خــبـرو د بــازاره تـښـتي

لـمن كې كاڼـي ټـولـومـه دا خپـل ځان پـرې ولـم
وريځې د ستورو او ستوري خپله له مداره تـښـتي

د چا ضمير د چا ذهنونه په دې ښار كې خرڅ شول
شـكـر خـدايـه بـې غـيـرتـه لـه دسـتـاره تـښـتي

دلـتـه د دار نـه ځـوک ويـرېـږي نـه نسيم ستوريه
دلـتـه پـه خـاوره ســودا شـوي لـه غـداره تـښـتي

# علاج

پــه نــېمه لار ولاړ یــمــه وخــتــونــه رنــځ وهلـي
دا څه رابانـدې وشـول تـول خـیالـونـه رنـځ وهلـي

سـبا پـه انـتـظـار یـم د مـابـنـام نـه سـتـړی سـتـړی
دې سـتـړي سـتـړي ژونـد کې مـزلـونـه رنـځ وهلـي

د هغـي پـه لاره راغلـم د هغـي د سـر قـاتـل شـوم
هر څه په سـینـد لاهـو شـول مـنـزلـونـه رنـځ وهلـي

لـمن کـې مې د غـم اوښکـي راټولي کړي پـري ژاړم
زه هغـه بـدنـصـیـب یـم ارمــانــونــه رنــځ وهلـي

زما د قلم کرښـي سـم پـه ویـنـه کې ژونـدون کـړي
پــرهــر سـیـنـه ګـنـدمـه نـو تـارونـه رنـځ وهلـي

نسـیم سـتـوری عـلاج راتـه پـکار دی طـبـیـب ښـایـه
په زړه کـي مې د مـیـنـي سره اورونه رنـځ وهلـي

# تپوس

پـه تـيارو کې لټـومه پـه رڼا کې رانه غیب شي
په خپل کور کې مسافر یم په بیدا کې رانه غیب شي

زه د یو وجود لښکر یم خو پـه ځان مې باور نشته
د خپل ځانه یمه لرې خـپله سـاه کې رانـه غیب شي

وخته ستا دې حرکت او ستا ښکلا تـه زه حیران یم
ژونده تـه ورته لږ وایه ستا ښکلا کې رانه غیب شي

نور په تول بـاندې پـوره یم بې له تـا یمه نیمګـړی
دا په ما دې څه چل شوی په دنیا کې رانه غیب شي

ورځ مې شپه او شپه مې ورځ ده هیڅ په ځان هم خبر نه یم
تـورتمونو نـه چې تښتم په سبا کې رانه غیب شي

اوس تپوس ئې له چا وکړم هر چا خولې خپلې ګنډلې
نسیم ستوریه زړه مې وچوي په ربښتیا کې رانه غیب شي

# بې لاره اوره

خوب مې ولید د مانا پسې ئې ګرځم
ډیوه لاس کې د رڼا پسې ئې ګرځم

د احساس کاروان په لار کې رانه غیب شي
سوداګر شوم د سودا پسې ئې ګرځم

امن سوله رانه تښتي بدنصیب یم
خوا ته نه راځي د غلا پسې ئې ګرځم

هر قدم د بیلتانه په لار روان دی
د وحدت دې وتي ساه پسې ئې ګرځم

کور ئې رنګ دی شمله ور د مرګ په خوب دي
بدرنګ شوی چې ښکلا پسې ئې ګرځم

بې د اوره په اور سوځم نسیم ستوریه
طبیب نشته د دوا پسې ئې ګرځم

# ناست

زه هغه سـړی پيـژنم چې ستا په خوا کې ناست دی
دا څوک نـه ئې پـيژنـم زما په خوا کې ناست دی

ډيوې د محبت ته باد د جنګ هم اخطار ورکړو
د سـولې سمندر څـه وراخطا په خوا کې ناست دی

د عـقـل او احساس سترګي بـيـنا وې ړنـدي شـوي
رڼا رڼا مـاحول کـې د ګـناه په خوا کې ناست دی

پرون نـه نـن ورک شـوي دی سبا ته مالـوم نـه دی
په لاس به څه ورنه شي تش هوا په خوا کې ناست دی

اجل ئـې نـن راغـلـی دی که دار تـه ختـل غواړي
ملنګ ليونـي شـوی د بـاچـا په خوا کې ناست دی

نسيم ستوري څه داسـي غريـو نيـولـی جواب کـړو
زما په کې کار نشته چې د چا په خوا کې ناست دی

# سلطنت

تــول ړانــده دي یــو بیـــنا هم پکې نشته
ډیـــوي بلـــې دي رڼـــا هـــم پـکـې نـشـته

دا جـومـات او حـجـره شـــړه راتــه ښـکـاري
خان خو څه کـی چې ملا هم پـکې نشته

د ښایست په ویده ښـار څه غوبل جوړ دی
امــن تـښـتي چې ښـکلا هـم پـکـې نشته

د ســپـرلــي غـوټـۍ څـه مـړاوي رژیـدلـي
تـالا بـاغ کې څـه د غـلا هـم پـکـې نشته

د پـرون پـه ارمـان هـر یـو زخـمي سـتـړی
خـیـال او فـکـــر د سبـا هـم پکې نـشـته

نسیم سـتوریه څــه عـجــبه سلـطـنـت دی
بـاچـاهـي ده خـو بـاچا هـم پـکـې نـشـته

سه « سره »

# سوچ

قلمه ژوند زما په تا ښکلی دی
ستا د رنګونو په مانا ښکلی دی

زړه مې چاودلی د هغه ټوپک نه
چا چې راکړی وائي دا ښکلی دی

ولسه پام کوی چې ښکار ئې نه شې
بې محبته ، ښنګ اشنا ښکلی دی

د ژوند بازار سوداګر مه جوړیږه
اوس راتله وروایه په چا ښکلی دی

د جادوګر ماښام نه ، ځان وساته
تورو تیارو نه تل سبا ښکلی دی

ما تري یو سوچ د محبت راجوړ کړ
وائي نسیم ستوری رښتیا ښکلی دی

# خاموشه

پـه محبـت کې درته پاتـي راغلم ګـران کـونـړه
ستـا کاڼـو بـوټـو او د خاورو شم قربان کـونـړه

ستا د دوښمن لاسونه مات شه ستا ګریوان ته رسي
چې ته زخمي زخمي ئې زه يم پريشـان کـونـړه

ستا د رنګونـو او د حسـن مـازيـګـر پـه قـدر
هغه څوک پوه دي چې تا خپل ګڼې جانان کـونـړه

ميرزمان خان ، جمال الدين او کبيرستوري کور ئې
دا چې پـه تـا کې زيـږيـدلي اتـلان کـونـړه

نـور دي د خاورو د خوشبوي نـه جوړومـه امیل
چې د غـاټول ، ریدي ګلونه شي حيران کـونـړه

چې ستـا خاموشه ښايستونـو مينـه وکړله
د نسيـم ستوري د لفظـونـو شـو بـاران کـونـړه

# بې وسه

په لپه کې هوا ئې د قسمت ده رانيولې
رڼا ئې د زړګي په کرامت ده رانيولې

دا ته په مئين نه ئې دا په تا باندې مئينه
بس هغه ليونۍ خو خپل عادت ده رانيولې

حالاتو ورته هر ځای ديوالونه دي جوړ کړي
لمن ئې د ژوندون په محبت ده رانيولې

د تږې زړګي تنده ئې هم ماته دلته نه شوه
خاموشه ښايستونو په غربت ده رانيولې

دې ښار کې اوسيدل او ګرځيدل هغې ته ګران شو
نو لاره د احساس ئې د هجرت ده رانيولې

ديوال سيوري ته ناسته نسيم ستوريه ورته ګوره
بې وسه تنهائي په کوم قمت ده رانيولې

# کاږه

خوب کې ویریږمه خوبونه څه کاږه وکږه دي
سر ته مې ایښي بالښتونه څه کاږه وکږه دي

ورته کتی نشمه زړه ته مې دردونه ورکی
په دیوال زوړند تصویرونه څه کاږه وکږه دي

د شکو باد دی سترګي هسي غړولی نه شو
جانانه ستا د ښپو خاپونه څه کاږه وکږه دي

د ګل انځور مې د زړګي په دروازه جوړ کړی
باغوانه ستا دا ټول باغونه څه کاږه وکږه دي

د محبت پکې جونګړه هسي جوړه نه کړې
د محبت دي دا فکرونه څه کاږه وکږه دي

د نسیم ستوري شاعري مې نن هم ولوستله
د شاعری ئې دا بیتونه څه کاږه وکږه دي

# تنګ فکر

ښکلا بدرنګه شوله ، ټول هم بـدرنګ خلک دي
سوله او امـن تـښتي دلتـه د جـنګ خلک دي

فکرونـه ټـول ړانده دي وجـود چینجو خوړلي
دا چې وراسته ولاړ دي دا رنګ په رنګ خلک دي

د مـحبـت فـقیر اوس ، ځـې د نـفرت پـه لاره
له میني ځان چې ساتي په زړونو زنګ خلک دي

خاوره چې مور ده زمونږ ، سودا د خاوري کوي
له خپلـي ژبـې پـردي دغـه بـې ننګ خلک دي

خـــوي د انـــسان نـه لـري پـــه وحشتونو مئـین
پـه کـاڼـو ولي خـلک پـه ګـناه دنګ خلک دي

ګیله لدوي نـه مـه کـړه ای نسیم ستوریه وروره
ذهن خرڅ کړي دی دوي ، فکـر نه تنګ خلک دي

# بې دلیله

منزل تـه نـه رسـیـږو مونږ کاروان قـربـانـي کـړی
مـونـږ تـل عمر پـردو لپـاره ځـان قـربـانـي کـړی

اغـزي کـرو پـه لاره کـې د مینـي قـاتلان یـو
بـس هري نـاپـوهـي تـه مـو ایـمان قـربـانـي کـړی

شته عقل مو د بل د فکر لاندې اوس ژوندون کړي
د بل پـه شـابـاسي مو خپل درمـان قربـاني کـړی

صفا او رښتیا نه وایـو د دروغـو ملګرتیا کړو
نو ځکه مو بیلتون ته خپل ګریوان قرباني کړی

راځۍ چې پدې پوه شو چې خپل خپل ، پردی پردی دی
اغیار پـه خاطر ځله مـو جانان قـربـانـي کړی

قـلم د نسیم‌ستوري بـه تـر څـو درتـه زاري کـړي
بې ځایه بې دلـیلـه مـو ارمان قربـانـي کـړی

# سوګند

تـا چې پـه هـر ډګـر یادومـه نـو غـتېږم پـښـتـو
په هر هیواد کې چې تا هیره کـړم ورک کېږم پښتو

پـښـــتو پـه تا بـانـدې زه ویـارم خـدای دې تـا لـرې
ستا هـر یـو تـوري پـه مـانا بانـدې پوهېږم پښتو

پښتو دا ستا بچـي دا تا ته چې اوس کار نه کوي
قسـم چې ستا پـه بې وسـۍ بـانـدې ژړېـږم پښتـو

پښتو زما د وجـود ساه ئـې زه پـه تـا ژونـدی یـم
تـا نه جدا چې شـم قسـم چې زه مـړ کېږم پښتـو

پښتو پـه تا باندې چې ننګ نـه کړم بې ننګه به یم
ستا د دوښمـن پـه سر بـه تـندر زه غورځېـږم پښتـو

زه او نسیم‌ستوری سـوګـند خـورو ستا پـه پاکه لمن
دا ستا پـه سر بـانـدې هـم دار تـه خوشحالیږم پـښتـو

# د قام غم

د ټـوپـک پـه ځـای قـلـم پـه لاس کې راکړې
زر د امــن ګل شــبنــم پـه لاس کـې راکـړې

رانـه ورک دی اوس ئـې هــر خــوا لـټـومـه
مـا تـه خـپـل هغـه صنـم پـه لاس کـې راکـړې

زه د ژونــد نــوي مــورچـل جـوړول غـواړم
مـیـنـه مـیـنـه دم پـه دم پــه لاس کـــې راکـړې

چې زړښـت مـې را زلـمی کـړی پـسـې لاړ شـم
چــې نـشه مـې کړي چـلم پـه لاس کـې راکـړې

مـا پـه خـپـل زړه د هـغـه نــوم دی لـیـکلـی
هـر یـو زخـم تـه مـلـهـم پـه لاس کې راکـړې

د نسیــم ستوري د خــیـال الــوت تـه رسـم
زه خـدمـت کـړم د قـام غـم پـه لاس کې راکـړې

# د جرګو ژبه

پـخپـلـه خــاوري مـســافــرې پـښـتـو
لـه بـــې غـــیـرتـو مــــــروري پـښـتـو

څـوک دې ښـوونځـې څـوک دې دفـتر نـه شـړي
څوک دې د خپل ، د کـور د ور نـه شـړي
هـر ظـالـم تـا پـسې چـړې راويـسـتـې
خـپل او پـردی دې د هــنـر نـه شـړي
پـه خـپل وطـن کې در پـه در ئې پــښـتـو
لـه بـــې غـــیـرتـو مــــــروري پـښـتـو

پــه سـيـاسـتـونـو ئـې ځـپـلـې ګـرانـې
پـه خـپـلـه خــاوره ئـــې رټـلـــې ګـرانـې
چې پـه خـپل کـور کې پـه تـا نـه ګـرېـږي
د خــپـلـه لاســه ئــې وژلـــې ګـرانـــې
ولــــــس ســاتـلـــې زړوري پــښـتـــو
لـه بـــې غـــیـرتـو مــــــروري پـښـتـو

څـــوک درتــه کـار پــه صــداقــت نــه کــوي
پښتو پــه تــا بــانـــدې غــېـرت نــه کــوي
لــه تــا پـــردي دي ســتـا نـااهـلـه بــچي
ځــکــه لــه تــا ســه مـحــبــت نــه کـــوي
تــه خــو هـم دوي ئــې زوره ولــې پـــښـتــو
لـــه بــــې غـــيـــرتــو مـــــرورې پــښــتــو

زه دې مـجـنـون تــه مـې لـيـلا ئـې ښـکـلـې
تــه هـم زمـا د وجــود ســاه ئـې ښـکـلـې
دا سر او مـال مـې شـه قـربـان لـه تـا نـه
تــه مـې جـنـت تـه مـې دنـيا ئـې ښـکـلـې
مــا لـــه هــــر څـــه مـعـتـبـرې پـــښـتــو
لـــه بــــې غـــيـــرتــو مـــــرورې پــښــتــو

دا حـقـيـقـت دی د جـــرګــــو ژبـــه ئـــې
تـــه پــه رښـتـيـا د مــيـړنـو ژبـــه ئـــې
زه نـسـيـم سـتـوری پــه تــا ويــاړمــه تـل
تـــه مــــې د امـــــن د پــښـتـو ژبـــه
پــه زړه خـپـره مـې لـرې بـرې پـښـتـو
لـــه بــــې غـــيـــرتــو مـــــرورې پــښــتــو

# نيمه‌لار

د کـــاروان نــه پـاتـي شـوی نيـمـه لار کــي
د مـــــزلـــه دي لـــويـــدلـــی نيـمـه لار کــي

د اغـزو پـه سر ئـي پـونـدي سـوري شـوی
د غــنـم پـه شـان چـاودلـی نيـمـه لار کــي

د نفاق د رنځ پـه درد بانـدي اختـه دی
د خـــزان څـــپـــو وهـلـــی نيـمـه لار کــي

د نـــظـــر ايــنـــه ئــي مـــا تـــه بــي اعـتـباره
د خـــپـل غـــږه تـښــتـيـدلی نيـمـه لار کــي

چي د لاس امـــسا پـه لاس کـي مـا تـه شـوی
حـــــرکـــــت نـــه غورځيدلی نيـمـه لار کــي

هـيـڅ د ونـي سـيـوری نـشـتـه نسـيـم ستـوريـه
ســـرو غـرمـو تـه ودريـدلی نيـمـه لار کــي

# رحم

د احـــســـاس د قـتـلـــیـدو کـوشـش شـــروع دی
کـــور او کـلـــي ســـوزیـدو کـوشـش شـــروع دی

پـه یـو زړه کې د یـو چـا نـه یـم ورک شــوی
نـــور د زړونـــو د چـــادو کـوشـش شــروع دی

لــیــونــې د غـــره لــه ســره کـړلـي چـغـې
ددې غـــر د نـــړیـــدو کـوشـش شـــروع دی

د تـعـلـیـم مـــخـه وحـشـــت بـانـدې نـیـولــې
ســمـې لار د کـــړیـــدو کـوشـش شـــروع دی

سـتـرګـې سـپـیـنـې شـوې بـیـنـاء ړانـده کـانـه شـول
د اواز د بـــنـــدیـــدو کـوشـش شـــروع دی

نسیم ستوریـه خـدای دې رحـم پـه مـونږ وکـړي
د پـښـتـون د ورکـــیـدو کـوشـش شـــروع دی

# پـیغور

وخته دا څه په منډو سر ئې په هر چا تیرېږي
ما ته هم لږ شه خپه نیولی چې په ما تیرېږي

مونږ نه ډیوه تیاره کې ورکه سرګردانه ګرځو
هغه چې تا سره روان دي په رڼا تیرېږي

د قام وجود مې په هندار کې ټوټې ولیدو
غیرت خفه دی چې مو ژوند اوس په ژړا تیرېږي

په خوب ویده وم یو ناره مې تر غوږونو راغله
پاڅه زر ویښ شه چې له تا نه اوس سبا تیرېږي

د تاریخ پاڼو کې زمونږ د قلم کرښې نشته
پردي رنګونه د قلم پرې هره خوا تیرېږي

ای نسیم ستوریه زه چې خپل قسمت ته وکړم غوسه
پیغور بیا راکړي چې د کار خلک بیا بیا تیرېږي

# لوحه

پـه تـیـارو کـې ئـې ډیـوه ده ورکـه شـــوې
د نـظـر تــرېـنـه ایــنـه ده ورکـه شـــوې

څـه د شـګـو پـه هـوا کـــې ور روان دی
د خـپـل سیوري تـرې دمـه ده ورکـه شـــوې

پـه غـلـبـیـل کـې بـه اوبـه لا څنګـه راوړي
چې پـه لاس کـې ئـې لـوټـه ده ورکـه شـــوې

پـه خـپـل کـور کـې در پـه در وریـسـي ګـرځي
د میـلـمـه تـرېــنـه حـجـره ده ورکـه شـــوې

چې هـر چا تـه ئـې د غـم پـیـتـی پـه سـر کړ
نـو پـه کـلـي کـې ئـې شـپـه ده ورکـه شـــوې

خـــپـل ضـمـیـر تـه مـــلامـتـه نسیم ستوریه
د احساس ترېـنـه لـوحـه ده ورکـه شـــوې

# د قلم لاندې

تــورو تــيــارو چې د رڼـا ســره دې ځه کار دی
بــدرنـګه وايـه د ښـکلا ســره دې ځـه کاردی

تـه د خـانـانـو نـوابـانـو ځـنـګ تـه مـه راځـه
غریب سړی ئې د باچـا سره دې ځه کار دی

ځنګ د پرون پـه تـمه نـاست ئې اوس تـږی نـنه
پـرون خـو تيـر شـو د سبـا سـره دې ځه کار دی

زمـا پـه زړه کې ځـانـتـه ځـای مـه ګـوره زر لاړ شه
دلـتـه رښـتـيـا دي د رښـتـيـا سره دې ځه کار دی

يــو ځلي نـه ،ځـو ځـو ځلي دي وژلـي مـيـنـه
ای بـې وفـا نـو د وفـا سـره دې ځه کار دی

د نـسـيـم سـتـوري د قـلـم د لانـدې راغـلـی اوس
ورک کـيـږه ورک شـه د حـيـا سـره دی ځه کار دی

# الهام

په محبت کې مې د مينې لړ اظهار ته پرېږده
د مرګ قاصيده ما د يار د مخ ديدار ته پرېږده

منم چې ټول کاينات يو ځلې ښکې د مرګ خوند
د ژوند په پوله مې د پاک دين کار وبار ته پرېږده

وخته نور سرې لمبې زما په وجود مه بلوه
غريب سړی يم په غوربت کې مې روزګار ته پرېږده

پرېږده چې لږه سودا وکړم لږه خرڅه کړمه
ارمان ته ځای راکړه او هيلې مې بازار ته پرېږده

حجره جومات چې مې د روح په جنازه يو ځای شي
د پاک اسلام او د پښتو په سر مې دار ته پرېږده

ما د نسيم ستوري د شعر نه دا الهام اخيستی
قلم نه توره جوړه وم ما خپل اختيار ته پرېږده

# وار

مـه کـوه اســمانـه راپسـې غـــربونـه مـه کوه
ګـوره ای جـانـانـه مـا پـسـې فکرونه مـه کوه

دلته محبت هر ځای مورچه مورچه نیولی ده
دلته کر د مینې دی نور ته غمـونـه مه کوه

وخت دلته ناوخته ندی هر سړی پابند د وخت
دلته د سبا لـپـاره تـه سـوچـونـه مـه کوه

دلـتـه خـو سـجـده د محبـت لپاره کمه ده
دلـتـه رښـائـي ده پـه تـيـارو کارونه مـه کوه

ستورو لمر سپوږمۍ سره به ستا لاره روښانه شي
کر کـړه بــوزغلی د پوهې نور جنګونه مه کوه

زه د نسیم ستوري سـره ښـنګ پـه ښنګ اوسیږم
تـه پـه نسیم ستوري د نـفـرت واورونـه مـه کوه

# پردی

کــوم ســړی چــې بــې دلـیـلـه وچ لــرګـی شـي
راتــه وواېـه پـه څـه بـه‌ئــي زړه زلــمـی شــي

د اظـهـار ژبـه ئــې ګــونــګـه نـه ده څـه ده
چې د مینـې مـخـکـې ودرېـږي ګونـګـی شـي

مـا تـري خـوب اخیسـتی نـه دی څلـه وائـې
داســې نـه ده چـې هـغـه دې لـیـونـی شــي

چـې پـه دروغ ئـې د ژونـد مـحل جوړ کـړی
نـو هغـه بـه څـنـګ زمـا نه هـم لـوګـی شـي

چې ئـې فـکـر تـل د بل پـه اخـتـیـار ګـرځي
مـالــومـیـږي چـې بـه ځانـه هـم پـردی شــي

نسـیم سـتـوریـه دی د چــا نـــه پـــکـاري
کـه هـــر څـو دغـه ســړی هـم لـوی سړی شـي

# زنګ

د بـدرنګـو سـره مـه ګـرځـه بـدرنـګ شـوی
ولي ولي خپل ښایـست نـه دومره تنګ شـوی

د خـپـل فـکـر بـام دي پـرېـښـود دا څه وشول
پـردۍ لاره کـي د ځـان سـره پـه جنګ شـوی

د خپل ورور ویـنـو ته تـږی تږی ناست ئـي
د قاتـل سـرې پـه رنګ کـي داسي رنـګ شـوی

خـپـلـي خـاوري سـره ولـي دوشـمـنـي کـړي
غـېـرتـي وي بـي غـېـرتـه او بي نـنـګ شـوی

تـور پـه تـور بـاندي پاکـېـزي نـه هـیـڅ کله
خپل قسمت لـره بـي ځـایـه لـوی ګـړنـګ شـوی

نسیم ستوری نصحـت درتـه نـور نـه کـړي
پـه زړګي باندي خیرن شولي تـول زنګ شوی

# دین ایمان

دربار په طرف مه ځئ هتله ځان سرې نه ورک شي
د خپلې پښتــو ژبـې نـوم نـښان سرې نه ورک شي

مونږ ډیـر پښتانه ولېږل نو دوي هتله پردي شول
قاتل د خپل جانان شي او جانان سرې نه ورک شي

دستار کړو وړیه سر مونږ وایوو دا د کار سړی دی
چوکۍ تـه ورسیږي نو ارمان سرې نـه ورک شي

مونږ څه ته ورلیږلی وي دی یو چوکۍ ته ناست وي
هدف نیمګړی پاتي شي کاروان سرې نه ورک شي

پـردي ډول تـه نـڅیږي د پـردی سنـدري وائـي
ټـپي ټـپي ولـس هر یو درمـان سرې نه ورک شي

درمل ددغې رنځ ای نسیم ستوریه اوس پکار دی
پښتون وي خو پښتو او دین ایمان سرې نه ورک شي

# تعویزونه

دا مـا پـســي د چـــا اوس اوزونـه دي اشــنـا
نـو تــا راتـه جـوړ کـړي پیغـورونـه دي اشــنـا

ساه لـنـدېـه لـنـدېـه کیـږي مـنـزل د پـښـو تـښـتي
د سـتـړي مـــزلـونـــو قـــدمـــونــه دي اشــنـا

دا یـو پـکـې دا سـتـا دی دا نـور پـکي د چا دي
دیـوال بـانـدي چـې زوړنـد تـصویرونه دي اشــنـا

په کوم ځـای کـې ولاړ ئـې د چا سـنـدري وائـي
راځـه دلـتـه خـــرڅ شـوي ضـمیرونـه دي اشــنـا

د امـــن اوبــه غـــواړي د امـــن پـســي تـــږي
پـه بـاغ کـې جـل وهـلي ټـول ګـلونـه دي اشــنـا

نسـیم سـتـوری درغـلـی هـغـې سـره رانـه غـلـې
پـه تـا بـانـدې چـا کــړي تـعـویزونــه دي اشــنـا

---

# برکت

په دې ګل کـې ستا تصویر وینم ښایسته
اوس د مینې لوی زنځیر وینم ښایسته

پرون نن او سبا راته ولاړ دی
خپله لپه کې تقدیر وینم ښایسته

هر قدم مې محبت په نوم اخیستی
اوس د مینې ځان اسیر وینم ښایسته

چې هغه اوس د ویده خوب نه جګ شوی
دا زما د خوب تعبیر وینم ښایسته

د چا غږ راباندې خوږ دی لرېدلی
باچاهي کې ځان فقیر وینم ښایسته

نسیم ستوریه پښتني وېني برکت دی
ځکه ځان د مینې پیر وینم ښایسته

# اجازت

اجـــازت دی پـښــتـنـو ســـره زه تـلــی شـم
د مـلـنـګ بـابـا دا فــکـــر خــپـلــوی شــم

ســـتـا خـــبـره دي دا ســـتـا زمـا دي ســتـا وي
د پـښـتـون د حــق غــوښـتــنـه زه کــوی شــم

زړه مـــي تـــل د قـــام وطـن ســنـدري وائــي
پــردی نــه زه دي ، خـپـل ډول تـه ګډېـدی شـم

زهـــرجـــن دامـــونـــه مـــه ږده پــــدي لاره
پــښــتــانــه د ویـــده خــوبـه وېـښـوی شـم

ټــول پـښـتـون چـي د ظـالـم د پـنـجـو ساتـي
د پـښـتـون پـاڅـون حـصه زه جوړیدی شـم

ځـم ورځـمـه پـښــتـانـه دي راټــول شــوي
نسـیـم سـتـوریـه زه خـو چـرتـه صـبریـدی شـم

# مالوم

پـاڅه راوېـښ شه مـا پـه تـا او تـا پـه مـا وژنــي
دا یــو وجـود ټـوټـي ټـوټـي هــم بـرمـلا وژنــي

کـوشش کوي چې زمونږ خـیري کړي سیـنه په مینځ
زمـونـږ پـه زړه کـې دا زمـونـږ د زړه دنـیا وژنــي

ګرنګ په سر دی ولاړ مونـږه ګړنګ ته کشش کې
اغــزي اغـزي دي ورنــژدي نـــه شــي وفـا وژنــي

ډیـر مـکـرجـن دی دروغـجـن دی زړه خیـرن لري
رښـتـیا پـسـي کـړي اوازونــه اوس رښـتـیا وژنــي

لږ بغاوت پکار دی بې خونـده ژوند خوند نه کړي
دغــه بـدرنـګـه دغـه ښــکلـي د ښـکلا وژنــي

نسیم ستـوریه قــاتـلان دي د ژونـــدون د ســـاه
دا نـامـالـوم مـونـږ ته مـالـوم دي چې رڼا وژنــي

# ناڅپه

سپوږمۍ تندر نیولي وه او لمر تــنـدر نیـولی
راپاڅـیدم لـه خـوبـه نـو سـحـر تــنـدر نیـولی

نیسمن فکر به څه کړم نیسمن عقل دي ورک شي
په داسې غـر ولاړ یمه چې غـر تــنـدر نیـولی

منمه د هـوښـیـار لـیوني هغـه غـرې صـفا دی
پدي کلي کې نـر چې دی نو نـر تــنـدر نیـولی

چې خـپل حق د ظالـم د پنجو نه شي اخیستلی
هم دلـته ئي په دار کړی دغه سر تــنـدر نیـولی

پوهېږمـه چـې دلـته دوه یـاران پـه لاره نـه ځـي
نېمګړي مـحـبـت کـې تـل دلبـر تــنـدر نیـولی

نسیم ستوریه یــو چا راتـه د چا قیـصه کـوله
نـاڅـپه پـکـې غـرې شــو لـروبـر تــنـدر نیـولی

# نيمه شپه

د خـپـل سـيـوري نه ويـرېـږم نيـمـه شـپـه کې
ستا په زړه کې چې اوسـيـږم نيـمـه شـپـه کې

بـې شـرابـو يـم نـشـه څـه کـرامـت دی
سـمـه لاره کـې غـورزيـږم نيـمـه شـپـه کې

خـوب مـې اخـلـي سـتا يـادونـه زورور دي
ټـال د فـکـر کـې زنـګـيـږم نيـمـه شـپـه کې

تـه راځـې او کـنـه زه درپـسـې درشـم
ستا تـصـويـر سره غـرېـږم نيـمـه شـپـه کې

پـه ديـوال بـانـدې دې نـوم دی چا ليکلی
د ديـوال نـه اوس تـاويـږم نيـمـه شـپـه کې

د نسـيـم سـتـوري قـلـم مـيـم دی لـيـکـلـي
پـه مـانـا د مـيـم پـوهـيـږم نيـمـه شـپـه کې

## ويښ اند

راځئ چې پاڅيږو،لږ ويښ شو او ويښ اند پيدا کړو
سپرلی د عمر مو تيريږي په‌کې ژوند پيدا کړو

د خپل قسمت د خپل شعور د بيدارۍ لپاره
ژوندون که‌هرڅومره خراب شي پکې خوند پيدا کړو

---

## خرپړ

شکر خدايه زه ئې وژلمه پخپله مړ شو
هغې چې زه هم پړ کولمه پخپله پړه شو

ما ته اغزي کرل په لاره د منزل په لوري
اغزو ته زمکې ځای ورنکړ نو پخپله خړ شو

---

# ورک درمان

ويــښ کــاروان رانــه ورک شـــوی پــســـې ګــرځــم
خــورږ انــســـان رانــه ورک شــوی پـــســـې ګــرځــم

يــو ســرې داســـې فــريــاد کــړو پــه کــوهــې کــې
چـــې ايــمـــان رانـــه ورک شــــوی پـسـې ګــرځــم

زه ئـــې خــوا تــه ورنـــږدې د ويـــرې نــه شــوم
ويــل جــانـان رانــه ورک شــوی پــســې ګــرځــم

د ارمـــــان د دروازې زنـځـيــر مــات شـــــوی
خـپــل ارمـان رانــه ورک شــوی پــسـې ګــرځــم

څوک به ځان راسه شريک کړې چې پيدا شم
دا خـپــل ځـان رانـه ورک شـوی پـســې ګـرځـم

نـسـيـم سـتـورې وارخـطـا لـيـدلـی زه يـم
بــس درمـان رانـه ورک شـوی پـسـې ګـرځـم

راسه « سره »

# غورځولی

ښېرنه وکـړه چې په کلي اور بل کـړی چـا دی
پـښـتــون ، پښـتــون بـانــدې وژلــی چـا دی

قاصید د دروغو د ربنتــیا پسي لــېږلـی چـا دی
پـښـتــون ، پښـتــون بـانــدې وژلــی چـا دی

دا چـــې د میـــــنې اوس اقــرار نـه کـوي
د مـحــــبــت چـې کـار و بـــار نه کـوي
د ژونـد پـه للــمه کـې اغــزي کــري دوي
د زړه پــه لاره کــې چـــې لار نــه کـوي
د مینې ګل ورتـه په لاس کې بیا ورکړی چـا دی

چې د خـپل لاسـه خـپله ورور وژنـې دوي
پـښـتـو ئې مـور ده خـپله مـور وژنـې دوي
ولـې ټـوټـې ګـریـوان د ځـان نـه ګـنـډې
هـــم خــو د خــپلو مـــتـو زور وژنـې دوي
د قام بچي مې پردي جنګ ته لـمسولی چـا دی

دا چـــې مــنـکــر دی وائــې خـــبـر نـه یـمه
زه پـدې ځـــای کـــې خـو اکـــثـر نـه یـمه
قـــسم پـه خـدای چـې زه رښــتـــیا وایمه
سحــــــر ماښـــام او مـــازیګـــــر نـه یمه
سمسوره فصل دې پـتـې کې بـیـا ریبلی چا دی

څـــوک چـې د امــــن انـتـخـــاب نـه لـري
ځـکــه د میـــنـې خـــوږ دریـــاب نه لـرې
د پـردې جــنـګ پـه لمـــبو ســـوزې هـــمدوی
لیـــک او لـوستـــلـــو تـه کـتـاب نـه لـرې
د امن غږ زمـونږ پـه زمـکه پورتـه کړی چـا دی

څـــو د نــفـرت مخـکـې دیـوال جـوړ نـه شـي
بـې اتـــفـاقـۍ تـه لـوی زوال جـوړ نـه شـي
زمـــونـــږ د ویـــنـې ســـوداګــــــر بـه ګـــرځـي
دا چـې لـه پـوهـې تـوره ډال جـوړ نـه شـي
نسیمه ستوریه ځان ګــړنګ نه غورځولی چـا دی

# رڼا

درنـه ورک یـمـه پـیـدا مـې کـړه جـانـانـه
چـې خـفـه یـمـه پـخـلا مـې کـړه جـانـانـه

پـټ د مـینـې سـمـنـدر پـه غـېـږکې نـاست یـم
غـېـږه راکـړه نـن رسـوا مـې کـړه جـانـانـه

طبـیـبـانـو بـانـدې هـیـڅ کـار بـه ونـه شـي
خـپـل مـرض لـره دوا مـې کـړه جـانـانـه

زه کـچـکـول دا سـتـا پـه در کـې ګـرځـومـه
زه ملـنـګ یـم تـه بـاچـا مـې کـړه جـانـانـه

ستا ټوټـې تـصویـر مـې زړه پـه پوري نـیولـی
پـه ژړا یـم پـه خـنـدا مـې کـړه جـانـانـه

زه بـه ورشـم د نـسـیـم سـتـوري ارمـان تـه
تـورو شـپـو لـره رڼـا مـې کـړه جـانـانـه

# د غریب حال

منزل په لوري چې لښکر او کاروان نه لري څوک
څنګ به بیدار شي چې په وېښه ارمان نه لري څوک

هغه به څه د میني کـر وکړي په دغه زمکه
چې محبت ، نه لـري تـښـي جانان نه لري څوک

د ځان آینه کې چې خیرن مخونه ویني همیش
د حقیـقـت د اوریـدلـو تــوان نـه لري څوک

هلته به څه په یـو صف ټول مسلمانان ودریږي
په کوم جومات کې چې په خوږ غږ ازان نه‌لري څوک

حج تـه کـه لاړ شي د زم زم په اوبو ځان وینځي
دین نه به لري وي چې زړه کې ایمان نه لري څوک

څنک بـه خبر شي نسیم ستوریه د غریب له حاله
وې په مـزو کـې څیري څیري ګریوان نه‌لري څوک

# پهلوان

ستا قلـم دا ستا د فکــر تــرجــمان دی
مـحـبـت پـکـې جوړ کـړی لـوی کاروان دی

د قـــلـــم نـــوکـــه تـیـره ساتـــه ملـګـریـه
پـــــدې لاره د اغـــزو شـــوی بـــاران دی

وچ دې مـــه شـــه د قـــلـم واړه رنـــګـــونـــه
د زخـمـــي وجـــود د زړه دغـه درمـــان دی

وېـښــوي ویـــده ذهــنـــونـــه پـــه قـــلـــم
ســتـــا پــه ګــوتــو او قــلــم کــې دا تــوان دی

تــل د امـــن تـــرانـــې ولـــس تـــه لـیـکـــي
پـه ولــس بـانـدي دا سـتـا قلم ډیـر ګـران دی

نسیم ستوری دې بـــې ځـــایـه صفت نه کړي
پـه رښـتـیـا چې سـتـا قلـم نـن پهلـــوان دی

## خفه زړه

زمـا خـبري چې خـوږې دي نـو تـرخـي بـه نـشـي
دا ستا خبـري چې تـرخـي دي نو خوږې بـه نـشـي

مـا او تـه ځکه پـه يوه لار بـانـدې تـګ نـه کوو
مـا سـيـده لاري خپلي کـړي دي کـږې بـه نـشـي

که ستا په زړه هر څه تيرېږي خير دی تير دې شي هم
مـا اوس دوا تـه لـټـه جګه کـړه ښـيـري بـه نـشـي

ړنـده آيـنـه او دا ړونـد ذهـــن تـا سـره ملګری
زما د قام سترګـي بيـنا دي خـو ړنـدي بـه نـشـي

د زړه نـه کلـک يمـه د غـم سـره خـنديـږمـه زه
زبيـخلي اوښکي په ګريوان بانـدې خوري بـه نـشـي

زمـا نسيم ستوريه پـدي رانـه خـپـل زړه خـفـه دی
پـه تـول ئـې مـه تـلـه قسم دی چې درنـي بـه نـشـي

# برخه

مـینـه مـحـبـت چـې پـه رښـتـیـا غـواړي
لاس کـــې مـــړه ډیــوه رانـه رڼـا غـواړي

ستـا فـکـرونـه هـسـک سره خـبـري کـړي
ستا د خولـې لـفـظـونـه اوس مـانـا غـواړي

ولـې مـو کـاروان پـه نـیـمـه پـاتـي دی
وخـــت سره قـــدم رانـــه دنـیـا غـواړي

ژونـــد د حـرکـــت یـو فـلـسـفـه بـولـم
ژوند رانـه نـن ننـګ غـیـرت حیـاه غـواړي

هـــر ســـړی د بـام سر تـه خـتـلـی دی
ولـې مـې قـاتـل لـه مـا نـه سـاه غـواړي

ګـــرانـه نسیم ســتوریـه زه اوس څـــه وکـړم
خـپـله بـرخـه اخـلـې هـم زمـا غـواړي

# زمري

يـو غـيـرتـي ددې قـام مشر ننګيالى پكار دى
لـښـکـري مـه جوړوئ يـو د كار سـړى پكار دى

د پـښـتـون قـام د تـرقـۍ او پـرمـخـتـيا لـپاره
يوهم بـوډا ، پيغله ، ماشوم او ويښ زلمى پكار دى

د ژونـد لپـاره چـې د امـن ډيـوه بـلـه سـاتـي
د ژونـد پـه للمه يـو همداسي تـوريالى پكار دى

هغه چې زړه ، نـه وي صـفا زړونو تـه لار پيدا كړي
پـه قـام ولـس بـانـدې مئين يـو رښتيانى پكار دى

چې ستا د خاورو نه سره جوړ كړي ستا ښايست وساتي
وطـنـه سـتـا خـدمـت لـپـاره مـيـړنـى پكار دى

نسيمه ستوريه د هـيـواد پـه سـنـګـرنو كـې مـو
يو د ابـدال بل د خوشحال په شان زمرى پكار دى

# پټ

نـن چــي مـحـبـت رانـه پـــټ مــخ کـړلـو
واوره خــپـل قـسـمـت رانـه پـــټ مــخ کـړلـو

مـا خـو پـسـې ټـولـه دنـيـا چـــڼ کـړله
دلـــتـه حـقـيـقـت رانـه پـــټ مـــخ کـړلو

ســـوال راتـه پـيـدا شـــي بـې جـوابـه شـم
ځـنـګـه خـپـل همت رانـه پـــټ مــخ کـړلو

خـپـلـو پـســې نـه ځـمـه پـردي پـالـم
ګـوره چـي غــيـرت رانـه پـــټ مـخ کـړلو

مـشـر مـي پـښـتـو بـانـدې پـوهـېـږي نـه
ځـکـه پـښـتـو پـــټ رانـه پـــټ مــخ کـړلو

ګـرانـه نسـيم سـتـوريـه اوس بـه څـه کـېـږي
هـر يـو خـوږ نـعـمـت رانـه پـــټ مـخ کـړلـو

# نشته

دا مـا سـره چې نشته نـو د تـا سـره هـم نشته
پوهــېــږمــه جـانـانه د هیـڅ چـا سـره هـم نشته

د امـن دا لـښـکـري ګـونګي شوي غیبي شوي
هر څوک په ځان ویرېږي د باچا سره هم نشته

هر چا په خپل ضمیر باندې بې ځایه لوبې وکړې
رښتیا هم دا رښتیا دي د رښـتیا سره هم نشته

په خوب کې کله راشي او په وېښه بیا پناه شي
نـارې راته وهـي چې د دنـیا سره هـم نشته

پـرون نـه تښتیدلی نن سبا ئـې ارمـانجن دی
راڼـده وریـسې ګـرځي د بینـا سـره هـم نشته

نسیم ستوریه ملګریه زمونږ دې الله مـل شي
په څمکه رانـه ورک دی د هـوا سره هم نشته

# ډوب

دا ولاړ دنګ غـر رو رو په رژیدو دی
راتـه ښـکاري یـو چـینار پـه سـوزیـدو دی

د ژونـدون بـرخه بې ځـایـه لولـپه شـوه
چې د وخت هـر یـو قـدم پـه زغلیدو دی

پـاکي وینـي سـه ناپـاکه وینـه ګـډه
کلی لـوټ شـو اوس دا ښـار په لوټیدو دی

د وجود پـرهر ، پـرهر سینـه چې ژاړي
ګونګي ژبـې ستـا دا سـر پـه ټیټیدو دی

چې له سر پـوري اوبـه دي رسیـدلي
ورتـه ګـوره دا سـرې پـه ډوبـیدو دی

په پښتـو بانـدي چې ننګ پښتانه ، نه کړي
نسیم‌ستوریه نو پـښتون پـه ورک کیدو دی

سه « سره »

# مينځ

يو جال رانه راتاو دی زه د غلو په مينځ کې ناست يم
يو ګـل يمه جانانه د اغـزو په مينځ کې ناست يم

زه ځومره يم بدبخته د بدختو سرپرسـت يم
دې خپلو پـردی کړی يم پردو په مينځ کې ناست يم

بې ځايـه راپسې کـړې ډنـډوره چـې پـسد نه دی
زه ئې روغ ليونی کړم ليونو په مينځ کې ناست يم

زمـا او سـتا تـر مينځه فـاصيله ولـې ډيـريـږي
په يو سنګر ولاړ يو فاصيلو په مينځ کې ناست يم

زمـا د هـوا سـترګـو کـې د شـګـو امـبارونـه
د سيوري نه چې تښتمه غرمو په مينځ کې ناست يم

د بـام سر تـه راخيژه چې نسيم ستوری دې وينـي
دا ستا په انتظار يم د وعدو په مينځ کـې ناست يم

# د چمن ګل

تیـاري  چـې  مـو  رڼـا  کـړي  دا  قـلـم  راسـره  پـریـږدی
د  خـدای  لـپاره  نـور  هـم  خپـل  صـنـم  راسـره  پـریـږدی

چې  سترګي  مـو  بیـنا  شي  او  د  سیالو  سره  سیال  شو
ښوونـځي  پـه لـوري  ګـوره  هـر  قـدم  راسـره  پریږدی

هـر  قـام  د  پـرمـختـک  پـه‌لـوري  درومـي  حـرکـت  کـړي
دا  وخـت  رانـه  تـیـریـږي  د  قـام  غـم  راسـره  پـریـږدی

پـه خـپلـو  ویـنـو  لامـبـو  پـرهـرونـه  مـو  نـاسـور  شـول
دی  خـپـل  زخـمي  وجـود  تـه  لـږ  ملـهـم  راسـره  پریږدی

د فـکـر  د  هسـک  ستـوری  مـې  نـن  تـت  دی  ستا  د  لاسه
د  سـوچ  دا  خپل  وزر  مـې  دم  پـه  دم  راسـره  پریږدی

نسـیـم  سـتـوري  خـو  تـاسـي  تـه  ځـولـۍ  د  سـوال  نـیـولي
د  قـام  د  چـمـن  ګـل  تـه  لـږ  شـبـنـم  راسـره  پـریـږدی

# تاواني

نن مې د ژوند ډیوه روښانه لاړه تتـه ښکاري
نور به څه نه وایـم جانانه لاره ورکـه ښکاري

چې زه پـرون پـه انتـظار ومـه د نـن پـه تمه
د قسمت وړانګه مې تیارو کې لا هم پټه ښکاري

ما ویل د ډیر وخت نه ولاړه ده زرغونه به شي
دلته پـه باغ کې لا د ونې وچـه څـتـه ښکاري

چې د پښتو سه دوشمني کوي پښتون ځان بولي
د داسي خلکو پـه جود کې پـردی ختـه ښکاري

دا چې د ځای نه خوځیـدی نه شي ولاړه پـه ځای
ښـه پـه پوهیږم چې همدا بې عقله لـتـه ښکاري

زمونږ قسمت تل تـاواني دی پـه تـاوان پوهیـږي
چـا درتـه ویلي نسیم ستوریه زمونږ ګټه ښـکاري

سه « سره »

# اندېښنې

مـخ مـه پـټـوه مـا نـه چـا کـرلـي اغـزي دي
پـدې کلي کې ګوره چې د شمار هم څو سرې دي

د بيخه ئې کړه لرې چې ښايست ئې يو په سل شي
په دې باغ کې ولاړ چې کوم کاره وکاره نيالګي دي

شوګيرې جنازې به مې يقين وې چې رانه شي
په شړو هديرو کې دا څو مـړي لا ژونـدي دي

د هغه وخـت نـا وخته دی سبا نه چې نن تير شي
ستومانه محبت نـه خـو خفـه هم څو زلمي دي

منمه تنـهـائـي د سـړي زړه غلبيل غلبيل کـړي
دې بعضې تنهائـې کې خو نغمې د پسرلي دي

چا سر سـجـدې تـه ټيټ کړو د چا سر هم نه ټټيږي
نسيم ستوريه په زړونو کې بې ځايه اندېښنې دي

# څڅېدلى بام

مــلا نـــشــتــه مــقــتــدي ملا امام دى
دا چې تـل بـه وو کامـياب نن خو نـاکام دى

دار پـه سر مـې خيـژوي سـتـرګـي تـرلـي
زمـا سر بانـدې اخيسـتـى چـا انعـام دى

پـښـتـو سـتـا پـه سر سـودا کـوي زوربېـرېږم
بـل څـوک نـه دى دا وګـړي مـې د قـام دى

تـول لـوبغـاړي پښـتـانـه ، د پـردى لـوبـه
زمـونـږ خـاوره کـې د جنـګ نـړيوال جام دى

نـور تـوپـک پـر ځـاى قلم او کتاب واخلى
دا پـيـغـام مـې پـښـتـنـو تـه خـاص او عـام دى

بـې اتـفـاقـه نـظـرئـې دي نسيمه سـتوريـه
څـڅـيـدلـى د پـښـتـون ولـس مـې بـام دى

# ويره

يـو چا ليـونـی کـړی يـم يـو شـور مـې ويـره وي
پـه لاس کې چې ئې لور دی نو پـه لور مې ويـره وي

هـغـې سـره نـور نـه ځـم هـغـه زمـا قـاتـل دی
پـه سپينو جامـو تـور کړمه پـه تـور مـې ويـره وي

د زړه درازار مـې نـه اورم غـوربونو باندې ګوڼ يم
د داسي پـيـر مـوريـد يمه پـه زور مـې ويـره وي

پــه هـغـه لار روان يـم زمـا نـه د بل چـا ده
مـرګي نـه، نـه ويـريـږم ژونـدون نـور مـې ويـره وي

زه هيڅ ورتـه تـيـار نـه، چـې بيرتـه د زړه ور کـړم
راپـوري ئـې بـوسـه ده نـو پـه پـور مـې ويـره وي

کـتـی ورتـه زه نـه شـم څـه چـل رابـانـدې وشـی
نسيم ستوريـه زمـا دا کـنـډر کـور مـې ويـره وي

# وخت

دا چې دروغ نن د رښتیا نه مخکې کیږي
مقـــتـــدي هـم د مـــلا نـه مـخکې کـیږي

چې ثـواب پــه لاره تـلـی نـه شـي شـرمـیـږي
ګـنـاه ځـکـه د ګـنـاه نـه مـخکې کـیږي

پـه رښا ورځ چې ئـې اوښ پــه بـدِه کـړی
دا ســــړی اوس د وفــــا نــه مـخکې کـیږي

دوشـمــنـي چـــې د پـښـتـو ســره کـوی
نـو بـیـا ولـې مـا او تـا نـه مـخکې کـیږي

پـیـدایـښـت سـره نـــړی تـــه ده راغـلـي
ژړا ځــکــه د خـــنـدا نــه مـخکې کـیږي

نسیم ستوریه څه عجب وخت ته یو پاتي
بدرنګ دې وخت کې ښکلا نه مخکې کیږي

# هیره لامبو

هدف تـه نـه رسـېږم چـې خوبـونه رانه تښـتي
دا لاره رانـه ورکـه شـي وختـونه رانـه تښـتي

د ژونـد د غـزل پـاڼـي د خزان څـپـو وهلـي
رباب هم وارخطا شـي چې سـورونه رانه تښتي

د امـن جـنـتـي خـاوره اور شـوي ده سوزېږي
د مینـې محبت ښکلي فکـرونه رانـه تـښـتي

خزانـه ستا د لاسه مې په زړه زخمونه جوړ دي
سپرلی او د ګل پاڼـو ټول رنګـونـه رانه تښتي

هر څه د زهرو ګوټ شول تیرول ئې راته ګران شول
خـوارېږ په ما تـرخه لګی خـونـدونه رانه تښتي

ډوبېږم نسیم ستوریه د اوبـو مینځ کې ولاړ یم
لامبـو ده رانه هیـره ټول سـوچـونه رانه تښتي

# د ژوند کيسه

ما له دې رانه ورو سور ګلاب درنه هير شوی دی
هغه الهامي غزل کتاب درنه هير شوی دی

ته خو ، به د امن په لښکر کې سر لښکره وې
ولې ، نن د مينې لوی سيلاب درنه هير شوی دی

نور په مکيزونو په شاه مه ځه راته وګوره
مخ دې رانه پټ نه دی نقاب درنه هير شوی دی

ولې ، د ديدن سپرلی دې ځان ته په غوسه کړلو
ښکارې د ارمان د سوال جواب درنه هير شوی دی

ستا د حسن زور ته کاينات ګوته په خوله ولاړ
زر شه خوله دی راکړه ښکلک ثواب درنه هير شوی دی

ستا د ژوند کيسه مې نسيم ستوري ته پوره کړله
هغه د لفظونو خوږ درياب درنه هير شوی دی

# دا ولې ولې

د مینې کور مې نن ورانېږي پښتو
دا ولې ولې داسې کیږي پښتو
ژبه مې ژبې نه غوڅیږي پښتو
دا ولې ولې داسې کیږي پښتو

پښتو په تا باندې څوک ننګ نه کوي
دا ستا په سر باندې څوک جنګ نه کوي
څوک دې دفتر څوک دې ښوونځي نه شړي
څو بې غیرت دې زړګي نه شړي
د دوی دا سترګې ړندول پکار دي
د دوی فکرونه نور وژل پکار دي
سترګې ئې سرې دي او ژړیږي پښتو

په لر و بر کې خواره زاره ګرځې
هر څه لرې خو بیا هم نهره ګرځې
ستا په ژوندون باندې ژوندي بچي دي
دا ستا په غیږه کې زلمي بچي دي

نـو بیـا دوې ولـې نـن ګـونګـیــان ولاړ دي
څـــه بـــې درمـــلـــه طـبـیــبان ولاړ دي
پـخـپـلـه خــــاوره کـــې زوریــږي پــښــتـو

ســتا پـه حـجـرو کـې زمـریـان ویـده دي
دا ســتـا د میــــنـــې پـتـنـګان ویـــده دي
ستـا دوشـمـن تـا پـه سـور انـګار خـیـژوي
څـه بـې ګـنـاه دې نـن پـــه دار خـیـژوي
زمـریـــان دلـتـه وېـــښـول غـــواړي هـــم
دا سـتـا دوشـمن پـرې ورکـه ول غـواړي هـم
زړه مـې پـه تـا بـانـدې دردیـږي پـښـتـو

دا سـتـا پـه سر بـانـدې سـودا کـیـږي نـن
سـتـا د وجـود نـه هـر خـوا غـلا کـیـږي نـن
ځـم نـسـیـم سـتوری چـې خـبـر کـړمـه زه
ورســره جـوړ بـه لـوی لـښـکـر کـړمـه زه
څـــوک دې د قـــتـل کـوشـشـونـه کـوي
څـــوک هـــم لـه تـا نـه نـفـرتـونـه کـوي
دا لــیـونـي دي نـه پـوهـیـږي پـــښـــتـو

# خرڅ شوی

د پاکو احساساتـو پـه ژونـدون لـوبـي شروع دي
د نـــن خـبـره نـه ده د پـــرون لـوبـي شـروع دي

راځـۍ چـې نـور راپـاڅو ددې ورکـو هـديـرو نـه
پـښتو ده ژوبل شـوې پـه پـښتـون لـوبـي شروع دي

چې دروغو کلی وران کړو د رښتيا دروازي بنـدي
د وخت په وچو شونډو د قارون لوبي شروع دي

د ژونـد د اميـدونـو غـرڅـنـۍ لاړه تـپـي شـوه
د شـپـې تـورو تـيارو پـه سباوون لوبي شروع دي

د خپل حق چې پوښتنه مونږ ونه کړو د هغو نه
ګنـاه زمـونـږه دا ده پـه سـمـون لـوبـي شروع دي

نسيم ستوريه دا قـام بـه خبرول غـواړي لـه دې نه
قانون دی اوس خرڅ شوی په قانون لوبي شروع دي

# تږی عقل

بې له تا چې مې ژوندون خاوري په سر دی
نـن چـاودلـی مې د زړه د مـیـنې ور دی

راشــه وګــوره ارمــان نـیـمګــړی پاتې
پـدې زمـکـه یــو وجــود پـرهر پرهر دی

د مســتــۍ د بام لــه سره غــوځــیدلـی
تقسیم شـوی هم پـه لـر او هم په بـر دی

د تـصــویـر رنـګــونـه تـول دې باران وړي
لـړیـدلـی چې مـې اور اوس پـه تـغـر دی

نـــور بـه خـــوب تعبیر پسې نـه ګرځـومـه
د ازل دا بـرخـه لـیــک مې نـن نـهـر دی

د خپل کور درشل کې ورک یم نسیم ستوریه
تـږی عـــقـل د رڼـــا نـــه مـــرور دی

# بدقسمته

نور مــې مـه پوښــتـه جانانه چې زه څـه یــم
لـکــــه پــاکـــي د زم زم اوبــه اوبــه یــم

د ارمــــان د بـــنــو غـــشـــي رانــه تــښــتـي
زه حــــالاتــــو ژوبــل کــړی یـم مـــات زړه یــم

د تــیــارو د لــمـن لانـــدې دي ژونـــدون دی
زه د مــیـنــــي مـحـــبـت د ژرنـــدې وړه یــم

د پـــردو پــه لـمــســون مــه څــه مـسـلـمـانـه
نـه جـومـات مـې کـافـــر شـوی کـافــر نــه یــم

تــه قـاتـل شــوي زه مقتــول نـــاپــوهـــه وروره
مـه مـــې وژنــه مسـلـمـان لـه تـا نــه ښــه یــم

د نســیــم ســتـوري قـلـم پــه مـــا ژړیـــږي
بـدقــسـمـتــه یم تـوتـــې تـوتــې چـــې زه یــم

# زار

یو تصویر کې ځان بل کې جانان وینم
زه پکې خواره یاران وینم

ولې ستا د خیال نظر ته نه راځې
زه د محبت پکې ګریوان وینم

ما چې ستا زړګي ته لار پیدا کړه
بیا خو د رقیب د سر تاوان وینم

ما ته نن د سرو شونډو شربت راکړه
زه پکې د خپل زړګي درمان وینم

کر د مینې شوی په دې شره کې
دلته چې د مینې ګلیستان وینم

زار د نسیم ستوري شاعری نه شم
هم پکې پښتو اسلام ایمان وینم

# ډار

زه نه پوهېږم چې په ځان باندې وېرېږم ولې؟
د ژوند نه تښتمه د مرګ سره اوسېږم ولې؟

جوړ په خلورو اندمونو یم بیا ولې کېږې
په لاره تلی نه شم هر ځای کې زه غورځېږم ولې؟

ما خو اسمان ته تېرې نه دي ګوزار کړي خپله
په هر یو کانړي د اسمان باندې لړېږم ولې؟

ګناه مې دا ده چې ګناه مې ګنهګار بولي
د سمې لارې نه کږې لار ته ستنیږم ولې؟

رنځور هم نه یم او حاجت مې د علاج نشته دی
پدې ګرمې کې د یخنې نه زه رپیږم ولې؟

د چا نه وپوښتمه څوک به راته راکړي جواب
د نسیم ستوري شاعرۍ نه زه ډارېږم ولې؟

# دم په دم

د زړه کـور کـې مـې اوسـېږي دم په دم اوس
زمـا تـنـده پـرې مـاتـېږي دم پـه دم اوس

دا بدرنګ مخ ئـې همـيش بـدرنـګه اوسه
د ښـکلا ، ښـکلا زیـاتـیږي دم پـه دم اوس

پـرې روانـې قافيـلې دی ځـئ چې لاړ شو
خپل منـزل تـه بـه رسـېږي دم پـه دم اوس

طبـیـبـانـو تـه اوس هـیڅ ضـرورت نـشـته
چې مې رنـځ پـدې جوړېږي دم پـه دم اوس

د قـسمـت شـمـع مـې بلـه راتـه ښـکاري
چې تـیـاري رانـه پـټېږي دم پـه دم اوس

هـر افـتـه دې رب سـاتـه نسیم سـتوریـه
ستا خـبرې مې خوښـیـږي دم په دم اوس

# خپل صنم

زمـا پـه لاس کې چې قـلـم دی تـنګـول مـه کـوه
مـا سـره مـل چـې د قـام غـم تـنګـول مـه کـوه

تا تـه بـه جـوړه يـو کـوډلـه کـرم د ختـو ګـتـو
دا سـتـا پـه ميـنـه مې قسم دی تـنګـول مـه کـوه

لکه هوښـيـاره مـرغـۍ وبـه نښلي دوارو ښـپـو نـه
زمـونـږ مـالـت زمـونـږه چـم دی تـنګـول مـه کـوه

دا ستا رښتيا راته دروغ ښکاري او که دروغ رښتيا دي
هـغـه سـړی پـه لاره سـم دی تـنګـول مـه کـوه

دا زه چې لاړ شـم بـيـرتـه راشمه دې خپل فـکـر تـه
مـنـزل پـه لـوري مې قـدم دی تـنګـول مـه کـوه

زه د نسـيـم سـتـوري د قـام وطـن شـعـرونـه لـولـم
ناست مې په خوا کې خپل صنم دی تـنګـول مـه کـوه

# بوټي

مونږه تل ټول عمر د سولې نه هم ځنګ کړی دی
په عقل نه، په بې عقلۍ باندې مو جنګ کړی دی

زمونږ د کار سړی به ښه راته بې کاره ښکاري
مونږه بې ځایه په پردو باندې هم ننګ کړی دی

مونږه د مینې محبت نه پاتې شوي لرې
زمونږ په پاکو عقیدو هم بیلتون رنګ کړی دی

د وخت قدم ته چې دا خپل قدم نژدې نه پرېږدو
ارمان مو وچ دی زمونږ ذهن چې نن زنګ کړی دی

د سترګو مخکې نن د ګل جنازه پورته شوله
نن په رښتیا کې څه د دروغو وجود دنګ کړی دی

د نسیم ستوري او زما خبره نه منې دوي
د ارمان زمکې ئې هم بوټي ، اوس د بنګ کړی دی

# ناري

مــقـــــتـدي او د مـــلا نـــه ګـــوره نـشـي
دا ګـــنـــاه ده د ګــنـــاه نـــه ګـوره نـشـــي

اوس پــه هـر محفل کې ټيـتـې سترګـې ناسـت دی
ځـــان ســـره وائـــې زمـــا نـــه ګـوره نـشـــي

چـــې ټـپـونـه ئـې پـرسـېـږي نـــه جـــوړېـــږي
ای طـــبـيــبــه د داوا نـــه ګـــوره نـشـــي

سـمـه لاره کـــې اغـــزي کـــري بـــدنـام دی
وائـــې عــقـلـه د خـــلا نـــه ګـوره نـشــي

زمـــا اوښـکـــو پــاکـــولـــو حـــاجـــت نـشـتـه
ښـــه پـــوهـــېـــږم د ژړا نـــه ګـوره نـشـــي

نسيم سـتـوريـه دوي پـه کـوم رنـځ اخـتـه شـــوي
چـــې نـــاري وائـــې دنـيـــا نـــه ګـوره نـشـــي

# درڼا محبتونه

زه د جنت په ښنګ کې ناست یم ښایستونه شمارم
وختـه تـه لـړ شـه خپـه نیـولی نعمتونه شمارم

بیلتونه ورک شه په ما مه راځه خوښیږي مې نه
زه اوس د مـور د پـښو لانـدې جنتونه شـمـارم

د خپل احساس د دایـري نـه هسـک ته وختمه
زه د جـنـت پـه هـر یـو بـوټي کې ګلونه شمارم

نن مې نصیب اوسیلی نه کوې خوشحاله ګرځي
چې د جنت په ګل کې زه، ښکلې رنګونه شمارم

دا چې سپوږمۍ او لمر د مینې په سوګند ولاړ دي
د هسـک په غېږه کې د مینې پاک نیتونه شمارم

د مـور دعا هم کـرامـت لـري او دولـت لـري
د دولـت کـور کــې د ړڼا مـحبـتـونـه شـمـارم

# ګونګ

غـېرت تـښتي عقل تـښتي ايـمان ګـونګ شو
د ژونـدون د رڼـاګانـو ارمـان ګـونـګ شـو

د جـنـــت نـه غـورځـيـدلـی دی پـه زمـکه
پـه خپل ځـان چي ظلم وکړ انسـان ګونګ شو

د ادم بـچـو يـو بـل لـه تـېغه ويـستل
د انسـان پـه وحشتونو حـيوان ګونګ شو

بـې د مينـې به ژوندون هم سـمـسور نه شي
چي د مـيـنـي د لار ځنګه کاروان ګـونـګ شـو

چي مـحفـل کـي نن زمـا لـه نـوم منکـر شو
حق حـيران يم چي دا ولـي جانان ګونګ شو

چي د زمـــکي د لـمـن پـر سر ولاړ دی
نسيم ستوريه پـه غـريـب نن اسمان ګونګ شو

# مرګ

خوب کې وینم چې ژوندون رانه مـرګ واخلي
زړه مې وچوي او پښتون رانه مـرګ واخلي

د رنګونـو لـوی دریـاب راباندې وچ شي
قلم مات شي او مضمون رانه مـرګ واخلي

د احساس د عقل سترګې مې ړنـدې شي
ښوونځي سوازي او پوهنتون رانه مـرګ واخلي

چا د امـن پـه تصویـر پښـي ایـښودي
کلی وران شـي او سـمون رانـه مـرګ واخلي

د پښـو نـه مـې سـاه وخـیژي ودریـږم
د مـنزل پـه لـور هـر یـون رانـه مـرګ واخلي

نسیم ستوریـه هـر سـرې پـه خـپله سر دی
کـډوډي شـي او قـانـون رانـه مـرګ واخلي

# پیغور

زمـا غـزل لـه مـا تـپوس کـوي سـنـدره څـه ده
هـلـتـه سـنـدره غـرېـدلـه ویـل خـبـره څـه ده

خولې ته مې راغله یو ناره خو شونډو نه پرېښوده
سر ئـې د غـر سه جـنګولو ویـل ډغـره څـه ده

دلـتـه یـو ګـونګ سـرې ولاړ وو څـه ئـې نـه اورېدل
ګونګ نه پوښتنه کړې ښاغلیه چې بدله څه ده

د سـتـرګـو رپ کې مـې نـظر په هغه چا ولګید
ځان سره وائې چې انصافه دا ستا تله څه ده

تـیـاره د سحر او مازیګر تـر مینځه راغلـه دلته
رڼا په سـتـرګـو شوه رڼـده نـو ډیـوه بله څه ده

نسیمه ستوریه بـس همدي ته دي وزګار دا خلک
یو ته پیغور بل ته پیغور کوي ستا خپله څه ده

# نیمګړی

پرون رانه تیر شوی نن سبا ته به څه وایم
په دروغو کلی جوړ دی چې رښتیا ته به څه وایم

راځه چې ددې زړونو د درزاره نه ځان خبر کړو
ته ما ته به څه وائې او زه تا ته به څه وایم

لښکر مې د فکرونو لالهنده سرګردان دی
منزل دې رانه پاتې اوس وفا ته به څه وایم

دا مینه د پخوا په شاتني نه ده چې ټوکیږي
دا سترې ملامت دی یار اشنا ته به څه وایم

زمونږ د غریبي جونګړه لاړه کنډواله شوه
هر زړه د اوښکو ډک دی نو دنیا ته به څه وایم

نسیم ستوریه نیمګړي پسرلي نه مې توبه ده
ګلونه مړاوي کیږي نو بورا ته به څه وایم

# غزل

دې بدرنګـو چـم نيـولى په ښکلا باندې څه شوي
هسې دومـره درتـه وايـم پـه وفـا باندې څه شوي

چې د ستـرګو دى پناه يم چې د سترګو مې پناه ئې
دا په تا باندې څه شوي دا په ما باندې څه شوي

په لمانځه کې وارخطا شم د امام نه مخکې کېږم
تـتـه تـتـه راتـه ښکاري پـه ربـا بانـدې څـه شوي

د خپل سوچ په هر قدم کې کله خان کله غريب شم
د تياور سيلۍ کې ډوبـه، پـه سبا باندې څه شوي

عقل خپله لاره پرېږدي ګرنګونو نه ګوزار شي
بيا حيران ګوري نړۍ ته په دنـيا باندې څه شوي

د رښتيا ډيوه وي بله خو په دروغو ئې راته مړه کړي
غړ چې نه کړي نسيم ستوريه په رښتيا باندې څه شوي

# صفتونه

نن بیا راته څه وائي دا فکرونه د خپل کلي
په ذهن مې ساتلي تصویرونه د خپل کلي

د ډیرې خوشحالۍ نه اوس الوت کوم تر اسمانه
سپرلي راته راوړي دي رنګونه د خپل کلي

تپوس رانه تا وکړ هغه بر ګودر دي یاد شي
په زړه مې راوریږي ښایستونه د خپل کلي

واړه واړه نیالګي وو زه چې دلته ترې راتلم
لوي شوي به هم وي نو چینارونه د خپل کلي

د کلي مازیګر سحر ماښام مې نه هیریږي
د ځان نه راته ګران دي خړ کورونه د خپل کلي

څه ورشه د نسیم ستوري نه وپوښته په خپله
بې ځایه خو زه نه کوم صفتونه د خپل کلي

## روان

بدبخته بدنصیبه یو هر چا پسي روان یو
تیارو کې ډوبیدل دي د ګناه پسي روان یو

بدرنګ راته پیغور کړي او ښکلا رانه خفه ده
خندا ده رانه ورکه د ژړا پسي روان یو

## بې ننګه

چا د دستار په سر سودا وکړه پردو ته تړي
چې د دستار په درښښت پوه نه دی هغو ته تړي

نسیمه ستوریه زړه دې وچوي د بې ننګه پښتون
د ننګ په وخت کې دا دستار چې نه سرو ته تړي

# سوړ باد

چا چې وران کړی زمونږ ښار دی لـړ ئې وپيژنې
بل ئې وچ کړی دنګ چينارډی لـړ ئې وپيژنې

سترګې ړندي دي د حياه بلې ډيوې مړې شوې
غل او قاتل د چا هم يار دی لـړ ئې وپيژنې

د وطـن خاوره چې پردو باندې پـلورې هميش
دا بدعـمله لـوی غـــدار دی لـړ ئې وپيژنې

چې ئې تل عمر په حرام مال ئې ژوندون کړی دی
دغه سړی د چـا سردار دی لـړ ئې وپيژنې

چې سـتا ښايـست ئې د نفرت پـه لمبو وسيزلو
ولسه ستا دوشمن مکار دی لـړ ئې وپيژنې

د پـردې ډول ته په ګډا چې ئې ځان ستړی کړلو
دغه سـړی کله هوښـيـار دی لـړ ئې وپيژنې

غواړي د ځان لپاره هر څه بل دې خاوري وخوري
په خزانه پروت لوی ښامار دی لـړ ئې وپیژنې

دا چې د ورځې تـوره شپـه ده رڼا ورکه ښکاري
په خوب ویـده کله بیدار دی لـړ ئې وپیژنې

دا چې بې قدره دی ټوټې ټوټې وجود په زمکه
د اور په ژرنده کې ایسار دی لـړ ئې وپیژنې

هـر یو ناري وهـي چې زه د قـام مشـري کـومـه
په مونږ کې کوم یو اوس سالار دی لـړ ئې وپیژنې

د اوښکو ډکې لمـن ګرځي نـن بې وسـه زړګی
منصور په مینه کې په دار دی لـړ ئې وپیژنې

خدایه نسیم ستوری مې وساتي د هر سوړ باد نه
دا هـم زمـا د زړه قرار دی لـړ ئې وپیژنې

# زلمیه

ژونــــد دې بــدل خــوې دې بــدل زلمــیه
تــــل ئـــې د مــیـــنـې ســـره مـــل زلمـیه

هـر چا چې ستا په پل قـدم ایـښـې دی
دی رســـیـدلـــي تــــر مـــــنـــزل زلمـیه

د پــلار نــیـکــه پــه شـمـلــه ویــاړي همــیش
پــه سـر هـم ســتـا ده ول پـــه ول زلمـیه

تـــه د ګــلــونــو خـوشـــبـــوئــي خــپـروي
عــمـر دی ګــل، مـه شـه د ګـل زلمـیه

د بــیـــداری فــکـــرونـه مـونـږ تـه راوړي
زمـــونـږ پــه زړه کـې بــه ئـې تـــل زلمـیه

مـا د نـسـیـم ســتـوري شـعـرونـه لـــوســـتـــل
پــه تـــا لـــیـــکـــلـــي وو غــــزل زلمـیه

# سرمایه

الـوت کـوې پـه بـره پـه خیالونو کې دې څه دي
په ښپو کې دې بیرۍ دي په لاسونو کې دې څه دي

دا مرګ خپله قاتل دی سرې نه پرېږدي خپل ژوند ته
ګلونـه رژیـدلي پـه باغـونـو کـې دې څـه دي

د نـوي ســوچ ارمـانـه در پــه در دې ګرځومه
په وېښه پوره نه شوې په خوبونو کې دې څه دي

ښـکلا چې دې ګریوان ته رسیدلي ګریوان څیري
خاموشه وچه دشته په ډاکونو کې دې څه دي

حجره جومات کنډر شـو د ګودر غاړه شوه شړه
ښوونځی دی سوزیدلی کتابونو کې دې څه دي

نسیم یمه که ستوری بې لـتا پـه نشت حساب یم
د ژوند مې سرمایه ئې په فکرونو کې دې څه دي

# پاتي

څـو خو ويده دي څو لا وېښ پکې ځوانان پاتي شي
وخت چې نژدې شي د منزل په لور يـاران پاتي شي

راسـره نـه ځـې خـو په لار راسره سم روان وي
زما دا سـیوری خو د سـیوري په ارمان پاتي شي

زړه کې ئې ستاتم خو په خوله باندې ئې نه يادوم
دا چې په جب کې مې تصوير هم د جانان پاتي شي

د ځوانـې مـرګ اشـنـا دې فکر ته اوس ورسيدم
ځواني چې تیره شي په خيال کې به دوران پاتي شي

زمـا سـبـا او سـتـا مـاښـام بـه رارسـيـږي کله
فکر کې ناست يمه په دې کې رانه ځان پاتي شي

نسيمه ستوريه د مـاښـام او مـازيګـر لمانځه تـه
داسي ښـکاريږي چې ملا نه اوس ازان پاتي شي

# نیالګی

د پـکـتـیـکـا ګـلـونـه ورژیـد سـپـرلـی ژاړي
ژونـد کـړه اخلـې په وطـن مئیـن زلـمـی ژاړي

د پـښـتـنـو پـه خاوره بیـا سرې لمبې جـوړې دي
د غـېـرتـي وجـود جـسـد تـه لـیـونـی ژاړي

پیغلې سر تـوري شولې سلګی شوه مینه د ژوند
بـابـا خـفـه دی د دادا ئـې هـم زړګـی ژاړي

ای د وطـن زلـمیانـو ، پـه ځان نـور ننګـه وکړې
کلـې او کـور د پـښـتـنـو کـې هـر سـړی ژاړي

د کـوم ظـالـم د لاسـه ، څـه بـې ګـنـاه ئـې وژنـې
پـه خـپـلـو ویـنـو لـمـبـیـدلی تـوریـالـی ژاړي

نسیمه ستوریه پښتـون ، بـه نـور وېښیږې کله
میـنـدې شوې بـورې د وطـن هـر یـو نیالګی ژاړي

# خاپونه

ما نه د خپل تصویر رنګونه ورک شول
رښــتیا رښــتیا مــحبتــونــه ورک شــول

هغه حجري او دیري دواړه رنګ شوي
هـمدا د کلـــي ښــایســتــونــه ورک شول

اوس چــا تــه ورشــم چــا تــه وژاړمــه
زمــا د بــاغ نــه سره ګلــونــه ورک شــول

د زړه حــجــره مــي نــوره شــړه پــاتــي
چــي د ثــواب پــکــي کــتــونــه ورک شــول

نــور د هــغــي تــپــوس د چــا نــه وکــړم
زمــا پــه لاس کــي ئــي خطونــه ورک شــول

نسیمه ســتوریــه زه بــه څــه وکــړمــه
دا چــي د مــیــنــي ټــول خــاپــونــه ورک شــول

## غلی قانون

زما د ژوند د کتاب هر مضمون نیمګړی پاتي
وخته لږ ودرېږه احصار شه ژوندون سترګی پاتي

دلته هغه کېږي چې خان او یا بادار ئې کوي
دا چې بیدار خلک ویده دي قانون غلی پاتی

## لهبامه

ای ملګرو ژوند چې مو د پامه غورځولی دی
قام لرو خو قام مو د خپل ځانه غورځولی دی

مونږ رانده کاڼه یو چې پردی غلام اتل ګڼو
مونږه خپل اتل د خپله بامه غورځولی دی

# تالا مینه

په تعبیرونو کې دا ستا د خوب تعبیر خو نشته
په ځان زهیره هو دا ستا د زړه زهیر خو نشته

دا چې د ژوند د ښایستونو ډیوې مـرې ښکاري
دلـته د میـنې د ژونـدون هغه بهیـر خو نشته

په کـړه لاره کې تـیـارو پـسـې مـزل کـوي تـل
ځکه د ژوند د پـسـرلي د زړه امـیـر خو نشته

داسې ښکاریږي یا خو مړ یا خـو ویده دي دلته
په دغه کلي کې هم ویښ د چا ضمیر خو نشته

وخته بې وخته غوبل جوړ دی ځان ځاني ده ځکه
دلته باچـا دلـته کوتوال دلته وزیـر خو نشته

مــا د نسیم ســتــوري د فـکـــر تـرجمان وګـنه
محبت ګونګ مینه تـالا ده ښه تقـدیـر خو نشته

# ايره

وائـي پـريـــږده چې مـکان ايره ايـره شـي
د زړه کـور کـي دې جـانـان ايـره ايـره شـي

د نـفـرت او د بـيـلـتـون هـمـدا ارمـان دی
سـور انـګار کي دې انسان ايـره ايـره شـي

د هـوښـيـار دا بـيـنا سترګـي ړنـدي شوې
پـــدې زمـکـه دې اسـمـان ايـره ايـره شـي

مسـيـحـا ورتـه اوس مـــړي ژونـدي کـــړي
د ژونـــدو دې هـــر ارمـــان ايـره ايـره شـي

د ثـواب او ګـنـاه جـنـګ دی پـدې خـاوره
ګـنـاه زور کـړي چې ايـمـان ايـره ايـره شـي

ستنې تـار تـه دې حاجت هم پـيـدا نـه شې
نسيم ستوريه چـې ګـريـــوان ايـره ايـره شـي

# پښتو لیلا

چــا ژړا او چـا خــنــدا ده پــه شـاه کـړې
بس هـر چـا هـم وارخطا ده پــه شـاه کـړې

د ثــواب پـسـې مـې ټـولـه دنـیا چـڼ کـړه
د نـفـرت بـوجـۍ هـر چـا ده پـه شـاه کـړې

دا چې ســتـرګـې او غــورېـونـه ئــې کـاڼـه دي
ځـکه ځـکه ئـې ګــنــاه ده پــه شـاه کـړې

فـکـر شـل دی ګـرځـیدل ورتـه هم ګران شول
ګـوره ګـوره چــا هـــوا ده پــه شـاه کـړې

څـه عـجـبه نــــنـداره ده سـیــال ئـې وکــړه
څوک دنـیـا او چـا دنـیا ده پـه شـاه کـړې

نسیم ستوریه هـر چـا خـپـل قـسـمـت خـوړلی
ځـکـه مـا پــښـتـو لــیـلا ده پـه شـاه کـړې

# ړنده رڼا

لکـه پـه زړه دې يـو ګـوزار د مـحـبـت خـوړلـی
چې حقيقـت تـه دې لاس واچـو حقيقت خـوړلـی

د تـورو کـرښـو نه اوس سپيني کرښې مه جوړه وه
په لار روان ئې ګـوتـي شـماري نصحت خـوړلـی

څـه د بـاد او د بـربـاد نظر تـر مينځ ولاړ دی
دا چې لـه سترګو غـورزيـدلی خپـل قسمت خـوړلـی
د يـو سـړي د مـرګ قيصه دومره اسـانـه ،نـه ده
قاتل ناره کړه چې مقتول بې ځای غـيرت خـوړلـی

چـا د ګـنـاه چـا د ثـواب لـمن راغـونـده کـړلـه
په شته دولت کې په رښتيا چې خپل دولت خـوړلـی

راشــه لـږ ولـولـه زمـونـږ د نسيم‌سـتـوري فـکـر
ړندي رڼا هم د خـوړو نـه تـريـخ نعمت خـوړلـی

# قدمونه

ارمان مې دی په زړه کې ستا یادونه مې نور وژني
چې سترګي پـټـومه نـو خـوبـونـه مـې نور وژنـې

ما داسې شوګیر کړی چې بیلتون هم وارخطا دی
په اورسوی خو ښه یم یخ بادونه مې نور وژني

د مینې قاتـلانې د ښـار سترګي دي لـړ راشـه
پـه شـړه زنـدګـۍ کـې قسمتونـه مې نور وژنـې

جنـت نـه، راتـه اور د دوزخونه دي جوړ شوي
خاپونه دي ورک کېږي سره اورونه مې نور وژنې

د ســاه د حوصــیلي ړنـا چـې تـتـه تـتـه کـېږي
ټوټي ټوټي چې پروت یم پرهرونه مې نور وژني

منمه نسیم ستوریه چې لوی کر د اغزو شوی
منزل پـه لـور نیمګـړي قدمونه مې نور وژنـې

# ولي

انځور ئې د جانان اوس په منګکي جوړ کړی دی
د مینې لوی تـنـاب چې کاونـډې جـوړ کړی دی

قـربان شه ستا د خاورې نه زما د وجـود ساه
هـیواده سـتـا بـیـرغ مې په زړګي جوړ کړی دی

دا روغ نـشـه نـشـه دې پـه فـکـرونو کې دې ډوب
د ژونـد د مـیـنـې بـاغ چې لـیـونـې جـوړ کـړی

پـه زړه مــې ګـوتـې کـیـږده زمـا د زړه طبـیـبـه
دا زړه مې په زړګي کې یو سړي جـوړ کـړی دی

اوبـه دي بـهـیـدلـي د وخـت پـه وچـو سـترګـو
د مـیـنـې پـه چـیـنـه کې سمداستي جوړ کړی دی

نسیم ستوریه هغه فکر دې شنډ، په خوله ګونګ شي
ولي چې نه دی ځان نه ئې ولي جوړ کړی دی

# ويده شعور

د خـپـل دادا د خـپـل بـابـا قـاتـل تـه غـېـرږه ورکـۍ
نـاپـوه مـاشـوم دی د رښـا قـاتـل تـه غـېـرږه ورکـۍ

اخ ، ژوندون به څنګ نه بدرنګ کېږي د نړۍ پر مخ
ښکلا پرسـت چې د ښـکلا قـاتـل ته غـېـرږه ورکـۍ

وطـنـه سـتـا د کـاڼـو بـوټـو نـه لـوګـی لـوګـی شم
دا هـم دا سـتـا دا هـم زمـا قـاتـل تـه غـېـرږه ورکـۍ

د غـېـرت ويـنـه به پـه ځان بـانـدې غـېـرت کـلـه کړي
د ننګ په وخت کې د رښتيا قـاتـل ته غـېـرږه ورکـۍ

د غلامۍ نه به ئې ذهن خلاص هيڅ کله نه شي
پښـتـو دا سـتـا بچی دا ستا قاتل ته غـېـرږه ورکـۍ

نسيمه سـتوريه د شـعـور د بـيـدارۍ ورځـې دي
ويـده شعور ئې په بـيـا بـيـا قـاتـل ته غـېـرږه ورکـۍ

# سمون

دا ساه د پښتنو ده نو ژوندون ورته پکار دی
راویښ شه ای جانانه نـر پښتون ورته پکار دی

دوشمن ورته مورچه دی نو دوشمن ته نور مورچه شې
د ذهـن اوښـتون دی اوښتون ورته پـکار دی

لیلا سرتـوره شوې وچې شونـډې بهـر ګرځي
چې ننګ په لیلا وکړي نو مجنون ورتـه پکار دی

د قـام د بچـو مینـه چې بې ځـایه کمه نه شي
د میني جوړ د میني لوی پوهتون ورته پکار دی

راځـې چې نـن سبا نه د سبا پـوښتنه وکـړو
سبا رانه تـیر نـه شي لـړ پـاڅون ورته پکار دی

نسیم ستوریه زمونـږ د پښتنو دا بـد عادت دی
پـردي ژبـې تـه کار کړي لـږ سمون ورته پکار دی

# تورونه

لاس کـې دي نيـولي نـه وه ورکـه پـه هوا شوله
لاړه والـوتـه سپـيـــنـه کـوتـــره پـه ژړا شـــولـه

کـر د اغـزو شـوی پـه سيـنـه د محبت بـانـدې
سـترګـو لـه نظره ورکـه ، ورکـه تـرې حياه شوله

سـاه ده بـې ساه شوې هم د امن فلسفه ګونګه
دا چې د ژونـدون پـه حـجـرو جـوړه کربلا شوله

دلتـه د بـدرنـګ ذهـن بـدرنـګـه باچاهي ده نن
ځکـه د بدرنګـو نـه ښـکلا ، ښـکلا جدا شـولـه

نـن مـې د ايـمان پـه دروازه نيمـګړی ولـيـدو
ځـکـه د ربښتيا پـه دروازه کې ماتـه ملا شـولـه

مونږ به په تورونـه لکول نـه پـوهـيدلو مـونـږ
هـغـه د نـسيم ستوري خبره هم ربـتـيـا شـولـه

## خبره

خـولـې نـه مـې راوتـــې مـلـغـلـــره ده
اوس خـو د هــر چـــا د زړه سـنــدره ده

زر شـــه د نسيــم ســـره ســـلا وکـــړه
ستـــا د ژونـــد مـلـــګـــرې دا خـبـــره ده

## خوږغزل

کـور کـې نـه کـينـم مـلـګـرو مـزل غـواړم
پـدې لاره خـم ارمـــان تـــه منـــزل غـــواړم

چې د قـام پـه مـيـنـه مـست دی نسيم ستوری
د نسـيـم ستـوري دا خــوږ خـــوږ غـــزل غـواړم

# رنځور

مـونــږه پـخـپـلـه خـپـل وزر مـات کــړی
د چـا مــو لاس او د چـا سـر مـات کــړی

رائ مـو ورکــړي د پـښــتـو دوشـــمـن تـه
پـدي دوشـمـن مو خـپل سـنګر مـات کـړی

سـړی ، سـړی نه وي سـړی تـرې جـوړ کـړو
پـه نـه سـړي مـو خـپل لـښکـر مـات کــړی

دا بــې اتـفـاقـه خـپـل وجــود زمـونــږه
مونږ خـپل وجـود پـه لـر و بـر مـات کــړی

مـونـږ قـاتـلان د خـپـل ضـمـیـر او پـښـتو
مـونـږ په پـردو دا خـپل رهـبر مـات کـړی

نـسیم سـتـویـه رنـځـــوران یــو مـــونــږه
زړه مـو مـات کـړی هم ځـیکـر مـات کـړی

# ښکلا

دلته چې جانانه د جنون رضا ښکاريږي نن
مه وارخطا کېږه د سکون د نيا ښکاريږي نن

ګوتو ته دي ووايه تصوير نيمګړی پرې نه ږدی
دي کې په رښتيا د سباوون رڼا ښکاريږي نن

فکر جادوګر دی د نظر لمن کې ځان ساتي
عقله ستا په ساه کې د ژوندون ځلا ښکاريږي نن

ډکه دي زانګو شي هم د مينې محبت پکې
دا د ښايست زړه د پيوستون مانا ښکاريږي نن

وګوره ځوانۍ پدې جذبه دې زړښت هير نه شي
دې د وجود باغ کې د بدلون سبا ښکاريږي نن

ما ته د نسيم ستوري قلم لاره ښودلې ده
وګړې محبت چې د سمون ښکلا ښکاريږي نن

# تيره

زما د خپلـو ارمـانونو يـو ارمان پـوره کـړه
نېمګړی نه يم خو نېمګړی مې اوس ځان پوره کړه

وخته بـې وخته په ما مه راځه قدم مې سوزي
مـنزل پـه لـوري قـدمونه د کاروان پــوره کـړه

نيمه کې پرې نه ږدي چې زړه به مې ټوټې ټوټې شي
ای انځـورکـره دا انځور مې د جانان پوره کړه

د عـقـلـمـنـد لـيـونـي ښـکلـي او صـفا خــبـره
خپل ځان دې ځان کړه او د ځان دې اوس درمان پوره کړه

راشــه د هـغـې پـه مـحـبـت بـانـدې يقـين وساتـه
راشــه د هـغـې د مـحـبت هـغـه دوران پـوره کـړه

نسيمه ستوريه د قلم نـوکـه تـيـره وساتـه
د غيرتـمندو پښتـنـو هـغه داسـتان پـوره کـړه

# دچاوایم

هــر ځــه چــي زه وایــم بــرمــلا وایــم
دروغـو نــه مــي زړه تــور دی صـفـا وایــم

دلــتــه د چــا اوښ پــه بــدړه شــوی دی
غــل د پاسـه غــل دی او د غــلا وایــم

مــا تــه دي دا نــه وائــي چــي نــه وایــم
ښــکـلــو تــه بــه تـل هــم د ښــکـلا وایــم

خـپـل پـردي لــه مــا نــه دي پــه دي خـفـه
دا چــي زه رښــتــیــا تــه زه رښــتــیــا وایــم

اور بــه پــه رقــیــب بــانــدي بلــېــږي اوس
دا چــي تــه زمــا او زه دا ســـتــا وایــم

داســي شــعــر دي ولــیــکــو نسیم ستوریه
فــکـــر بــه د چــا وائــي د چــا وایــم

# خفه

خـامـه خـبـره ده پـخـه بـه شـي
تـاريخ بـه اور واخلي لمبه بـه شـي

قـدو قـامـت بـانـدې تـيـر نـه وځي
چيـنـار بـه سوزي او ايـره بـه شـي

ګـريـوانـه نـور شـه راټـول وجـود کې
اوښکي پـه تا باندې جرګه بـه شـي

دروغـو چي کلـي لانـدې کـړي دي
پـه دنـيـا جـوړه زلـزلـه بـه شـي

زمـا پـه سترګـو کـې پـريـوزه مـه
د سـترګـو ګـاټـو کـې اوبـه بـه شـي

داسـې خـو مـه لـيکـه نسيم ستوريـه
پـام کـوه څـوک درنـه خـفـه بـه شـي

# څپه

د بـیـلـتـون د زړه ایـنـه کې خـپـل ځان وینم
پـه رڼـا ورځ تــوره شـپـه کې خپل ځان وینم

زه د هـر عـمـل خـلاف یـم بـې نـشـې یـم
نـو بـیـا ولـې پـه نـشـه کې خپل ځان وینم

د تـنـدي پـر مـخ مـې سترګي جـوړې شوي
پـــه قـــاتـــلـــه دایـــره کې خپل ځان وینم

د جــنــت پـه ارمـــان بـــیـا دوزخ تــه لاړم
اوس د قــبــر پـه لـوحـه کې خپل ځان وینم

ســوداګــر د خـپـل ضـمـیـر یـمـه پـخـپـلـه
د بـــازار پـــه دروازه کې خپل ځان وینم

نسیم ستـوریـه زه کـافــر مـلا کـافـر کـړم
د ســیـلاب خــړه څـپـه کې خپل ځان وینم

# تياره

زمـا نـه کـــور اخـــلـــي او ګـــور راکـوي
جـنـګ دې نـور ورک شـي تـازه سـکـور راکـوي

حـالاتـــو داسـي حـــد تـــه جـــوړ کـــړمــــه زه
اغـــــــزي اغــــــزي راکـــوي اور راکـــوي

مـا نـه خـفـه دی پـخـلا کـيـږي نـه اوس
زړه مـــې چـــاودلـــي مـا تـــه زور راکـوي

زمـونـږ پـه مـنـيـځ کـې د بـيـلـتـون ديـوال دی
خلـک پـه دی بـانـــدې پــيـــغـــور راکـوي

راتـه وای غـوخـي کـړه دا خـپـلـي ګـوتـي
ما تـه پـه لاس کـې قـاتـل لـور راکـوي

نسـيمه سـتـوريـه رڼـا ورځ تـيـاره شـوه
سپـيـنـو جـامـو تـه چې رنـګ تـور راکـوي

# تنور

د خپل احساس د محبت نه څومره لرې پاتي
مونږه د ژوند د حقيقت نه څومره لرې پاتي

چې په خپل لاس باندې د خپلې مينې قتل وکړو
د ښکلاګانو د دولت نه څومره لرې پاتي

زمونږ شعور او عقل دواړه په تاوان روان دي
ځکه خو دلته له غيرت نه څومره لرې پاتي

د بيلتون ډنډ کې ورګډېږو مونږ په سترګو ړانده
مونږ د وحدت د خوږ نعمت نه څومره لرې پاتي

وختونه ځي په مونږ تيرېږي مونږ ويده وېښ نه شو
احساس ړوند شوی د همت نه څومره لرې پاتي

د زړه اينه مو نسيم ستوريه په تنور پرته ده
د خوږو کرښو د قسمت نه څومره لرې پاتي

# عجبه

زما محبوبې ما پسې د سترګو جنګ ته راځي
څه په نازونو چې راځي نو زما څنګ ته راځي

زه دا منمه پوره وړه یم دا ستا د مینې
دا چې په مادې ستا قلنګ نو خپل قلنګ ته راځي

په تا زه ویاړمه د ژوند په هر ساه محبوبې
خپله خاني دې پریښودلي ما ملنګ ته راځي

د ژوند پالنګ کې دې د سرو شونډو رنګونه خپاره
په خوږو پوه ئې اوس به ته د مینې رنګ ته راځي

د زړګي ښار کې ستا د مینې دې لښکري جوړې
په مینه سخته چرې راشي ته ئې ننګ ته راځي

نسیمه ستوریه بې سینګاره ده محبوبه ښایسته
څه عجبه ده چې د ګل غوټۍ پتنګ ته راځي

## ماضي

منزل چې چا ټاکلی دی نو ستا ټول قدردان دي
ای وخته همدا خلک دي چې تا سره روان دي

پوره دي پوره کېږي نسيم ستوريه دا نيمګړي
ديوال باندې چې زوړند تصويرونه د ارمان دي

---

## ژوبل

زه چــې د چا د ســترګـو خس يمه
ملـګـرو زه هـغــې ته بـــس يمه

نسـيم سـتوري لــږ دعــا راتـه کــړه
زه ژوبـل شــوی تـــس و نـــس يمه

---

# پيغور

د پــردو جنګ دی زمــونــږ کــور کلــي کــې
چــې لــګـيـدلــی دی اوس اور کلــي کــې

مــونــږه بـدبـخـتـه قــاتــلان د ژونــد يــو
د خـپـلـه لاســـه وژنـــو ورور کلــي کــې

لـکـه د هـيـڅ نـه چـې خـبـر نـه يـو مـونـږ
مونـږه کــانـه يــو نـه اورو شــور کلـي کـې

امـــن او ســـولــه رانــه تــبـنــتــي ځـکـه
لګـوو پـه سـپـيـنـو هـمـيـش تــور کلــي کـې

خـپـلـــو مـــشرانــو نـصيحـت مـو هـــيــر دی
پـوهـې نـه تـبـنـتـو لـور پـه لـور کلـي کې

نسـيـمه ســتـوريـه هــديــرو نــه چــغـې
راوزي مـونــږ تــه کـړې پـيـغـور کلـي کـې

# نادان

ورک اغــزی ئــې خــو اغــزو نـه ئـې لـیـدلـی
پــه پــردی لار کــې هــغــو نــه ئـې لـیـدلـی

چــې بېـغمه بـاچـاهـي کــوي خـــبــر ئـې
غل خـو نـه ئـې خو دي غلـو نه ئـې لـیـدلـی

نبـمه شـپـه ده ډیـوه بلـه بلـه کـېـــږي
ناسـت چي غلی ئـې تـیـارو نـه ئـې لـیـدلـی

دا ژونـــدون ښــه ســرمـــایـــه ده د اخــلاقـو
خــو د ژونــد دغــه ورشـــو نـه ئـې لـیـدلـی

د حـجـري او جـومـات فـرق کـولـی نـه شـي
تــه جـومــات او دي حـجـرو نـه ئـې لـیـدلـی

د پــردو پــه فــکـــــــر مــه ځـه ای نـادانــه
نسـیـم سـتـوری وائـې پـردو نـه ئـې لـیـدلـی

# پرهر

ستا یـو نظر زما په زړه بلا سوالونه جوړ کـړل
خوبونه ئي رانه واخیستل بـلا فکـرونه جوړ کړل

انځوردي وو نیمګړی ما پوره کـړو په دې ګوتو
د خیال په خپل الوت کې مې بلا رنګونه جوړ کړل

د زړه دې دروازې ته مې راغلی خپل قسمت وو
ما ځان ترېنه قربان کړو دې بلا غمونه جوړ کړل

وعـدې پسـې وعـده وه انـتـظار دې کړمه ستړی
دې سـتړي انتظار دې هم بلا دردونـه جـوړ کړل

دا ستا د قـدم خاوري ښکلومـه چـې تـه لاړې
زما پـه زړه دې ګـوره هم بـلا زخمونه جوړ کـړل

نسیم ستوری که نه ئي ورپسـې به لیونی شم
پـرهـر پـرهـر سینه کې مې بـلا مخونه جوړ کړل

# کافرزړه

د هوا سترګي مې د شګو په اسمان ګرځي
پردې سړې دې که جانان خيري ګريوان ګرځي

دلـتـه د ژونـد د عقل پـولـه بانديې لوبـي دي
پـه هديـره کې خو يو مړی پـريـشـان ګـرځي

پــه سـمـه لاره بـانـدې رسـي د مـنـزل پـه لـور
پــه کـږه لاره بـانـدې خلک په تاوان ګـرځي

هغه انځـور نيمګـړی شـوی سلطنت پـه نيـت
خپل ئـې پـرېـښـودي د پردو سه په ډېران ګرځي

خدای خبر چې رابـه شي که نه وعده خلافه ده
د انتظار پـه دروازه کـې ځـو يـاران ګـرځي

نسيمه ســتـوری د خـيـرنـي ايـنـي مـخـي تـه
زړه ئې کافر شو ايني پر مخ ئې ځان ګرځي

سه « سره »

# مورچه

ملـګـرو ځـی چې نـور هم سيوري د ګلاب ته کينو
وچ‌کـالـي دلـتـه ده نور غاړه د دريـاب تـه کينو

چې پـه تيـارو د ګناهونو کې بانـده هم نه شو
رڼا پيدا کړی ځې چې ځو چـرته ثواب ته کينو

بيا د افسوس کرښې په زمکه باندې کش هم نه‌کړی
راځې پـه خپلو کې جرګه شو هر حساب ته کينو

د نـړی خلک تـر سپوږمی پـورې هـم ورسيدل
پوهه حاصيله کړی نور زر شی چې کتاب ته کينو

چې دا فکرونه د ژوندون د سندريز خواږه شي
هم د شپلی منګي سره دی خوږ رباب تـه کينو

جنګ او نفرت به رانه تښتي نسيم ستوريه ګرانه
مورچه نفرت تـه شو د ميني هر يو باب ته کينو

# ليونی

طـــوفـــان لـــيـــونـــی نـــه شـــو
بـــــــاران لـــيـــونـــی نـــه شـــو

د عــــقــــل بــــي عــــقــــلـــي کـــي
ايـــــمـــــان لــيـــونـــی نـــه شـــو

د زړه درد چــــــي ډيـــــريـــــږي
درمـــــــان لــيــونــی نـــه شـــو

پـه سـر د ځـمـکـي چـت هـم
اســــمـــان لــيــونــی نــه شـــو

هـــــر چـــا دی ځـــيـــري کـــړی
ګـــريـــوان لــيــونــی نــه شـــو

د ژونـــد خـــواږه خـــفـــه شـــول
خـــفـــکـــان لــيــونــی نــه شـــو

اغـــزي اغـــزي مـاحـول کـې
انـــسان لـيـونـى نــه شـــو

تــيـار فـــصل سـيـنـد ويـورو
دهـــقـان لـيـونـى نــه شـــو

پـــــــه ورکـــــــه لار ولاړ دى
کـــاروان لـيـونـى نــه شـــو

پــه داســـې زنـــدګـــۍ کـې
ارمـــان لـيـونـى نــه شـــو

قــلـــم دې نـور هـم مـات کـړه
داســـتان لـيـونـى نــه شـــو

نـســـيم ســتـــوري تـــه وايـــه
جـــانـــان لـيـونـى نــه شـــو

# قدمونه

نور وېښ شی را بیدار شی ارمانونه مړاوي شوي
د ژونـد د محبـت ټول ارزښتونه مـړاوي شوي

دا باغ اوس بې باغوانه بې سپرلي ځنګه‌بدرنګ شو
دا ونـوي وچـي شـوي سره ګلـونـه مړاوي شـوي

باغـې نه دی بنـدي دی ازادي اخـیسـتی نه شي
غندل غندل ځوانی کې ئې فکرونه مړاوي شوي

د بل در کې تازه وي او زمونږ سره مات‌ګوډ شي
زمـونـږ په قسمتونو هم وختـونـه مړاوي شوي

خوشـبوئـې ده ورکـه شوي بیـرغونه نه رپېږي
سـهار نسـیم لا څـه کی ټـول بـادونه مړاوي شوي

دا خلک نسیم ستوریه د منزل پـه لاره رو شول
دا څـه تنـدر راپـریوت قـدمونه مړاوي شوي

# ملامته

د نن پاڼه ده سبا ته ملامته
دا زه تا ته او ته ما ته ملامته

په سیلۍ کې ډیوه چا ده بله کړې
تیاري ځکه دي رڼا ته ملامته

خوبه ولې شوګیرې ځان ته راغواړې
خیال او فکر دی رښتیا ته ملامته

سوداګر ورباندې غم دی ور خرڅ کړی
عقل ځکه دی ښکلا ته ملامته

ګونګه ژبه چې خپل حق اخیستی نه شي
ړانده کله دی بینا ته ملامته

نسیم ستوریه چې خپل یار ئې پخلا نه کړ
اشنا تل دی خپل اشنا ته ملامته

# ړوند سلطنت

تا چې ایرې راغونډه ولې ما ویل سکور دی پکې
تا ویـلـې نـه ، زما زخمونو تـه ټکـور دی پکې

د ارمـانـونـو ستـړی ستـړی او نیمګـړه خوبه
ځیړنه وکړی چې بل شوی څنګه اور دی پکې

د قسمت ستـرګـي د ثـواب خـاپـونـه ولـې ورانـې
دا چې ګناه ته ئې جوړ کړی وو پیغور دی پکې

هـر سـړی ځـان تـه د دسـتـار سـړی پـخپله وائـې
پـه دې خبره اوس راغلی شـر او شـور دی پکې

دا قـافله پـه نـیـمه لاره انـتـظار کـړې د چا
دلته خو پاتې د هر چا نه کلی او کور دی پکې

نسیمه سـتوريه د بیـنـاوو سلطنت ړونـد شوی
د مـحـبـت د دوشـمـنـانـو ظـلـم زور دی پکې

# ناپوهه

جانانه ستا تصوير ته ئې پيغور جوړ کړی دی اوس
رقيب سه مې پدې خبره شور جوړ کړی دی اوس

زما د غـزل حـسـن پـتـهيدی پـه ګـوتـه نـه شـي
د مينې د احساس مې پکې کور جوړ کړی دی اوس

په خپل قدرت مغرور دی لوی خدای ورنه هير شوی
دې شين فصل ريبلو ته ئې لور جوړ کړی دی اوس

د مور په سر سودا کړې ښه پوهيږي خاوره مـور ده
دا خپل کلی او کور ئې سوی سکور جوړ کړی دی اوس

د بـل پـه فـکـر لاړې ای د خپـل فـکـر دلالـه
سمسور باغ دې د ګلو هم نسکور جوړ کړی دی اوس

نـاپـوهـه جـادوګـره نـسـيـم سـتوری درتـه وائـي
قاتل نه دې بيا ښکه راته ورور جوړ کړی دی اوس

---

سه « سره »

# ورک سړی

چـې دې ښــکلو پـه ښــکلا دی راتېـينګ کـړی
د زړه درد مـــې پـــه دوا دی راتېـينګ کـړی

درتــه وايـم چـې د ځـان نـه پـه ما ګران ئـې
مـحبـتـه خـوي مـې ستـا دی راتېـينګ کـړی

د قـسـمـت د خپـلـي بـرخـي نـه ساه اخـلـم
مـيـنـي ژونـد مـې د حيـاه دی راتېـينګ کـړی

پـــه کـــړه لار بـانـــدې نـه ځـــم چــا ســره
ضـد مـې دغـه بـس هـمـدا دی راتېـينګ کـړی

چــې پــه خپـلـه وفــادر پـه مـيـنـه پــوه يـم
نـــوم ځــکـــه د وفـــا دی راتېـينګ کـړی

نسيم ستوريـه د يـــو ورک ســـړي خـــبـره
لـيـونـی چـــا پـه رښـتـيـا دی راتېـينګ کـړی

# شل کاری

دا چـې د کلـي او د ښـــار نــه دی
دا سرې څوک دی چې وزګار نــه دی

د قسمـت بـرخــه ئـې تـالا تـرخـي
ځکه په وخت باندې بیـدار نـه دی

خـوارې لفظونـه چې ترښـه شـي هم
په میـنـه پـوه ندی هوښیار نـه دی

ژونـدون ئـې ټـول د ګـړاوونـو ډک
د خـپل جانان دې تـابیـدار نـه دی

محـل د زړه دې پـه جـوړیـږي نـه
دا ښــه شل کاری دی میـمار نـه دی

زه او نسیم ستوری ئې نه پوښـــتو
د چـــا خــبري تـه تـیـار نـه دی

# رښتيا خبره

زما کمي به پدې کور کې ښکاريده او که نه
د ژوند ښکلا به په محفل کې کميده او که نه

د وخت هنداري خړ رنګونه په ما مه‌شيندئ اوس
د نصيب کرښه مې د مينې خوځيده او که نه

چې ئې زما لاسونه کلک خپلو لاسو کې نيول
زما امسا د ژوندانه به ګرځيده او که نه

زما د روغ صحت دوعا به ئې له رب غوښتله
د چا د مينې دا دوعا به قبليده او که نه

تا ته هغې نن زيرى درکړو که شوه غلې پاتې
زما راتګ ته خامخا خوشحاليده او که نه

نسيمه‌ستوريه راته وکړه زر رښتيا خبره
زما تصوير سره به پټه ګړيده او که نه

# لور

زمونـږ د کلي دا رنګونه خومره ښـکلي ښکاري
د ختـو ګټـو دا کـورنـه خومره ښـکلي ښکاري

تـه دي دا شـــوخ نظـر جـانـانـه پکـې وګـرځـوه
د پیغلو هیلـو ګـودرونـه خومره ښـکلي ښکاري

د ماشوم زړه د مـینـې ډک دی نـفـرت نه پیـژنـې
د لور احساس دا ګومانونه خومره ښـکلي ښکاري

ځنګ په احتیاط د عقل سـاه ته دې نظر واچوو
سوچ نه بهر شه دا ګلونه خومره ښـکلي ښکاري

مونږ دلته پریـکړې په جرګو او مرکو کوو تل
د انـسـانـیـت دا تـاداوونـه خومره ښـکلي ښکاري

هغه نسیم ستوری د خپل فـکـر کـاروان سـه روان
منزل پـه لورې ئې قدمونه خومره ښـکلي ښکاري

سه « سره »

# دايره

يو لـحـظه پـه مـيـخـانه کې پـاتـي نـه شـو
خونـد هـغه هـم پـه پـيـاله کې پـاتـي نه شـو

د هـــنـــداري مـــخ تـــه ډيــــر ئـــي وکـــتـلـــي
چې جـدا شـو پـه آيـنـه کې پـاتـي نه شـو

چې پـه زړه کې تـصوير تـوتـي تـوتـي شـو
د زړه شــــور ئـي پـه جـذبـه کې پاتي نه شـو

پـردي خـوب د رسيـدو پـه فـکـــر درومــي
هـغه ستـرې پـه دمـه کې پـاتـي نـه شـو

چې پـه زړه بـانـدي يـوه او پـه خـولـه بلـه
حـقـيـقـت ئي په سجـده کې پـاتـي نـه شـو

نسيم ستوريـه نـور پوښتـنه تـري ونـه کړې
ظـلـم زور پـه دايــــره کې پـاتـي نـه شـو

# خپل پردي

دلـتـه لـيـونـي خـپـلـه لـيـلا پـه اغـــزو ولـي
واوره پـښــتـو واوره ځـکـه تـا پـه اغـــزو ولـي

پالي د پـردی فـکـر خپل سوچ ئي پردی کړی
همدغــه نـاپـوهـان ځـکـه حـيـاه پـه اغـزو ولـي

ځکه د سـکـون تصوير نيمګړی نيمه خـوا پـروت
پـوهـه چـې رڼا ده دوي رڼا پـه اغـــزو ولـي

ژونـد لـوی سـرمـايـه ده د اخـلاقـو مـعـجـزه ده
دغـه لـيـونـي د ژونـد مـانـا پـه اغـــزو ولـي

کله چي نيمګړی پښتون جوړ پـوره پښـتون شـي
دا مـې دی يـقـيـن چې بيا ګناه پـه اغـــزو ولي

ګوره نسـيم ستـوريـه داسې ده داسې اوس کيږي
خپل دی که پـردی دی ننګ وفـا پـه اغـــزو ولـي

# اوښکو

کلـــه چـــې ژړنـــا هـــم د ژړنـــا وائـــي
دا خـــو بـه ملـــګـــري خـامـخـا وائـــي

دلـــتـه د چـــا اوښ پـه بـــډه شـــوی دی
غـل د پـــاڅـه غـــل دی او د غـــلا وائـــي

ټـــولـــي نـــړۍ غـــوږ درتـــه نـيـــولـــی دی
دا چـــې تـــه د ښـــکلـــو د ښـــکلا وائـــي

هـــر ســـړی لـه تـــا نـه دی پـــه دي خـفـه
هـــر يـــوه خـــبـــره چـــې صـــفـا وائـــي

اور بـــه پـــه رقـــيـــب بـانـدي بـلـيـږي تـل
دا چـــې زه دا ســـتـا او تـــه زمـا وائـــي

ای د نـسـيـم ســـتـوري د قـلـــم اوښـکـــو
ويـــاړمـه پـه تـــاســو چـــې ربـتـيـا وائـــي

# هنري ګوټي

د وطـن پــه خــاوره جنګ مې هم پــردی دی
بـې اتـفـاقـه يــم چــاودلـــی مـې زړګــی دی

د انــســـان انــســـانيـت دی خـــتـم شــوی
زمــا خـــپـل چې د پــردي د لاس غـرګی دی

د مـنـزل پـه لـور قـدم اخـيـستی نـه شـي
نيمه لاره کـې چې پـروت يـو لـيـونـی دی

چې پــردی مـرض ئـې خپـل کـور تـه راوړی
پــه ذهـنـي کــړکـيـچ اخته اوس دا سړی دی

د پـــرون ارمـان چـې نـن د نـن سبا کــړي
څــه بـې وخـتـه بـــوډا شــوی دا زلـمـی دی

د کـولال پـه هـنـري ګـوتـو چې جـوړ وو
نسيم ستوريه چـا مات کـړی ئـې مـنـګـی دی

# خواره

ویـــــده ویــده وېـښ لا ویـــده پـراتــه دي
پـه بـیــنــاء سـتـرګـو چـې ړانــده پـراتــه دي

اوس بـــه پـــه دې راتــه څـــه ووائـــي تـــه
جـانـانـه مـخـې تـه دي څـه پـراتــه دي

هـره خـبـره دې لـه شـونـــډو تـښـتــي
پـه ژبــه بــیــا دي څـه درانـه پـراتــه دي

د عـقـل لاره بـانـــدې تـلـلـی نـــه دی
څـکــه کـــوره کـــې وانښـه پـراتــه دي

یــو ګـنـهـکار افـــسوس افـــسوس کـولـو
اخ پـه ګـنـاه کـې ټـول تـراخـه پـراتــه دي

نسـیـمـه سـتـوریـه مـیـنـه نـه پـیـژنـي
پـه مـیـنـه مـیـنـه کـې خـواره پـراتــه دي

# پخپله

زمـا غــزل چې نـن زمـا مخالـفت کـوي
ملا ئې تـړلـي ده پـه ما بانـدې حـکـومـت کـوي

خولـه مـې ده تـپـه او سـترګي مـې ګنـدلي خپلي
ښـه پـه پـوهـېږم چې هـر څـه دغـه رياست کـوي

کلـه باچا کلـه فقـير شـم پـه خـيالـونـو کـې
ښــه او بــد دواړه راســره هـم مـحـبـت کـوي

زه ورنـــژدې شـم دی وای لـرې شـه زمـا لـخـوا
زه پرې مئـين يـم دی د مـا نـه خـو نـفـرت کـوي

چا لـه خپل کور چا لـه دربـار، ده ويـستلي پښتو
زار لـه هغـو نـه چې پښتو بانـدې غېرت کـوي

مونـږه هـر څـه پخپل ځان بانـدې پخپلـه کـوو
نسيمـه ستوريـه بـيـا مـونـږ وايـو دا قسـمت کـوي

# ملنډې

هغه د ژونـد په حقیـقت بانـدې ملنـډې وهي
ځـان به تـباه کړي محبت بانـدې ملنـډې وهي

په خوله کړي چغي د یووالي ، ځان ځاني ئې خوښه
دا سې فکـرونـه په وحدت بانـدې ملنـډې وهي

راشئ د میني په سکروټو باندې اور تازه کړو
اغـیار خـو ستاسـو په غیرت بانـدې ملنـډې وهي

پام کوي وخت درنه هم تیر نه شي ارمان به وکړې
وخت به بیا ستاسو حـرکت بانـدې ملنـډې وهي

د ژونـد په خلاصو دروازو بـاندې ترلې نه شي
څوک لیونی په خپل عادت بانـدې ملنـډې وهي

د نسیم سـتوري دغـه سپـینه او ربـښتیا خبـره
شراب تل ستاسـو په عزت بانـدې ملنـډې وهي

# صفت

پــاتـــي لــه مــزلــه لــه کــاروان نــه شـــي
پــام کــوه مــنــزل تــه دې تـــاوان نه شـــي

څــوک بــه درتــه کــانــي غــورځــوي لار کې
تــه پــه خـپـلـه عـــزم پـښـمـان نــه شـــي

پـــوهـــه ده رڼـــا خـــپـلـه پـــوهـــیـــږې تـــه
بـیـل هـم د کـتـاب قـلـم جـانـان نــه شـــي

نـــور پـــه رهـبـرانـو مـه غـــولـــیـــږه تـه
هــسې دې بــې ځـای ځیـري ګـریوان نـه شـي

ژونـــد د دې دنـیـا هـم یــو څــو ورځــي دی
دا د مــحــبــت کــور درنــه وران نــه شـــي

ستــا مــې نسیـم ستــوري تــه صـفـت وکــړو
ورک درنــه خــپـل ځـــان عـزت ایـمـان نـه شـي

# شته

خدایه شکر چې پښتون شته
د پښتو لیلا مجنون شته

پښتو ورځ په ورځ ځوانیږي
په ویلو کې سکون شته

چې د هرې ربړې حل دی
په پښتو کې هر قانون شته

بې غیرته تربینه تښتي
غیرمند لره ژوندون شته

د ننګیاله ولس ژبه
د ولس د زړه ترون شته

اتلان چې ئې ستایلي
د نسیم ستوري مضمون شته

# سړی

دا سړی د کار سړی
مل په سمه لار سړی

ژوند کې دې خوشحاله وي
ګل لکه ګلزار سړی

کړې تل د پښتو خدمت
دا ډیر خدمتګار سړی

سوچ ئې ولاړ غر وینم
دا دی ډیر هوښیار سړی

مینه د پښتو کې ورک
ټول خمار خمار سړی

ویاړې پرې نسیم ستوری
دا دی هم بیدار سړی

# زغم

ګوتي مې قلم ته ولــې نــه رســي
غېږه مې صنم ته ولــې نــه رســي

فکـره ستا په بام باندې ولاړ یمه
مینـه هغه چم ته ولــې نــه رســي

دا چې دې هدف ځان ته ټاکلی دی
ستا قـدم ولـې نـه رسـي

اوښکي مې ګریوان باندې راوني دي
ستا د سترګو نم ته ولــې نــه رســي

داسي راته مـه وایـه چې نه وایم
غم دې زما غم ته ولــې نــه رســي

ولې نسیم ستوری اوس خبر نه دی
زغم دې د بل زغم ته ولې نـه رسي

# رژیدلي ګلونه

ګل ګلونـه ورژیـد بـاغـوان ورتـه حیـران ولاړ
ظلـم چې نن وشـو نـو ایمـان ورتـه حیـران ولاړ

دلته خوار نصیب د وینو ډک لوی سمندر ښکاري
ورځ مو نن تیاره ده پاس اسمان ورته حیران ولاړ

زه د ګران کونړ که پېښور ګریوان راټول کړمـه
زړه سلګـو نیولـي دی انســان ورتـه حیـران ولاړ

درد مې په زړګي شو اوښکي سترګو نه رواني شوي
ځنګـه بې وسي ده چې جانان ورتـه حیـران ولاړ

ساه مې ناکراره د خپل ورور په غم کې ستړي شوه
زړه چې مې نن نه چوي نو ګریوان ورته حیران ولاړ

ولی ،نسیم ستوریه دا پښتون د ویښیدو نه دی
میـندي شولي بوري ټول جهان ورته حیـران ولاړ

# د تیارو سمندر

لیوني دي هغه خلک په ګناه باندې سوګند خوري
دا چینار چینار ځوانان څنګ په خطا باندې سوګند خوري

سترګي ړند د اوبو جوړ کړي چې تصویر دې کله وېني
زړه د فکر ټال کې کیني نو په تا باندې سوګند خوري

چې د ویري وتی نه شې د خپل کور د درازي نه
راشه دا ناروا ګوره په بلا باندې سوګند خوري

تنهايي ده ځان ځانې ده اعتماد دی سر خوړلی
يو دروغجن سړی ولاړ دی په هر چا باندې سوګند خوري

یا زنځیر د محبت دی یا قسمت خپل سر بایللی
که رښتیا درته زه ووایم په رښتیا باندې سوګند خوري

نسیم ستوریه ډیوه بله خو رڼا ئې تته ښکاري
د تیارو په سمندر کې په رڼا باندې سوګند خوري

# خوسا بادام

لړ خو دې ځان راته راښايه د کوم قام ئې ځوانه
شمله بې ننګو تـه تـړې ذهنـي غـلام ئـې ځوانه

په زندباد او مردباد باندې خو شولـي ستړی
خپل بام دې پرېښود اوس ولاړ په پردي بام ئې ځوانه

دا چې د عـقل دروازې دې پـه ځـان وتـړلـي
دريـانـدې پـوه يـمه پـه فکر باندې خام ئې ځوانه

د خپـل قـاتـل سره دوستـي کـوې پـه څـه خـبره
هر څه نه خلاص ئې په ککره کې تش جام ئې ځوانه

د خپـل دادا د خپـل بابا تـاريخ تـه لـته ورکې
د ځـان دوشـمـنـه ، تـه د ځـان لـپاره دام ئې ځوانه

دې نسيم ستوري اوس ښودلی د قلم نوکې ته
داسې خو ښکاري چې رښتيا خوسا بادام ئې ځوانه

# کرښه

دا چــې ژونـــد د اور لــمــبه شـــې
نــو پــه څــه بــه زړه دمـــه شـــې

سلـطنـت تــــول پـــه تـــنـــور کـــې
نـــو هـــــر څــه ايـــره ايـــره شـــې

د تـــاريــــخ لـــمـــنـــه څـــــيـــرى
پــه رڼـــا چـــې تـــوره شـــپـه شـــې

ساه وجـــود نـــه پـــه وتـــو شـــې
هـــر ارمـــان د مـــرګ مـــيـلـمـه شـــې

پـــــدې لاره چــــې تــــيـــريـــږي
پــه هــغـو بـــانـــدې غـــرمـــه شـــې

چـــې د چـــا هــم نـــســيـم ستـــوريه
د قـــسمت کـــــرښـــه ړنـــده شـــې

# مست

لکه سپرلی چې په ګلونو مست دی
د ګل ښایست هم په رنګونو مست دی

ژوند خو تاکلی منزل نه دی ځان ته
سره لدي په مزلونو مست دی

د تخیل کاروانه مه ځه لرې
زړګی زما په راوجونو مست دی

غمه نور کار وربانديې مه لره ته
مئین زړګی په اتنونو مست دی

نور د بدرنګو چم کې نه اوسیږي
خوي مې رښتیا په ښایستونو مست دی

نسیمه ستوریه د ژوندون سیلۍ کې
دا ستا قلم ستا په لفظونو مست دی

# درد مند

د ژوند ستورى مې په شين اسمان ونه ليد
دا جنون مې د بل چا په ځان ونه ليد

وخته ستړى ئي لږ ودريږه دمه شه
لا تر اوسه خو مې خپل جانان ونه ليد

د نړۍ په هر يو ګوډ کې لټومه
ما ورک شوى ځان په دې جهان ونه ليد

داسې ښکاري چې دا ځمکه لمبه شوې
ما د امن شال په ټول ګريوان ونه ليد

بې اتفاقه دى منزل ته ، نه رسيږې
ما ددې ستړي کاروان درمان ونه ليد

نسيم ستوريه د ولس په درد درمند وو
کلې ، ښار کې مې هغه انسان ونه ليد

# تمبې

د فکرونو مزلونه ئې شول ستړي
د تیر وخت دا تیر یادونه ئې شول ستړي

خوب ئې تښتي شوګیري ورنه راتاو دي
ورشه ورشه چې خیالونه ئې شول ستړي

د کاروان نه پاتي شوی دی یواځې
پدې لاره قدمونه ئې شول ستړي

اوس د هرې داني خوند جدا جدا دی
عجبه ده سپین غاښونه ئې شول ستړي

د جانان لپاره یو تپه پکار ده
د رباب دغه تارونه ئې شول ستړي

نسیم ستوریه ځوک د تورو تمبو شا ته
د لاسونو زنځیرونه ئې شول ستړي

## نام ننګ

د اوچت فکر دنګ په عقل ننګیالی ولاړ دی
ویاړم پــه دي زمـا تر څنګه میړنی ولاړ دی

خوب نه راویښ شه او لښکر شه ورپسي ودریږه
پښتونه ستا په نام ننګ باندي زمری ولاړ دی

## ګوته

خـیال او فـکر مـي غـزل پـه ګـوتـه کـړی
اخ غـــزل مـي اوس منـزل پـه ګـوتـه کـړی

راته وائي نور راپاڅې خوب نه ویښ شې
پـه دي لاره ئـــي مـــزل پـه ګـوتـه کـړی

# خامه

زما سوچونه لـه مـا اخلـي بـد او ښـه راکوي
خـوښـه ئـې خپله ده ملـګرو مـالـه څـه راکوي

دا یـو ټـوپـک او بل قلم راته خپل ښنه پرېږدي
زمـا دوشـــمـن هـم د خـوږو ســره تـرښـه راکوي

د ښه او بد او بد او ښو په ننداړتون کې ناست یم
هـر څـه خو راکړي د راتلـو وعـده خو نه راکوي

پـه کاڼو لـیـکـمه د خـپـل ارمـــان هغـه خـبـره
کـرلـی فـصـل مـې قـسـمـت تـه تـش واښـه راکوي

نـه بیـداریـږي نـه ویـښـیـږي نـو زه څـه وکـړمـه
مـا تـه ملـګـري د مــنــزل پـه لـور ویـده راکوي

نسیمه ستوریه خپلي خوښي ته مې نه پرېږدي څوک
زمـا ده خـامـه اوس پـکار نـو دوي پـخـه راکوي

# څوک ئې؟

نـن سـبا رانـه پـوښـتـنـه کـړي چې څـوک ئـې
پـرون بـيـا رانـه پـوښـتـنـه کـړي چې څـوک ئـې

اوس ډيـوه پـه سـوي لاس کـې ګـرځـومـه
دا رڼـا رانـه پـوښـتـنـه کـړي چې څـوک ئـې

د ژړا سـره عـادت يـم خـنـدا راغـلـه
اوس خندا رانه پـوښـتـنـه کـړي چې څـوک ئـې

د مـرګـي لـه ويـرې ژونـد تـه مـې لاس واچـو
خپله ساه رانه پـوښـتـنـه کـړي چې څـوک ئـې

فـقـيـري کـې مې يـو خوب د شـاهـۍ ولـيد
زړه باچـا رانه پـوښـتـنـه کـړي چې څـوک ئـې

د نسيم سـتـوري پـه مـخـه چې څـنـګ ورشـم
نـو هـمـدا رانـه پـوښـتـنـه کـړي چې څـوک ئـې

# پرمختیا

فکره ستا په بام باندې دنیا خوا ته الوت کړمه
شپه چې تیاره کیږي د رڼا خوا ته الوت کړمه

زه ورځـم د هغې نه اوس پوښتنه د خپل ځان کوم
ځمه د منـزل ددې هـوا خوا ته الوت کړمه

مینه پـتـولـی نه شـې نـورې سترګـې پرانـیـزه
نور په دروغو نه شـې د رښتیا خوا ته الوت کړمه

هر څه مې د ژوند او ستا د نوم نه قربان کړېدي
هر څه راسره دي د وفا خوا ته الوت کړمه

بې له تا نیمګړی یم او ته نیمګړی پاتي ئې
نور په کور کې نه کینم بس ستا خوا ته الوت کړمه

نوما نه به هیر نه شې د نسیم ستوري پیغور هم
ځان به نور راټول کړم پرمختیا خوا ته الوت کړمه

## څادر

دا څــادر چــې نــن زمـا پــه اوږه پروت دی
دا راکــړی یـــو پښــتون زلمــې ډالـــــۍ ده

سید معروف همدرد ئــې نــوم دی ای ملګـرو
د پښــتو میــني نــه، ډکــه ئـــې ځــولـــۍ ده

---

## نوم

پام کوه د ښکلو اوس تصویر نیمګړی پرې نه ږدې
ژبه ورتــه ورکــړه چــې د مــیني داستان ولـولې

دا خو د فطرت د اننګو په ښکلا جوړ کړه اوس
ښه ده نسیم ستوریه چې دا نوم د جانان ولولې

---

# مکرجن

څوک چې جنګ غــوارې هغـه پمـن پمـن دي
ولســونه نــن د ســولې ارمــانجـــن دي

چې د غـل تصــویـر د لانـدې ئې ژوندون وو
داسـې خـلـک پـه دې زمـکه هم درجن دي

د قـاتـل ســرې نـــرې کـــې سـلطـنـت دی
چـــې شیـنـدلـې ئـې اغــزې هـــم زهرجن دي

پـه پـرهـر سینـه پـتـې ابـښـودی نـه شي
د رښــتـیـا نـه لـرې ګـرځـې دروغـجـن دي

چې پـه ځـان د بیـلـتـون کـرښـې عملي کړي
په ژوندینـي پـه خـپل ځـان هـم کـبرجن دي

نسیم‌ستوریـه پـه بـیـنـا سترګـو ړانـده دي
د پـرون نـه چـې دوي نـن ډیـر مکـرجن دي

# مطلب

ګلونـه کـړ کړه نور د کندي پـه سـر لار مـه کوه
نن درته وايم پـه سبا باندې اعتـبار مه کـوه

نصيحـت کړی مونـږ تـه هغو ميړنو پښتنو
د سر دوښمن که وي پـه شاه وربانـدې وار مه کوه

ټـوپـک تيـاره ، قـلـم کـتاب رڼـا د پـوهې ده تل
چې رڼا وي نـو ، په تيـارو بـاندې بيا شمار مه‌کوه

دلـته يو زه يم ، ستا د اوښکو په قيمت پوهېـږم
لـږ رانـژدې شه نـور د مـينې نـه انکار مـه کـوه

پـدې پـوهـېږې زمونـږ کلی يو پر سلـه ښايستـه
پـه نيمـه لاره کې صـفـت راتـه د ښـار مـه کـوه

تـه د نسيـم ستوري د شعر پـه مطلب ورسيـدې
پـخـپلـه ژبــه کي پـردی ژبـې تـه کار مه کـوه

# نه رسي

مـاليـاره فـکـر دې ثـمـر تـه ځـنګه پـاتـي راغـی
د ژوند ښايست سپوږمۍ او لمر ته ځنګه پاتي راغی

د دروازي پوري چې لاړو ما ونه ليـد بيرته
دا حرکت خو اوس سفر ته ځنګه پاتي راغی

په صفتونو به ئې ته او دنيا نه مړيده
دا ستا محل زما کنډر ته ځنګه پاتي راغی

پرون چې نن او نن سبا پکې رنګين وو د ژوند
زمونږ د کلي وران ګودر ته ځنګه پاتي راغی

تـا خو زمـا د ژونـد رڼا ته تـل په سپکه کتل
دا سـتا سبا زمـا سحر ته ځنګه پاتي راغی

تا به هم ويلي چې څوک نه رسي زما جامو ته
د نسيم ستوري خړ څادر ته ځنګ پاتي راغی

# جادوګر

د درده ډک شعر دې لـيکلی دی دردونـه خرڅـی
هم پـه خوږو خوږو لفظـونو کې غمونـه خرڅـی

د هـر يـو تـوري نه دې کـرښـي راتـاو کـړي ښنګه
ښکاريـږي داسي جادوګـر ئـې تعويـزونه خرڅـی

---

# ازادي

غـواړي خـپـل قـسمـت لـره ژونـدون لـه ازادي
پـښتـون غـلام پـيـدا نـه دی پـښتـون له ازادي

چې ځان ګټلی نـه شي او د غـږ ژبـه ئـې غـوڅـه
د داسـي قـام خو نـه وي خـپل سکـون لـه ازداي

---

# وعده

زمــا د ژونــد پــه مــات وزر ولاړ دی
زمــا قــاتــل زمــا پــه ســـــر لاړ دی

مــنــزل پــه لوري حرکــت نــه کــوي
پــه نــیمــه لاره دا رهـــــبر ولاړ دی

زمــا د ســـر ســـودا ئــې وکــړه دلــته
زمــا په ننـګ باندې دلــبر ولاړ دی

زمــا دا فــکـــر زلـــونــي نــه منــي
زمــا تر شـــاه لا لــوی لښکر ولاړ دی

د پښتنــو د حــق غوښــتونــکی یــمــه
فکــر پــښــتون مــې لکه غــر ولاړ دی

خپلو وعــدو نــه پــه شــاه کــېږمــه نــه
ای نســـیم ســـتوریه زړه نــر ولاړ دی

# ويده

په سينه کرښه مې پرته ده ما بيلتون وژني هم
زړه چې د زړه نه جدا کيږي ما چاودون وژني هم

د خپلې خاورې د خوشبوې نه مونږ محرومه پاتې
سبا ته فکر وکړې مونږه نن پرون وژني هم

د خپله وروره کرم ګيله د پردو نه کرم ګيله
پردې مې نه شي خو وژلې ما پښتون وژني هم

د ژوند درشل کې د مرګي په بلې ناست يمه زه
مرګی مې نه شي وركولی ما ژوندون وژني هم

د اوښکو بار مې په ليمو د اننګو رادرومي
دا چې زما د پاکې خاورې څوک مجنون وژني هم

نسيمه ستوريه په قسم چې مونږ ويده پراته يو
د بچو لاس کې مې قلم کتاب مضمون وژني هم

# غېرت

زړه خـو دې راکـړه زړه به درکړمه همت پکار دی
ما نه نـور څـه غـوارې جانـانـه محبت پکار دی

خوب رانه واخلې ستا فکرونه شوګیرو کې لاړ شم
د تخـیـل پـه تـال ځنګیـږمـه قسمـت پکار دی

د شـپـې تـیـارو کې ستا تصویر راته رڼا رڼا شي
دا راتـه وائـې تـوتمونـو نـه هم نفرت پکار دی

سترګې مې لارې څـارې ستا هم د راتلو په تمه
بې غمه مـه کینـه راځـه نـور حـرکـت پکار دی

د ګل ښایست جانانه تا نه څه ښایسته خو نه دی
د ژوند مالت کې خو دا ستا غوندې دولت پکارد ی

د نسیم ستـوري دغـه ستـړي غــزل وخــوړمـه
زر شه راپاڅه نور په ما باندې غیرت پکار دی

# د تيارو محل

زمونږ نصيب او جنون دواړه په فکرونو کې ډوب
څـه عجـبه ده محـبـت پـه نفرتـونو کـې ډوب

وخته د کار سړی دی سترې تا سه نه ځې په لار
غېرت شعور ئې لا تـر اوسه په خوبونو کې ډوب

نور د رښـتيا او د ښکلا خونـه ئې ړنګه کړله
بدرنګ مخونه په دروغـجن محبتونو کـې ډوب

د ســپرلـي ســاه خـو د خزان په راتګ ووتلـه
د ژوند ګلونه اوس په ورانـو کنډورنو کې ډوب

د اغـزو کـر شـوی په لاره ګـنـاه خوښه ښکاري
بې عقله فکـر د ګناه په محفلونو کې ډوب

نسيمه ستوريه رب دې وساتـه د سختو شپو نه
دلته هر څه اوس د تيـارو په محلونو کې ډوب

سه « سره »

# د دستار سرې

دوې په رښتیا هم ټول د کار سرې دي
د ژوند په للمه کې هوښیار سرې دي

دوې د نفرت نه تل نفرت کړی دی
په پښتنه مینه سینګار سرې دي

د ښکلاګانو پدې هسکه سینه
هم خو د کلي هم د ښار سرې دي

د وخت فرعوان ئې غولولی نه شي
فکر او ذهن نه بیدار سرې دي

ما خو خو ځلې ازمایلې دی دوې
غرې چې پرې وکړم تابیدار سرې دي

نسیمه ستوریه حقیقت همدا دی
هم د څادر هم د دستار سرې دي

# بختور

کوم سرې چې بې کماله مشهور شي
خیال ئې نه ئې څه بې خیاله مشهور شي

نه ئې لاس تنهاکي شوې نه ئې خپه وي
په زوال کې بې زواله مشهور شي

خلک ځان ته یو څوک، څوک ګوري چې لوې شي
دی ، بې څوکه بې دلاله مشهور شي

چې د ګل او اغزو فرق کولی نه شي
بې هنره او بې ماله مشهور شي

نه د ښکلو نه ښایسته او نه بدرنګ وي
په جمال کې بې جلاله مشهور شي

نسیم ستوریه چې قسمت ئې یارانه کړي
بختور دی نن بې سیاله مشهور شي

# انکار

دې پښتو پښتونولۍ ته ئـې کار کړی
د دستار سرې دستار دی پــه سر کـړی

چې زما پــښتون وجـود پرې غني کیږي
مـا د مـيــنې د لـفـظونـو اظــهار کـړی

واک اختيار ئې د پردو په لاس کې ورکړو
پخپل سر باندې پښتون بيا ګوزار کړی

بې اتفاقه يو په يو لار باندې نـه ځـو
خـدای خبر چې مونږ ته چا هم ازار کـړی

راشـه واچوه نظـر پـــر خـپـله خــاوره
چا قـاتل او چا مقتول دی په دار کـړی

د سکروټـو په سر ژوند دی نسيم ستوريه
اوښکو ځکه مـې د سترکو انکار کـړی

# هیر

یو د هنـداري پـه‌انځـور کې چې مې ځان ولـیدو
د سـتـرګـو رپ کې مې ملګـرو نن جانان ولیدو

څه عجبه ده د ښایـست په مـوسمونو کې ورک
څـه عجـبه ده د ښـایـست مـې ټول جهان ولیدو

زه د نېمګړي تصویـر روح تـه لا ، ولاړ نـه ومـه
نـاڅـاپـه غـږ شـو چا په لاره کې کاروان ولیدو

د نفرتـونو پـه لوی کنده کـې احصار دی سړی
هغې سړي هم پـه کوهي کې خپل ایمـان ولیدو

د وخـت په ژرنده کې نصیب زري زري ښـکاریدو
د وخـت د ژرنـدي پـه پلونو مې ګریوان ولیدو

نسیمه‌ستوریه پام کړه هیر دي نشم واخله خبـــر
پـه کـړه لار مې د زخمي زړګـي داستان ولـیدو

# ځله

پـه سـمـه او غـــر ســـنـــدري ځـلـه لـيـکـې
د زړه پـــه ور ســـــــنــــــــدري ځـلـه لـيـکـې

نـه خـو مـنـګـی شـــتـــه نـه د پيغـلـو ډلـه
اوس پـــه ګـــودر ســـنـــدري ځـلـه لـيـکـې

چـــې د زړه ويـــنـــې ورکـولای نـــه شـــي
نـــو پـــه دلـــبـــر ســـنـــدري ځـلـه لـيـکـې

چـې پـــه دوعـــا کـــې يـادولـی نـه شــي
د زړه پـه ســــر ســـنـــدري ځـلـه لـيـکـې

چـې د تـــيـــارو لـمـن کـــې اوســي همـيـــش
پـــه مـــازيـــګـــر ســـنـــدري ځـلـه لـيـکـې

د نسيم ســتـوري ســـه پـه لار چـې نـه ځـي
پـه لـــر و بـــر ســـــنـــدري ځـلـه لـيـکـې

---

سه « سره »

# پام

د محبت کلي تـه نـوم چې د نـفـرت ورکـوي
بيا خپل نفرت ته ښکلی نـوم د محـبت ورکـوي

زما ښايست بدرنګه وي د بدرنګ مخ په خاطر
خپل بدرنګ مخ ته نـوراني نـوم د جنت ورکـوي

د وخت بيناء خلک ړانده کړي او ړانـده بيناء کړي
خـپلـو خـبرو تـه بـيـا نـوم د کـرامـت ورکـوي

زمونـږ رښـتيا تـه تـل د دروغـو لـقبونـه ورکـې
دی خپلو دروغو ته رښتيا پـه نـوم شهرت ورکوي

زمـا سـنـدره کـړي حرامـه او کـافـره ئـې کـړي
خپلـو حرامـو تـه بـيـا نـوم د عـبـادت ورکـوي

نسيمه ستوريه دي خـبرو تـه دي پـام دی ورتـه
خپلي ګناه تـه د ثواب پـه نوم عظمت ورکـوي

# کاروان

چې پـــه لاره بـــانـــدې پـریـوتـو د کـار شـو
پـدې کـلـې کـې هـمـدا سـرې پـه دار شـو

دا زمــــا بـــې غـــوره فـکــــر وو مـلــــګـرو
یـو مـــړ سـکـور راتـه تـازه شـو او انـګـار شـو

بـدنـصـیـبـه د قـسـمـت پـه دروازه کـې
خـالـې لاس اوس یـو فـقـیـر هـم ددې ښـار شـو

چې پـه ویـښـه دې هـم تـللـی چـرتـه نـه شـو
نـو پـه خـوب کـې دی بیا څـرنګه بـیـدار شـو

چـې د عـقـل دروازې وې پــرې رابـنـدې
بیا چا غـږ کـړو چې پلانـی بیـرتـه هوښیار شـو

نسیم ستوریه د کـاروان نـه دی څـوک پـاتـې
څنګ کـاروان پـه نـیـمـه لار پـه انـتـظـار شـو

# مرور سوچ

زه د مـــړو هـــديـــرو پـــه ســـر ولاړ يـــم
ژونـده زه د سرو غـرمـو پــه ســـر ولاړ يـــم

ويـښ ويده او ويـده ويـښ دي په دي ښارکې
ورنـــه تـــښـتـمـه د خـپـو پــه ســـر ولاړ يـــم

نه پـوهـيـږم چې احـساس څـنګه ګونګ شوی
بـيـــنـا نـشـــتـه د ړنـــدو پـــه ســـر ولاړ يـــم

انسانـيت چې د وحـشـت په لمبـو سـوزي
زه بــدبـخـــتـه د لــمـبــو پـــه ســـر ولاړ يـــم

زه د خـپـل ټـوټـې وجـود نـيمـګړي بـرخـه
پـه رڼـا کې نـيمـو شـپـو پـــه ســـر ولاړ يـــم

سـوچ مـې ځـکـه مـرور دی نـسيم ستوريه
لـيـونـی نـه يـم لـيـونـو پــه ســـر ولاړ يـــم

# ماتګوډ

دا چې تير شوی وخت مې ياد شي ستا تصوير لټوم
په خوب کې راشي او پنـاه شي بيا تعبيرلټوم

د ننګيالي ښـار ننګيالۍ زانګو ده تـشه ولې؟
سترې مـزل تـه وارخطا شم پردی پير لټوم

د ژوند دستور د سرو ګلونو راته مړاوي ښکاري
څه بې اشره ، دی غـوبل تـه بل جاګير لټوم

رڼا ده تـتـه د تورتم په چـم کې ورکه شـوله
زه ورتـه بيا د مينـې امـــن لـوی سفير لټوم

زړګيـه ځکه د ارمان پـه دروازه کې ناست يم
غـمـژن فکرونـو يـم نيولی خپـل ضمير لټوم

د نسيم ستوري دی ماتګوډ لفظونـو وېـرولـم
د نـن تـاريـخ ته د ژونـدون ښـکلـی مسير لټوم

# واوره

تـا نـه خـو زه کـم نـه يم
زه پـه لاره ســم نـه يـم

غـيـږه راتـه راكـــړه زر
زه د جـانــان غم نـه يـم

مــا نـه تـپوس مـه کـوه
زه د هـغه چــــم نـه يـم

سـتا زخـمـي وجـود لـره
ګلـه زه ملـــهـم نـه يـم

ځـان سـره چـې نـه يــم زه
تــا سـره زه هــم نـه يــم

واره د نسـيـم ســــــتوري
زه د هـغـي قــلـم نـه يـم

# غوځ

پـه پـښـه تـوره ئـې دلـبـر غـوځ کـړی
چا راتـه لـر چـا هـم پـه بـر غـوځ کـړی

زما پـه غـوږ کـې چـغـې ځـلـه وهـې
دلـتـه د عـقـل نـه چـا سـر غـوځ کـړی

اوس چـې الـوت تـه جـوړيـدلی نـه شـې
هـغـه مـرغـه نـه چـا وزر غـوځ کـړی

د زړګـې کـوره لاړ کـنـډر کـنـډر شـوی
دا سـتـا د ويـنـې ئـې رهـبـر غـوځ کـړی

فـرق د هـغـې او ددې ځـه پـاتـې شـو
د صبـاوون نـه ئـې نـظـر غـوځ کـړی

د نـسـيـم سـتـوري فـکـر وژړلـې
ولـې ښـايـسـت نـه ئـې هـنـر غـوځ کـړی

# غلی

د خپـل ځـان نـه ورکـیـدمـه چې دا څه دي
غـر لـه سره کـولـــیـدمــه چې دا څـه دي

هــر ســړی ورســه روان وو پــل ، پــل کــي
زه پـه لاره غـورځـیـدمـه چـــي دا څـه دي

بـې د مـیـنــې خـو دنـیـا داسـې ویـجـاړه
زه د مـیـنـې ویـریـدمـه چــي دا څـه دي

د یــــووالــــې زه لــــه زوره خـــبــر نــه وم
د وحـدت نـه تـښـتـیـدمـه چـي دا څه دي

د ګـلاب د ګـل ښـایـسـت رانـه خـفـه شـو
د اغـزو سـه ټـوکـیـدمـه چـي دا څـه دي

زه د خـپـل مـنـزل پـه شـاه غـلـی ولاړ وم
نسیـم سـتـوریـه پـټـیـدمـه چـي دا څـه دي

سه « سره »

# عمل

چا چې پرهرجوړکړی دی اوس ئې درمل څوک کوي
خیرې ګریوان مې د پښتون وجود ګنډل څوک کوي

دلته بـدبختـه سوداګـر په قـاتـل ځـان خرڅوي
هلته بیــالـلـي جوارګـر بـاندې ګټل څوک کوي

اوس تــرې د امن سوچ او فکـر جهالت نیـولی
د سپرلې کور کې د سپرلې سه اوسیدل څوک کوي

د کـرېې لارې نـه بـه سمه لاره جوړه څنګ شي
چا هم دا فصل دی کرلی او ریـبـل څوک کوي

د سلطنت په بـیــنـا سترګـو څه افت پـروتـی
ځان ئې تیـارو کې غـورزولـی دی لیدل څوک کوي

هر سړی وائي چې داسې وشې داسې ښه کار دی
پـدې خـبـرو بـه نسیم ستوریه عمل څوک کوي

سه « سره »

# ضرورت

عقله چرته ئې چې وادې خلم يو چا ته
د تيـــارو د نـــفــرتــونــو دې دنـيـا تـه

د نـــاکامــو تـجـــربــو نـه مـې تـوبـه ده
نـور بـه نـه ليکم خـطـونـه يـار اشـنا تـه

دا زمــا د قســمــت کـربنـــې کـــږې شـــوې
ځکـه نـه مـې پـريـږدې اوس د ژونـد رڼا تـه

چـــې د امــن راوســتــو کـې شـومـه پـاتـې
مـلامـتـه يـم زه لـوې پـښـتـونـخـوا تـه

چې زمـا دا سترګې ژونـد پـه نـور دمـه شي
ضـــرورت لـــرم د مـــور د خـولـې دوعـا تـه

نسيـم سـتـوريــــه تـا لـيـکـې تـا ويـلـې
کـه څـوک ورسيـږي سـتـا د شعـر مـانـا تـه

# لوری

دا چې د هسکه پـوري لاړ او ستـوری نـه پـیـژني
دغـه بـدبـخـتـه ای پښـتـو ستا تـوری نـه پـیـژني

چـې پـه ړنـدو سترګـو مـزل کوي کـړه لار باندې
هغـه هـــدف تـه رسـیدلـو لـــوری نـه پـیـژني

---

# زه

سـر مـې تـرې قـربـان چـې زمـا مـینـه پـه ودانـه ده
ویـاړمـه پـه دې چـې ماتـه خپلـه پښـتو ګـرانـه ده

پـــت ښـیـګـړې تـوري د وفـا درس ئـې راکـړی دی
زه د دې جـانـان یـمـه او دا زمـا جـانـانـه ده

---

# شاهین

په لاره رانه پریوت چا لیدلی خو به نه وي
ورک شوی رانه زړه دی چا موندلی خو به نه وي

د خیال نظره ستا د کلي ځوانو میخانو کې
په اور د محبت کې چا سیزلی خو به نه وي

درمل د زخمي فکر وو د ژوند په‌میخانه کې
پرهر پرهر سینه کې چا ساتلی خو به نه وي

مئین په هغه چا شو چې مئین وربانديې نه وو
د ژوند په خوړه للمه چا رټلی خو به نه وي

د ځوان ښایست د ژمي مازیګره لاړې تیر شوې
یادونو او دردونو چا ځپلی خو به نه وي

نسیم ستوریه د خیال شاهین دي بیا الوت ته پریښود
د عشق په دروازه کې چا نیولی خو به نه وي

# خاپونه

ساه ده ورنه وتې سره ګلونه خاوري شوي دي
ځکه خو د مینـې ارزښـتونه خاوري شوي دي

دا منم ژوندي خلک دنیا کې مړه په ګور کې دي
ولې د ژونديو نه اوس فکرونه خاوري شوي دي

نشته طبیبان چې دغې رنـځ تـه دوا ولیـکي
دلته د عمرونـو ارمـانونـه خاوري شوي دي

ژونده د قسمت پهسپیره ډاګ باندې نور مه ورځه
ژونده سپیره ډاګ کې کاروانونه خاوري شوي دي

امــنـه یـو دیـدار زمونـږ غریب ولس ته وښایه
ستـا پـه تمه تمه جګ سـرونـه خاوري شوي دي

نـور ای نسیم ستوریه د ثواب خاپونه مه شماره
دلته د ثواب دا سپین مخونه خاوري شوي دی

# قاتلان

قانون چې چا جوړ کړی د قانون سره په جنګ دي
دا ځینې کاینات هم د ژوندون سره په جنګ دي

نصیب د تخیل د وخت په تار کې لاړ بـوډا شو
سپرلـی او خزان دواړه د ګلګون سره په جنګ دي

د امــن دوښمـنانـو تل د سولې قـتل کـړی
په خاوره پـښتنه کې د سکون سره په جنګ دي

د مینې او احساس د ارزښـتونو ښـکلی کوره
تیـاره او رڼا دواړه د سمون سره پـه جنګ دي

کوشش کوې پـه یو او بل نوم پښتون بدنام کړې
د پوهې قـاتلان هم د پښـتون سره په جنګ دي

راځه ای نسیم ستوریه چې د خیال درشل ته ورشو
فکرونه زما او ستا هم د بیلتون سره په جنګ دي

# ژبه

څوک کافـر څوک مسلمان شـو پـه دې خـاوره
څوک د خپل ژونـدون داستان شو په دې خاوره

د چـا فـکـر نـــن تـر هــســکـه رسیـدلــی
د چـا خیـال خیـري ګـریـوان شو په دې خاوره

څـوک د کـاڼـو د لـفظـونـو کـار و بـار کـړي
څـوک د مـیـنـې نـه قـربـان شـو پـه دې خـاوره

د چـا ســوچ او ښــکلا دواړه بـدرنـګ شـوې
د چـا زړه ، زړه تـه درمـان شـو پـه دې خـاوره

څـــوک د امـــن ډیـوه بـلـه ګـرځـوي اوس
څـوک د امـن پـه ارمـان شـو پـه دې خـاوره

د چـا ژبـه ګـونـګـه شـوې نسیم ستوریـه
د چـا غـږ جـګ تـر اسمـان شـو پـه دې خـاوره

# دار

زمـا زړه بـــې لاره شـــوی پـه لار نـه ځـې
ساه مې تښتي د ژونـدون سـه قرار نـه ځـې

د مـابـښـام او مـازيـګـر تـر مـيـنـځ ولاړ دی
د ښـکلا د کلي خـلـک پـه ښـار نـه ځي

نـن زړښــت رانـه راتـاو شـو ځـوانـې لاړه
د ځـوانـئ پـسـې وخـتـونه دوبــار نـه ځـې

د ژونـدون نـــاوي ســر تـــوره راتـــه ژاړي
چـې د مـينې مـحـبـت سـره يـار نـه ځـې

مـحـبـت خـفـه سـتـومـان راتـه ولاړ دی
يـو پـتمن سپيـڅلی ژونـد هـم بـيـدار نـه ځـې

نسيم ستوريـه يـو پـوښـتـنـه کـړم لـه عـقـلـه
ولـې ، ولـې د ګـنـاه کـور تـه دار نـه ځـې

---

سه « سره »

# خړپړ

یـو شـور مـې د احساس د لمن تار تـه رسیدلی
نظر مې د فکـرونـو کـوم یـو شمـار ته رسیدلی

نـاپـوهـه د تـیـارو او رڼـا فـرق کـولـی نـه شي
د ژوند په ښکلي کور کې نن انګار ته رسیدلی

دا مینه ده ګـناه نه دې ساتـي پـه هـر قـدم
منصور څنګـه ملګـرو پـکې دار تـه رسیدلی

د صـبر پـه کاسـه کې بیـا لـمبـي د اور بلیږي
پـاڅون رانـه نـور غـوارې او ګـوزار ته رسیدلی

راځۍ چې قدمونه ئې نور ښـکل کړو پسې ورشو
د امـن لـوی سفـیـر به نـیـمې لار تـه رسیـدلـی

دا ستا د کلـي خـړ پـړ په کورنو باندې څه کې
نسیم ستوریه اوس هغه سړی ښـار تـه رسیـدلـی

# تش غورځنګ

ځــه بـــدرنګــه لـري شــه
زړه نــه زنــګــه لــرې شــه

دلــتــه د ګلاب ښــايــسـت
دلــتــه د کــتــاب ښـايـسـت
ستا تـور مخ لیـدی نه شي
ای تـــور رنــګــه لـــرې شـــه
زړه نــه زنـــګــه لـــرې شــه

تــه چـا نــه خيـرات غـواړي
تــه چــا نــه زکات غــواړي
دا کـــورنــه شـــړ دي اوس
ځــه مــلــنـګـه لـــرې شــه
زړه نـــه زنـــګــه لـــرې شــه

بـيـا بـه الـوتـی نـه شـي
بيـا بـه پـه مخ تلی نه شي
شـمـع دې ســيـــزي رانــه

ای پـتـنـګـه لـــرې شـــه
زړه نــه زنـګــه لـــرې شــه

مــونـــږ ســره وسـپـږه مــه
مــونــږ ســره ګـرځـېـږه مـه
ســتـا څــهـره بـدرنـګـه ده
ځـه د ځـنــګـه لـــرې شــه
زړه نــه زنـګــه لـــرې شــه

تــه پــردي مــالــونـه وړي
تــه پــردي ســوچــونـه وړي
يــو ځــاى درکــې سم نشته
اوښــه دنـــګـه لـــرې شــه
زړه نــه زنـګــه لـــرې شــه

تـه ئـې بـربـــادي د ژونــد
تـه ئـې خــرابــي د ژونــد
تـه د چـا خـوښـيــږي نــه
ای ګـــړنـــګـه لـــرې شــه
زړه نــه زنـګــه لـــرې شــه

سـولـه ده رڼــا د ژونــد
سولـه ده ښـکلا د ژونـد
سـولــه مـيـنه مـيـنه ده
مـونـږ نـه جنګـه لـرې شـه
زړه نـه زنـــګـــه لــرې شـه

ځـنـګـه انـسـانـيـت دی سـتا
ځـنـګـه شـرافـت دی سـتـا
مـور پـه سـر سـودا کـوي
ای بـې نـنـګـه لـرې شـه
زړه نـه زنـــګـه لـــرې

خـوښ مـې د ښـکلا ډګـر
ژونـد مـې د وفـا ډګـر
مـل يـم د نـسـيم سـتـوري
تـش غـورځـنـګـه لـرې شـه
زړه نـه زنـګـه لـرې شـه

# بيلتون

د پلار نيـکه د نـظرئـي لانـدې ژونـدون لـرمـه
پښتنه ويـنـه پـه وجـود کـې زړه پـښـتـون لـرمـه

خيال مې د هسک لمن ته ورسيد خبر ئې که نه
د ذهـن دشـتـه کـې بـاغـونـه ښـه زرغـون لـرمـه

وخـتـه دا سـتـا د حـرکـت پـه فـلسفـه پـوهـېـږم
درسـره ځمه پـاتــې کـېـږم نـه ،يـو يــون لـرمـه

ما به د ورور د ورور د کوره څوک هم منې نه کړي
يـوه يـم ويـنـه يـو وجـود يم پـيـوسـتـون لـرمـه

زما د کلي خلکو ما باندې تـومـت مـه تـړلـې
ژونـد چـې لـرمـه مـحـبـت سره تـړوون لـرمـه

زه د نسيم سـتـوري ، نسيم ستـورى زمـا ملـګـرى
رښـتـيا هـمدا د بـيـلتون سره بـيـلتـون لـرمـه

# محمد افضل خان

پــه فــکــر کــې کــه راولــو کــارونــه د لالا
د زړه پـه بــرج بـه جـوړ کړو تـصـویـرونـه د لالا
دسـتــار سـرې هـمـدا وو
د کـار ســرې هـمـدا وو
بـیـدار سـرې هـمـدا وو
تــر هـســکـه پـورې رســیـدل ســوچـونـه د لالا
د زړه پـه بــرج بـه جـوړ کړو تـصـویـرونـه د لالا
خانې کې لوی ملنګ وو
ظـالـم سره پـه جنګ وو
ولاړ د قـام پـه ننګ وو
پښتو مینې کې رنګ وو ټول خیالونه د لالا
د زړه پـه بــرج بـه جـوړ کړو تـصـویـرونـه د لالا
پښتون ئې د زړه سر وو
ولاړ لـکـه لـوی غــر وو
زمونږه ســر لــښـکـر وو
تل مـونږ سره ژونـدي بـه وي یـادونـه د لالا
د زړه پـه بــرج بـه جـوړ کړو تـصـویـرونـه د لالا

سپیڅلی لـوی انسـان وو
پټکی د میروېس خان وو
مـنزل پـه لـور روان وو
پـه تـول بـانـدي پـوره وو تـول لفظونه د لالا
د زړه پـه بـرج بـه جـوړ کړو تـصویرونه د لالا
مشهور پـه خـان لالا وو
لاړښـود زمـا او ستا وو
رښتیا چې تـول رښـتیا وو
زمونږ پـه سـر تـل سـیوری وو لاسـونـه د لالا
د زړه پـه بـرج بـه جـوړ کړو تـصویرونه د لالا
راځـی دغه وعـده کړی
یـووالـــی وسـیـلـه کړی
قامـي وحـدت ناره کړی
پـوره بـــه کـړو ملـګـرو ارمـانـونـه د لالا
د زړه پـه بـرج بـه جـوړ کړو تـصویرونه د لالا
کـاروان د مـحـبـت وو
نسیم ستوریه غـیـرت وو
نـو تـول همت همت وو
پـه ذهـن مـي پـراتـه دي تـول خـوبـونـه د لالا
د زړه پـه بـرج بـه جـوړ کړو تـصویرونه د لالا

# مرسته

د فـکـر او عـمـل سـرې په لاره رانـه تـښـتي
ژوندون داسې بدرنګ شو چې بې کاره رانه تښتي

د خپل وجـود ګـریـوان ته مې رنګونه بربنډ کړي
د اوښکو بوزغلی مې په هـنـداره رانه تښتي

قدم چې د پتي په مینځ کې اخلم داسې کیږي
دا زمـکـه مـې پـښـو نه تل په باره رانه تښتي

یـو زه یـم لالهـنـده چې د مینې پسې ګرځم
هر څه راتـه نور پرېږدي خو په نهره رانه تښتي

زمـا د راتــګ غــږ ئـې اوریـدلـی وارخطا دی
د کلي نـه راوتــی اوس د ښـاره رانه تـښـتي

نسیم ستوریه که وخت دې کړو پیدا نو مرسته وکړه
ویـده په خوب ویده دي خو بیداره رانه تښتي

## شهيد

دا پـه خـپـلـو ويـــنـــو رنـــګ دی
دا شـهـــيـــد د قـــام پــه نــنــګ دی

جــنـــتـــونــه ئـــې نـــصـــيـــب شـــه
چـې ئـــې سـر تــر هــســکــه دنــګ دی

---

## سيوری

مـا د مـيـنـې هـغـه تـوری پـيـدا نـه کــړ
لـتـومـه مـا هــر لـــوری پـيـدا نـــه کـــړ

د قــســمــت کـــرښـــې تــړلــې راتــه ښـکـاري
نسيمستوريه ما خپل سيـوری پـيـدا نه کړ

---

# زنګ

اوس د بـې ننـګـو ننـګ خرخیږي وېښ شه
نـن چـې اوبـو کـې رنـګ خرخیږي وېښ شه

جـانـانـه ســتـا د قــدمــونــو نـه زار
سـولـه خرخیږي جـنـګ خرخیږي وېښ شه

دا چـې مـزل پـه شـګـو شـګـو کـې دی
مـنـزل پـه لـوري تـګ خرخیږي وېښ شه

دې لــیـونــۍ کرکي هـرخـوا نــیــولــي
زمـکـه خرخیږي هـسک خرخیږي وېښ شه

فـرق د غـلام او د بـادار ورک دی هـم
تـیـټ که خرخیږي دنګ خرخیږي وېښ شه

د نسـیـم سـتوري وېـــښ فـکـــرونـه ژړاي
چې د ښوونځي ئې زنګ خرخیږي وېښ شه

# پتنګ

دا چـــې عـــقل نـــه پـــه تنګ وم
د خــپــل ځـان سره پــه جنګ وم

د نـصـيـب پــه سره غــرمــه کــې
زه يـــو وچ بـــوټــی لــونــګ وم

چـــې زمـــا بـــه خـــوښـــيــدلــه
د هـــغـــې پـــه تـــومـــت رنګ وم

چـــې لـيــدلـــي مـــې هـــم نـــه وه
وريـــســـې بـــه زه مـــلـــنـــګ وم

چـــې مـــې غـــوږ تـــه رســيــدلــه
زه د نـــنـــګ د نـــاري نـــنـــګ وم

نسيـــم ســـتوريــه کـــه هـــر څـــه وه
دا مـــې شـــمـــع زه پـــتـــنـــګ وم

# خپل قسمت

څه د خاموشه ژوند په غبږ کې لوبیدمه عقله
د وطن خاورو کې به هر ځای لوغړیدمه عقله

د محبت او مینې ښکلی بنجاري ومه زه
لکه د شمعې په پتنګ به ژړیدمه عقله

یو وخت هم راغی چې غربت مسافری ته جوړ کړم
لکه اسمان نه چې په ځمکه غورزیدمه عقله

بیا په کلونو مې د هغې د حسن خال و نه لید
چې په دیدن پسې ئې زه هم کړیدمه عقله

د حوصیلو هنداره تتـه تصویر مات نېمګړی
زه په علاج د دي مرض نه پوهیدمه عقله

قام مې لوټ شوی د احساس فکر مې رنګ په وینو
د ډیرې ویرې به د ځانه ویریدمه عقله

د نصیب کرښو مې په ژوند باندې کړي لوبې شروع
زخـمـي وجـــود وم بـې خـزانـه رژیـدمـه عقله

بس د اغزو په سر ژوندون وو لوڅې خپې وې زما
تـږی ولاړ وم بـې اخـتـیـاره سـوزیـدمـه عقله

ښوونځی شړ شوی قلم وچ کتاب مې څیري پروت وو
قـاتـل د پـوهـې تـه د قـهـره پـړسـیـدمـه عقله

پـه ښـایـستـونـو د بـدرنـګ فـکـر باران شوی وو
چـوپـال د مـیـنـې تـه هـم زه نـه رسـیـدمـه عقله

خوب مې تالا وو شوګیري راته مورچل کې ناستې
څـه د فـکـرونـو پـه ټـالـۍ بـه ځـنګیدمه عقله

ما تـه نسیم ستوري هـر څـو کـه تسلي راکړله
د خـپـل قـسـمـت د سـبـاوون نـه تـښتیدمه عقله

# بيداري

په هر ماښـــام پسې سبا وي خو سبا تښتي
ژوندون خفه دی چې زړګي نه مې رڼا تښتي

فکر کې ورک يمه زه، ځان نه خبر نه يمه
د زړه کوټه کې چې تصوير رانه دا ستا تښتي

په نيمه لار ولاړ دی د ديـوال تـر څنګه اوس
کاروان دی سترې د کاروان نن پيشوا تښتي

دلته بدرنګ خلک دي د جنګ خبري کوي
ددې محفل ځکه مينه او ښکلا تښتي

غږ پري کولې نه شي ژبه دی غوڅه کړې نو
په خاموشۍ کې د پرهر سينې دوا تښتي

لږ بيداري پکار ده نسيمه ستوريه ورشه
د ويدو خلکو د لفظونو نه مانا تښتي

# چغه

زما د ذهــن پــه ورشــو کــې چــې وره نــه شــوله
یوه خبــره مــې اوربدہ کړه خو اوربدہ نــه شــوله

قیصي کولــي د خپــل کلــي د وطــن د خــاورې
زما ځنګل باندې پرته وه خو ویده نــه شــوله

چې ســترې ســترې او بــې خوبــه رانــه پاځیــدلــه
زما د زړه پــه کور کې ځکه هم دیره نــه شــوله

اوس به مې ژوند یو سور تنور وي پــه برکت د میني
شکر چې کلي او مالت کې چې خپره نــه شــوله

مرګ نابللی وو میلمه چې زما څنک ته راغی
زما د ژوند قیصه نیمګړې وه پوره نــه شــوله

نسیمه ستوریه هم ئې قتل کړم داوه پــه مــا کړې
زما د غــم چــغه ســره وه خــو ســره نــه شــوله

# قدر

لکه کولال چې دا منګی په مهارت جوړوي
د زړه هنداره مې تصوير د محبت جوړوي

راشي د کلي خلکو وګوري مئيني اوښکې
سيلاب د ميني په ګريوان د لوی غيرت جوړوي

څوک ليونی د بام په سر کړي انتظار د جانان
پخپلو شونډو چې لفظونه ته قيمت جوړوي

رښتيا ماليارو د زړګي ګلان تازه وساته
بې غوره خلک خو بې ځایه بغاوت جوړوي

چې د ليلا د زلفو تال کې تر سهاره زانګي
هغه سړی به هم په زړونو سلطنت جوړوي

قدر د هغه چا هم وکړه نسيم ستوری وروره
په وچو کاڼو چې د ميني حرکت جوړوي

# زه یم

دا چې ستا په زړه کې تل اوسېږي هغه زه یمه
دا چې ستا په درد باندې دردېږي هغه زه یمه

نور به دې نفرت رانه هم یو وېښته ازار نه کړي
دا چې ستا پـه حسـن قربـانـېږي هغه زه یمه

لارې مـې نـیولـې پـه یوه لاره بـه لاړ نـه شي
دا چې ستا دوشـمن سـره جنګېږي هغه زه یمه

دومره په ما ګرانه ئې لکه زه چې په تا ګران یم
دا چې ستا د حاله نه ، خبرېږي هغه زه یمه

دواړه یـو وجـود یـوه مو مـیـنـه یـوه ویـنـه ده
دا چې ستا د مینـې ، نـه بیلـېږي هغه زه یمه

ما د نسیم‌ستوري شاعرۍ کې ستـا نوم ولیدو
دا چې ستا په ننګ باندې ودرېږي هغه زه یمه

# پخه خبره

زمــا د دار ئــې فــيـصلـه کـــړې ده
مـا د هـغـې د ژونـد قـيـصـه کـــړې ده

اسـمان بـه زمـکـې ته راتـيـتې ځنګـه شي
مــا خو پـه زمـکـه يـوه شـپـه کـــړې ده

مـرګـه ! پيـــغـور ژونـدون تـه مـه ورکـوه
ژونـــد خو د وخـــت سـره دمـه کـــړې ده

زمــا پــه لار کـــې دې اغــزي نـه کـړي
مـا خـو هـغـې ســـره وعـــده کـــړې ده

ځـــان ســـره هـــر ســـړی سـنـدري وائـــي
مـا هـــم د غـــره پـه سر ټـپـه کـــړې ده

نـسـيـمـه سـتـوريـه تـا تـه يـــاد شـي کـه نـه
هـــــره خـــبـــره مـــې پـــخـــه کـــړې ده

# کیشتۍ

چې د نـنـګ ځمکه جنګـونو ده نیولـې
د پـښـتـون برخـه غـمـونو ده نـیـولـې

خـپـل پـردی او پـردی خـپـل راتـه ښـکاري
شـتـه رڼـا مـو تـورتـمـونـو ده نیـولـې

د مـنـزل د لار قـدم مـو پـه شـاه کـېږي
د ژونـد لاره ګـړنګـونو ده نـیـولـې

پـه هـنـداره کـې خـپـل مخ لیدلی نه شو
ژبـه نـه لـرې ګـردونـو ده نـیـولـې

زه هـر چـا د مـحـبـت پـه نـوم وژلـی
ځـکـه میـنـه نـفرتـونو ده نـیـولـې

سمـنـدر مینځ کـې کیشتۍ ده نسیم ستوریه
ډوبـه نـه ده طـوفـانـونـو ده نـیـولـې

# شــور

ځیني وخت کې انسانیت سرې ته اور شي
په نفرت مینه بدله زړه ئې تور شي

سلطنت چې د وحشي حیوان په لاس وي
د ژوندون مانا شي ورکه او پیغور شي

چې د عقل دروازې وې پکې بندې
په هغه ځمکه د ظلم کلی کور شي

د وخت څانګه چې د ببخه وچه شوې
بدقسمته شي ایره او سوی سکور شي

چې قدم ئې سترې شوی مخکې نه ځي
حرکت بې حرکته شي نسکور شي

د اخلاقو د ښکلا مانۍ شي ورانه
نسیم ستوریه څوک چې ځان سره په شور شي

# لوڅي پښې

ښايـست چې ئې د پيغلو پـه نظر کې ګرځيدو
يو سـوچ ئې مازيګر کې پـه ګودر کې ګرځيدو

اسمان ورتـه سپوږمـۍ رڼا نـيولي وه پـه ځمکه
کاروان د مـحـبت چې د غـره سـر کـې ګرځـيدو

د کلي پـه رنګونـو ئـې دا زړه خپـل وو بيـاللی
د مينـې دا احسـاس ئـې هر سحر کې ګرځـيدو

د ژوند پاتي موسم تـه ئې وزر د الوت جوړ کړ
يـو شـور ئـې د فکـرونـو لـروبر کـې ګـرځـيدو

سپرلـي تريـنـه تـپوس د خپل غاټول ريدي کولو
چوپـان د زړه د مـيـنـې د زړه ور کـې ګـرځـيدو

نسيم ستـوريـه د امـن سيـوری بيـا لـيونی شـوی
دی لـوڅـي پـښـي ګـوره چې پـه لمر کې ګرځيدو

# غږی

درده نـــور مـــې پـرېـــږده لـيونـی دې کــړم
دود دې کــړم بـې ځـایـه او لـوګـی دې کـړم

پـــاکـــه ایـــنـه کـــې مـــاتـه وګـــوره
څنګ د نـظـرمـاتـي ســپـلـنـی دې کـړم

زه د خـپـل وجـود پـــوره انـــدام یـمـه
تـا ټـوټـې ، ټـوټـې کـړمـه پـردی دې کـړم

اور تــه دې جــوړ کـــړم چـې لـمـبـه شمـه
شـيـن ومـه ښـایـسته وم وچ لـرګی دې کـړم

زه د مــحــبــت د کـــــور یـــو غـــږی وم
ولـــې د نـــفـــرت پـمـن زړګـی دې کــــړم

ځـمه نسـيـم ســتوری مــې یـادېـږي ډیـــر
اخ چې د هـغـې دې کـړم زلـمی دې کــړم

## خوږې

دا د کـونـړ د سیـــنـد ښـــپـې دي
مـــا اوریـــدلـــي ئـــې قیـصـې دي

پـه لـپـو سـکـه تـه نسیم ستوریه
پـه ګـــډا ســر اوبـــه خـــوږې دي

## حد

بدرنګ کوي کوشش چې اوس ښکلا په کاڼو ولي
دا دروغ دي نور سمبال کړه تل رښتیا په کاڼو ولي

دا ولـی ای جـانـانـه داسـې حـد تـه رسـیـدلـي
زه تـا پـه کاڼـو ولـم او تـه مـا پـه کاڼـو ولـي

# زیات او کم

احساس د بیــداری چې نـن صنم اخیـستی خپله
مونږ دواړه په شریـکه د قام غم اخیـسی خپله

نو ځله انــتـظار وکـړم د چا پــه تماشـه شم
مـنـزل پــه لور فکرونو مـې قـدم اخیـستی خپله

د پوهې پـه رڼا بـه د بیـلتون خونـه کـړم رڼګه
بیدار ذهـن مې بـیا کـتاب قلـم اخیـستی خپله

دا څوک وائي چې تت دی نه ښکاریږي څیري شوی
تصویر مې د جانان ځان سره سم اخیـستی خپله

نیمګړي ملګرتیا مي خوښه نه ده که پوهیږي
دا ګټـه او تـاوان مـې دم پـه دم اخیـستی خپله

د میـنـې منجـاور یمـه د خپل قسمـت پـه خپله
نسیم ستوریه پـه تول مې زیات او کم اخیـستی خپله

# تصویر

ما په تیـارو کې د رڼا تصویـر په زړه جوړ کړی
د زړه په کور مې د ښکلا تصویر په زړه جوړ کړی

ساه مې په ساه کې د چینار ډاډ ته پرته وه څنګه
که ته خبر ئې ما دا ستا تصویر به زړه جوړ کړی

وختـه د شـــګـو د بـادونـو نه دي نه ویـریـږم
د سترګو کسي مې رښتیا تصویر په زړه جوړ کړی

ستا د تـیـارو نـه رڼا نه جوړیږي ورکه ئې کړه
ستا تورتمنونو بیا د چا تصویر په زړه جوړ کړی

د خوږ احساس د ښایستونو په دې وران محل کې
د ژوند په لاره مې همدا تصویر په زړه جوړ کړی

مـا د نسیم ستوري د زړه نـه داسـې ویوښتله
تا په رښـتیا د پښتونخوا تصویر په زړه جوړ کړی

# د وطن اتلان

دا د مـیـنـې جــوړ یـاران مــې ټول پــتـمن دي
دا ګـلــونـــه مـــې د بـــاغ او د چـــمـن دي

چې بــیــرغ ئې د وطــن تــر هسـکــه جګ کړ
زه پــه ویـــاړم اتـــلان مـــې د وطـــن دي

د روښـــانـــه سـبـاوون د احـــســاس بـــاده
دوي ملــګـري سـتـا د مـیـنـې د ګلـشـن دي

دا خــاپـونــه ئې د ښــپـو ورانـیـدی نـه شي
څـوک چـې وائـې نـو هغه خلک دروغجن دي

نـنـګ ډګــر تــه پــه خـالـي لاس دي راغلي
نــن نــړۍ ورتــه حــیـرانــه ده څــواکـمـن دي

چې د نشت نه ئې شته جوړ کړل نسیم ستوریه
د وطــن پـــه ســرلـــوړۍ بــانـدې مـئـین دي

# ناست

د ګناه په زنګ کـې ناست يم
د پيالو په شرنګ کې ناست يم

د قـاتـل پـه لـور مئـيـن شـوم
د قاتل په څنګ کې ناست يم

ربه سر ته مې ته خـير کـړې
د بې ننګو ننګ کې ناست يم

يو مې وژني بل مې پـر کړي
ډير ژور ګـړنګ کې ناست يم

چې ښـايست رانـه ټـول اخلي
د بد رنـګـو رنګ کې ناست يم

نـسيم سـتوری رښـتـيـا وائـي
د پـرديـو جنګ کې ناست يم

# ړلی

نصیحت کړې ناصیحان مې ویره وي نن
څو بې علمه عالمان مې ویره وي نن

چې زما د رنځ درمل کولی نه شي
دا ناپوهه طبیبان مې ویره وي نن

عقل اوس هم د بې عقلو پسې ګرځي
دا تیاري ددې جهان مې ویروي نن

مخامخ راته ولاړ دی نه پوهیږم
سپوري شوندې د جانان مې ویره وي نن

چې د خپلې غریبی احساس ئې راکړ
دا ربښې ربښې ګریوان مې ویره وي نن

نسیم ستوریه په ژوندون ړلی وریږي
لاندې زمکه پاس اسمان مې ویره وي نن

# ښه ده

وایــه مــحــبــتــه ښــنــګ دی ښـــکل کــړمــه
تــا خــو زه پــه مــیــنــه کــې پاګــل کــړمــه

یــمه د فـــکـــرونـــو ســمــنــدر کـــې ډوب
تــا چې د خــپــل ځــانه ســره مــل کــړمه

مــا درتــه د زړه پــه کــور کې ځــای درکړ
تــا چې خــپــل مــنــزل تــه خــپــل مــزل کــړمه

څــوک چې ســتــا د نــوم نــه هــم انــکار کــوي
زه بـــه د هــغــه فـــکـــر بـــدل کـــړمــه

پــاتــې بــه دا ویـــاړ هـــم تـــر قیامتــه وي
ځــان بــه د قــام مــیــنــه کــې زه دل کــړمــه

ښـــه ده د نـــفـــرت ســـره دی ورانـــه ده
تـــا چـــې د نــســیــم ســتوري غـــزل کــړمــه

# ګام په ګام

يـو کـم عقله پـکـــې اېښی ځان تـه دام دی
پـــه دې لاره کـــې ولاړ ســـړی نـاکام دی

ولـــې عـقـلـه لـیـــونی دریـــسي  نـه شـو
مـحـبـت نـه تـبـــتیـدلـــی فـکـــر خـام دی

نـه پـه نـاســتـه نـه ولاړه بـانـدې پـوه شـو
خـپـلـو سـترګـو تـــه نیـولـی پکـې جام دی

جـوارګــر د مـیـنـې هـر څـه پـکـې داو کـړل
عـجـــبـه ده اوس ولاړ پـــه خـالــــې بـام دی

څـوک د مـیـنـې نـه مـنـکـر څـوک د نـفـرتـه
د هـوښـیـار لـیـونې عـقـل تـه دې پام دی

نسـیم سـتوریه د خـپـل سـیوري نـه ویـریـږم
راسره اوس هـم مـلـګـــری ګام پـه ګام دی

# حرام

بابا ستا لمسي دا ستا په قدم نه ځي
ستا په فکر باندې څو تنه درانه ځي

د پښتون د پاره حق غوښتل حرام دي
د پرديوي لپاره جنګ ته پښتانه ځي

---

# پرمخ

د تیر وختونو تصویرونه مې زړګی چیچي
قدم چې نه اخلم وختونه مې زړګی چیچي

راته وائي جګ شه نور مې وشینده کاغذ پر مخ
قلمه ستا رنګ رنګ رنګونه مې زړګی چیچي

---

# قدم

دلته دا ښار او کلی دواړه په تورتم کې پروت دی
د زړګي کور مې ای جانانه اوس په غم کې پروت‌دی

چـې نه پاخېږي نه خوزیـږي راونېـږي هـم نـه
دا بې احساسه لیونی د چا په دم کې پروت دی

د ژوند په ښکلو د بدرنګو چې غوبل جوړ دی نن
ځکه زما ګریوان د اوښکـو په دی نم کې پروت دی

هغه د وخت دي مـداریانو چې ښکار کړی ځانته
راته ښکارېږي دا سړی زمونږ په چم کې پروت دی

په ما تـورونه ځوک لګیـ چې جـانان نه پېژني
فکر او عقل مې په غېږ د خپل صـنم کې پروت دی

ورشـه نسیم ستوري نـه وکـړه تـه پـوښتـنه زمـا
دا هر قدم مې تل د میني په قدم کې پروت دی

# فکرونه

داسې کیدای نشي خـزان مونږ ته ګلونه راوړي
چغې سورې دي چې سپرلی بـه نن غمونه راوړي

د ژونـدون للمه شـړه شوې څـه کول پکار دي
زمونـږ فکـرونه لېـونـي دي نفرتـونه راوړي

عقل مو ګونګ قلم د ګوتو یارانه پرېښوده
نـیت خیـرن شوی د پردی ژبـې لفظونه راوړي

د زلمو خیال ، بې خیاله شوی اوس په بله ګرځې
د وطن ناوي ته به څوک د ژوند رنګونه راوړي

ما چې د خپل ټوټې زړګي نه نن تپوس وکړ هم
په ژړا سر شو ، دی د اوښکو سیلابونه راوړي

غلی شوم پاتي د نسیم ستوري غزل ته حیران
د قـام پـه درد دی دریـدلی څه فکرونه راوړي

# په نظر

په ما اختر کې هم اختر رانه غی
هغه زما د زړګي سر رانه غی

دا وچې شونډې او چاودلي پوندي
له ما جدا هغه دلبر رانه غی

ساه مې ډوبیږي تورتمنو کې یم
اوس خو د شپې پسي سحر رانه غی

وایه نیمګړه پوره کیږي کله
چې ئې قدم زما په در رانه غی

د اوښکو ډاکې لپې زه ګرځوم
په انتظار یم مسافر رانه غی

زما زړګی چې په ډاده وو دلته
دا نسیم ستوری په نظر رانه غی

# خپل بدن

په پردي کټ کې چې پروت يم خپل چمن کې
ما دا خپل ارمان ښخ کړی خپل کفن کې

بختورو ته به زه بختور ښکارم
ما دا خپل ځان تل وژلی خپل ګلشن کې

ته زما د ازادۍ پوښتنه مه کړه
زه غلام يم د پردو په خپل وطن کې

د اغيارو په لمسون باندې روان يم
ځکه شل يمه او کوډ يم په خپل تن کې

د خوربو نه لرې تښتم دا څه چل دی
د دنيا ترخه مې راوړل خپل لمن کې

نسيم ستوريه دا هر څه مې په ځان کړي
يو وجود يم ما ونه‌ليد خپل بدن کې

# يتيمان

د غـړې په وخت کې ژېـه نه لرو ګونګيان ولاړ يو
په بينا سترګو يو ړانده په وير د ځان ولاړ يو

د خپل پـښتون پرهر ګنډلو تـه مو ملا ده ماته ده
زخمـي وجـود تـه بې درملـه طبيبان ولاړ يو

پـه غلط سوچ ويـده کـاروان منزل تـه نه رسيـږي
ځان په دوکو کې مونږ ساتو وايو ځوانان ولاړ يو

د کار پـه وخت کې سړي نـه لـرو پټيږي مونـږ نـه
اوبـه مـو سترګو کې نيـولـي وې حيران ولاړ يو

مونږ چې څوک مشر کړو زمونږ ګريوان ته لاس واچوي
يو ځلي نه ده پـه هر ځلـي پـښيـمان ولاړ يو

نسيمه ستوريه نـور زمـونـږ د قسمت سـاه وچيږي
د خپـله لاسـه نيـمه لار کـې يـتيمان ولاړ يو

# خالي جام

د پــرون پــسـي روان پــرون نــاکام شو
د هغې دا خیـال او فکر ثومره خام شو

د ازاد ژونـدون ښـکلا نـه مــــروره
تـل دې ذهـن د پـردي فـکر غـلام شو

ترقي که داسي وې نو سر دې وخوري
د پـتـمن سړي عـزت پکـي لـیـلام شو

عــجــبه ده لـیـونــی دی نـه پــوهـېـږي
پـه دې کلي کي بـې عمله اوس امام شو

سر اوچت کړه له سنګـره مـه ویـریـږه
چې دوشمن دې دوه لاسي درته سلام شو

هر چا ګوټ،ګوټ ترینه وکړو پاتي نه شو
د نسیم ستوري پـه وار کي خالي جام شو

# اېسار

نـــاکـــراره دی ژونـــدون انـتـــظـار نـه کـــړي
د پـرون بـاچـا بـه نـن څـوک پـه دار نـه کـړي

چې د امـن لښکـــر نـه وي پـه کـوم ځـای کې
وران ویـجـاړ بـازار بـه بیـا هتله ښـار نه کړي

اوښکـو لاري پـه ګـریـوان بـاندې کړي جوړي
دا د مـرګ قـاصد بـه هیڅوک خپل یار نه کړي

نـور پـه هـغه ملـګـرتـیـا بـانـدې مـه ویـاړه
چې دا خـپـل سر د ملـګـري نـه زار نـه کـړي

د مـلـنـګ تـقـدیـر بې عشـقـه نیـمګـړتـیـا ده
دا مجـنـون د میـنې څـوک بـه بې لار نـه کـړي

نسـیـم سـتـوریـه ســـتـا عـجـبـه شـــاعـــري ده
ستا قلم بـه څـوک پښـتـو نـه اېـســار نـه کـړي

# د محبت ګوټ

ستا د مـحـبـت پـه لـمـبـو سـوی دی
دا تـصـویـر چې ښـکاري ځـومـره ښـکلی دی

چا چې پـه وطـن بـانـدې هـم ننـګ کـړی
هـغـه زمـونـږ زړونـو کـې ښـاغـلی دی

خـپـلـه ژبـه چـا چې پـرېـښـودلـې ده
هـغـه د خـپـل قـام د پـاره مـړی دی

دا چې تـل پـه زړونـو بـاچـاهـي کـوي
دا د مـحـبـت د کـور یـو غـړی دی

هـغـه چـې تـیـاري رڼـا رڼـا سـاتـې
نـاسـت د کـوټـې کـونـج کـې څـنـګـه غلی دی

مـا هـم د نـسـیـم سـتـوري د فـکـر نـه
ګـوټ د مـحـبـت مـې تـریـنـه سـکـلی دی

# مړاوي

که ور يـاد شـــي د هغـه کـاروان وخـتـونـه
ورنـه هـير بـه شي د خـپـل داسـتـان دردونـه

چـې عــلاج ئــې طبيـــبان کـولی نـشـي
ورتــه رابــه وړي د کــوم درمــان ګـلـونـه

څــه د وخـــت او پـــردي ژونـــد مـقـابلـه ده
پکـي مـات ئي کـړل د خپـل ارمـان جامـونـه

د ژور فـکــر نـيـمـګــړی انـځـور ګــورم
ورکــې نـشــتـه د وخــتــونــو ځــوان رنـګـونـه

اسـلام څـه دی ايـمـان څـه دی پـښـتو څـه ده
دي هــم دري واړه د يــو جــانـــان نـومـونـه

څـوک ســالار د مـحـبـت شـتـه نسيـم ستوريه
رانـه مــړاوي شـول د خـپـل بـاغــوان فـکـرونـه

# د امن ترږی

چا د غمونو لوی څادر څان سره سم راوړی
خرڅ شوي ذهن زمونږ کلي ته لوی بم راوړی

چې محبت په ګناه پیژني ښکلا نه مني
هر یو نفرت ئې په خپل لاس کې دم په دم راوړی

د قام بچو د ذهن باز چې نن الوت نه کوي
زما ښوونځي ته ئې ټوپک او مات قلم راوړی

دا چې په خپل کور کې بې واکه در په دره یم زه
بې عقله فکر پردی جنګ زمونږ په چم راوړی

د خپل لمن نه مې اور واخیست څکه سوزم په اور
د انسانیت په ځای وحشت چې مې صنم راوړی

دلته د امن ترږي ټول ګلان هم جل وهلي
نسیمه ستوریه د زړه کور ته مې دوي غم راوړی

# سوزي

خلکو دا چغي کړي ناري د سترګو جنګ ښکلی دی
زه وایم چې نه !نه !نه !په پښتو ننګ ښکلی دی

څوک پـه کې ګډ کړي د رنګونو رنـګا رنګ رنګـونه
هر رنګ که واخلي خو بیا هم د اوبو رنګ ښکلی دی

یـو لـیـونـي ځــان ســـره داســـي زمـزمـي کــولـي
ښکلي خو ښکلي دي د ښکلو نه بدرنګ ښکلی دی

چا پـه اوربـل چا خـو پـه څنـو کـې قطار ټومبلي
ګلاب که ښکلی دی خو بوي هم د لونګ ښکلی دی

چې ناست په خوا کې یمه سوچ د ښکلو نه کوومه
په دې هم پوه شه چې تر ټولو د یار څنګ ښکلی دی

نسیمه ستوریه پـدې نه ده چې بـدرنګ بـه سـوزي
شمعه که ښکلي ده خو بیا هم ترې پتنګ ښکلی دی

# ګوډ

د مـیـنـې د غـزل هـغـه داسـتـان درسـره نـه ځي
خفه درنه پـه څه دی خپل ارمان درسره نـه ځي

منزل په لـور وختي وتي هغه خلک چې وېښ وو
نـور څـلـه انـتـظار کـوی کاروان درسره نه ځـي

په ګونـګه ژبـه ګـوري د نیمګړي تصویر رنګ ته
پـه نیمه لار ولاړ ئې خپل جانـان درسـره نه ځي

دي ژوبـل احسـاسـاتـو زلـزلـه بـې وختـه کـړې
د پـاکـې عـقیدې ښکلي یـاران درسـره نـه ځـي

منمه چې مئیـن ئې خـو د میـنـې پـاتې شـوی
نـاپـوهـه دی قسمـت د زړه درمـان درسره نه ځي

حالاتـو ئې ګوډ کړی نسیم ستوری هـم خبـر دی
ایمـان بـاندې پوره ئې خو ایمـان درسره نه ځـي

# قاتل

قـاتـل نـارې وهـې چـې وژنمه انسـان وژنـمه
د مـحـبت د انـسـانـيـت لـوی تـرجمان وژنـمه

هغه چې ژوند کوي مئين وي د وطن په خاوره
د وطن غـيـر کي په وطن مئين جانان وژنـمه

د مـحـبت دوشـمن چې درس نـن د نـفـرت راکړی
د ا چې حجـره او پـه جـومات کي مسلمان وژنـمه

کتاب مي خيري قلم مات ښوونځی کنډر مي کړلو
وريـسي ګـرځـم هـر يـو نـر پښـتون افغان وژنـمه

زمـا د زړه د شـيطانـيـت جـذبـه لا مـړاوي نـه ده
چا چـي ټاکلی وي منزل زه ئـي ارمان وژنـمه

نسيمه ستوريه نـصـحت پـر مـا اثـر نـه کـوي
ماشوم لا څه کی چي بوډا ، پيغله هر ځوان وژنـمه

# ستومانه

دغه څوک دی لیونی چې هر انسان پـه کانړو ولې
دغه بـیـا د خـوده وتـی چې ایمان په کانړو ولې

عجـبه ده په خوړو کې زهرو ګوټ درباندې تیر کړې
عجـبه ده نـه پوهېږې خپـل جـانـان پـه کانړو ولې

داسې نه ده چې زما سر به وې مات د ده به روغ وي
دا چې ما پـه کانړو ولې اوس خپل ځان په کانړو ولې

کله ځان د ځان قاتل کړې کله ځان زما قاتـل کړې
کله کله هـم د زمـکـې نـه اسـمـان پـه کانړو ولې

د وجـود ســاه ئـې بریـنـده د ازلـه دی بدبخـتـه
د نفرت په بټۍ ناست دی هر درمان په کانړو ولې

په دې ژوند باندې څه نو ، نسیم ستوریه ورتـه وایه
په دې ژوند ستومانه ، نه دی خپل ګریوان په کانړو ولې

# جانان شه کنه

ژونـد حـرکـت کـوي زړګـي لـه درمان شـه کنه
راشـه زما د ويـښ خوبونو تـرجمـان شه کنه

ګلونه مـړاوي مـړاوي کيـږي جل وهلي باغ کې
چـرته ولاړ ئـي ددې باغ ښکلی باغوان شه کنه

د پـښـتـو ژبـې نـه خـوږه ژبـه دنـيـا کـې نشـته
د غره له سره نه ټـپـه کـړه يـاقـربان شـه کـنه

نـور د پښـتـو پښـتـونولۍ په ننګ دې ملا وتړه
د پښـتـنـي مـيـنـي رښـتـنـي بـنـديـوان شـه کـنـه

د مـيـنـي کـر وکړه په دې زمکه اغزي کر شوي
پـه پـولـه مـه کيـنـه ددې پـټـي دهـقـان شه کنه

چې نسيم ستورى دې بيا وستائي د شعر په ژبه
دسـتـار راوخله د هغـي پيغلـي جانان شه کنه

# چل

پټ لکه د غل ولاړ هنداري ته
ستا تصوير سره مل ولاړ هنداري ته

تللی چې د مينې مدرسې ته وو
هغه سړی تل ولاړ هنداري ته

نور د بيلتانه په زمکه نه ګرځم
مينې ژرندې دل ولاړ هنداري ته

زړه ئې دی نيولی په خپل زړه باندې
ګوره پردې خپل ولاړ هنداري ته

ما ته داسې مه وايه چې نه درځم
اور مې په زړه بل ولاړ هنداري ته

ځه چې د نسيم ستوري ملګري شو
څو به يو په چل ولاړ هنداري ته

# زه او ته

زه او تـه پـه دې بانــدې پــوهــېږو هم
زه او تـه ښایســت سـره خـنـدیـږو هــم
زه او تــه رښـتـیـا خـبـري تـل کــوو
زه او تـه د چا نـه ، نـه ویـریـــږو هــم

زه او تـه د نــوي ژونـد نـړۍ کـې نـــن
زه او تـه د مـینـې پـه جولـۍ کـې نـن
زه او تـه ټـوټـې ټـوټـې پـراتـه یو څنګ
زه او ته ددې ژوند پـه هـسـتـۍ کـې نـن
زه او تـه پـه دې خــاوره اوســېږو هـم
زه او تـه پـه دې بانــدې پــوهــېږو هم

زه او ته پـه بـد نومـونـو یـاد کـړو چـا
زه او تـه پـه دې بانـدې بـربـاد کـړو چـا
زه او تـه پـه کـرښــو بـیـلـیـدی نـه شـو
زه او تــه د شــکـو سـره بـاد کـړو چـا
زه او تـه بـیـا ولـې نـه یـو کـیـږو هـم
زه او تـه پـه دې بانــدې پــوهــېږو هم

زه او تــه د هــرې بــيــدارۍ احـــســاس
زه او تــه د خــان او غــريــبۍ احــســاس
زه او تــه يــو بــل نــه نــفــرت نــه کــوو
زه او تــه د دغــــې ورولــــۍ احـــســاس
زه او تــه د زړونــــو نــه خــــبريــږو هـــم
زه او تــه پــه دې بــانــدې پــوهــېـږو هم

زه او تــه تــازه د خــپــل چــمــن ګلان
زه او تــه د ننګ غــيــرت پــتــمن بــاران
زه او تــه د سر او مــال نــه تــيــر يــو پــه
زه او تــه رښــتــيــا د خــپــل وطــن جــانــان
زه او تــه يــو بــل نــه قــربــانــېــږو هــم
زه او تــه پــه دې بــانــدې پــوهــېـږو هم

زه او تــه ګــنــاه او ثــواب پــيــژنــو
زه او تــه د پــوهــې دريــاب پــيــژنــو
زه او تــه نسيم ستوري مــلــګــري يــو
زه او تــه قــلــم او کــتــاب پــيــژنــو
زه او تــه د قــام پــه درد درديــږو هــم
زه او تــه پــه دې بــانــدې پــوهــېـږو هم

# بيدارۍ کې

خوب کې دې وينمه په وېښه دې ليدلی نه شم
يقين مې نه راځي د زړه نه دې ويستلی نه شم

له ما نه وکړه اوس تپوس چې زه ئې جواب درکړم
ته که راځې زه خو دا ستا خوا ته درتللی نه شم

زما ګناه خو بس همدا ده چې په تا مئين يم
نېمګړی يمه بې له تا خو به نېمګړی نه شم

پـه نيمه لاره د منـزل پـوښتنه ځله کوې
غلی شـه غلی پـه روانه دې سکونډلی نه شـم

يو ځل په زړه دې ګوتې کېږده او منکر شه کنه
بيا راته وايه ستا په سر دار ته ختلی نه شم

په بيدارۍ کې د بې وسي ميني غږ پورته کړه
د نسيم ستوري شاعـري کې دې رټلی نه شم

# قصیه

دا دروغ خو تل دروغ دي اوس رښتیا راته دورغ ښکاري
د مینـې که منکر شمه ښـکلا راته دروغ ښکاري

د چا په زړه کې ناست یمه دا ستا زړه نه خبر یم
دا ستا د خولې خندا او ستا ژړا راته دروغ ښکاري

هر څه مې دي لیدلي او هر څه پـه سترګو ویـنم
دروغجن به درته ښکارم اوس دنیا راته دروغ ښکاري

وعـدي نـه پـه شاه لاړي او وعـده دې پوره نه کـړه
ته داسې وفادار ئې ستا وفـا راتـه دروغ ښکاري

دا ستا کوم موریدان چې ستا خبري ته غوږ غوږ دي
دا سـتا د موریـدانو اوس ویـنا راتـه دروغ ښکاري

نسیم سـتوري تـه ځمه سـتـا قصیه ورتـه کـومه
یو خوب مې دی لیدلی ستا مـانا راتـه دروغ ښکاري

# د زړه باغ

زما د ژوند ښکلو نغمو او ویښ د کار شعوره
پښتو ته وایه نن دې ورځ ده لوی چینار شعوره

لږ د سکروټو په سر خوب پریږدی ویده پښتنو
په یوه چغه خوب نه پاڅی اوس بیدار شعوره

نور د پردو په فکر مه ځی لږ خدمت ئې وکړی
ورک دې هغه شي چې ئې نه وي خدمتګار شعوره

ښـه د اخلاقو او د ژوند بلـه ډیوه ده پښتـو
هغه په دار کړی چې څوک دا غواړي په دار شعوره

که سر او مال مې د پښتو لیلا په سر کې لاړ شي
قسم په خدای چې زه به نه کوم انکار شعوره

ربه نور تورو شپو نه وساتي دا ګرانه پښتو
د نسیم ستوري د زړه باغ دی پرې ګلزار شعوره

# پاګل غزل

احساس ړوند شوی پردي ډول ته په ګډا ستړي شو
خپلو نه کرکه چې کوو تل په خطا ستړي شو

مونږ د پښتو سره چلند د میرې مور کوو تل
دا په ځان ظلم چې کوو مونږ په ګناه ستړي شو

د ژوند ښکلا مو سرو غرمو باندې سیزلې ده هم
د تاریخ پاڼې اړوو اوس په ژړا ستړي شو

دا ویښ مجنون په خوب ویده لیلا سر توره ناسته
د ننګ ډیوه ده تته شوې په سودا ستړي شو

د منزل لاره مونږ نه ورکه عقل ګونګ پاتې دی
څه په رڼا تندر پریوتی بې رڼا ستړي شو

اې نسیم ستوري دا پاګل غزل دی څنګ لیکلی
د وجود باغ ئې لټوو مونږ په مانا ستړي شو

## دميوند ملالۍ

ملالې دا خپل نوم تل په غېرت باندې ګټلی
ننګيالي ميړني په حقيقت باندې ګټلی

د قام ننګيالۍ نه مري ئې هم نه شي وژلی
هغې چې دا ژوندون په محبت باندې ګټلی

## د سوچ هنداره

قلم باندې به ليکو نور لفظونه د پښتو
يو بل ته به ډالۍ کړو کتابونه د پښتو

هنداره کې د سوچ به تصويرونه مونږ راجوړ کړو
لوستل به مونږ شروع کړو او ليکونه د پښتو

# نیمګړي

هدف شو رانـه پاتـي دی کاروان تـوتې تـوتې
دا ځکه رانه ورک شو خپـل ارمـان ټـوټې ټـوټې

چا قـتـل مـې ژوندون کړ چا لـوټلـی مې وطن
د امـن لښکر تـښـتي پـروت مې ځان ټوټې ټوټې

ګيله د خپلو وکړم که دا خپل ځان نه پردي کړم
پـخپـل لاس ئې وژلـی دی جـانـان ټوټې ټـوټـې

دا څه بلا پـه مونږ ده چې هـیـڅ ویلی نه شو
د هـر ظالـم د لاسـه مو ګـریـوان ټـوټې ټـوټې

دروغجن وجود قسم خوري رښتيا پـه لاره نه ځي
د داسـي سـړي دلـتـه دی ایـمـان ټـوټې ټـوټې

نـیمګـړي دي رنګـونـه نسیم ستوريه د تـصـویـر
څه تـت تـت پکي ښکاري ټول یاران ټوټې ټوټې

# خس

مـینـه او نـفــرت چـــې ســـره مـل ښـکـاري
ســتـرګـو تـه هـر څـــه بــدل بــدل ښــکــاري

ذهـن چـې ئـې خـرڅ وي دا بـه کـیـږي تـل
خـپـل ورتـه پـردی او پـردی خـپـل ښـکاري

نـــور بـــه زه الـــــوت تـه جـــوړوم وزر
دلـتـه ګـرځـیـدل د بـل پـه پـل ښـــکـاري

مـا سـه دوشـمـنـي کـړي د دوسـتـي پـه نـوم
دي کـې د اغـــیـار راتـه څـه چـل ښـــکـاري

تـل بـــه وي نـاکـام زمـا پـه خـــاوره کـې
دا چـې د ابـــدال د پـتـکـي ول ښـــکـاري

تـــــه ورتـــه ور وګـــوره نسـیـم سـتـوریه
خس بـه هـم پـه ږیـره کـې د غـل ښـکـاري

سه « سره »

# انتظار

ولې په خپل زړه باندې نه لرې ته کار سړیـه
د مرګ په لاس کې دې ورکړی دی اختیار سړیـه

پـدې سپین سهار کې په تا هاغسې تورتم جوړ دی
نه ته په ځان او نه په بل کـوې اتـبـار سړیـه

نړۍ د زمکـې نه اسـمان تـه پرمختګ کړی دی
تـه د اسـمانـه کـتـه زمکـې تـه ګـوزار سړیـه

سمسور باغونه دې د خاورو سره خاورې کړل ټول
مـه کـوه مـه کـوه تـه نـور پـه اغـزو لار سړیـه

نـور د بدرنـګو ملګرتیا تـه د پای ټکی کیږده
وختونه ځان ته کړه سینګار نور شه بـیـدار سړیـه

پـاڅـه راپـاڅـه د نسیم ستوري خـبـره واوره
کاروان تیر شوی اوس د چا کړې انتظار سړیـه

# رنځ

یـو سـړی چې پـه زړګـي باندې تـول زنـګ دی
هـم د کـرکي تـور مـخـونـو بـانـدې رنـګ دی

چـــا د عـــقـــل چـا د نـقـــل صـفـــت وکـــړ
یو هم غږ کړو چې دا ناست سړی بدرنګ دی

لـویـــه لار بـــانـــدې ولاړ پـــه انــتـــظـار دی
د وعـــدې د انـــتـــظـاره هــمــدا تـــنـــګ دی

پاس اسمان کې د باران سـلـګـۍ شـروع دي
زمکه تـښتي مې د ښـپـو نه لوی ګـړنګ دی

اوریـدلـــۍ ګـــونـګـــوســـۍ مـــې دی جـانـانـه
پـــدې لاره کـې ولاړ په نیـــت د جــنــګ دی

هـر سـړی د ځان ځـانـۍ پـه رنځ اخـتـه دی
نسیم ستـوریـه ځوک ولاړ پـه قـام د ننـګ دی

# ويده قسمت

ما ته پیغور کوي چې ستا احساس جوهر نـه لـري
دا چې په ځان باندې غيرت نه کړې لښکر نـه لـري

وخته په منډه ځنګه تير شوې مونږ دې پرېښودلو
توري تـيـاري زمونږ په کلي کې سهار نـه لـري

اوس خو د سترګو جنګ ته جوړه ده شرميږي ولې
سترګې لـري ولې په سترګو کې نظر نـه لـري

فکر ئې ګوډ ذهن ئې شل دی خوځيدلی نه شي
دا چې پـه بـره الـوتـې نــه شـي وزر نـه لـري

اوس چې په يو مرکز راغونډ نه دې خپره پراته دي
هم دي راڼده هم دي کاڼه چې دوی رهبر نـه لـري

څومره بدبخته ده هغه د اور لمبو کې سـوزي
چې ئې ويـده قسمت نسيم ستوريه اختر نـه لـري

# کلی

دا کلـــی کـــرامــت لــري يــو ځـي او بل راځي
که مـينـه محــبـت لــري يــو ځـي او بل راځي

ترخه ئي هم خواږه شي چې دلته کله راشي
همـدغـه ضـرورت لـري يـو ځـي او بل راځي

د خپل بـاغ ګلونـه ئي اغـزي پـه زړه ټـوکيږي
نــو دلــتـه سلطـنـت لــري يـو ځـي او بل راځي

ورياد شي په خيالونه کې ښايست زمونږ د کلي
د ځان سـه مصلحت لري يـو ځـي او بل راځي

پـه دې کلـي کې ژوند د سـرې تـنده مـاتـوي
چې خلک انسـانـيت لري يـو ځـي او بل راځي

دا تـا چې څـه لـيکلي نسيم سـتوريـه ملګـريه
دا هـر څـه حقـيقـت لـري يـو ځـي او بل راځي

سه « سره »

# اخته

چـې د دروغـو او رښـتـيـا نـه خـپـره شـوي
د ګـنـاه ويــنـا هـر چـا نـه خـپـره شـوي

اوس پـه هـر محفل کې تيـتې سترګي ناست دی
ځـــان ســـره وائــې زمـا نـه خـپـره شـوي

چـې تـپـونـه ئې پـرسـيـږي نـه جـوړيـږي
ای وطــبـيـبـه د دوا نـه خـپـره شـوي

سمـه لاره کـې اغـزي کـري بـدنـام دی
وائــې عـقـل د خـلا نـه خـپـره شـوي

زمـا اوښـکـو پـاکـولـو حـاجـت نـه شـتـه
ښـه پـوهـيـږم د ژړا نـه خـپـره شـوي

نسيم ستوريه دوي پـه کـوم رنـځ اخـتـه شـوي
چـې نـاري وهـي دنـيـا نـه خـپـره شـوي

# پاکه آینه

تـــن کـــه جـــدا ســـته یـــوه لـــرو
مـــونـــږ لـــر و بـــر یـــوه نغـــمه لـــرو

مـــه کـــړه کـــوشـــش د بـــیـــلـــیـــدو زمـــونـــږ
وجـــود کـــې ویـــنـــه پـــښـــتـــنـــه لـــرو

یـــو مـــســـلـــمـــان بـــل یـــم پـــښـــتـــون پـــیـــدا
مـــونـــږه جـــومـــات لـــرو حـــجـــره لـــرو

زمـــا د قـــاتـــل بـــه حـــســـاب راکـــوي
غـــورځ رانـــژدې کـــړه دا نـــاره لـــرو

زمـــونـــږ ګـــریـــوان نـــه دي لاس وبـــاســـه
مـــونـــږ پـــه ګـــریـــوان د اور لـــمـــبـــه لـــرو

نـــســـیـــمـــه ســـتـــوریـــه ورتـــه ووایـــه
مـــونـــږ هـــم د زړه پـــاکـــه آیـــنـــه لـــرو

# زړګی

د ژوند احساس د سايل ښکلي کې لېونی پروت دی
د وطـن غېــرې کې ملـګـرو مـړ ســړی پروت دی

پـوهـه او عـقـل انســانـيـــت د ترقـۍ دوسـتي
دا چې د چا نه غورځيدلی ورک غمی پروت دی

تـالا سکـون دی غم شاډولي خوشحالي کوي
د ونـو پـاڼـي رژيـدلي وچ لـرګـی پـروت دی

تـل چـې د امن او د ســولـې طرفدار بـه وو
د وخـت پـه پـولـه نن ويـده هغه زلمی پروت دی

هغې دا خپل قاتل په خپل لاس هم وژلی دی
په هديره کې نه پوهېږم ښکلی ژوندی پروت دی

نسيمه سـتوريه ورتـه وايـه چې نه ئـې پرېږدم
زما په زړه کې دا هم ستا هغه زړګی پروت دی

# د یو چا

دغه جذبې چې نن غرڅدیږي او مړې کیږي ګوره
زر شی سړی راوېښوی په خوب ورکیږي ګوره

هغه د ژوند په سرمایه باندې ملنډې کوي
منزل په لوري د کاروان نه پاتي کیږي ګوره

د اوښکو دام مې ورته کیښود اوس به چرته تښتي
اوس به هوښیاره مرغۍ دواړو ښیو نښلیږي ګوره

زما د زړه طبیب زما پسې په رنځ اخته دی
ښه په پوهیږم په دوا هم نه رغیږي ګوره

دلته بیدار خلک ویده دي ویده وېخ بیدار دي
دلته ویده بیداره خلک نه خوزیږي ګوره

نسیمه ستوریه د یو چا په نوم مې ولیکه
د یو چا نوم به د کاغذ ځیني ورانیږي ګوره

# خپل منزل

دا کـه د ژونـد ښـکلـی اوربـل وګنم
جانانه ځنګه دي بدل وګنم

داسـي خو نه ده لیونی خو نه یم
چي خپل پردی او پردی خپل وګنم

د زړه په وینه مي کر کړي مینه
څنګ محبت زه اوس د بل وګنم

د نیمي لاري ستنیدی خو نه شم
دا نیمه لاره څنګ منزل وګنم

که په نصیب ئي راته دا لیکلي
ځان به یاغي لدي ازل وګنم

وخته نسیم ستوری سه ځمه په لار
ستا که مزل دا خپل مزل وګنم

سه « سره »

## نرسرۍ

یـــو غـــمـی رانـــه ورک شـــوی تـــا لیـــدلـی
خـپـل لالـی رانـه ورک شـــوی تـــا لیـــدلـی

چې د قــام پـه درد درمــنــد وو نسیم ستوریه
نـــر ســـرۍ رانـه ورک شـــوی تـــا لیـــدلـی

---

## بنجاري

وخـت مــې کلـه پرېږدي خـوب تـه ناقرار یم
زه د مــیـنـې بــنـجـاري کــلـه وزګـار یـــم

مـــحـبـت لــیـونـی کـــرم نسیم ســـتوریه
پـه ځان پـوه نـه یم روان پـه مېنځ د لار یم

---

# تاوان

دا چې تـا تـه پـه هـر ځای کـې امـتـحـان شـې
خـپـل دې وژنـي چـې پـردي پـسـي روان شـې

افـلاتـون بـه ئـې خـبـرو تـه تـیـنـګ نـه شـې
پـه‌کوم کلي کې نیـسمن سړی چې خان شـې

چـې پـه مـیـنـه کـې نـفـرت اور وي راوړی
بـس سړی لـکـه یـو دوه کـې چې حـیـران شـې

کـه عـمـل ئـې تـش پـه نـوم مـسـلـمـانـي وي
یـقـیـن نـه راځـي کـافـر کـه مـسـلـمـان شـې

هـــر سړی پـه تیښته درومي دا څـه چـل دی
راتـه مــه وایــه چـې کـلـی بــه ودان شـې

نـوم ئـې څـکـه اوس پـه خوله اخیستی نه شم
جـوړ بـه مـا تـه نسیم ستوریه لـوی تـاوان شـې

# بې هدفه

زما غـريـب ولـس چې تـه پـه احـتـرام نـيـولى
واوره د وخـت مـداري تـا لا کـوم امـام نيـولى

څه پـه هـنـر د پښـتـنو جذبـې دې قتل کـړلې
د ګـړنـګـونـو بـه ګـوزار شـې تـور ماښام نيولى

ستا خيال او فکر اوس پردى ، پردى ارمان پالې هم
سوچ دې روند شوى چې غلام ځان ته غلام نيولى

د اميدونو غـرخـنـۍ سـتـرګې دا ستا په لور وې
رڼا دې پـريـښـوده تـيـارو د سر دې بـام نيـولى

په ګـناهـونـو کـې ثـواب هـم چـا مـوندلى نه دى
په لاره کر کـړې د اغـزو فـکـر دې خـام نيـولى

د قاتلينو او د غلو سره يو ځاى ګـرځې اوس
الله دې خير کړي چې تا هم ، د ويـنو جـام نيولى

داسې برېښېږي چې په ځان باندې مئین ښکارې
څوک چې ناکام دي ته هغو ځان ته ناکام نیولی

اوس د ولس نه ځان ساتي لرې ، بدرنګ به شي ته
بیا به ارمان کړي چې خراب مې اوس انجام نیولی

د پښتنو حق ته په بل خورې عجبه سړی ئې
ګریوان کې وګوره په څه دې دا مقام نیولی

تا مورنۍ ژبه د کوره هم شړلي ده تل
په پردي ژبې دې په کور کې هر یو ګام نیولی

دا هم متل دی پردی کټ د نیمو شپو وي همیش
دا چې پردۍ غیرې کې څنګه تا ارام نیولی

زمونږ نسیم ستوري به ستا قیصي کولي مونږ ته
څه بې هدفه ئې روان د نفرت دام نیولی

## غږ

ما سره خو هیڅ نشته زړه کې راسه مه وسه
بد دې راسه ډیر وکړه ښه کې راسه مه وسه

زه درنه خفه نه شم داسې راته غږ کوه
ما ته هر وخت هو کوه نه کې راسه مه وسه

راسه « راسره »

## خپل دولت

عجبه خلک دي ذهنونو ته سودا اخلي
تورو تیارو کې چې دی نوم هم د بلا اخلي

ژوند ئي بدرنګ کړو د ایمان د خپل ځان لپاره
پخپل دولت باندې خپل ځان لره ګناه اخلي

# بالداره مالداره

د دروغـجـنـي د هـــــــنــداري نـه تـوبـه
دې کـــړې وکـــړې د لاري نـه تـوبـه

قــدم نـه اخلـم لاړ بـه نشـم وريـسي
دې بـدرنـګـي دې مـــکاري نـه تـوبـه

چې زمـونـږه يـو وجــود ټـوټـي کـوي
سـتـا پـــټـي او سـتـا د بـاري نـه تـوبـه

مــا دا خـپـل زړګـی پـخـپلـه مـئـين کـړ
د نـــفـرت د دې مــــرداري نـه تـوبـه

شـتـه غـيرت په غـيرت کې حساب نـه دی
دې خـامـوشـه ، دې هـوښـيـاري نـه تـوبـه

نسيم‌ستوريه زه د خيال په تال کې ناست
د بـــالـــداري د مـالـــداري نـه تـوبـه

# بربنډ

ما ته جنت غواړي خو ځان ته لـړ جنت وغـواړه
ای دوزخـــي اشــنا لـــړ نـوم د محـبت وغـواړه

مـا تـه حـلال او د حرامـو قیـصـي ثـلـه کوي
خپله حرام خوري د حلالـو خوړ نعمت وغـواړه

زما صحت خـو صحتمند دی طبـیـب مـه راغواړه
خپله رنځور ئې خو لړ ځان ته روغ صحت وغـواړه

د ځـان ایـنـه کې دی ما ، مه ویـنـه زه پاک یم اشنا
خپله خـیـرن ئې د خیـرن مـخ حـفـاظت وغـواړه

پـه کـډو وډو بانـدې سر ئې په ځان نه پوهیږې
عقل دې کم دی تـه د عـقـل لوی دولـت وغـواړه

د نسیم ستوري شـاعـري به دې بربـنـډ کړي راتـه
چغي نور مه وهـه پـه چـپه خـوله عـزت وغـواړه

# بې ننګه

کـــر چــې د اغـــزو کـــوې هـــوښـــیـار نــه شـــوې
تــه د دغـــه بـــد کـار نـــه قـــلار نــه شـــوې

مـــــا درتـــــــه ویـــلـــي ګـــلان وکـــــره
ته زمـونـږ د زړه د بـاغ مــالـــیـار نــه شـوې

دلـتـه بـه تـاریـخ سـتـا بـد نـوم ولـیـکـي
تــه کــه پــه دې وخت سره بـیـدار نــه شـوې

ورک درنـه مـنـزل څـه لـیـونـی ښـکـاري
تــه خــو اوس د هـیـچـا هـم پـکـار نــه شـوې

تـــل عـمـر پـــردی ژبـــې تـه کـار کـــوې
تـه د خـپـلـي ژبـې خـدمـتـګـار نـه شـوې

تـا سـره نسـیـم سـتـوري هـم ورانـه ده
تـه بـې نـنـګـه هـیـڅ پـه سـمـه لار نـه شـوې

# انځور

د رښـتـيا انـځـور مــې خــوښ شــو
د وفـا انــځــور مـــې خـــوښ شـــو

څـه د شونــډو پـه ســـورخـو کـې
د مـوسـکا انـځـور مـې خـوښ شـو

چـــې پــرون ئـــې رانــه هـــيــر کــړ
د ســبـا انــځـــور مـې خـــوښ شـــو

چــــې پــــه زړه کــــې مـــــې اوســـيـږي
د لــيــلا انــځـــور مـــې خـوښ شـــو

چـې پـه ســـاه کـــې زمـا ســـاه ده
نـو هـمـدا انـځـــور مـې خـوښ شـو

چـــې د زړه پـــه درزا ګـــــوري
وارخـطـا انـځـــور مـې خــوښ شـــو

بـې سیـــنګاره چـې ښــایستـه ده
د ښـکـلا انـځـــور مـې خـوښ شـو

دې خـــامـــوشـه ګلیـــستان کـــې
ګلـې ستا انـځـور مـې خـوښ شـو

نـېـمـګـړتـیـا چـې پـکـې نـه وه
د مــانـا انـځـــور مـې خـوښ شــو

د تــیـــارو پـــر مـــخ ځـــپـیـړه
د رڼــا انـــځــــور مــــې خـــوښ شـــو

پــښـتـنـې پـــه لـــوپــټـې کـــې
د حـیـاه انـځـــور مــې خـوښ شـــو

د نـسـیم سـتـوري پــه شــعـر کـې
د هـر چـا انـځـور مـې خـوښ شـو

# حیران

چې د میـنـي پلـوشـو کــې تل یـادیـږي
د زړګـــي پـه درزیـــدو کې تـــل یـادیـږي

د ښایـســـت او د غـیـرت قـیـصـي ئـې اورم
د وخـتـونـو تـلـو راتلـــو کې تل یـادیـږي

زه پــه ویـاړمـه ســر لـــوړی دی تـل اوسـې
هــر یـــو تـوري د پـښـتو کـې تـل یـادیـږي

پـه پـښــتـو پښـتـونـولـۍ بـانـدې مئـیـن دی
پـښـتـنـو سـتاسـو حـجـرو کـې تل یـادیـږي

چې خـدمـت تـه د پـښـتو، دې مـلا تـړلـې
رښـتـیـانـی دی پـه جرګـو کې تل یـادیـږي

نسـیم سـتوریـه خـلـک ټول ورتـه حـیـران دي
دا بـه څـوک وي پـه ټـپـو کې تل یـادیـږي

# حقیقت

د نـفـرت پـه کـړه لاره نـــه تـیـریـږم
زړور یـم د چـا نـه ، نـه ویـــریـږم

زه د امـن سر لښکـر ځـان تـه راغوارم
جنګه ورک شـه نور له تا سـه نه اوسېږم

زمـا ژونـد د مـیـنـې لـویـه فلسـفـه وه
چـا لـیـکلـي چې مـنـزل تـه نـه رسـیـږم

د مـیـرویـس نـیـکـه د فـکـر خـواږه اخـلـم
بـیـا پـه لاره کـې هـیـچـا تـه نـه ودریـږم

خیال او فکر مې د هسک په لوري تللی
اوس کـاروان د مـحـبـت نـه ، نـه بیلیږم

د نـسـیـم سـتـوري خـــبـره حـقـیـقـت ده
اوس د هـیـچـا پـه خـبـره نـه غـولـیـږم

سه « سره »

# بې واکه

د سپیره سپیره له جنګ خلاصیدی نشم
سولې ستا سپینه کوتره لیدی نشم

محبته په لتون دې شومه ستړی
ولې سیوري ته دې زه رسیدی نشم

عجبه ده خپل پتی مې رانه تښتي
د ګلونو پکې کر کولی نشم

غمه څله مې راکاږې خپل زړګي ته
ستا د لاسه خوشحالۍ ته ورتلی نشم

د قسمت بوټی بدبخته خزان وچ کړ
د سپرلې رنګونه څکه مندی نشم

اوس د خپل وجود بې واکه سوداګر یم
نسیمه ستوریه خپل وجود ساتلی نشم

# اواز

دا چـې فـکـر ئـــې غـــزل تـه نـه رســیـږي
نــو غـــزل ئـــې هــم مــنـزل تـه نـه رســیـږي

دا تـصـویـر راتـه نـیـمګـړی شـانـتـي ښـکاري
چـې هــنـر ئـــې نـــن اوربـل تـه نـه رســیـږي

پــدې لاره کـــې اغـــزو کـــړی بـــاران دی
دا ســپـرلـی چـې د ژونـد ګـل تـه نـه رســیـږي

ددې مــیـنـې اوس هــغـه شـــونـډې چـاودلـې
چـې قـیـمـت ئـې دې چـارګـل تـه نـه رسـیـږی

د هــغــه ســـرې صـفــت راتــه نــور مــه کــړه
چـې ئـې ګـتـه پـردې خـپـل تـه نـه رســیـږي

نسـیـم ستوریه کـه اواز ئـې وي هـم ښـکـلـی
خـــو ســـره لـــدې بـلـبـل تـــه نـــه رســیـږي

# ښه او بد

زمونږ فصلونو پـه پـټـو کـې تـش واښـه کـړي دي
زمـونــږه ژرنــدي خــو لا وړه زګـه کـړي دي

د خـيال او فـکـر د الـوت وزر مـو مـات دی کـنـه
زمونږ غـلام ذهـن لـه مـونـږ سره څـه ښه کـړي دي

ځان تـه چې بر ورور تـه نن لـر وائي توتي توتي يو
زمـونـږ فـکـرونـو د پـردي فـکـر بـانـه کـړي دي

خلـک د ځـان ګټي قـربـان کـړي د وطـن لـه ګـټو
مـونـږ لـيونـو د خـپـل وطـن لـپـاره څـه کـړي دي

مـا ورتـه ور ولـی چې غيږ کې ئې خوبونه وکړم
زمـونـږه سـترګـو خـو پـه لـپـو لـپـو اوبـه کـړي دي

نسيمه سـتوريه پـيـغـورونـه خـپـل ضـمـيـر راکـوي
دا ښه او بد او بد او ښه مو پـه خپل زړه کـړي دي

# پاتې

شته منزل زمونږ نه ورک دی روڼ سحر نه لرې پاتې
پخپل کور کې مسافر یو د ګودر نه لرې پاتې

مشر نه لرو په کور کې هر یو کشر زمونږ مشر
څه عجبه مو لښکر دی سر لښکر نه لرې پاتې

ذهن مونږه دی خرڅ کړی څه د اور ده زندګي
نه د دین نه د دنیا شو د هنر نه لرې پاتې

پاک صفا مخ مو ونه لید په یو داسي چم کې اوسو
ژوند د نیمې لار ملګری ځلاند لمر نه لرې پاتې

د نفرت رنځ مو په ځان کې لوی ناسور راته جوړ شوی
د ښکلا سر ته خطري دي د سنګر نه لرې پاتې

نسیم ستوریه دا منمه مینه لویه باچاهي ده
خو زمونږ سترګي رندي دي د نظر نه لرې پاتې

# لفظونه

ما په خوب کې دی لیدلی جانان ښه دی
هم د مينې د تارونو ګريوان ښه دی

چې د ګل رخسار ته نه رسي هيڅکله
چا ويلي چې سپرلي نه خزان ښه دی

پريږده نور چې خپل منزل ته ورسيږي
هسې ناستي نه په لاره روان ښه دی

چې د بل په متو ځي وګتي بيا مست شي
داسې ګټې نه هر وخت کې تاوان ښه دی

چې د ورور د وينو تږي وي هميش
له همدغو انسانانو حيوان ښه دی

د خوږې ژبې لفظونه راته ليکي
د نسيم ستوري غزل او داستان ښه دی

# ملنګ

د دوو مئینو زړونـو کـې غـورځنګ بـه خامخا وي
چې سوله چرته نـه وي هلته جنګ به خامخا وي

وړمې د ځوان ښایست چې د لفظونو بـدرګـه شي
چې ګل غوټۍ راوسپړي پـتنګ بـه خامخا وي

چې وخت ئې د ربیلو شي ویده له خوبه ویښ کړي
د پیغلـو پـه سینـه باندې لـونګ بـه خامـخا وي

اواز د مئین زړه چې د ژونـدون پـردو تـه راشي
دیدن که هر څو ګران وي نو قلنګ به خامخا وي

د وخت غرځنو سترګو نور د دار فکرونه پرېږدۍ
بیدار چې وچ ذهینونه شي نو ننګ به خامخا وي

پـه سترې سترې منـډه د جونګړې خوا تـه راغلـه
نسیم ستوریه دی وائي چې ملنګ بـه خامخا وي

# ملګرتیا

ژوند تـه د ذهـني د نابالغ قیصـه رښـتیا شـوله
وخته ستا لمنه کې چـــې ورکه نن ښکلا شـوله

ځکـه خـو د امـن لښـکـر نه راځـي زمونږ کـره
تـوره ده تیـاره رڼـا روانـه پـه بـل خـوا شـولـه

ولـی ای د زړونـو جـوارګـره سـوداګـر شـولـې
ستا خو اوس د میني په نفرت جوړه سودا شوله

ای د فکـر ټـاله نـور خیـالـي نړۍ ته زر ورځه
دا دنـیـا بـــدرنګه ستا خبـره اوس رښتیا شوله

ووایـه پـښـتـون بـه راویـښـیږي او کـه نـه ګـلې
دي ویـجاړ حالاتو کې پښتون هم ما ته ملا شوله

دومـره درتـه وایـمه نسیم ستوریه نور پوه شه ته
ستا پـه ملګرتیا کې مې د زړه ښکلې دنـیـا شوله

# نوم

د مـحـبـت کلـي تـه نـوم چې نـفـرت ورکوي
بيا خپل نفرت تـه ښـکلی نـوم د محـبـت ورکوي

زما سـنـدره کـړې حرامـه او کـافـره ئـې کړې
خپلو حـرامــو تـه بـيا نـوم د عـبادت ورکوي

زما ښايست بدرنګه وي د بدرنګ مخ په خاطر
خپل بدرنګ مـخ تـه نوراني نوم د جنت وکوي

د وخت بيناء خلک ړانده کړي او ړانده بيناءکړي
خـپلـو خـبـرو تـه بـيا نـوم د کـرامـت ورکوي

زمـونـږ رښـتـيا تـه تل د دروغـو لقـبونـه ورکی
دي‌خپلو دروغــو تـه رښتيا په‌نوم شهرت ورکوي

نسيمه سـتوريه ته، له داسـي خـلکـو لـرې اوسه
خپلي ګـناه ته د ثـواب پـه نوم عظمت ورکوي

## ګونګه

د داسي خلکو یم ملګری چې منــزل تــرې ورک دی
پـه نیـمه لاره کـې ولاړ دي او مــزل تـرې ورک دی

د لیـک او لوست ژبه ئـې ګونګه شوه خبر نه دي هم
نسیمه ستوریه ستا هغه ښکلی غـزل تـرې ورک دی

---

## مصلحت

د نـن کـړکیـچ حالاتـو ژوبـل کـړی محبـت دی
رښـتیا چې پـه رښـتیا کـې د رښـتیا مخالفت دی

تـیره ژبـه ده پـښـه غـوږ اوس نـه اوري خـبره
زما د سـر سـودا بـانـدي ئـې کـړی مصلحت دی

---

# ويده کاروان

پـه رڼـا ورځ چـې د قـانـون په جـنـازي پـسي ځم
رښـتـيـا هـمـدا ده د سمـون په جـنـازي پـسي ځم

خوله مـې تـړلي په غـوربـونـو باندې نه اورم ځکه
زه لـيـونـی د خـپل جـنون پـه جـنـازي پـسي ځم

چې د خپل حق پوښتنه نه کوې او غلی ناست دی
جانان خـبر کـړې د پښـتـون پـه جـنـازي پـسي ځم

درېـاره کـې نشته پخپل کـور کـې مسـافـره ده نـن
زه د پـښـتـو ژبـې پـوهـتـون پـه جـنـازي پـسي ځم

راسـره نـه پـرېـږدي چې يـو ځـای سـره ووسـيـږو
ژوندون که ښکلی د ژوندون په جـنـازي پـسي ځم

نسيمه ستوريه د ويـده کاروان نـېـمـګـړي دنـيـا
زه د کـاروان ددغـه يـون پـه جـنـازي پـسي ځم

# ښامار

لــه کلـــــي تـښـتـمه لـه ښـــاره تـښـتم
ځـــه وارخطـا پــه کــــړه لاره تـښـتم

دا پــه مـا ځــه کـیــږي او ځـه شـــوي دي
زه خـو لـه ســـیـوري لـه چـیـنـاره تـښـتم

تـه چـــې راځـــي زمـا لـــیـدو لـــپـاره
زه هــم دا سـتــا لــدې دیــداره تـښـتم

بـدل د اوښـــکــو زه لـه چـا نـه واخـلم
قـاتــل نـاري واې زه لـــه داره تـښـتم

هـغـه کـم عـقـل یـار هـوښـیـار بـولـي ځان
زه پـه رښـتـیـا لـدې هـوښـیـاره تـښـتم

دا نســیـم ســتـوری چـــا نـه، نـه ویـریـږي
زه خــو لـه ویـري لـه ښـامـاره تـښـتم

# کړکیچ

په یو وزر باندې الوت نه کیږي
دلته په مینه عبادت نه کیږي

دا سړی څوک دی او په چا مئین دی
ددې سره چې محبت نه کیږي

لښکر د مینې لا ویده پروت دی
ځکه نفرت نه بغاوت نه کیږي

ما ته ئې زور په دې خبره راکړ
وائې چې ستا دومره قیمت نه کیږي

کړکیچ حالات مې په مری باندې ناست
دلته بندار دعوت نه کیږي

نسیمه ستوریه څه چې ځان بدل کړو
دلته اوس کار په صداقت نه کیږي

# کمال

چـې دا سـتـا دوښمـن ولاړ اوس پـه زوال دی
عـشـقـه دومـره درتـه وايـمـه سـتـا جـلال دی

د ړنـــا او د تــيـــارو مـــقـــابـلـــه ده
شوخ نـظـره سـتـا پـه دې کـې لا څـه خيال دی

چـې د عـقـل زلـمـيـتـوب تـه غـزل جـوړ کـړې
دا د زړه او ذهـــن دواړو بـل مـــشـــال دی

د رواج څـادره مـســت پــه اوږو پــروت ئــې
دا د هـغـې پـښـتـنـې ښـايـسـت جـمـال دی

اوښـکـه لاړه اسـمـانـې شـــوه ورتـه ګـــورې
چـې پـه لاس کـې مـې نـيـولـی سـتا دوسمال دی

هـر سـړی پـه کـې د خـپـل ځـان تـصـويـر ګوري
د نـسـيـم سـتـوري پـه شـعـر کـې دا کـمـال دی

# میر

زما خوبونو ته تعبیر راکړه
ما ته د خپل زړګي تصویر راکړه

چې حرکت مې د منزل په لور
ډېوه روښانه ښه مسیر راکړه

ویده ویده مې نور پکار نه دی
هغه ویښ شوی مې ضمیر راکړه

چې ئې غلام ژوندون ازاد کړمه
هغه سړی هغه اسیر راکړه

چې په وطن او ولس وي مئین
ما ته رښتینی یو امیر راکړه

نسیمه ستوریه ورته ووایه
د پښتنو د جرګې میر راکړه

# دریـه دره

د فطرت د ساه سپرلو ته زه ولاړ یم تږی تږی
ددې سیند مستو څپو ته زه ولاړ یم تږی تږی

زه غلام د ژوندون نه شوم ژوند زما نه کډه وړې اوس
د وصال ښایسته لیمو ته زه ولاړ یم تږی تږی

ناکراره سلطنت دی زړه چاودلی مینه نه شته
د خپل کور کلي دیرو ته زه ولاړ یم تږی تږی

د تقدیر په میخانه کې یو خوږ ګوټ مې نصیب نه شو
د جانان یو ځل لیدو ته زه ولاړ یم تږی تږی

د وطن باد مې په خوا کې داسې غلی شان تیریږي
ددې باد خوږو وږمو ته زه ولاړ یم تږی تږی

د سپوږمۍ ستورو رڼا نه هر چا خپله برخه ویوړه
د رڼـــا زرو زرو تــــه زه ولاړ یم تږی تږی

چې چینې پکې الله دې ډیر پخوا نه پیدا کړې
ددې جګو غرو چینو ته زه ولاړ یم تږی تږی

دې دسرو ګلونو باغ مو ، خو خزان راته تباه کړو
د ګلونو دې غونچو ته زه ولاړ یم تږی تږی

د ښایست بلا دې واخلم امن تنبتې مونږ نه ولې؟
هم د امن دې رېښو ته زه ولاړ یم تږی تږی

دا زما وطن جنت دی خو اختیار پکې د بل دی
د جنت خوږو اوبو ته زه ولاړ یم تږی تږی

مړ د امن بل مشال دی وخت په منډه رانه لاړو
ددې وخت بیرته راتلو ته زه ولاړ یم تږی تږی

مسافره در په دره ده وطن کې نسیم ستوریه
فکر وړه یم پښتو ته زه ولاړ یم تږی تږی

# منلی

په میـنه کې یـو ځان او بل جانان مې دی منلی
په ګټه کې ملګرو هم تـاوان مـې دی منلی

راځئ چې نور منزل د رسیدو کوشش شـروع کړو
وطن ، پښتو اسلام او دین ایمان مې دی منلی

د وخت د قدمونو څـو خاپونه دي پرېښـودي
روان دی نـه ودرېـږي دا دوران مـې دی منلی

ښکاري ولې ویشـتلي دا کوتـره سپیـنه سپیـنه
ما تـل عمـر د ځان څیـري ګریوان مـې دی منلی

دا نـن سبا خـو ولـې د پـرون سـنـدري وائـي
د ژونـد د پرمختګ هر یو داستان مې دی منلی

د امـن پـسـې ګـرځـو نسیم ستوریه دلـتـه نشـتـه
د امــن محـبت هـر یـو کـاروان مـې دی منلی

# نمبګړی عقل

هغه لیونی دی خاموشۍ کې ژوند ته شورګوري
خپلي متې ئې غوځي د پردیو متو زور ګوري

مخامخ هنداري ته ولاړ دی په فکرونو کې
ذهن چې تیارو کې ډوب وي خود به ذهن تور ګوري

ځان باندې ئې کړې ده او ځان ئې تباه کړی دی
سوچ ئې مهاجر شوی په پردي انګړ کې کور ګوري

دغه بدنصیبه شته شعور کې بې شعوره دی
خپل پرهر ئې هیر دی پردي زخم ته ټکور ګوري

داسې بلا ډیري چې ئې سترګې په تندي کې دي
داسې بلاګانې انسانیت ته هر ځای اور ګوري

دلته نسیم ستوریه سوداګر ګرځي سودا کوي
عقل شي نیمګړی خپل بدن ته تازه سکور ګوري

# وزګار

پـه بـې نـنګـو بانـدې څـه ښـه کار نـه دی
چې د قـام نـه کـړي خدمـت نـو شـهکار نـه دی

د نـيکـه او د لـمـسـي پـه رواج بـاس دی
دغـه کلـی دې بـچـيـه څـه ښـار نـه دی

د پـرون پـسـي ارمان کـړي نـن تـري لاړو
دا پـه کـټ کـې سـړی پـروت هـم بيـدار نـه دی

لـه تـا مخـکـي لا يـو څـو کـسه ولاړ دي
پـدې ژرنـده بـانـدې ګـوره سـتا وار نـه دی

دا مـتـل دی چې هـوښـيـار تـه ايـشـاره ده
چې پـوه نـه شي نـو هـغه هـم هـوښـيـار نـه دی

د قـام غـم ئـې د خپـل ځـان غـم دی ګـڼـلـی
نسـيـم سـتوری اوس لا تـا تـه وزګار نـه دی

# ورک یار

ستـــنې تـار رانـه ورک شـوی پـــسې ګـرځم
په بـار بـار رانـه ورک شوی پـــسې ګـرځم

تـل بـه مـا دا خـپل رقـیـب پـه ویـرولـو
سور انګار رانه ورک شـوی پـــسې ګـرځم

چې سپـرلـی بـه پـه دې ښـه هم ښـکاریدلـو
د زړه ښـار رانـه ورک شـوی پـــسې ګـرځم

د کـاروان ســره روان وو اوس خـــو نشـته
پـــدې لار رانـه ورک شـــوی پـــسې ګـرځم

د سـیـنـې پـه پـنـجـره کې مې زړګـی وو
څو خـو وار رانـه ورک شـــوی پسې ګـرځم

نسیم‌ستوریه جـــدائـې ئـې وچ لـرګـی کـړم
هـغـه یـــار رانـه ورک شـوی پـــسې ګـرځم

# غفلت

د مینې کر چې وکړې نو بیلتون به درنه هیر شي
سجدې ته چې سر خته کړې ژوندون به درنه هیر شي

بدرنګ مخونه ډیر دي خو بدرنګ عقل دې ورک شي
بدرنګ عقل سه مه ځه چې سمون به درنه هیر شي

د لارې لارویـــه د کـاروان مـخـه دې ډب کـړه
دا تـه هم ورسره شه نو جنون به درنه هیر شي

د سـتـړې مـزلـونـو ، نـه بـه نـور هم پـه کـرار شـي
جانان چې دې جانان شي نو لټون به درنه هیر شي

که زړه دې زړه ته ورکړو او په زړه کې دې ځای ورکړو
زما خـبـره واوره نـو سـکـون بـه درنه هیـر شـي

هغه چې د غفـلت پـه خوب ویـده دی نسیم ستوریـه
تـه وایـه ورتـه وایـه چې بدلون به درنـه هیر شي

سه « سره »

# شرمیدله

اول چې ستا وه بیا زما شـوه اوس د چـا شـوه کنه
مخـې تـه راغلـه پـه قـسـم چـې وارخطا شـوه کنه

هـغـه چـې ما نـــه پیـتـېـدلـه ورک کـیـدلـه دلـتـه
غـېـږ تـه مـې راغلـه ،اوس دنـیـا رڼـا رڼـا شـوه کنه

ځان ئـې چې وژغـورو تیارو او انـدېښنو نه کله
د زړه پـه کـور کې مـې ښکلا پیدا پیدا شـوه کنه

د وطن خـاوري تـه ئـې خـاوري د جـنـت ویـلـي
پـه دې خـبـره مې هم خـوښـه بـرملا شـوه کـنـه

داسې خو نه کیږي چې ټول عـمر نیمګړې پاتې
راسره یـو ځـای شـوه او ما سره پـخلا شوه کنه

نسیمه‌ستوریه ما پـه زړه کـې ورتـه ځـای ورکـړی
هـغـه چـې مـا نـه شـرمـیـدلـه اوس زمـا شـوه کـنـه

# دغلو کور

دلته غربت دی که روزګار نشته
د غریبی لپاره دار نشته

کږه ده تله د انصاف ځکه
پخپله ژرنده کې مې وار نشته

کشکي راغلی دلته زه نه وی
دلته د میني ښکلی ښار نشته

راته نن وائي ته به غلی کینې
زما پخپل ځان هم اختیار نشته

ملګري پالي مې پردی فکر
زما د فکر پکې یار نشته

نسیمه ستوریه اوس د غلو کور دی
دلته نښتر نشته چینار نشته

# خوږه

خوب رانه تـښـتـي شـوګـیـرې رادرومـي
زمـــا زړګـــي تـــه تـلـــوســـې رادرومـي

د ژونـد قـیـصـه راتـه بـدبـخـتـه ښـکاري
وخـتـونـه ټـول اوس بې فایدې رادرومـي

څنګ به زما په پل قدم کېږدي څوک
زمـــا مـــــزل تـه خـــطــــرې رادرومـي

یـــوائـې زه پـه نـیـمـه لار ولاړ یـــم
مـنـزل تـه اوس هـم قـــافـلـې رادرومـي

هـســـې بـې خـونـده زنـدګـې ده زمـــا
خـوږو پـه ځـای دلـتـه تـرخې رادرومـي

زمـا نسیم ســـتوریـه لـږ چـــل راښـــایـــه
چې مي قسمت تـه نـور خـوږې رادرومـي

# خلا

بينا سترګي بينا دي خو نظر په ژړا راغی
ای وخته تا نه ولې مرور په ژړا راغی

پرهر پرهر سينه باندې ئې مالګې دوره ولې
د يو وجود کابل او پېښور په ژړا راغی

د مينې نه منکر زړګي د مينې قتل وکړ
په مينه باندې پوه هغه دلبر په ژړا راغی

د جنګ ډګر ته تللی وو بريا ئې کړو تر لاسه
نو ولې بيا نو ولې دا لښکر په ژړا راغی

منکی ئې ښکلی جوړ کړ خو ګودر ته چا را نه وړو
کولال د هنري کوتو هنر په ژړا راغی

ولس او د رهبر تر مينځ خلا ده نسيم ستوريه
پښتون ولس خو ځکه در په در په ژړا راغی

# تته ډيوه

زمونږ په سترګو کې ئې بيا خاوري ايري خپري کړي
په رڼا ورځ د پښتنو ئې تـوري شپې خپري کړي

د پښتون دې فکر ته ګوره پردي ډول ته ناڅي
چې خپل ګلشن کې ئې نن بيا پردۍ نغمې خپري کړي

موزي مرض دی بې اتفاقي نظرئې په مونږ کې
احساس ړوند شوی د نفرت ئې اوس کاسې خپري کړي

دا هم متل دی پردی کټ د نيمو شپو وي هميش
زمونږ په پاکو عقيدو پردو ربښې خپري کړي

عقله د بل فکر زمونږ د کور درشل کې دی نن
ته څه خبر ئې په پښتو ئې سرې لمبې خپري کړي

يو ورځ به راشي مونږ به وسيزي دا تته ډيوه
دا څه بدلون دی نسيم ستوريه چا ترخې خپري کړي

# ځان ځاني

د ژوند نه سترړي دي د جنګ په انتظار دي خلک
هسې تا ويلو او ما ويلو ته وزګار دي خلک

راځۍ چې ياد ئې کړو او ياد ئې تل په زړه وساتو
دا چې په مينه کې منصور په شان په دار دي خلک

د کاڼې زړه لرې په کاڼو باندې ولې انسان
ويـره ده ويـره په کورونو کې حصار دي خلک

عجب مخلوق د وير په چم کې خوشحالي لمانځي تل
بل ته کمقل شي او ځان ته بيا هوښيار دي خلک

په ډيرو لارو باندې ډير خلک روان وو هسې
غم د وطن د قام بچي نه خوري بې لار دي خلک

يـوه پوښـتنه کړمه تا نه نسيم ستوريه ګـرانـه
په ځان ځانۍ کې ښنګ يووالي ته تيار دي خلک

# پاخه ولاړ دي

دنګ چينارونه پـدې کلي کې کاږه ولاړ دي
لېونـی مـخ مـه پټوه دلـته ړانده ولاړ دي

زما او ستا خبري نه اوري ورته مه ګوره ته
يو خو هم نه دی دلته ټول هغه کاڼه ولاړ دي

دا حقيقت دی چې درمل د مئين زړونو نه شته
بيا هم عبس د هر يو کس دلته باڼه ولاړ دي

بل ته چې ګوته نيسي ځان ته ئې لا فکر نه دی
اوبو کې ډوب دي او د سر پورې لامده ولاړ دي

چا درته ويلي دي چې ځوان نسل دی ځواني جذبې
ګوتي ورنه وړې پام کوه دلته وراسته ولاړ دي

زمونږ نسيم ستوري به مونږ ته په بار بار ويلي
دا کاروانونه دي په ځای باندې پاخه ولاړ دي

# لیکلی

هغې سرې زما په نوم باندې کتاب لیکلی
چا راته وویل ښایسته ئې هر یو باب لیکلی

څه د تیر وخت څه د راتلونکي په کې ذکر کړی
د مئینتوب د بیدارتوب ئې ښه حساب لیکلی

د محبت د لوړ سوچونو انسانیت له برخې
د هر یو سوال ئې ښه پوره پوره جواب لیکلی

د اسمان ستوري ئې د خیال د سمندر څپو کې
دا هر یو توری ئې د فکر له دریاب لیکلی

د سرېتوب د قدمونو هر یو پل په پل کې
بل ته ثواب ، ځان ته ئې داسې لوی عذاب لیکلی

ای نسیم ستوریه د غلیم د اوښکو څه مطلب دی
چې په هنداره کې د اوښکو په سیلاب لیکلی

# مرکز

ما به دا ستـا پـه قدم ایخـی هم قدم خو نه وی
کـه تا سره د قـام وطن او ولـس غم خو نه وی

که تـه د مینـې نه منکـر وی د سپرلو پـه زمکـه
زما پـه زړه کې بـه دا ستا زړه په قسم خو نه وی

که د ژوندون پـه لمن نه وی تـه سپوږمۍ نه ښایسته
زه بـه دا ستـا او تـه زما د زړه صنم خو نـه وی

د پـښتنـې میــنې ګلان کـه دې کرلـی نـه وی
تـه بـه زما د ژوند کتاب کې دم پـه دم خو نـه وی

ما بـه دا ستا د پـاکـې مینې اظـهار کړی نه وی
که د زخمې ولـس وجـود لـره ملهم خو نـه وی

څنګه به ښه وی چې پښتون پـه یو مرکز راغونډ وی
د نسیم ستـوري او زما د سترګو نـم خـو نـه وی

# شکر

وختـه په دار باندې ولاړ دی د تیـارو لـمن کـې
سوچ ئې شل شوی بې دلیله اوس د غلو لمن کې

زمـا وزر زمـا الـوت تـه لا جوړ شـوی نـه وو
چا راته مات کړو الوتی نه شم د غـرو لمن کـې

د حق پـه لار کې بـه مـزل زما هم سترې نه شي
لاره کـه هـر څومـره اوږده وي د غرمو لمن کې

پـه هـغـه ذهـن او پـه فـکـر دې رېلـۍ وشـي نـن
خپلو نه کرکه چې کوي ، پـروت وي پـردو لمن کې

چې د احساس د بیدارۍ د ژوندون کور ئې شړ شي
پـه ځـان بـه خـنـګـه نـنـګـه وکړې د اغزو لمن کې

نسـپمه ستوریه پـدې شـکـر چـې پښـتون پیـدا ئـې
چـې رالوی شوی د درنـو حـجـرو لمن کـې

# روښان

د نوي ژونـد د حرکت په لـور روان دی روښـان
بله ډيوه ده د تـيارو په مخ روښان دی روښـان

مينـه ئي خوښـه ده د مينـې پـه راز ښـه پوهيږي
د محـبـت پـه فلسفه بـانـدې ودان دی روښـان

د مور دوعا ورسره مل ده نو بدرنګ بـه نـه شي
د ننګ پـه زمکه زيږدلی ټـول ايمان دی روښـان

د بل لپاره هغه خوښ کړي کوم چې ځان ته خوښې
د سوچ ښکلا ئي زخمي زړونو ته درمان دی روښـان

په خپل همت باندې د ژوند دې لوړ مورچل ته تللی
د ښـو اخـلاقـو د ژور فکـر کاروان دی روښـان

دا چې هر ځای کې ئې د مينې قيصې کيږي هميش
په ځان ئې کړی دی غيرت په هر چا ګران دی روښـان

تل ئې دوسـتي پـه صداقـت رښتنولۍ کړې ده
پـه ملګرتـیا کې د یارانو ، نه قربان دی روښـان

د ژوندون للمه ئې چې پـه مینه محبت ښکلې کړه
سختي ئې تیرې کړې د مینې لوی ګریوان دی روښان

د ښـــکلاګانو د مـحــل پـه زړه کـــې وزیـرېدو
رښتیا همدا ده د رښتیا ، رښتیا جانان دی روښـان

مبارکي ورکړه د نـوې ژونـد نسیم ستوریه اوس
د پت ښیګڼې پـه کتاب کې لوی داستان دی روښـان

# د امن لښکر

دا درد د مـحـبـت د لـیـونـي عـاشـق ژونـدون دی
منتر د جادوګر کې د جذبو د شور پاڅون دی

د ژوند خالي بازار کې چا د عشق سودا ده کړې
ځانګو ډکه د مینې چا لیکلی پرې مضمون دی

د تور پیکي د لاندې تورو زلفو کې دې شپه شي
بې وخته به ناره کړې چې تـیارو کـې سباوون دی

قسمت د ژوند د بڼ مو پدې خپل موتې نیولی
پـه ځان کـه باور ولرو همدا د ژوندون یون دی

پـه ګـونګـه ژبـه ګـوره ځانته حق ورکوی نـشـي
پخپله باچاهي کې در پـه در هم نـن پښـتـون دی

نسیم ستوري کړه چغه د بیلتون د سر قاتل شی
د امن پـه لښکر کې د هر چا قسمت زرغون دی

# خبر

زمــا زخـمـــي زړه تـــه درمـــان نـه راځـــي
لاس تــه تـــارونـه د ګــريـــوان نـه راځـــي

يـــا خـو ويـــده دی يا څـه چل شـوی دی
پـــه دغـــه لاره چـــې کـاروان نـه راځـــي

پـــه مـخـه راشـــې مخ هـم پـــټ کـړي رانـه
دا خـوار رقيـب پـه سپـين ميـدان نـه راځـــي

د وجـود کـور مـې اوس ټـوټـې ټـوټـې شو
پـــه مـــا د مـــيـــنـــې بـــيـــا دوران نـه راځـــي

هـــســـې بـــې ځـــايـه د ګـودر غـــاړې کـې
ولاړ يـــم ګـل د ګـلـيـســـتـــان نـه راځـــي

مـــا د نسيم سـتوري نـــه وپـوښـتـل بـيـا
ولـې خـــبـر مـــې د جـــانـــان نـه راځـــي

# بدبخته

چـــې زمـــا پـــه نـــوم راغـــلـــی وې د بل شوي
اوس زمـــا د ســر دوشمـن ســره تـه خپل شـــوي

ســـمـــي لاري نـــــه کـــــږې لاري تـــــه لاړې
د قـاتـل ســره چې ګـرځـي نـو قـاتـل شـــوي

شـــکـــي مـــه ګـــوزاره ســـتـرګـــو تـــه د خـلـکـو
حقـــیقـــت دې زه دې پـــیـــژنـــم بـــدل شـــوي

دا پـوښــتــنــه درنـــه کـــومـــه جـــواب راکـــړه
ولـــې ولـــې تـــه د غـــلـــو د لاري مـــل شـــوي

ځان د حـق نـه دې مـنـکـر مـنـزل خـطـا کـړ
که پـه سـتـرګـو بـانـدې ړونـد پـه پـښـو شـل شـوي

د نـــســـیـم ســـتـــوري قـلـم کـرښـي دې پـرېـښـوي
ای بـــدبـــخـــتـــه تـــه د کـــوم بـــدبـــخـــت غـــزل شـــوي

# بدرنګ بام

زه څه وکړم جانانه تور ماښام رانه جدا کړي
د شپې په میخانه د میو جام رانه جدا کړي

د بل په لمسون لاړي او د بل ډول ته ګډیږي
خپل قام درنه هیر شوی پردي قام رانه جدا کړي

منزل درنه ورک شوی په کږه لاره روان ئي
د سوچ خواږه دي ورک دي فکر خام رانه جدا کړي

جمال او جلال دواړه مرور دا ستا له خیاله
بې ځایه نفرتونو ګام په ګام رانه جدا کړي

وژلي دي ګناه وه خو وژلي دي ځان نه شو
نو بیا ولې ګناه ته ،تل مدام رانه جدا کړي

د ځان سه ئي بدنام کړي نسیم ستوری هم پوهیږي
اوچت په بدرنګ بام شوي دغې بام رانه جدا کړي

---

سه « سره «

# د مينې اور

اې ملګرو زه ستاسو د مينې پوره ورې يم
زه که هر څه يمه نو په مينه مو ښاغلی يم

وخت په منډه درومي محبت يوائې پرې نه ږدې
زه دې محبت مينې د ځانه سره ورې يم

سخته کې ملاتړ کوي زما د ژوند د اوښکو دوې
زه خو نن د هغې مينې په مخکې څکه غلی يم

ما ورسه وعده کړې پدې دنيا به بيل نه شو
زه به ترې لاړ نه شمه او نه خو چرته تللی يم

ښتې اندېښنې مې خوشحالې مې ملګرتيا کوي
زه ئې د زړګې خپلو ورشو کې هم منلی يم

خيرد ی اې ملګريه نسيم ستوريه که څوک څه وائي
زه ئې خو د مينې پدې اور باندې سيزلی يم

سه « سره »

# یو دود

دا په کومه لار روان ئي په خوبونو کې دي وینم
چې راویښ شم زه له خوبه په خیالونو کې دی وینم

ته د باغ ټکړه باغوان وې اوس هر څه درنه هیرشوي
اړوم د کـتـاب پـاڼـې تـصویرونو کـې دې ویـنـم

خـپله ژبــه دې پالله خپله خــاوره دې ســاتله
درنه هـیر شول ارمانونه ګرېنګونو کې دې وینم

ته په مال دولت مئین شوې نو پښتو ته دې شاه کړې
تـه غـلام د بـل د فـکـر ، تـاوانـونو کـې ویـنـم

تا تیاري خپل هدف کېښود سباوون دې پریښود لرې
پـه رڼـا ، رڼـا مـاحـول کـې تـورتمونو کې دې وینم

تـا بې ځایه ځان لمبه کړ نسیم ستوری دی حیران اوس
تـه یـو دود شوې تـه ایره شوې تنورونو کې دې وینم

# خوسا لرګی

یـو لـکــی نــه لـرې خــر دی لـیـونــی دی
پــه تـعـلـیـم نــه ده د عــقـل نــه پــردی دی

خـپـلـې خـولې ئې پــه هر ځـای کــې شـرمـولـی
شیـطـانـت کـې د شـیـطـان نـه مـیـړنی دی

ځـان تــه وائـې افــلاتـون د زمـانـې یـم
پــه بـاطـیـنـه کـې ګـیـدړ ظـاهـر زمـری دی

چې هر څوک ورتـه وريـاد کړې بد ئې وائې
بـد اخـلاقــه دی هـمـدا خـوشـې اغــزی دی

د پـښـتــو پـښـتـونـولـی نـه،خـبـر نـه دی
بـې پـښـتـو دی بې وجـدانـه زوړ کـودی دی

هیـځ ئــې فـکـر ځان تـه نه دی نسـیم سـتـوریه
شیـنـکـې بـاغ کې لا همـدا خـوسـا لـرګی دی

## تعویز

ټـولـه زنـدګـي ئـې یـو تـصـویـر پـوري تړلـی ده
وختـه ورنـه تـیـر نـشي تـقـدیـر پـوري تـړلـی ده

ځې هغه بابا ته چې په دې باندې چوف واچوي
میــنه ئې تـعـویـز او دغـه پـیـر پـوري تـړلـی ده

## ویاړ

د پښتو په مینه مست دي د پښتون بچي ښاغلي
دا زما د پـلار ملګـري اوس زمـا دي ټول ملګـري

دوی په ما د حده ګران دي زه په دوي باندې ډیر ګران یم
زما ویاړ زما مشران دي هم همځولي ښکلي ښکلي

# بې درمانه

ځـنـګ پـوره بـه شي ارمـانـه نـېمه شـــپه کې
د مـنــزل پــه لــور کــاروانـه نـېمه شـــپه کې

د وخــت ســتوري بـیـلـتـانـه ظـالـم نـیـولـي
نـور راتـول شـه ای ګـریـوانـه نـېمه شـــپه کې

تـیـــار فـصل مـې پـه خـړ سیــلاب لاهـو شو
بـــس کا بـس کا ای بـــارانه نـېمه شـــپه کې

چـې سـجـده د مـحـبـت ورتـه ګـنـاه شـــي
څـه پــه ګـتـه کې تـاوانـــه نـېمه شـــپه کې

ضــرورت دی نـور د امــن پــــه دې خــاوره
ډیــوه بـلـــه کـړه جـانــانـه نـېمه شـــپه کې

د ژونـــد شـمـعـه پـه سلـګـو ده نسیم ستوریه
قـسـمـت ژاړي بـې درمـــانـه نـېمه شـــپه کې

# د ګاونډه

زه داسـي ښـــار تـه لاړمـه رڼـا پکـې پـه مـنـدېـه وه
څه ستړي خاموشي وه جوړه کړې ئـې یوه غونـډه وه

طبـیـب ئـې د نظـر د بانـه غـشي سمـول کاږه
د شـکـو بـادمـه وه سترګـې پـتـې او بـربـنـدېـه وه

پـه وچـو شـونډو راغـلـه خـو غـوړېـنـو اوریـدلـه نـه
خـبـره مـې وړېده کـړه خـو خـبـره دومـره لـنـډه وه

د اوښکو قافیلو تـه ئـې جام لاس کې وو نیولي تل
د میـنـې د اوریـشـو جـوړه کـړې پـکـې ډنـډه وه

د هـغـې د زړه پـه کـور کـې زمـا زړه چـې دیـره شـولو
زمـا د زړه پـه کـور کـې اخیستلي خـپـلـه ونـډه وه

نسیم ستوري په خوب کې مې د خوب قیصه کوله چا
چا غوږ کې راته ویلي چې لیلا دي د کاونډه وه

# بیدار شعور

دا د میـنـې خـوږ داسـتـان ځـان سـره واخله
ای جـانـانـه خـپـل جـانـان ځـان سره واخله

چې د سـتـورو د سـپـوږمـۍ په رڼـا ګـرځې
پـدې زمکـه پـاس اسمان ځـان سره واخله

چې د ژونـد د بیدارتوب قانون ته لاړ شې
د مـنـزل پـه لـور کاروان ځـان سره واخله

چې ډګـر د پـوهـې لا پـسـې رنګـین شـې
د قـلـم کـتـاب یـاران ځـان سـره واخـله

چې د قـام د درد درمـل درتـه اسـان شـې
پـه وطـن مـئـین زلمیان ځـان سره واخله

چې پـه لاره دې شعور تـل بـیـدار ساتې
د نسیم سـتـورې ارمان ځـان سره واخله

# جب

ځان سپیڅلی مه ګڼه ګناه د چا په جب کې ده
دا د خندا کور نه دی ژړا د چا په جب کې ده

ما خو ستا په حسن په کلونو باچاهي کړې
زه که نن بدرنګ یم نو ښکلا د چا په جب کې ده

چا چې مې د غږ ژبه په خوله کې وچه کړې ده
رادې ورې ثبوت چې دا وفا د چا په جب کې ده

مه راوړه زنځیر ښپو ته چې ذهن زانداني لرې
رنځ باندې اخته ئې ته ، دعا د چا په جب کې ده

تا سه تنهایي ده ستا فکرونه لا نیمګړي دي
ځکه وراخطا ئې چې رڼا د چا په جب کې ده

مونږ ته د نسیم ستوري رښتیا خبره دروغ ښکاري
خپله ملامته یو رښتیا د چا په جب کې ده

سه « سره »

# خاموشه

سترګـي لـرې عقل لــرې که نه ګلاب ملګریه
زمونږ په کلي باندې بیا راغی سیلاب ملګریه

هغه چې ستا هغه زما د زړه پوښتنه نه کړې
اوس خو په غاړه ګرځي د دریاب ملګریه

د داسې خلکو لـرې اوسه، ولې ځان په کاږو
په داسې خلکو خو ته مه کړه نور حساب ملګریه

نـن د قـانـون په جنازه کې مې باچا ولـیـدو
اوس د بـاچا په جنازې کې دی عذاب ملګریه

د اوښکو ټال د شکو باد چې ئې ګریوان ته رسی
ویده کاروان د شکو باد ورکی جواب ملګریه

د نسیم ستوري د قلـم څه عجبه خوې دی
دی په خاموشه خاموشی لیکلې کتاب ملګریه

# ګرنګ په سر

خیر به څوک ورنکړي کجکول کې د ملنګ لپاره
شمـع خـو نـه ژړاي ملـګـرو د پـتنګ لپاره

پښتونه ځکه په سیاست کې همیش پاتې ئې ته
تل جنګ پرستو تیـار کړی ئې د جنګ لپاره

پـردي راوړي نـه خـپلیـږي دا مـتـل دی کـنه
ودریـږه قـام د تـرقـۍ د نـام او نـنـګ لپاره

تـه یـو وجود ئې په سینه ټوټي ټوټي ځکه ئې
چې د نفرت په بام ولاړ ئې پردو څنګ لپاره

اول په ځان باندې غیرت بیا ئې په بل وکړه ته
دا خپل ښایست دی تل وژلی د بدرنګ لپاره

نسیمه ستوریه هغه څوک دی غورځیدلی پکې
ګرنګ پـه سر بانـدې ولاړ وي د ګـرنګ لپاره

## خرڅ شوی

څه عجبه ده د پښتو نه پاتي شوي سړی
څو پښتنو هم په پښتو باندې وژلي سړی

لکه غلام د ازادۍ په ورځ پیدا چې نه وي
ازاد خو نه دي چې په بل باندې خرڅ شوي سړی

---

## تورتمونه

دې مینې محبت ته نفرتونه راولي
دې خپل کور ته پردي پردي جنګونه راولي

تیارو باندې مئین شو د رڼا نه لرې ګرځي
غلام ذهن ئې ګوره تورتمونه راولي

---

# د ځان قاتل

خـرڅ شوي ذهـن سه بې فکـره بـرمـلا ورشـی
ای بـې شعـورو انسـانـانـو خـامـخـا ورشـی

لاسونه جـګ کړی پام کوي ، چـري پاتي نه شي
پـردي غـوبل تـه ، پـردي ډول تـه پـه نڅاء ورشی

د خـپـل وجـود پـرهـر ګـنـډلـو تـه مو ملا ماته
هرڅه په داو کړی پردي جنګ ته نن وړیا ورشی

د قام په سر سودا کول ستاسو عـادت‌دی همېش
دلالـي وکـړی خـپـل دوشـمـن سه په سلا ورشی

څوک چي خدای بې لاري کړي دي په لار به نه شي
د ثـواب کـار درنـه ، نـه کیـږي پـه ګـنـاه ورشی

چې د خـپـل ځـان قـاتـل جانـان او مسیحاء بولي
نسیمه سـتوریه ورتـه وایـه پـه ربـښـتـیا ورشـی

---

سه « سره »

# د ژوند قانون

یــو ســــړي د ژونـــد قـیـصـــه ده
څــه تــرخــه څــه هــم خـــوږه ده
جـــوړه کــــړې ئــــې مـیـلـه ده

هــر چـا ویـلـــي چــې زمـا شـــه
خلکـو راوســـت چــې بــاچا شــه
هــم د دیـــن هـــم دنـــیـا شـه
ښــه ســـړی وو پـــه جـهـان کــې
فـــرق ئــې نــه وو پــه ایـمـان کې
ټــولـه مــیـنـه دې انـــســان کـــې
مــحــبــت ددې جــــامـــه وه
انـســانـیــت ئـــې فـلـســفه وه
ښـــــه روانــــه ســــلــسـلـه وه
ننـګـیــالــی د ژونــدون پـــت وو
د هـــر چــا پــه ســر لـــوی چـت وو
خـیــال او فـکــر ئــې اوچـــت وو

باچاهي تـه هـــم حـــیران شــو
نــه د ځـــان نـــه د جـانـــان شـــو
پـــــه کـــــــــــږه لاره روان شـــو

مـحبـت ئـې پـکـــې خــرڅ کــړ
حقـیـقـت ئـــې پـکـــې خـــرڅ کـړ
خـپـل غـېـرت ئـــې پکې خـرڅ کـړ
د پـښــتو پـښــتون دوشــمن شـــو
خیــال او فـکـر ئـــې پـمـن شـــو
د ګـنــاه هــم لـوی ځـښـتـن شـــو
د بــاچـــا دا کــار و بـــار شـــو
د بـدرنـګـه ســـړي یـــار شـــو
پـــردي امـــر تـــه تـیـــار شـــو
دی نـــاپـــوهـــه لـیـونـــی شـــو
بـــاچـــاهـــي نـه هـم لـوګـی شـــو
د پـښــتـو نـه چـې پــردی شـــو
نــاڅـاپـي ئـــې چـې نـظـر شــو
وارخــطـا وارخـــطـا ســـــر شـــو
پـخـپـل تـــیـر هـم بــرابــر شـــو

باچاهي لاړه تباه شوه
نه ددې نه د بل چا شوه
هم د خلکو د خندا شوه

سړي ویل بیرته پښتون شه
ددې بد کار نه راستون شه
ورک هم ورک نوم د بیلتون شه
د ولس چې ورته پام وو
د سړي فکر هم خام وو
د قدرت وخت کې ناکام وو
په پښتو به شرمیدلو
پردي ډول ته ګډیدلو
خو په دې نه پوهیدلو
چې د مور عزت پکار دی
په پښتو غیرت پکار دی
د ولس طاقت پکار دی
خیر که دا هم لوی غلام وو
خو ناکام په سر د بام وو
دې پښتو ته ایښی دام وو

پـښـتــو ولــي ئــي شـــړلــه
خــپـلـه لاســـه ئـــي وژلـــه
پــه بــدرنـــګـــو ئـــي ځـپـلـه

خــو پـښـتــو پـښـتــو ژونـــدون دی
دا د ژونـــد ښــکـلـی قــانـــون دی
ګــران وطــن پــه دې زرغـــون دی
هـــم پـښـتـــو د پـــښـــتـون ساه ده
د پښتـــون وجـــود هــم مـــلا ده
دا خـــبــــره هـــــم صــــفــــا ده
چــې ريښـــتا پـــښـتـون بچـی وي
د پـــښـــتـون بــابـا لـــمـســـی وي
او د زړه نــه هـــم زلـــمـــــی وي
د پـــښـــتو بــه خــــدمـــتګار وي
دا ســـړی بــــــه هـــم د کـار وي
د نســـيـم ســـتـوري بــه يــار وي

# ښکلی دی

زما د ویني او دا ستا د شونډو رنګ ښکلی دی
دلته په مینه کې د مینې ، مینې جنګ ښکلی دی

زه دا منمه چې د رنګه به هم تور وي لونګ
په خوشبوئی کې د هر څه نه اوس لونګ ښکلی دی

ربیاره مه راوړه ته ما ته د ناصح نصیحت
د هر یو خان نه د پښتو ژبې ملنګ ښکلی دی

شمعه رنده ده چې د خپلې مینې قتل کوي
شمعه ښایسته ده خو د شمعې نه پتنګ ښکلی دی

چې انګازې ئې هم الوت زمونږ غوږنو ته کړي
زمونږ د کلي د ښوونځي د تبې زنګ ښکلی دی

لیلا مې بام سره نه تېپه کړه نسیم ستوریه داسي
چې په پښتو باندې څوک ننګ کړي هغه ننګ ښکلی دی

# کاڼه

ستا د دوشمـن پـه څنګ هغه پښتانه ولاړ دي
یـا پلـورل شـوي یـا پـه عـقل خـو ړانـده ولاړ دي

دا تـه د پـت ښـیـګـڼـي تــوري او وفـا نـه جـوړه
ستا بچي ستـا غـرونه نـه اوري اوکاڼه ولاړ دي

# ځنګل

ســرې زمــونــږ دی ګــتـه ئــې بـل تــه رسـي
درد بـــه مـــې ځـــکـــه نــن ګــوګـل تــه رسـي

حجره کې تـنـګ جـومـات نـه تـښـتـي ســرې
ځـکـه ئــې ســر هــم نــن ځــنـګـل تـه رسـي

# ځواني

خوبونه رانه اخلي ښکلي ګودر وړ ځواني
په تول باندي پوره او برابره ده ځواني

وختونه ځي په منده د هر چا قسمت بدل
زړښت کوي فریاد چي مروره ده ځواني

د چا نه زړګی واخلي او چا ته زړګی ورکړي
د مینې کار و بار کي زوروره ده ځواني

فکرونه کړي الوت کله یو خوا کله بل خوا
رښتیا چي د هر څه نه ناخبره ده ځواني

پخپل وجود لمبه شي د بل وجود ته اور شي
مئین زړګي ته هر وخت معتبره ده ځواني

لو په ځوانۍ کډه دی نسیم ستوریه زړه مي وچوي
دا ښوک وائي چي هر څه نه بې خطره ده ځواني

# غښتلي

دا یاران مې شیندل شوي په دنیا دي
قیمتي غمي ډبري په رښتیا دي

په خوږو خوږو جرګو او مرکو ئې
زه مئین یمه په دوي، دوي هم په ما دي

دا درانه، درانه خوینه ما د ځان کړې
سرې درونده کړې دوی لایق د ملګرتیا دي

ټول په ټول باندې پوره دي ما تاللی
په وعده باندې ولاړ هم برملا دي

د هر سوړ باد نه ئې وساتي ای ربه
لپه کړې مې لاسونه د دعا دي

زه پې ویاړم په ما ویاړي نسیم ستوریه
په دوستۍ کې ښه غښتلي او صفا دي

# یار سړی

اوس د کار او د دستار سړی راویښ شـــو
د ولـــس یـــو خـدمتګار ســـړی راویښ شـــو

د وطــن دا خــاوري بـوټـي خوشحالي کـړي
ښکلی ښکلی یو میمار سړی راویښ شـــو

غــړه زر شـــه راوچـــت شـــه مــه تـپـــیـــږه
رښـتیانی او یــو بـــیـدار سړی راویښ شـــو

د قـــســمـت اوښـــکي پـه زمـکه زرغـونـېـږي
ددې خــاورې وفـــادار سړی راویښ شـــو

اوس به هر خـزان پـه مـنـدې بانـدې درومي
ددې بـاغ هـغه مـالـیـار سړی راویښ شـــو

نسـیـم سـتـوریـه هـــغـه تـــا چـــې لــتـولـو
ستا ملګری او ستا یار سړی راویښ شـــو

# تریخ حقیقت

سلګو نیولی ئې نظر دی
دا په رڼا کې جوړ خطر دی

په لاره تللی نه شي یو واځې
د هغې ژوند، نه څوک خبر دی

د خپلې ژبې نه چې لري
راته زر وایه کوم هنر دی

دا مو پخپله داسې کړې
چې پردی جنګ زمونږ په سر دی

د وینو تږې یو، یو بل ته
په دوښمن ځکه نن اختر دی

د نسیم ستوري په هر شعر کې
تریخ حقیقت په اکثر دی

# پند

کلي کـې جــنګ دی او اوربـــنـد غـوارو
ســوله دې راشــي ســوله پـــنــد غـوارو

لکــه یــو شـــور مـې د غــوربونـو تـیر
عــمر کــې تــل د خــوبو خونـد غـوارو

تــښتو لــه خپـل وجــود لـه ســیوري نـه
سـترګي لــمدي دي ورتـه څــنـد غـوارو

وتـــرې امـــن چـــې ونـــه تـــښتي
پدي لـوی کـور کـې ورتــه ژونـد غـوارو

سپیـــنه کـــوتـــره راتـــه مـــره نـه کــړي
مـونــږ د دوشـــمـن لاســـونه لـنـد غـوارو

د نــسیـم ســتوري نــه مــې دا امـــید دی
یــو څــو شـعــرونـه تــرې د پـنـد غـوارو

# په قام مئين

عـقـل او احـسـاس د ځـان غلام کـړمه
خــپـل وجـوده تـا تـه اوس سلام کـړمه

داسې خلک پــټ ښــار کـې اوسيږي هم
چا چې زه پــه کلي کـې بدنام کـړمه

يـوه تـــيـروتـــنه لـــه مـــا وشـولـه
ځکـه ئـــې پـه مـيـنه نـــاکام کـړمه

زړه تـه مـې زنـځـيـر غـاړه کـې واچـوو
مـا ويـــل پـــدې بـه ئـې ارام کـړمه

خـلـکـو بـخـتـور يـــم جـنـــتـي شـــومـه
زه ئـې د پـښـتو پــه سـر اعـدام کـړمه

زه خـو نـسيم سـتورى داســې نـه ومـه
ستا دې شـاعـري مئين پـه قـام کـړمه

# مخالف

پښتو ته چې کار نه کړې برملا ئې مخالف یم
دا دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا ئې مخالف یم

په لېه کې اوبه راوړم د سیند د شګو لاندې
چې ګوټ ئې ترینه وکړو خامخا ئې مخالف یم

پوهېږم چې د غر سره دا خپل سر جنګول دي
دا نـن ئـې مخالف یم او سـبا ئـې مخالف یم

تر څو پوري پښتو پښتونولي ئې کړې نه وي
فـکـرونو تـه ئې وایه په بیا بیا ئې مخالف یم

لمبه د میـني دلـته ده مـړه شـوې ، سره شـوې
پـه لاره د سـهار کـې د بیګاه ئـې مخالف یم

چې ځان ته بلوي رڼا ولس تـیـارو کې ساتـي
نسیم ستوریه تـیـارو کـې د رڼـا ئې مخالف یم

# د رڼا سیوری

راځۍ چې د ټوپک نه قلم جوړ کړو ټوپک ورک کړو
چې قام ځوک سپکوي راځۍ چې هغه سرې سپک کړو

نسیم ستوریه د پوهې د رڼا سیوری دی غوره
د مینې او د امن د وفا بیرغ به جګ کړو

---

# ګونګ

رباب ګونګ شوی هم منګی ګونګ شوی
وطنه ستا ماشوم نیالګی ګونګ شوی

چې به مرغو پکې چغار کولو
نسیمه ستوریه دا سپرلی ګونګ شوی

---

# کرښه

خپـل وجـود کې ساه ساتي
تـا بـه اوس پـه چـا ساتي

کـړې ستـا حـفـاظـت چې دی
هـغـه ځـان پـه تـا ساتي

دا بـــدرنـــګ مـخـونـه هـم
ځـان چـې پـه ښـګلا ساتي

پـام کـړه چـې ئې مـل نـه شي
دا کلـــه وفــــا ساتي

ســتـا پـه وړه پروت ټـوپـک
دا بـــه خـــامـــخـا ساتي

جـنـګ چـې د پــردو وي هــم
ويــنـه سـتـا وړيـــا ساتي

لاس نـــه دې قـــلـــم اخـلـې
تـــا ســـــره ګـــنـاه ساتـې

ړونـد فـــکـــر او ړونـد عـقـل
شــګـــو کـــې هـــوا ساتـې

کـور کـې چـې دې غـل خـپـل وي
کـور بـه بـیـا پـه چـا ساتـې

واک اخـتـیـار چـې نـه لـرې
داســـې یـو بـاچـا ساتـې

څـوک بـه پـکـې ژونـد وکـړي
ښـار چـې څـوک پـه غلا ساتـې

چـم سـلـګـو نـیـولـی دی
ویـره زړه کـې سـتـا ساتـې

ډیر ئې تیر ایستلي دي
خوله لکه بلا ساتي

کله به دمه نشي
ژوند دې په نخا ساتي

کډه به په سر ګرځي
تا سره همدا ساتي

ستا د خولې لفظونه هم
ټول هم بې مانا ساتي

تا باندې رڼا ورځ تل
توره شپه هر خوا ساتي

دا غریب ولس خو اوس
سترګو کې ژړا ساتي

پـتـــه مـعـــامـيلـه پــدې
پـتـه ئـــې دنـــيـا سـاتـي

ســتا پــه سـر دې خـــاورې بــاد
ځـــان خـــپـلـه هـوسـا سـاتـي

خـپـل حـق اخـيـسـتـی نـه شـي
مـــاتـه چـې دې مـلا سـاتـي

کـور پــه کـور مـورچـل جـوړه
ورور د ورور جـــدا سـاتـي

زه ئـې پـرې نـيـم کـړی يـم
دا کـــرښـــه پــه مـــا سـاتـي

دا خــــــاوره نسـيـم سـتـوريـه
دا هـــم کـــربـــلا سـاتـي

# جګړه

درونـد تـه چې دوي سپک ، سپک ته درانه ګوري
مخامـخ چـې ګـوري نـو کاږه ګوري

ما غـريـب پـرور نـه جـنـې څـه غـواړي
کـار بـه راتــه وګــورې خــواږه ګوري

زه خـو د وطـن عـشـق نـه وزګـار نـه يم
زړه کـې مـې ارمـانـه دا بـل زړه ګوري

زه هـم د خپل ځـان لـتـون کـې ورک يمه
ای زمـا رقـيـب تـه دې نـور نـه ګوري

شـپـه شـولـه سهار، سـهـار ناوخته شـو
څـوک پـه لار روان دی او ډيـوه ګوري

هـغـه دي د سـولـې دوشـمـنـان راغـونـډ
سـولـې تـه نـسـيم سـتـوريـه جـګـړه ګوري

# ګرانه

ګــــردچــاپــېـر تـــیـاره ده رڼــا ورکــه ده
لاره کـــې اغــــزي دي صـــــفا ورکــه ده

مــه ګـوره دا تــور تـکـی نــور مــه ګـوره
دي کـتـاب کــې ګــوره مـانـا ورکــه ده

غــږ نه اوري که سترګو باندې روند شولو
بــرخــه کــه د هــغــې ده زمـا ورکــه ده

زه چـــي پــري نـازيـــږم زمـا خـپـلـه ده
ډکــه د غـــیـرت او حـــیـاه ورکــه ده

زه یـمـه مـجــــنـون وريـسـي ګـــرځـمـه
نـشـتـه دلــتـه نـشـتـه لــــيـلا ورکــه ده

وواپـــه هــــغــي تــه داســـي وواپـــه
مـــور زمــا او ســتـا ده انــا ورکــه ده

قام مــې د غـمـونـو پــه ټـغـر نـاسـت دی
شونډو کــې موسـکا او خـنـدا ورکــه ده

مــه پـالـی پـردي رســـمـونـه مـــه پـالــې
دې بـدرنـګ محفل کــې ښکلا ورکــه ده

خپل سرې د بل په غېږ کې پـروت ځنګه
دې نــه شـــوه مـــالـومـه وفــا ورکــه ده

دلـتـه خو يو بل ته په مورچل کې ناســت
ګـــوره ای د ســـولـــې هـــوا ورکــه ده

هــر سـرې يــو بــل تــه نصـحت کـوې
ډکــه د عـــبـرت دا ويـــنـا ورکــه ده

ګـرانــه ده پـــه مـا ګـرانــه پــښتو ګـرانـه
دا د نـســـيم ســـتـوري دنـــيـا ورکــه ده

# د دستار سړی

یـو پیدا شي سم د کار سړی پـیـدا شي
ځـومـره ښکلی او مـیـمار سـړی پـیـدا شي

د ولـس په هر یو درد باندې دردمـن شي
د ولـــس لـپـاره یـار سـړی پـیـدا شـي

زړونـه وګـتـي پـه زړونـو بـاچاهـي کـړي
ښـتـیـانی او خـدمـتـګار سـړی پـیـدا شـي

په طوفان کې ډوبیدو ته ئې پرې نـه ږدي
دې کشتۍ کې یو هوښیار سړی پیدا شـي

چــې ولاړ مې د پــښــتو پـه فـلسـفه وي
ټـیـنـګ پـه عـزم او بـیـدار سـړی پـیـدا شـي

نسیم ستوریه ستا په سر مې دستار خوښ شو
چې یو بل هـم د دسـتـار سـړی پـیـدا شـي

# ژبه

دا مرګ هم زورور دی چې ژوندون نـه ژبـه اخلي
توتي توتي زړګی شي چې سکون نـه ژبـه اخلي

زما او د جانان تـر مینځ دیـوال د اغزو جوړ دی
دا وخت بـه کله راشي چې بیلتون نـه ژبـه اخلي

تـیـارو پـه سمندر کې ډوبیدل دي کې ویښ نـه شـو
دا داسي جادوګـر دی چې پښتون نـه ژبـه اخلي

که ویښ اند مو د ځان نه کړ نو ویښ به پاتي نه شی
پـه خوب ویده مئین خلک خپل شتون نـه ژبـه اخلي

د یو ابی بچي دي واک اختیار ئې د بل لاس کې
د امـــن مخـالـف دي د سـمون نـه ژبـه اخلي

نسیم ستوریه پـه ځان مي هم اتبـار نور پاتي نـه شو
سپرلی مل د خزان شـو خپل زرغون نـه ژبـه اخلي

# د سولې ارمان

څوک له بې ننګه څوک له ننګه تـنـګ دی
قسمت زنـګ شـوی لــه زنـګـه تـنـګ دی

مـنـم چـې تـه مــې د حجرو ښـایـسـت ئـې
هــغـه سـرې دا سـتـا لـه ټـنـګـه تـنـګ دی

نـه خـو پــه وېښه نـه پـه خـوب کـې دمــه
د سـتـړي ژوند سـتـړي غـورځـنـګـه تـنـګ دی

رښـــتـیـا ویلو کـې خـــطـر د ســـر دی
دروغـجـن د دروغـو لـه ګـړنـګـه تـنـګ دی

د قـــام مـئـیـن تــه کـه نـظـر واچـــوو
د تــومـهــتـونـــو د هـــر رنـګـه تـنـګ دی

نسیمه سـتـوریه دا پـښـتـون ولـــس مـــې
ارمـان د ســولـې کـړې لـه جـنـګـه تـنـګ دی

# ناکام محبتونه

دا ملا څـوک دی چـې بې وخته ازانـونـه کـوي
دا سرې څـوک دی چـې مـلا نـه نـفرتـونـه کـوي

جومات حجره مې نن په امن باندې پاتي نه شوه
دا یو مقـتول دې خپل قاتل تـه مینتونه کـوي

رڼـا تـیـارو سـره پـه جـنګ ده وس ئـې نـه رسـېږي
بـې عـقـله عـقـل تـل د ځان نه تـپوسـونـه کـوي

مـزل کـوي خـو د مـنـزل لاره تـرې ورکـه ښکاري
ســترې ســتومـانـه بـې مـنـزلـه مـزلـونـه کـوي

لیونی کېږي په قسم که روغ هـم پاتي شي دی
پـه زمـکـه کـرښـې چـې راکاږي او سـوچـونـه کـوي

نسیمه ستوریه چې څوک نه رسي جانان تر څنګه
غـرونـه اوبـه شـې چې نـاکـام محـبـتـونـه کـوي

---

## د قدم خاوري

راسره دی یـو کـتـاب او بـل مـې فکـر د صـنـم
خلک سره ورته ډالـۍ کړې زه خو اوښکي د قلم

خــوښ پــدې یمه جانانه راسره دی د قام غـم
مــحـبـتـه ښـکلـوم دې دا ستا خـــاوري د قـدم

## غورځنګ

واره د دســـــتـار ســـــرېـه نــنـګ وکـــــړه
راشـه دې بـدرنــګـه ســره جـنـګ وکـــــړه

دا د پـښــتــنـو دی د عـــــزت دوشـــــمـن
راشـه دې قـاتـل بـانـدې غـورځـنـګ وکـــــړه

# ناخبره

اخ ! رانه ورک ئې لـټـوم دې ګوره نـه
اخ ! چا مـنـدلـې هـيـروم دې ګوره نـه

که فکـرونـه رانه واخلې پـروا نشـتـه
اخ ! خوب که ښه ئې وېښوم دې ګوره نـه

که پـه زړه کـې مې اوسـېږې نو اوسـېږه
اخ ! زړه زمـا ئـې خـپـلـوم دې ګوره نـه

اوس پـه داسـې لار روان يـمـه يـواځـې
اخ ! ته مې سـيورى بيلوم دې ګوره نـه

زه پوهېږم بې زما ژوندون دې سخت دى
اخ ! درتـه يـاد يـم يـادوم دې ګوره نـه

نسيم سـتوري پـه قلـم دې نـوم راغـلـې
اخ ! نـاخـبـره ئـې خبروم دې ګوره نـه

# خلک

ما هم د کار دي تل ستایلي خلک
چې وي پښتو باندې ښاغلي خلک

خدمت د قام او د وطن چې کوي
زمونږ همدا دي تل ویاړلي خلک

پښتونولي چې ئې قانون د ژوند وي
دا ربښتیاني دي هم پیاوړي خلک

چې مې حجره جومات اباد ساتي
په ما هم ګران دي دغه ښکلي خلک

مرګ ئې زمونږ زړه نه ویستلی نه شي
د زړه محل ته چې راغلي خلک

نسیمه ستوریه دې شک نشته دی
دار ته پښتو په سر ختلي خلک

# کتاب

منم چې ژوند کې دې مستي نشته شراب نشته
هـرې پـوښتـنـې تـه زمـا سـره جواب نشته

زما نه روسته خلک مخکې دي زه پاتې یم
ځکه زما پکـې د خـوښـې انـتـخاب نشته

ځان سره ما او تا روان کړې د منزل په لور
هغه لـښکر هغه کاروان هغه سـیلاب نشته

خوږه ترخه کړو او ترخه د زهرو ګوټ تیر کړو
دیـرو حـجـرو د پښـتـنو کې اوس رباب نشته

خدمـت هغه دی چې پښتو پښتونولۍ تـه کړې
د پردۍ ژبې په خدمت کې هیڅ ثواب نشته

چې قـام وطن او د ولـس په درد مې وردرۍ
مـا سـره ولـی د نسـیـم سـتوري کتاب نشته

# رواج

ګـنـاه تـه ګـنـاه مـه وایـه ګـنـاه ســړی کافر کړي
د مـیـنـې پـه مورچل کې خامخا سـړی کافر کړي

هوښیار ځان کړې کم عقل او کم عقل ځان هوښیار کړې
نو فرق د دواړو ورک شي چې همدا سړی کافر کړي

دا خلـک ددې کلـې ښـه او بـد پـیـژنـدی نـه شـي
پـه کانـو بـه دې ولـې وارخطا سـړی کافر کړي

کـه بلـه ډیـوه وروړې دې تـیـارو تـه مسلـمانـه
تـیـارو کـې ډوب دا خلـک پـه رڼا سـړی کافر کړي

هر څوک ټاپه د کفر په خپل جب کې ګرځوي اوس
ستا نــوم بـه الـهداد وي په الله سـړی کافر کړی

نسیم ستوري راځـه چې ددې چـم نـه کـډا واخلـو
ددغـې چـم رواج دی برمـــلا ســړی کافر کړي

---

# ميده

پـريـږده چې غـربـت کـې لـولـپه شمه
پـريـږده چې خپل ځان نه زه خپه شمه

پـريـږده چې زنګون باندې سر کيدمه
پـريـږده د فـکـرونـو چې ميلمه شمه

پـريـږده چې په وېښه مې غم وپالـې
پـريـږده د خــوبونـو هـــديـره شمه

پـريـږده چې دا خپل رانه پردي شي ټول
پـريـږده ځـان ځانـې کې چې ديـره شمه

پـريـږده چې د اوښکو سيلاب جوړ کړمه
پـريـږده د ګـريـوان څـيـرې ټوټه شمه

پـريـږده نسيم ستوريه زړه مـې وچاودو
پـريـږده چې مـيـده مـيـده زړه شــمه

# منډه

د پښتون لپاره حق غوښتل غدار شي
چې پښتون وژني پدغې به سردار شي

دا رواج دی چې قاتل دې ازاد ګرځي
که مقتول ئې زولنو کې دې ایسار شي

ګنګار ته دا دنیا جنت جنت ده
بې ګناه ته دا دنیا د اور امبار شي

چې د قام وطن ولس مینه ئې زړه کې
دا سړی دی په ښکاره دلته په دار شي

که د ځان پوښتنه وکړي نو کافر شوی
سوداګر که د خپل قام شي نو مالدار شي

هر غلیم به بیا په منډه ورنه تښتي
نسیم ستوریه که پښتون ولس بیدار شي

# انځور

ښکلا مې خوبنه د ښکلا انځور د ځان سره ورم
زه پرې مئین یم د لیلا انځور د ځان سره وړم

د جهالت تورو تیارو ته چې بدلون راولي
پوهه رڼا ده د رڼا انځور د ځان سره وړم

زه د هغې هغه زما په انتظار ده ستړې
ځمه ورځمه د وفا انځور د ځان سره وړم

په دیوال زوړند تصویرنو کې پیدا مې نه کړ
دا په هنداره کې همدا انځور د ځان سره وړم

ددې رنګونو په مانا دلته څوک نه پوهېږي
د قلم اوښکو د موسکا انځور د ځان سره وړم

که نسیم ستورى رانه وپوښتي چې دا څه‌دي اوس
زه ورته وایم د رښتیا انځور د ځان سره وړم

## غوټه‌ژبه

دا چې ويده خلک ويده دي او بيدار نه دي
رښتيا همدا ده چې ويده خلک د کار نه دي

دلته خولې ګونګې ژبې غوټې اوړانده ولاړدی
نسيمه ستوريه ځوک خبرو ته تـيار نه دي

## ستړه

دا ژونـد زما د مينـي په انګار مه خـيژوي
دا يو سرې خو ښه دی نور په دار مه خيـژوي

نسيم‌ستوريه د وخت په قدمونه قدم ږدمه
د وخت د ونـي سـتړه په بار بار مه خـيژوي

# اوښکه

ژونـد تـه ډیـوه راوړم تـیارو نـیولي
لاره ده شـــره اوس اغـــزو نـیولي

کنــډر کـورونه د ســپرلي لــمن کې
خــاوره هـغه ســوزي لـمبو نـیولي

تـښتـه د خـپل د وجـود سیـوري کـوم
لــمن زمــا ده اوس پـــردو نـیولي

وابـه تـرې نـه وړم کـه پـه دار شمه زه
لاره ښــکاره مــې د پـښتـو نـیولي

د فــکــر تـال کې زنګـوم فکـرونـه
مـا نـن ســندره لـه کـمخـو نـیولي

نسیمه ستوریه دې شـــک نـشتـه دی
اوښـکـه د سترګو مـې بــنهو نـیولي

# جواب

د سترګو جنګيدل راته پکار دي او که نه؟
په زلفو ځنګيدل راته پکار دي او که نه؟
که غلی مسکيدل راته پکار دي او که نه؟
يا ټق ټق خنديدل راته پکار دي او که نه؟
که هو ددې جواب وي راپاڅيږم روان شم
که هو ددې جواب وي دا زه ئې هم جانان شم

له خوبه ويښيدل راته پکار دي او که نه؟
په لاره باندې تلل راته پکار دي او که نه؟
خپل قام ته څه کول راته پکار دي او که نه؟
هدف ته رسيدل راته پکار دي او که نه؟
که هو ددې جواب وي په ځان لوی امتحان شم
که هو ددې جواب وي پوره د ځان ارمان شم

خبري اوريدل راته پکار دي او که نه؟
رښتيا صفا وئيل راته پکار دي او که نه؟
نفرت زړه نه ويستل راته پکار دي او که نه؟
خپل نيت صفا ساتل راته پکار دي او که نه؟

که هــو ددې جــواب وي نــو پاک لکه ایـمان شم
که هــو ددې جــواب وي ربـتـنـی مـسلمان شم

په سـوچ کې ډوبـیدل راتـه پـکار دي او کـه نـه؟
پـدې کـې ورکـیدل راتـه پکار دي او کـه نـه؟
د قـام مـیـنه کـتـل راتـه پکار دي او کـه نـه؟
په مـیـنه سر شـیندل راتـه پـکار دي او کـه نـه؟
که هــو ددې جــواب وي نــو مشــر د کاروان شم
که هــو ددې جــواب وي نسيم ستوري ته ګران شم

## جدائي

مــــخ دې راواړه وه جانانه زه دې نه یادیدم
د مـحـبـت د باغ باغوانـه زه دې نه يادېدم

نسیمه ستوریه چې اوس راغی ورته داسي وایم
ستا جدائـي وه ډیره ګرانه زه دې نه یادیدم

# بهانه

هنـــداره کې د ځان په تماشه يمه ولاړ يم
که زه خپله هنـداره يم آيـنه يمه ولاړ يم

دا يو قسم د دروغو د رښتيا په سر به وخورم
هغې په خوله کې اوس هم ترانه يمه ولاړ يم

د ښکلو نه مې دا عادت راپېټ کړو ګنهګار شوم
بدرنګ مخه دا ستا د ژوند قيصه يمه ولاړ يم

زما او د منزل تر مينځ دا نيمه پېړۍ لاره
ای عمره د زړښت لوی تمبه يمه ولاړ يم

وختونه مې د ژوند په اننګو باندې تيرېږي
حالاتو غلبيل کړې فلسفه يمه ولاړ يم

نسيم ستوريه د هغې دارو په ماهم تاثر نه کړې
دې خپل رنځ کې يو پاتې بهانه يمه ولاړ يم

# سپوږمۍ

د هـــنـــداري نـــه هـــنـــداره کـمـه نـــه ده
چې پـه شـمـار شي نـو د شـماره کـمـه نـــه ده

ستا د ســوال پـه جــواب زه کـلـه پــوهـېـږم
د هـدف پـه لــور ښـنګ لاره کـمـه نـــه ده

خريـــدار يـمـه د ژونـد لـــپاره ئـــې اخـلـم
ســـاه د مـيـــنــــې د بــــازاره کـمـه نـــه ده

پښـتـنـې ښـايـسـتـه سـيـال دي چـــرتـه نـشـتـه
لــــوپـــتـه دي د دســـــتاره کـمـه نـــه ده

د حـيـــاه د نـنـګ غـــېرت پـه پـــرده پـــټه
ستا نـــشه ځــوانـي خـمـاره کـمـه نـــه ده

نسـيم ســتوريه تا تـه يــاد شـــي مـا ويـلي
دا ســـپوږمـــۍ هـم تـــر سـهـاره کـمـه نـــه ده

# زړښت

چـا ویـل سـتا ویـنا کـې ارزښـت نشـته دی
دلـته خـو پـه دروغـو مـړښـت نشـته دی

سـپکـو سـره مـه ګـرځـه سـپکـېږي تـه
واوره چـې د سـپـکـو درنـښـت نشـته دی

ژونـد خـو د غـلام ژونـدون غـلام نـه کـړي
ژونـد د ازادۍ کـې ازمـیـښـت نشـته دی

پـاتـې لـه کاروان نـه شـوي نیمګـړی شـوي
نـیمه لاره کې پـاتـې پـایـښـت نشـته دی

مـګـروه ځـان نـور پـه نـوکـونـو تـه
وچ دی د پـوټـکـې ښـارښـت نشـته دی

ورشـه نسـیم سـتوري تـه دا ووایـه
سـتا د ددې شـعـرونـو زړښـت نشـته دی

# ګونګی

زما سره جانان چې په رورو خبري نکړي
د زړه د مینې زور ئې د خوږو خبري نکړي
د قام او د ولس په سختو شپو خبري نکړي
تیارو چې لمر نیولی په هغو خبري نکړي
که داسې وي سکون به د سکون نه زر خفه شي
که داسې وي وحدت به د خپل یون نه زر خفه شي

دا ولی خپل اتل د میړنو خبري نکړي
په خاوره د پښتو د توریالو خبري نکړي
د قام په مینه مست د شاه زلمو خبري نکړي
زمونږه د نیکونو ننګیالو خبري نکړي
که داسې وي تاریخ به د خپل شتون نه زر خفه شي
که داسې وي هر څوک به پیوستون زر خفه شي

حجره کې غلی ناست دی په پښتنو خبري نکړي
هغه چې د جرګو د مرکو خبري نکړي
د هسک سر ته رسیږي په شملو خبري نکړي
زمونږه په دیرو او په حجرو خبري نکړي

که داسې وي دا ساه به د ژوندون نه زر خفه شي
که داسې وي پښتون به د پښتون نه زر خفه شي

چې ګل او دا بورا د پسرلو خبري نکړې
تاريخ ګونګی ګونګی دی د پيرو خبري نکړې
د خاورې وچې شونډې د اوبو خبري نکړې
نسيم ستوريه دا څوک چې په پښتو خبري نکړې
که داسې وي ښوونځی به د پوهنتون نه زر خفه شي
که داسې وي نو ذهن به بدلون نه زر خفه شي

## مخ ته

د ګلاب د ګل په بوی باندې رغيږم
زه د خپل رنځ په درمل باندې پوهيږم

نسيم ستوريه ستا کتاب مې مخ ته پروت دی
په لوستلو باندې زه کله مړيږم

# اغېزه

د لاس نـه مې ولـیدلـی خـپل قـلـم لـتـوم
پـه زړه کـې رانـه ورک دی خـپل صـنم لـتـوم

د ژونـد د انـسانـیت پـه لـمن کې ئې دیره
رښـتـیا تـه اوس رښـتـیا هـم دم پـه دم لـتـوم

یـادونه سـنـدریـز او سـوچـونـه د رڼـا
دې خـپل د وجـود ګل تـه هـم شبنم لـتـوم

دلـیل بـه پـکـې نـه، یقـیـن عـمـل پـکار دی
مـانـا نـه ډکـې کـرښـې چـم پـه چـم لـتـوم

سرونو کې بس یو سر ځواکمن شي او خپلواک
تـولـنـي تـه بـس دغـه بـنـیـادم لـتـوم

پـکار ده نـسـیم سـتـوریـه مثـبـتـه اغـېـزه
زخمـونـو د قـانـون تـه ئـې ملهم لـتـوم

# دنيا

کاش چې تـه زمـا او زه دا ستا وی
زړه مــو د هــر خيـرې نـه صـفا وی

لــمر غــونـدې روښــانـه ځلـيدلـی
دا تــوري تــيـاري پـه مـونـږ رڼـا وی

ويـــره د نـــړی د ســـترګــو نـــه وی
کـــړی مـحــبـت مـــو بـــرمـــلا وی

کـــور مـو هم د امـــن د وحـدت وی
زه مئـــيـن پـه تـا او تـه پــه مــا وی

ژونـد بانـدي راضـي وی شـرمـيدی نه
فـکــر مـــو د نـــن او د ســـبـا وی

بـــنـدي دروازي د ښـــوونـځـي نـه وی
لاس کـي مـو ډيـوه د پـرمـخـتيا وی

عقل مو د پوهي په خـدمــت کې
کـړی مـو همداسي هوښــیارتـیا وی

خپل اختـیار مو خپل لاس کې نیولی
داســې یـو غــرور راکــې پــیـدا وی

دیـن اسـلام پـښـتو زمـونـږ جامـه وی
دا کار چـې مـو کـړی تـل وړیـا وی

ویـنـه مـو پـه ویـنـو ویـنـځـلـی نـه
ورکه د شـیـطان هـم مـشـغولـتـیا وی

پـــاکـه مـو لـمن د ګـنـده ګـیـ وی
پاکه مو د ژونـد هـر یـوه ساه وی

داسي پـرمـخـتـګ وی نـسیم ستوریه
دا دنیا زمـونـږ ، مـونـږ د دنـیـا وی

# پيغام

اې د دســــــتار بچــــيه
تـه ئې د شــمار بچــــيه

د پـښتــنو د بـــڼ ئـــې
ګل او ګلـــــزار بچـــيه

پاڅه ښوونځي ته لاړ شه
وېـښ شه بـيدار بچــــيه

کـتاب قــــلم راواخله
زمــــــا د کار بچــــيه

مـعلـم نه زدکـړه وکـړه
اې تـابـــيـدار بچــــيه

چې لـوی سړی شي جـوړ
پـه هـــــره لار بچــــيه

وطن ولس ته شي هم
ته خدمتګار بچیه

په اسلامي جامه کې
پاک او هوښیار بچیه

وخت درنه تیر نه شي نن
یم ناقلار بچیه

د بې وسۍ تمبو کې
نه شي ایسار بچیه

لاس په دعا درته یم
وړوکی یار بچیه

د نسیم ستوري پیغام
یاد کړه په چار بچیه

## لمن

ورک شوی یم د ځانه د خپل ځان لمن به نیسم
پیدا مې کړې ملګرو د ارمان لمن به نیسم

زه هغه سوداګر یم چې په ګټه کې تاوان کړم
زخمي زخمي وجوده د درمان لمن به نیسم

---

## خطر

سولې راتلو کې چې څنډ ولید
په ژوند مې مرګ همداسې لنډ ولیدو

څو د غـتانو سر ته نه وي خطر
د امن لاره کې مې خنډ ولیدو

---

# فکر

نیمه شپه ده ستا یادونه مې زړه خوري
ناست یوائې یم سوچونه مې زړه خوري

د بلـې سر ته راجګه شه سپوږمۍ
ددې چم دا تورتمونه مې زړه خوري

انتظار کړمه چې رابه شي که نه
وخت په منډه دی وختونه مې زړه خوري

نور ویرېږم د همزولو له پېغوره
مینه راکړه پېغورونه مې زړه خوري

خوبه راشه شوګیر ماښام دې واخله
ډار نیولی یم غمونه مې زړه خوري

د نسیم ستوري دا فکر درلېږم
لرې ئې ولوله دردونه مې زړه خوري

# فلسفه

رســیـدلـي د هــــر چـا غــوږ تــه نـاره ده
خـلـک وائـی چې کدو کـه هـندوانـه ده

دا چې خپل کلي کې خپله په ځان تنګ دی
جــدائـي تـه ئــې اوس جــوره بــهـانـه ده

خـپل انځور دې پکې ښکه ښکاره کېږي
پـدې زمـکـه چې پـرتـه مـاتـه آیـنه ده

چوپه خوله به ئې باچا کړي په محفل کې
خـامـوشـي ئې د راحـــت هــم خــزانـه ده

د وطـــن او د ولــس چې خــدمـتګار وي
محـبــت ســره ئـې جـــوره يـــارانـه ده

راشـه وګوره چې څـه ئې دي لـيـکلـي
نسـيم سـتوريه دغه کـومه فـلسـفه ده

# لمن

ژونـد لـکـه د مـیـنـې د ښکلا لـمـن
مـه بـدرنـګـه وی ښـاغـلـو دا لـمـن

ورک کـړي نـفـرتـونـه مـیـنـه وپـالـی
مـیـنـه مـحـبـت ده د دنـیـا لـمـن

مـه ریـبـی تنګـي ګلان نـور مـه ریـبـی
دا مـې د وطـن د پـرمـخـتـیـا لـمـن

هـغـه ده د بـام سـر تـه خـتـلـي ده
سولې کې پراته د خوشحالتیا لـمـن

دې خاوره کې ډیر داسې سرونه شته
چـا چـې ده نـیـولـې د رڼـا لـمـن

واوره نـسـیـم سـتـوریـه مـا بـخـلـی دی
چـا چـې خـیـرې کـړې ده زمـا لـمـن

# ورک

زر شـی کـتـاب د خـپل صنم ورکـړی
ټـوپـک تـري واخلـی قلـم ورکـړی

د درد پـه خـړیکـو ئـي ،مـه تـنـکوی
زخــمـي وجــود لــره ملـهـم ورکـړی

شـي مـسـافــر زړګـی پـه کـور پـاتـي
پـه خپله خاوره کې خپل چم ورکـړی

نـم ئـي پـه سـترګـو کـي ضــرر رسـی
دا خوشـحـالـي پـه هـر رقم ورکـړی

چـي دیــوالـونـه پکـي جـوړ نـه شـي
بـیـلـتون ظـالـم تـه نـور قسم ورکـړی

د نـسـیـم ســتوري لــړ هــم ومـنـی
غم دي نور ورک شي غم ته غم ورکـړی

# صفت

چـې پـه لار روان د مـیـنـې محـبـت وي
د هـغـه سـره پـریـکـون بـه د نـفـرت وي

لمر د غـره پـه اوږه ناست دی تـیـاري تـښـتي
رڼـائـي ده د رڼـا هـم لـوی عـزت وي

لیونتوب د خپل ګونګي کاروان په مینځ کې
سـرمـایـه ئـې د یـارانـو رقـابـت وي

د خـپل سـیوري د مـسیر نـه خبر نـه دی
پـټې سـترګې پـټ خـو راز د حقـیقـت وي

اوریـدلـي مـې حـجـرو او پـه دیـرو کې
بـې پـښـتـو سـړی پـښـتو تـه مـلامـت وي

نسیم سـتوریه وخـت بـه راشـي تـه بـه نـه ئـې
پـدې زمـکـه بـه دا سـتـا د خـوي صـفـت وي

# حساب

ښـه ملـګــرى پـه مـــثال د ښـه کــتاب دى
بـد ملـګـرى خـپل ژونـدون لـره عـذاب دى

فـکـــر مـه کـوه هـــدف پـه لـور روان شـه
بـې هــدفـه ژونـدون تـل خـراب تـوراب دى

عـقل پـوهـه دې پـه خـپل ولـس قـربان کـړه
پـه دې کارکـې تـا تـه دومـره ډيـر ثـواب دى

کـه د وخــت نـه پـاتـې شـولـې راغـورځـيږې
سـوچ دې وکـړه چـې پـه مخکې دې تـالاب دى

د وطـــن پـه خـــاوره کـــبر چــې چـا کـړی
مخ ئـې سـوی شـيـندل شوی پـرې تـيـزاب دى

نسيم سـتوريه سـتا خــبره رښــتـيا کــيـږي
ډيـر سـرونـو کـې خـو يـو سـر د حـساب دى

# عادت

مـــشرانـــو کـــړې دا نـصـحـــت دی
ژونـدون ابـاد تـل ، پـه انـسانــیت دی

شـــکـــــر خـــدایـه تـــا دی راکـــړې
زمـــا پـه زړه کـې چـې مـحـــبـت دی

مـا ســره نــشته نـه ئـې تــري اخــلـم
بـــدل لـــپـاره پــکار نـــفـرت دی

ښـه پـه پـوهـېږم چـې پـري درنـېږم
د بـل عـــزت کـې زمـــا عـــزت دی

زړه دې زر وچوي چې څـوک خـفه وي
دا ســـتا صـــفت زمـــا صـــفت دی

پـخـــپـلـه مـــیـنه پـخـــپـلـه ویــنه
بـــدې رانـــغاړه وخـــت غـــیـرت دی

ویـدي خوبـونه چې اوس راویــښ کـړو
نــن د غــفلــت نـه نــور بـــغاوت دی

زخـمي ټـوټي پــروت پخــپله خـاوره
چې ئې راغوند کړو همدا خدمت دی

زمــــا پــــښـتـونه زر شــه راپـاڅــه
د قـــام یــووالــی نــن ضـــرورت دی

ځــه چــې روان شــو هـــدف ته رسـو
مـــنـزل پـه لـورې هـــم حـــرکت دی

خیـلونـه پـرېـږدي یـو بـه لښــکر شـو
د کاروان مـــشر د قــام وحـــدت دی

پـه مینـه مـړ یـم مینـه کـې ژوند کـړم
نـسیـمه سـتوریـه دا مـې عـــادت دی

# ملنګ

زه چې د پښـتو په مـيـنه رنګ ښکارم
ژوند مې جنتي دی ستا تر څنګ ښکارم

مـا پـه غـېرتـي زمـکـه ژونـدون کـړي
زه ښايسته د قام په نامه ننګ ښکارم

هـسـي پـه يـارانو بـانـدې ښـکلی يـم
بـې لـدې يـارانو زه بـدرنګ ښکارم

تـل مـې د بـيلـتون نـه زړه چاودلی دی
ځـکه د نـفرت سره پـه جـنګ ښکارم

خـلـک رابـلـمه د تـعلـيم پـه لـور
زه اوس د ښـوونځي تـبۍ زنګ ښکارم

ژونـد د پـردو فـکـر لاندې نه کـوم
زه د پـردي امـر لاندې تـنګ ښکارم

زوړنـــد په سیـــنه دې لکـه تـال یـمه
ښـه راتـه لـړ وګـوره لـونګ ښکارم

ای هـنداري ستا مخ ته چې ودرېږم
ځـان چې پکې وینمه نو دنګ ښکارم

داسې لـیوني مـوسم کـې راشـه تـه
زه به دې نـشه کړمه زه بـنګ ښکارم

وادي خله خپل قرض نور ئې نه غواړم
ګل یـمه ګلاب یمه ګلـرنګ ښکارم

شمـعې ستا رڼا بـاندې مئـین یـمه
ستا مینه کې مست لکه پتنګ ښکارم

ښه شوله نسیم ستوریه رایاد دې کړم
خـپلې باچاهي کـې زه ملنګ ښکارم

# لمر

د خلکو پـټ شي خو د ځان نه پټيدی کله شي
مـينه ئـې کـړي د جــانان نـه پټيدی کلـه شــي

ربه ژوندون ورته سمسور کړي د سپرلي په شانتي
د خـپلو اوښـکو د بـاران نـه پټيدی کلـه شـــي

د سـمـندر په غـاړه اوسـي شـونډي وچـي ګـرځي
لـه ډاره نـه ورځــي تـاوان نـه پټيدی کلـه شي

مـا تـه اظـهـار په پـښتو ژبـه کي څـه داسـي کوي
پـوښ مـي ايـمان دی د ايـمان نه پټيدی کله شي

راتـه مالـوم دی چي رښـتيا ئـې بـند په بند تـړلي
پـه زمـکـه ګــرځـي د اســمـان پټيدی کلـه شي

نسيمه ستوريه لـمر پـه دوو ګـوتو لا چـا پـټ کړی
د خپل قسمت د لوی داستان نـه پټيدی کله شي

# خالي لاس

دا چې نن ويده دی اوس وېښيږې نه
خوب نه مې قسمت ولی پاڅېږې نه

چا چې پردی جنګ کور ته راوړی دی
زړه ئې شور او شر ځيني خلاصيږي نه

يـو کـــتـاب خــــبري ورتـه وکـړلـي
عــقل نصحت باندي پـوهــيږي نه

وچ دی سمــندر مــې د نــيـکيـو اوس
دا خـو د اوبـو پــه شـــان بهـــيږي نه

تـا نـه خـفـه شـــوی تـا تـه نـه درځـي
زړه مې اوس دې ستا زړه کې اوسيږي نه

زه د خــپل عــمل لـوی ګـنهـګار يـمه
دا پـه ګـــــناوو اوس مـــړيـــــږي نه

رنګ ئې د قلم زيړ تبنتيدلی دی
راشه دغه توري لوستل کېږي نه

خانه ستا به جنګ ئې زه به نه يمه
وګوره غېرت مې مالومېږي نه

داچې نن په پټه مشوره کوي
ما سره منزل ته راونېږي نه

ډېر د خوشحالۍ ياران مې ډېر دي نن
سخته کې په نره بيا ودرېږي نه

ولې دي دعا کې اثر نشته دی
دا تياري رڼا باندې بدلېږي نه

اوس ئی نسيم ستوري لاس خالي وېنم
ځکه چې غربت ترينه شرمېږي نه

# سپرغی

روغ په دعا د خپلي مـور شوم تا ته څه پته ده
د رب سجدي ته چي نسکور شوم تا ته څه پته ده

څه اندیښني چي مي په زړه وي ټولي وتښتیدي
لکه سپرلي غوندي سمسور شوم تاته څه پته ده

اوس به طبیب زما د رنځ پوښتنه ونکړي بیا
دي خپل زخمونو ته ټکور شوم تا ته څه پته ده

که زه لایق د محبت نه وی خو نه به کېدای
زه د هغي د سترګو تور شوم تا ته څه پته ده

د پیغورنو نه مي داسي ځان سوچه ساتلي
لکه څادر په ځان راخپور شوم تا ته څه پته ده

نسیمه ستوريه والـوتمه د اسـمان په لـوري
زه چي سپرغی سپرغی د اور شوم تا ته څه پته ده

# نوم

بلببله مـه کـړه انـتظار سـړی هم بـام تـه جګ شـو
د علـم پوهـي په بـرکت دغـي مـقام ته جګ شـو

اوس بـه رڼـا ځـان سـره راوړي د تـورتـم محـفـل تـه
په توره شـپه کي د ښـوونکي احـتـرام ته جګ شو

وطـنـه سـتـا د ابـادۍ شـرط ئـي پـه ځان ومـنو
تياري به تښتي د نړی د سيالۍ جـام ته جګ شـو

ګـرانـه هـيـواده د غـربـت کاسـه نسـکوره ګـوره
چي ستا په نوم دي ستا عزت ته ګام په ګام ته جګ شو

دا ماشومتوب ئي د ښوونځي لمن کي ښکلی جوړ کړ
هم د پـښتو هم د اسلام په نوم سلام ته جګ شو

نسـيمه سـتوريه پـښتـني خـاوري دا نـوم ورکـړی
د پښتني جومات په غېږ کي خپل امام ته جګ شـو

# لیوانی

دې خـولـې تـه د قلف واچـوه سـړی درنـه خفـه دی
لـوګـی بـه درتـه نـه شـي سـپـلـنـی درنه خـفـه دی

د ژونـد د ازادۍ پـه قــدر ولــې نـه پـوهــېږې
اتـل ددې وطـــن او ننــګـــیالـی درنـه خـفـه دی

فـکــرونـه دې د ګل بـدنــامــول غــواړي دا ولـــې
جنـت جنـت وطـن کـې نـن سـپرلـی درنـه خفـه دی

د مینې د وحـدت سـندره خـوله کې دې ده ګـونګـه
د سـيالـو سره سـيال نـه شـوې زړګـی درنـه خفـه دی

سـپرغـۍ سـپرغـۍ ژونـدون کې تا د ځان ګـټه ونـکړه
پـه قــام وطــن مئـیـن هـغـه زلــمی درنـه خفـه دی

مــا ورتـه داســې وویــل نسـیم ستوریـه خبـر شـه
ستا روغ فـکرونـه شل دې او لـیونـی درنـه خفـه دی

# ښوونکی

د لـــوړي پـوهـــي سـرلښکـــر ښـوونکـــيه
ای د رڼـــا د ويـــښ نــــظـر ښـوونکـــيه

بېـــغـر لـــه تـــاســو تـــرقـــي نـــه کېـــږي
قلـــم کـــتاب ســـره دوســـتي نـــه کېـــږي
ســـتا لارښـــودنه ځـان تـه ويـاړ ګـنـو تـل
پـدي خـدمـت کـې ستـا کـمي نـه کېـږي
تـه ئـي د زده کـړي ئـي رهـبر ښـوونکـيه
ای د رڼـــا د ويـــښ نــــظـر ښـوونکـــيه

چـــراغ د پـــوهـــي تاســـو بـل ساتلی
پـــردی بچـــی مـــو لـــکه خـپـل ساتلی
د پـيـغلـو هيـلـو ئـي دســـتار لـوپـتـه
چـي مـو تـــيـارو تـه تـل اجـل ساتلی
جـګـه شـمـلـه لـري پـه سر ښـوونکـيه
ای د رڼـــا د ويـــښ نــــظـر ښـوونکـــيه

د پوهي غېږ کې ماشومان رالوی کړې
د تیارو لرې هلکان رالوی کړې
د ننګ ډګر ته بیا سر لوړي درومي
بلې ډېوي ته پتنګان رالوی کړې
ځان ته دا ویاړ ګڼهي اکثر ښوونکیه
ای د رڼا د ویښ نظر ښوونکیه

ژوند ته ژوندون او ښه سمون ورکوي
منزل په لوري ښکلی یون ورکوي
د خطرو او تورتمونو نه تل
لرې ئې ساتي او سکون ورکوي
د پښتني ښایست ځادر ښوونکیه
ای د رڼا د ویښ نظر ښوونکیه

غېرت په ټولو شاګردانو کوي
مزل د پوهې رڼاګانو کوي
قلم په لاس ورته د شتون ورکوي
دا کار د مینې ښکلاګانو کوي
له تا نه یاد به کړو هنر ښوونکیه
ای د رڼا د ویښ نظر ښوونکیه

د ارزښـــــتونـو پـه مـانـا پـوهـــېږي
رښـتيا هـمدا ده پـه رښـتيا پـوهـــېږي
شاګــــرد تـه لاره د ژونـــدون ښـــائـي
د ژونـد د مینـې پـه ښـکلا پـوهـــېږي
ډګـر د پوهـې کې ، لـوی غـر ښوونکـیه
ای د رڼــا د وېـــښ نـــظـر ښوونکـیه

دا سـتا بـرکـت دی چې وطـن جوړیـږي
پـه پرمخـتـک بانـدې مسـکن جوړیـږي
فکــر دې ټـول د جـوړښــتونـو نـه ، ډک
چې بـــدو ورځــو تـه کــفن جوړیـږي
د لــوی هــیواد پـه لــمن نـر ښوونکـیه
ای د رڼــا د وېـــښ نـــظـر ښوونکـیه

پـوهـــېږي هـغـه سـړي بام تـه ځګ شـو
سـتا پـه خوارۍ دې لوړ مقام تـه ځګ شـو
هـسـې نـســیم ســتوری دې نـه یـــادوي
دی سـتا د فـکـر احـترام تـه ځګ شـو
اوس بـه ځـلـېـږي لکـه لـمر ښوونکـیه
ای د رڼــا د وېـــښ نـــظـر ښوونکـیه

# کاږه

ويــــښ انـــسانه قـــدمـــونــه دي کاږه دي
د مـنـــزل پـه لــور فــکـــرونــه دي کاږه دي

دکـوټـي پـه کـونـچ کـې مـه کـيـنـه مـيـماره
فـــکـــر وکـــړه ديـــوالــونـه دي کاږه دي

چـې پـه سترګـو د بـنـو غـشي دي بار کړل
اى ښـــايـــستـه ښـــايـــستونـه دي کاږه دي

بـې اتـــفـاقـه مـحـبـت نـفـرت نـيـولـی
جـــادوګـــره ارمـــانـــونـه دي کاږه دي

ستـړې ژونـد د خـپـل ژونـدون رنـګـونـه شـماري
زړه کـــې وائـي انـځـــورونـه دي کاږه دي

پـرېـږه زه هـم دغـه تـور سـتـا پـه لـمـن کـړم
نسيـم سـتـوريـه غـــزلـــونـه دي کاږه دي

# بدل فکر

د خـــپـل ولـــس لـــوی خـدمتګار پـښــتـونـه
زمــا طـالـــب زمــا هـــوښـــيـــار پـښـــتـونـه

نـــــور د رڼـــــا دروازي مــــه بــــنـــدوې
د ښــوونـــځـــي دا دروازي مـه بـــنـــدوې
بـيـا بـه د پـوهـــي بـــغـاوت جـــوړ شـــي
پــاکـــي او صـــفـا دروازي مـه بـــنـــدوې
زمـــــا د کـلــي او د ښـــــــار پـښــتـونـه
زمــا طـالـــب زمــا هـــوښـــيـــار پـښـــتـونـه

تـعـلـيـم پــه نـــر او ښــځـه فــرض دی هــم
ددي بـچـــو پــه مـــونـــږه قــرض دی هــم
ولـــــي ، د دي لـــــــپاره کار نـــه کــــوو
دا بي ســوادي ژونـد تــه مـــرض دی هــم
ويـــښ شـــه زمـــا ، زمـــا د کار پـښـــتـونـه
زمــا طـالـــب زمــا هـــوښـــيـــار پـښـــتـونـه

مـــنـم چـــې ســـولـــه مـــو راوړي دلـتـه
مـــنـم چـــې مـــینـه مـــو ښـــاغلـــي دلـتـه
مـــنـم چـې هــر څــه ښـــه صـحـي روان دي
مـــنـم چـې ډیـر ښـــه ئـې پـــیـاوړي دلـتـه
زما پـه دې وخـت کـې د شـمـار پـښـتـونـه
زمـا طـالـــب زمـا هـــوښـــیـار پـښـتـونـه

څـیري ګـریـوان مـو سـتنه تـار غـواړي نـن
ظـالـم غـربـت تـه څـکـه دار غـواړي نـن
چـې د ژونـد لاره مـو ســمـون پـیـدا کـړي
دا ولـــس وړې دی روزګـار غــــواړي نــن
پـه اســلامــي فـکـــر ګـلـزار پـښـتـونـه
زمـا طـالـــب زمـا هـــوښـــیـار پـښـتـونـه

هـم مـې مـلا او هـم ډاکـتـر پـــکار دی
دغـې هـیــواد تـه انـجـیـنـیر پـــکار دی
چـې تـعـلـیـم نـه وي وطـــن نـه جـوړېــږي
دلـتـه د پـوهـي لـوی لـښـکـر پـــکار دی
پـوهـــه رڼـــا ده تـابـــیـدار پـښـتـونـه
زمـا طـالـــب زمـا هـــوښـــیـار پـښـتـونـه

نـــــرۍ خـــو تا نه امــتحان اخلي
سـيالان خـو زمــکه او اســمان اخلي
دنـيا سـپوږمـۍ تـه رســيدلي ده نن
څـوک پـکـې نـوم د خـپل جانان اخلي
کامـياب شي ، مه کـړه انـتظار پښـتونه
زمـا طالـب زمـا هــوښــيار پښـتونه

مـا ويـل چې نـــثر او کـه شـعر وليـکم
تــرخـه خـــواږه پکـې لــږ ډيــر وليـکم
مــقـام چــوکۍ هــم تـر تـل تله نـه وي
نـور د تـاريـــخ نـه پاتي هـــير وليـکم
مـه کـړه تعـليم نـه نـور انـکار پښـتونه
زمـا طالـب زمـا هــوښــيار پښـتونه

زمـکـه هـغه ســوزي چې اور پـرې بـل وي
څـه بــې تـعلـيمه نــر او ښــځـه شـل وي
د نســيم ســتوري وړانــدېـز بـد مه ګـڼه
فــکـــر د هــر ســرې بـــدل بـــدل وي
کـه پـه رښــتـني ئـې بـيـدار پښـتونه
زمـا طالـب زمـا هــوښــيار پښـتونه

# يو شعر

زه په ټول باندې پوره يم خير که من يمه که سير يم
چې د ننګ خبره راشي بيا له خپله سره تير يم

چې ښادي پرې کله راشي وائې دادې خير دی نه ئې
په غمونو کې ئې ياد يم خوشحالۍ کې ترېنه هير يم

د قسمت ياری ته ګوره ما پخپله غېږ کې نيسي
د ژوندون حجره کې بس ، که زه لږ يمه که ډير يم

زه د خپلې لمن تار يم زه د خپلې غاړې هار يم
د بيلتون ظالم لپاره زه خو زهر او ګنډير يم

يو انځور مې ډالۍ کړی جوړ د مينې د رنګونو
د پښتون د زړه اواز يم د وطن مينه کې ګير يم

محبت يمه زه امن ، بيداري خپرول غواړم
ته پوهېږې چې زه څه يم د نسيم ستوري يو شعر يم

# لټون

يـــو د خــــــندا انـځـــور
بــــــــــل د ژړا انـځـــور
دا چــې نــــن تـــت تـــت دی
شــــــو وارخـطا انـځـــور
پــټ پـخـپل ځـان کـې وو
مـا کــړو رســوا انـځـــور
مـا تــه ګــــيلـه کـــــوي
زمــــــا زمـــــا انـځـــور
عـلـــــم او پـــــوهــــه ده
دا د رڼـــــــــا انـځـــور
پـــه وچـوو شـونـډو هـــم
دا د مــــــــسکا انـځـــور
تـعلـــيم زمـــونـږه دی
د ارامــــــتـيــا انـځـــور
دا پـــه رښــتــــنـي دی
د پــرمخــتـيـا انـځـــور
دا پـــه ديـــوال زوړنــــد
مـات شـــوی بـيا انـځـــور

پـــه زمـــکـــه ولـــویـــدو
دغـــه د چـــا انـــځـــور
د خـــاورو غـــېږ کـــې اوس
لاس پـــه دعـــا انـــځـــور
د چـــا د ســـترکـــو تـــور
د خـــپـل اشـــنـا انـــځـــور
چـــا د ســـیـنـي پـــوري
نیـــولـــی دا انـــځـــور
د هـــر چـا خـــوښ وي تـل
ښـــکـلی صـــفـا انـــځـــور
خـــوارږ خـــوارږ ګـــوري
زمـــا او ســـتـا انـــځـــور
هغـــې تـــه ګـــران بـــه وي
کـــه وي رښـــتیا انـــځـــور
زړګـــی د میـــنـــې کـــور
ژونـــد د ښـــکلا انـــځـــور
یـــو د وفـــا تـــړون
بـــل بـــې وفـــا انـــځـــور
ډیـــر پـــخـوانـــی کـــه وي
د نـــن ســـبـا انـــځـــور

تـــاريـــخ تــه پـــاتـــي دی
دا خـــامـــخـــا انـــځـــور
راځـــئ چـي يــو ځـای کــړو
د پـــښــتـونـخــوا انـــځـــور
يـــووالـــی حــق زمـــونـــږ
دا د دنـــــــيـــا انـــځـــور
زه پـــه لــــــــتـــون ددي
کــه شـــي پـــيـدا انـــځـــور
نـــسـيـمــه ســـــــتـوريــه نـــن
ورک د لـــــيـــلا انـــځـــور

---

# قسم

په لاس کي مي د سروزور قلم نيولی دی
دي فکر مي جانانه ستاسو چم نيولی دی

همدا خبره واوره دا بله خو وانه وري
رښتيا مي هم په خوله کيږنن قسم نيولی دی

---

# زنده باد

نـوم دا ســتا هــم زنـده بـاد
نـــوم زمـــا هــم زنـده بـاد

بـــیـا د چـا ویـــنـا د مــرګ
ســتا ویـــنـا هــم زنـده بـاد

دی د دروغــو مــزل لـــــنـډ
نـور رښــتـیـا هــم زنـده بـاد

زړه دي وچـــوي د تـــــیـارو
دا رڼـــا هـــــم زنـده بـاد

یـوه غــــبـرږه کلـــکـــه را
مـیــنـه بـــیـا هــم زنـده بـاد

شـــي پـه سـخـتـه کـي پـکار
دا وفـــا هـــــم زنـده بـاد

خـفـه کـــېږي پـه بـدرنـګ
نـــو ښـــکلا هـــم زنـده بـاد

د غـربـــــت کـــډي پـه سـر
پـرمـخـــتـــیـا هـــم زنـده بـاد

د هـــر چـا وي خــدمتـــګار
یـار اشـــنا هـــم زنـده بـاد

ورک خـیـــرن مـخ خـیـرن زړه
نیـــت صـفـا هـــم زنـده بـاد

ســتا پـه میـــنه تـل کـــتل
ســـتا مـوسـکا هم زنـده بـاد

نسـیم ستوریـه سـتا پـرې څـه
دا او دا هــــــــم زنـده بـاد

# ترنم

د زلـفو خوشـــبوئـي ده د رخـــسار پـه تـرنم
پـيغور ئـې راتـه جوړ كـړ د خـپل يار پـه تـرنم

منمه چې دا ښكلي پـه ښـكلو كې ښاغلي
زړګـى مې تـريـنـه ويـوړو د ديـــدار پـه تـرنم

غـــزل دى كـه ټـپـه او كـه چاربيـتـه نيـــمـه كـې
پـــښـــتـو راتـه ډالـۍ كـړه پـه بار بار پـه تـرنم

زمـا د حـال پـوښـتـنـه زمـا د ژونـدون مـرګ دى
خـبر مې ځـكه نـه اخلې،كـړې انـكار پـه تـرنم

په تور د خپل نظر باندې، تور شوم سپين خو نه شوم
راپـاڅـــيـدم لـــه خـوبـه يـم بـيـــدار پـه تـرنم

دا ګـــډې وډې لـــيـكـې نســـيم ستوريه شـاعـره
ليكلى دې كـوم شـــعـر دى د ســـيـتـار پـه تـرنم

# يو ځل

چې د خپل ځان نه مرور شي سړی
په اوتو بوتو باندې سر شي سړی

چې د اسلام د دايرې ووځي
لکه هندو غونډې کافر شي سړی

د غريبۍ دې الله بيخ وباسې
د کلي وځې در په در شي سړی

چې ئې د عقل دروازې بندې شي
په سترګو ړوند د بل لښکر شي سړی

په تهومتونو باندې رنګ به وې تل
د پښتنو چې څوک رهبر شي سړی

د تخيل په تال چې کيني يو ځل
يا خو باچا يا خو وزير شي سړی

چې د ولس په زړه کې ځای پیدا کړې
هـلـه د کار او د هــنـر شـي سـړی

د بـد عـمـلــو ملـګـرتــیـا نـه کـوي
پـه ســمـه لاره بــرابـــر شـي سـړی

زمکه پرې تنګه شي بې خوده ګرځي
چې یار د مرګ ځینې خبر شي سـړی

داسې ویـده فکـرونه وېښ بـه نـه شي
چې خپل الوت ته مات وزر شـي سـړی

پـه رښـاګانو بـه تـیاري خـپري کـړې
رښـتیا ، رښـتیا نـه چې بهـر شـي سـړی

د وېـرې غـږ چا تـه کـولی نـه شـې
نسیمه ستوریه کور کې نـر شـي سـړی

# برکت

چـې نــظــر ئـې یـو پـه بـل شـې
یــا بــه خـــاوري یــا بــه ګل شـې

د ادم بـچـــــي پــه جـــــنـګ دي
د وړو غــــونــــــدې بــه دل شـې

چـــې پـــه لاره کــــوږ روان وي
نـــو خــطـا بـــه تــرې مــنـزل شـې

د ګـــرنـــــګ پــه ســــــر ولاړ دی
پــرېــوتـل ئــې یــو پــه ســل شـې

چـــې رڼـــا تــه تـــیـــاري غــواړي
ړونــد د ســتــرګــو ئـې ګـوګـل شـې

د ولـــس حــق چـــې خــوړل کــړي
نـوم بـه ئـې پـاتـې هم د غـل شـې

د تـــــيـارو پـه سمـــــندر کـې
لاهــو شــوی ښــه عـــمل شـې

بيـا به وخـت وي ورنه تـير هـم
کـه هــر څــومـره دی بـدل شـې

ګـرځيـــدلـی بـه بيــا نه شي
چـې پـه دوارو پښــو شـل شـې

چـې د کـرکـې څـوک مـنـکـر وي
نـو د ميـنــــې سـره مـل شـې

سـوله جـنـګ پـه ځـای چې راشي
کلـی کــور د سـرې خــپـل شـې

د ويـــــــښ انـد لـه برکــــته
د نسيم ســـتوري غــــــزل شـې

# فرق

ما د خپل وجود د قتل اعلان کړي
دي خپل فکر مې د فکر ارمان کړي

زه د اور او سمندر تر مینځ ولاړ یم
پاکي میني باندې ما بدګمان کړي

د سبا فکرونه ورک د پرون غم خورو
مونږ په دغه لار تل عمر تاوان کړي

د هوا دغه انځور له ښایست جوړ دی
په مزه مزه ئې ځان هم روان کړي

چې پښتو او اسلام دواړه ئې جامي دي
دې ماشوم په غوږ کې چا دی ازان کړي

د نسیم ستوري غزل کې لا څه فرق دی
کړو کرښو ئې په کرښو باران کړي

# ځولۍ

د سـيالانـو سـره سيــال ئـې هـر يـو سـر کـړه
د نــړۍ پـه بـام قــدم ئــې بــرابــر کـړه

تورتـمـونـه دې نـور خـپلـه کـډه بـار کـړي
توره شـپه ئـې لـويه خدايه نور سهار کـړه

د يـووالـي درس پـه هـر يـو پـښتون ياد کـړه
دا د پـوهـي چــراغ بـل، هـم لــروبـر کـړه

ژوند ئـې داسې د احساس پـه لمن خپورکـړي
دی د خـپل ولـس پـه درد بـاندې خـبر کـړه

دغـه زوړونـه ئـې يـــو بـل نـه مـــرور دي
پـه وحـدت بـانـدې ټـکـور دغـه پـرهـر کـړه

د نســـيم ســـتوري ځـولـۍ ګـلـونـه راوړل
نــور نـفرت د پــښتنو نـه مســافــر کـړه

# درشل

کـه تـا پـخــوا نــه د قــام غــم خـوړلـی
دغــي ړنـا بــه اوس تـــورتـــم خـوړلـی

دا ســتـا پـه پـوهـه بـانـدې تنـدر پـرېـوت
ښـکـلـی تصــویـــر ئـې د صـــنـم خـوړلـی

لـمر خو د شپې سپوږمۍ د ورځې راغله
وخـــت ســـرچـــپـه نـــوم د ادم خـوړلـی

نـور بـه ګیـلـې پسـې ګیـلـه نـه لیـږم
وجـود مـې سـوچ هـم دم پـه دم خـوړلـی

زمـا د خـــپـل ســـیـوري نـه ویــره کـېـږي
زمـــا ئـــې ګـــرځــــنـده قـدم خـوړلـی

زار د نســیم ســتوري د شـــعـر لـه درشـل
زمـــا د ســـتـرګـــو نـه ئـې نـم خـوړلـی

# لايق زاده لايق

نـظـــرونـــــه دې خـامـــوش دي
قـــدمـونــــه دې خـامـــوش دي

ســتـا فـكـــرونـه لـــــيـوني وو
ټـول سوچـونـه دې خـامـــوش دي

د ولـــــس درد دې پـــه زړه کې
اوس دردونـــه دې خـامـــوش دي

ســتـا لـــيـكــنـي د پـښــتـو وې
نـن شــعـرونـه دې خـامـــوش دي

تـه لـــيـكـوال د خـپـلـي ژبــې
اوس لـيـكـونـه دې خـامـــوش دي

انـځـــورونــو تــه دې ګـــورم
تصـــويـرونــه دې خـامـــوش دي

د پــښـتـــــو د ادب شـــال وې
قلـــــــمونه دې خـامـــوش دي

څـــه بـې وخـــته رانه لاړې
دا وخـــتونه دې خـامـــوش دي

ای زمـــا د پـلار ملـــګـــریه
منـــزلـونه دې خـامـــوش دي

غـــږ دې نـــه اورم لایـــــقه
اوس غـــږونه دې خـامـــوش دي

رب دې هـــغه دنـــیا درکـړې
ښـــایسـتونه دې خـامـــوش دي

نسـیم ستوری کـړې پـوښـــتنه
جـــوابـونـه دې خـامـــوش دي

# حق

ددې دنګــــــــې دروازې نــه وتــې نــشم
د ديـــوال کـــړې ردې نــه وتــې نــشم

پـه مـا تـور دی چې مـا فکـر قـتل کـړی
د دروغـجــــــنې اوازې نـه وتـې نــشم

هـر سـړی تـه سـړيخـور سـړيخـور ښـکارم
د خـــپل ســوچ د دايـــرې نـه وتـې نــشم

پـه اسلام باندې ميـئن يـم شـکـر خدايـه
ددې پـــاکــــې عقـــيدې نه وتـى نــشم

ښه پوهيـږم چې زه خوښه د هغې نـه يـم
د هـغـــې د زړه ديـــرې نـه وتـې نــشم

نسيم ستوريه مـا دا حـق خـپل ادا کـړی
زه د خـپل سـيوري آيـنې نه وتـې نــشم

# ولس

مـيــنـه ښــکلا ده د ښــکلا پلـوشــي مـه رنـدوي
د پيــغلـو هـيــلـو د حــيا پلـوشــي مـه رنـدوي

پرېږده چې سيالو سره سيال شو د نړۍ پر مخ تل
پــوهـــه رڼـــا ده د رڼـــا پلـوشــي مـه رنـدوي

چـې د تــيـارو د سـمـــنـدره مـو کـشـتـۍ وسـاتـي
دغـه راتلـونـکـي د ســبا پلـوشــي مـه رنـدوي

د نـن مـاشـوم هـم د ســبا د سـرېـتوب نـښه ده
د تـنـکـي ويـنـــي د وفــا پلـوشــي مـه رنـدوي

زده کړه په هر انسان ده فرض که هر ځای کې وي هم
دغـه رښـتـيا ده د رښــتـيا پلـوشــي مـه رنـدوي

سبا ولـس ورتـه نسيم ستوريه پيغور ورنـه کـړي
د ښـو لفـظـونـو د مـانـا پلـوشــي مـه رنـدوي

# وګړی

ښکلی فنکار وګړی
د کلي ښار وګړی

په پښتنه مینه هم
دغه سینګار وګړی

ولاړ په ننګ د وطن
دلته قطار وګړی

د هیواد خاوره به کړي
ګل او ګلزار وګړی

منزل په لوري درومي
هغه هوښیار وګړی

ملا به پی مونږه تړو
دا دی د شمار وګړی

د پیغلو هیلو غاړه
کې دې شي هار وکړی

د پښتنو دوښمن ته
دی شي انګار وکړی

حق د پښتون غواړي تل
ویښ او بیدار وکړی

پښتو په سر هم دار ته
شولو تیار وکړی

شمله ئې ټیټه مه شه
دی د دستار وکړی

نسیمه ستوریه په ما
ګران دی د کار وکړی

# جواب

زړه دی زما په زړه کې تنګ دی چې دا تنګ دی ولی
زما د سولې سره جنګ دی چې دا جنګ دی ولی

د خپلې پوهې د ښکلا په بام ئې تګ کړی دی
هغه ښایسته سړی بدرنګ دی چې بدرنګ دی ولی

ما خو د مینې کرونده پخپله زمکه کړې
زما وجود په وینو رنګ دی چې دا رنګ دی ولی

کلونه پس رامخامخ شو مخ ئې واړاولو
زما د یار په زړه کې زنګ دی چې دا زنګ دی ولی

په ونه جګ نه دی د عقل پلوشې ئې ړندې
دلته دا تیټ سړی لوی دنګ دی چې دا دنګ دی ولی

ای نسیم ستوریه دې پوښتنې ته جواب راکړه زر
چا په بې ننګو کړی ننګ دی چې دا ننګ دی ولی

# ملغلري

د يـــارانــو نــه جـــــــــــدا ئـي
خـــو پــه زړه کــې د هــر چـــا ئـې

ســـتا فکـــرونه مــې خـــپل کــړي
تــه هــــــم ســـــتورى د ســـبا ئـې

پـــه هـــر ځــــاى دي يــادومـــــه
پــه هـــر ځـاى کــې تـه رښــتـيا ئـې

د پـښــــــتو پــه نــــــــنګ ولاړه
د پــښتو پـه نـــنګ شـــيدا ئـې

هـــــــــيرولـــــى دي زه نــشـــــــم
زخــــمـــــي زړه لــــــــره دوا ئـې

ســـتا خــــبري ملـــغلــــــــري
د نسيــــــم ســــتوري دنـــيا ئـې

# نوم

رابانـــدې ګـــران دی هـــــیرولی نه شـم
زړه کـې ســـاتـــمه غـورځـــولـــی نه شـم

زمـــا پـــه ښـکلــو بـانـدې شـــک راغلی
بـــدرنـــګ مـخـونـــونه پـــټولـــی نه شـم

پـــه نـــــیمه لار ورتـــه ولاړ یـــــمه زه
دا خـــپله تـــمه غـــوڅـــولـــــــی نه شـم

د هـغې جـــب کې خـــو زما تصـــویر دی
خـــبر ئې اخلـــم خـــو ورتللـی نه شـم

د اســمان ســتوري خـــو جـــرګه ورلـــېږم
لـــمر او ســـپوږمـــۍ ده ړنـدولـی نه شـم

د نســـیم ســتوري پـه شـــعرونو کـې هـم
نـوم ئې راغلـی دی لـوســـتلـــی نه شـم

# درمان

محبـت نـه خو یـو ځاځکی باران واخـله
تـرنــم بانـدې خــو نــوم د جـانان واخـله

پـدې لاره کـې اغـــزي دي شیــــندل شـــوي
تـه د امـــــن د بـاغــونــو ګلان واخـله

نـاصیـحان دې نصحـت کـړي مـه ئـې مـــنه
د ټـوپــک پـه ځـای قلـم د ایــمان واخـله

دا سرې دا ستا پـه خوې دا ستا پـه رنګ دی
پـه ژونـدون ددې د فـکـــر داســتان واخـله

پـه پیـغور بانـدې پـه زړه غلـبیل غلـبیل شوې
ځـه ورځـه اوس د رقیـــب نـه تـاوان واخـله

د زړه درد دې نسیـم سـتورى تـه ښـکاره کـړ
لـــــدې درده د دردونـــو درمــــان واخـله

# ارزانه

له تـا سـره د سـولـې ولـې ورانـه ده وطـنه
پـه امـن خـو دنـيا ټـولـه ودانـه ده وطـنه

دا ظلم دی ګناه ده چې څوک تا ته کويا کنې
دا لـوبـه ددې جنګ دلـته روانـه ده وطـنه

تـنـکـې ګلان د امــن جل وهلـي رژيـدلــي
پـخـــه ســتـه د ونـې پريــشانه ده وطـنه

د بل د کور ډیوه به ستا تورتم مخ څنګ رڼا کړي
یـقـین مې نه راځي دا بې ایـمانه ده وطـنه

زخمونه دي دردونه دي دا ستا د وجود ساه کې
ستا خاوره بـې طبیـبه بې درمـانه ده وطـنه

بې وسـه نسيم ستورى خپلي اوښکي څڅوي
دا ویــنه د پښـتون دلـته ارزانـه ده وطـنه

# بيدار

پدغي ځای کي د خپل ځان نه امتحان اخلمه
قلـم راخلـمه او نوم پرې د جـانـان اخلمه

چې ئې زما زړګی پخپل زړه کي ساتلی پـټ دی
د زړګي غل نه زه د مينې خپـل تاوان اخلمه

مـزل مـنزل تـه د ارمـان د رســيدو په خـاطـر
په لار روان يم قـدمونه پـه بـاران اخلمه

ځمه ورځمه چې خياط ئې را ته کړې پيوند هم
د غـريبـۍ دغـه شلـيدلی مي ګريوان اخلمه

دا شته رڼا ئې د تـيارو په سمندر خپره کړي
بلـه ډيـوه مي د خپل فکـر د ارمـان اخلمه

مورچل د ژوند چي مي د ژوند ذهن بيداروساتي
د نسيم ستوري يـو غـزل او يـو داسـتان اخلمه

# نظار یوسفزی

د یـــارانـــــو لــه قـــــطـاره لاړي لاړي
د پـښــتون د بــاغ مـالـــیاره لاړي لاړي

چي پـښتو دي وه لـیلا تـه ئي مجنون وي
د پـښـــــتو ژبـــي ســـالاره لاړي لاړي

ستا خـیالـونـه د پـښـتو د نـاوي شال وو
د پـښـــتون فـکـــر ســـرداره لاړي لاړي

خـدمـتـګار وي د ولـس د رنځ طبیب وي
د نـــرۍ د کـلـــي ښـــــاره لاړي لاړي

ملګرتیا کي تل د سر او مال، نه تیر وي
زمــا نـــر غــــیرتـي یـــاره لاړي لاړي

نســـیم ســتوری دي د میـنـي پـــوروړی
رب دي وبـخـــــښه نـــظـاره لاړي لاړي

---

# ونډه

دا اورېده خـــــبره لـــــــــنډه ده يارانـو
دا چې مــــاتـه د چـا ژرنـــده ده يارانـو

پـوهـه علـم پـه کـندو کې غـريو نيـولې
د رڼـــــــا دروازه بــــــــنده ده يارانـو

چې هغـه ئې پـه سر ناست دی خاموشي ده
د نـــرۍ نـــه جــــدا خـــنډه ده يارانـو

قـــهرجـن بـــادونـه ګـــډوډ لکـــيدلي
نن لـه ويـرې نـه غـوا شـــنډه ده يارانـو

د هغـې د وجـود ســـاه تـه زه حـــيران يم
دا کـيـــسه چـې اوس بـريـنده ده يارانـو

د نسـيم سـتوري قـــلـــم ئې غـم کې ژاړي
اخيـستلــــي پـه کې ونـــډه ده يارانـو

# خبر

ګاونــــډي کــړی یـــرغــــل دی
خـــیال او فـکـــر ئــې د غـل دی

مـــا د خــــپل کــور نـه وباسي
زمــــا ورور ورســــره مــــل دی

رب دې زر راتـــه هـــــلاک کــړي
چې پـــه مـا ئـــې کـړی چـل دی

حـــق حیـــــــران ورتـه ولاړ یـم
غـلام کـړی زمـــا خـــــپـل دی

فــــریبجـــن دی دروغـجـــن دی
د شــــیطان پـه پـل ئـې پـل دی

ای نســـیم ســـــتوریه خـــبر شـه
ســــتا ولاړ هـــم پــه درشـل دی

# غلی کینه

نوم چې مې دا ستا په خپل قلم باندې لیکلی دی
هغه دی هغې اوس په کتاب کې هم لوستلی دی

ډیر به انتقاد کوي چې ولې خپروې تصویر
ما خو د یادګار لپاره ځان سره ساتلی دي

ستورو د اسمان نه مې رڼا ورته راوړې ده
شکر دی هغې هم په ډالـۍ باندې منلی دی

نور به په جانان باندې نیوکه زه ونکړمه
زړه کې ئې انځور د محبت مینې نیولی دی

ته لکه باچا هغه ملنګ د زمانې ښه دی
ستا هر یو تیری ئې تل په ځان باندې زغملی دی

څوک چې ته راغواړې نو هغه به دلته راشي اوس
غلی راشه کینه نسیم ستورې پسې تللی دی

# خوشبویي

دا ویښ قلم ئې ښکلی رنګ لري هم
رښـتیا هـمدا ده فـکـر دنګ لـرې هم

د خـامـوشۍ پـه دغـه مـاتـه درشل
زړه د بـاچـا خــوې د مـلـنګ لـرې هم

یو سـړی تیـټ یو سـړی جګ له ونـې
دا مـنـځـنـی خــوې د پتـنګ لـرې هم

د نیـمـې شـپې او د سـهار په مینځ کې
د وخـت په شونډو چې قلنګ لـرې هم

جانان د خپل جانان خـاطـر نه کوي
زړه ئـې د زړه د سترګــو جنګ لـرې هم

نسیمه ستوریه چې دا کـوم بـوټـی دی
چې خـوشـبوي هـم د لـونګ لـرې هم

# پاتي

ډېر کوشش مې وکړ دا خپل ځان مې هم بدل نکړ
مینــه مې کــرلې ده د مینــې مې ځــان مل نکړ

دومـره نفرتونه مې پـه زړه کې خــپاره شوي دي
خپل مې نن پردي کړل دا پردي مې ګله خپل نکړ

هســې ځـان ازاد بـولـم غـلام فکـر لـرم
مـا دا غــلام ذهـــن د ازاد ژونـدون مـزل نکړ

ډېري خاموشۍ ئې په خپل زړه کې کلک ترلی یـم
مـا د جانان کـور د خپل زړګي اخـر مـنزل نکړ

پرېږده چې تیاره مې وجود وخوري او سبا نه شي
ما په رڼا ورځ تـورو تـــیارو ته جوړ اجـل نکړ

پـاتـي یـم راغـلـی دي خـوږو خـوږو یـارانـو ته
مـا د نـسیم ستوري په غـزل هم جوړ غـزل نه نکړ

## پټه

احساس ئې د بيلتون د فکر ساه ته رسيدلی
دا يو سرې په تيښته نن باچا ته رسيدلی

منمه ، چې مغروره ده نرې نه ده منلي
وزر ئې د الوت د دوښمن خوا ته رسيدلی

پښتون وژنه بس نه شوله لا پسي زياتيږي
د سولي دا خبره بس هوا ته رسيدلی

د ډار کلي کې اوسي او په هر چا باندي شک کړي
هر کار ئې د ثواب ستري ګناه ته رسيدلی

د زهرو په پيالو کې ئې سکروټي ښوټکيدلي
هنداره ئې د خيال هغې ژړا ته رسيدلی

چې ما او تا نه پټه وه د دروغو اوازي وي
خبره نسيم ستوريه نن رښتيا ته رسيدلی

# ښایسته خوي

راز ئـې د ځـوانـۍ پـه محـبـت کـې دی
زړه ئـې ښـه صـفا پـه صداقـت کـې دی

ودې چـوې هـغه زړه چې بـیلتون غـواړي
زړه ددې انســان تـل پـه وحدت کـې دی

شـپـه او ورځ خـپـل رب لـره سجده کـوي
پـوخ ئـې ښـه ایمـان پـه عـبادت کـې دی

نـر دی د حـجـرو جـرګـو سـړی مـو دی
بل تـه درنـښت غـواړي پـه عـزت کـې دی

خـاوري د وطــن سـره ئـې مـیـنـه ده
غــږ ئـې د غـړونـو پـه غــیـرت کـې دی

داسې یو ښایسته خوي خدای ورکړی دی
دا چې نسیم ستوریه خوږ نعمت کـې دی

# دنګ

چې د ښـښلـو شو د کار او د دسـتار سـړی
پیدا به نشي بل ددې غوندې بـیدار سـړی

زمونږ نه بیل شو اوس سفر کوي هغې دنیا ته
کډې ئې بار کړې اوس روان په بله لار سـړی

لکـه ډیــوه د رڼاګانـــو وه د پـوهـې چـراغ
په هر محفل کې د جرګې او ښه هوښیار سـړی

یاد به ئې پاتې وي او روح به ئې همیش ښاد وي
د هر چا وو ښه خدمتګار او تابیدار سـړی

د ژوند مورچل کې خپلې مینې نه منکر نه وو
قیصې اورم چې په مینه وو سـردار سـړی

نسیمه ستوریه تا لیدلی وو لـوستلی وو
په قـط قـامـت پەفکـر دنګ لکه چینار سـړی

# تيار

پښتنه خاوره کې پـردې جنګونه مـه‌خـرڅـوه
واوره په مونږ د بـې عقلۍ کاروني مـه‌خـرڅـوه

هغه ولاړ دی د ژونـدون د دروازي په مينځ کې
په پښتون قـام پښتون وطن غمونه مـه‌خـرڅـوه

په يو وجود مو د سينې په سر چاړه پراته ده
نور څه ورک کېږه دا د غم دردونه مـه‌خـرڅـوه

دنيا دې لاړه شـې تر بـره د اسمانه پـورې
زمونږ په خاوره کې دا پوچ تخمونه مـه‌خـرڅـوه

ژبې ته راشې او په شونډو بيا ايره شـې
ددې د پاسه په مونږ نور اورونه مـه‌خـرڅـوه

زه د پښتو په سر تياره يم چې په دار وخېژم
په ما نسيم‌ستورې خو نور تورونه مـه‌خـرڅـوه

# خواږه

د شپـي مه ګرځه رڼا پسي تـــيارو کې
چې مـزل کوې په غـرونـو او رغـرو کې

د چـينار لانـدې چـينه يخـه بهـــېږي
خوږکـيدلي دې اوبـه پـه سرو غـرمـو کـې

ســتا عـادت د قــدمونو عجــبه دی
چې ورګرځي تل د جنګ په سرو لمبو کې

انـتـظار دې د راتلونکي بـدلـون غـوارې
اوښکې مه ساته د سترګو په لـيمو کې

تابـيدار د خپل ولس او د خپل قام شه
ژوندون مه پرېږده غلام پردو ورشو کې

د نسیم ستوري د فکـر خوارږه واخـلـه
چې شمله دې ټيټه نه شي په شملو کې

# دنیا

زړګـی مې ولې اوس هغې ته شکایت کوي
څوک چې پښتو په نوم تل عمر تجارت کوي

دلته به اوښکې شي جرګه د ګریوان په سینه
وخت داسې وخت دی چې هغه مـنافقت کوي

دا چې ذهـنونو کې تـنور د نـفرتونو جـوړ
واوره ناصیحه تـه اوس چا تـه نصحـت کوي

فکر د بام سر ته ختلـی سپوږمـۍ تـه ګوري
څه د خیالونو په نړۍ کې مصلحت کوي

یو وخت د بل وخت په مرۍ باند قدم ایښی
دغــه رڼـا ده د تــیارو مخالفت کـوي

د محـبت د پیـاوړتـیا د ژوند چاق ګاموـنه
نسیمه‌ستوریه لـه تا زار چې محـبت کوي

# اوس

ســـترګـــو فيــــصله وکــړه
حـــسن يـــو لمــــبه وکــړه

اوښکـــه تـــرې روانـــه شـــوه
زړه تــرېـــنه ګـــيله وکــړه

څـــيرې ئـــې ګـريـــوان شـولـو
ژونـــد ئـــې تــــماشه وکــړه

مـيـنې غـبـرګ کـې پـروت نـفرت
دې ســه ئـــې جـــرګه وکــړه

تـــور پـــه ميـنه پـــوري شـــو
مـيـــنې حـــوصــــله وکــړه

دلــــــته نســـيم ســتوري اوس
مـــا تـــه دا قـيــــصه وکــړه

# تاوان

زما د زړه په کور کې ولې بندیوان تصویر دی
ما نه خفه تا نه خفه هم د خپل ځان تصویر دی

مینه د کرکې په لمن کې ټوکیدلی نه شي
ځنګه شیشي غوندي مات شوی د جانان تصویر دی

ورته لږ وګوره په غم کې هم موسکی موسکی دی
په سینه پروت د چا د اوښکو د باران تصویر دی

څو ځلي ما د خپل ضمیر څخه پوښتنه وکړه
زه ورته ګران یمه که ما باندې ئې ګران تصویر دی

دا مخامخ ورته ولاړ یمه په فکر کې ډوب
ما سره دی نکړې خبرې ډیر نادان تصویر دی

نسیمه ستوریه خپل قسمت مو جواري کړې ده
مونږ په کته کې ګټلی د تاوان تصویر دی

# تیښته

اې لـیونو مـشرد پـښتون سره لښکر نـشته
شکـر دی خدایه پښتنو کې پیغبر نشته

دلته اتفاق دی سر خوړلی ځان ځاني ده تـل
بام نه پریوتل دي خو الوت ته خپل وزر نشته

وګوره رڼا تورو تـيارو کې ډوبـه شوي ده
څه عجب قانون دی د ژوندون پکې نظر نشته

وېښ خلک ویده دي دا ولاړ هم خوځیدی نشي
داسي مالومېږي چې کاروان سره رهـبر نشته

پاتي له سیالانو یو او سیال سره به سیال نه شو
وخت رانه تیریږي او په برخه مو هـنر نشته

سیوري نه چې تښتي او د لمر د تېنګي نه دی نن
ستوری نسیم ستوری تینګ ئې عزم لکه غر نشته

# صفتونه

ســتا د پلـو لاندې چې اوســیږم زه
خامـخا په مـــینه بــه پــوهـــیږم زه

ســترې یـم چې ســتا غــیږې ته راشمه
تا ســره پــه غــیږ کــې دمــه کـیږم زه

ســتا نوم مې د خپل نوم پورې وتړو
اوس بـه دې د نــوم نه،نه بیلــیږم زه

اخلــمه ږنا ســتا د ښـایست نه اوس
ســتا ښـکلې اوربل نـه چې تـاوېږم زه

مـا تـا ســره کــړې محــبت دی تـل
ځکــه دې لــه مینــې لوګـی کــیږم زه

زه خــو د نسیم ستوري پــه شان نـه یـم
ســتا پــه صفــتونو نــه مــړیــږم زه

# پام

ناست چې ئې ته په لوی مقام دلـــبره
غــچ دې وانه خیستو امـام دلـــبره

یـا خو تـرلی چا د ښـپو نـه ئـې تـه
یـا خو تـه ئـې د چـا غلام دلـــبره

د ولـــس غــم درســره نــشته دلـته
نـنګ دې ونکـړ پخـپل قـام دلـــبره

هســـې په خـوله تـه سباوون راولـي
ډوب په تیـارو کې ئې مـــدام دلـــبره

دا چې پـه تـا بـانـدې مې مـلا تـړله
تــه د اولـــه وي نـــاکـام دلـــبره

زه د نسیم ســـتوري د شـعر پـه ژبـه
راړه‌وم ستـا هـــمدې تـه پـام دلـــبره

# مخالف

په ځان مئـین خلک د پوهي د رڼا مـخالـف
دا د وطـن د ابــادۍ د پـرمختــیا مـخالـف

یو مو حجره یو مو جومات یو مو پښتو او اسلام
نو بیا ته ولې ئې زما او زه دا ستا مـخالـف

د هغې فکر خو د ځان په دایره کې دی ډوب
د هغې عـقل دی د عـقل د ښکلا مـخالـف

د یـو وجـود ټوټې ټوټې راغـونډول غـواړي
ملګرو وېښ شۍ د بیلتون شۍ خامخا مـخالـف

د اور لمبو کې د سپرلي د حسـن کـر مه‌کوه
دا تور لـوګی ئې د نـرۍ تـازه هـوا مـخالـف

نسیمه ستوریه ژوند ژوغورنې ته سنګر پکار دی
قاتل ولاړ دی اوس د ژوند د هرې ساه مـخالـف

# دار

شکـر خـدایه چې پښتون یم مسلمان پیدا یـم
د انسانـیت په دایـره کې یم انسان پیدا یم

پخپله برخه باندې داسې لکه غـر ولاړ یم
لکـه غـېرت لکـه حیا لکـه ایمـان پیدا یم

ما ته مې رب راکړی دغه شان ژوندون ډالۍ کې
د هر چا رنځ د زړه زخمونو له درمان پیدا یم

د چا میرویس د چا احمد د چا خوشحال خټک یم
ساده پښتون یم هم په خوئې د باچاخان پیدا یم

قلم مې توره ده کـتاب مې د لـفظونو انـځور
د ننګ په خاوره د غېرت په هرمیدان پیدا یم

نسیمه ستوریه د پښتو په سر مې دار ته ختړی
مرګ وارخطا شـو د پښتو په سر جانان پیدا یم

---

# ځانګې

ستا د لفظونو د خبرو ځانګې ماتې شولې
زما په ژبه د سندرو ځانګې ماتې شولې

نور به دا ژوند د خپل د مرګ سر نه قربان کړم درته
چې دې د مينې د منګلو ځانګې ماتې شولې

هر چا د خپل وس پورې لوټ کړلې وطنه زما
د دنګ چينار او د نخترو ځانګې ماتې شولې

چې مې قلم په زمکه ولويدو ميده ميده شو
زما د سوچ هم د وزرو ځانګې ماتې شولې

په بيدارۍ کې يم خاموشه حق غوښتلی نه شم
تاوان د سر دی د ګټلو ځانګې ماتې شولې

نسيمه ستوريه د کاروان نه دې ورک شوې خلک
په نظر نه راځي منډلو ځانګې ماتې شولې

# بغاوت

ما خـپل وجـود تـه بـد نظرو کـړو
کــبر پــه ځـان مـې بـرابـر وکـړو

د خـیالـه کـوږ داسـې روان وم زه
چې مـې پـه لاره بـانـدې شـر وکـړو

د جــنـګ د زوره زه خــبـر نـه وم
چې پردی جنګ مې پخپل ور وکـړو

د محـبت نـه مـې تـوبـه چې کـړه
مــا د نــفـرت ســره ســفـر وکـړو

پاتـې د خپل د سـیال د سیاله شوم
ژونـد مې بې قـدره بې هـنر وکـړو

وغـورځــیدمـه د خــپل بـامـه زه
چې مـې پـردي پـټـې کې کـر وکـړو

تــوره بــلا مــې ملـګــرې د لار
مخالفــت چې مـې د لــمر وکـړو

اوس خو تنها پدې مورچل کې ناست
چې مې پریکون د خپل دلبر وکړو

عقله قسمت دي په جنګ راسره
دوښـــمن ګـواز زمــا پــه سر وکـړو

وجود زخمي چې مې په زمکه پروت
طبــیــب انــکار زمــا لــه در وکـړو

پـه رنـځ اخــته د بیلـتانه یــمه
کرکې پـه ما باندې اخــتر وکـړو

نسیمه ستوریه پــه مــا څــه شوې
مــا بــغاوت لــه خــپل رهــبر وکـړو

# پردي پالي

په محبت کې چې ناکام خـلک دي
دا خو په فکر باندې خام خـلک دي

چې خپل ولـس ئې زورولی همـيش
خلکو همدغه نور بدنام خـلک دي

اول چې کار کـوي بـيا فکـر کوې
دغـه زمـا د پښتون قام خـلک دي

چې ئې پښتو اسلام جامه وې پاکه
ملګـرو دغه هم نيک نام خـلک دي

چې خـدمتګار د خپلې ژبې وي تل
رښتيا هم دوي د لوی مقام خـلک دي

نسيمه ستوريه خپل چې نه پالي څوک
دا پـردي پالـي د عـدام خـلک دي

# بندیز

ښــوونځـي پـه لاره د قـدم بندیز دی
په لیک او لوست مې چم په چم بندیز دی

پرېبږده چې زخم مې ناسور شي ګرانه
زمــا د زخـم پـه مهـلـم بندیز دی

حالات ترینګلي مې ارمان وژني اوس
دا چې د هیلو په هـر غـم بندیز دی

اوښکي مې سترګو کې وچـیږي ځکه
پخپل ګریوان د سترګو نــم بندیز دی

څنګـه بـه سـیالو سره سـیاله شمه
زما په لاس کي په قلـــم بندیز دی

نسیمه ستوریه تا ته څه پــتـه ده
دلــته پـه ګل او په شبـنم بندیز دی

# ځولۍ

مرګ ته مې ډېرې بهانې وکړې احسار نه شو
د ما نه ساه اخلي او ما نه دی قرار نه شو

منم چې خامخا د ژوند نه به زه لاس اخلم
برخه زما پخپله برخه مې اختیار نه شو

داسې څوک راولې چې ما ته نصحت وکړې
زړه کې مې خنډ شو په خبره مې اعتبار نه شو

زمونږ د خاورې د قسمت شونډې چاودلې دی
چې په سپرلې کې دغه باغ ګل او ګلزار نه شو

وخت په غربت کې تیروي سترګې ئې وربې دي
په مال دولت باندې چې دا سړی مالدار نه شو

خپله ځولۍ کې مې جرګه د اوښکو وروسته
سره لدې هم نسیم ستوری زما یار نه شو

# بدي

دي ته تـیار دی چې پـه ما باندې فـتوې ولګـي
نــر دي هغه شي چې تــیارو لــره ډیوې ولګـي

ملګـرو غلي شی پـه خوله باندې لاسونه کـېدی
ټاپې د کفر به په مونږ باندې دوه درې ولګـي

سرې دي خپل ژوند ته حیران شي چې دا ځنګ تیرېږي
قاتل د زړه چې دې په ساه باندې پـیرې ولګـي

پـه زمکـه کـر کـه داسې وشي ګـرځیدلی نـشي
دې لوڅو ښـپـو ته دې میده میده شیشې ولګـي

پښتون ولـس بـه د هغه مـشر ځنګ نوم وستایي
پښتون ولـس ته د غـربـت چې دایــرې ولګـي

نسیمه ستوریه ځــومـره بـدې بـه ښــکاري درتـه
تـیټ دیوالونه ته چې دنګې دروازې ولګـي

# شاعري

څـه بـې کاره بـې وجـدانه شاعـري ده
د هــغـه سـرې ناکامـه شاعـري ده

چې د بل د شعر د غلا په تکل وتی
په رښتیا چې بـې ایمانه شاعـري ده

یو د یو او بل د بل نه لـر راوخلې
څـه بـې تولـه ناتـوانه شاعـري ده

عقل روند فکر ئې شل وي نه پوهېږي
څـه ناجوړه بې درمانـه شاعـري ده

چې د پوهي د درشل نه غورځیدلی
بـې هــدفه بـې جانانه شاعـري ده

نسیم ستوری خپل پردي درته غوصه دي
انتــقاد کـوي ستا ورانه شاعـري ده

# نیمګړی

ژونده په ځان زړه وسیزه ما نه مـشوره واخله
یـو کـتاب قلـم او بل د مینې ترانه واخله

ځان نور د نفرت لمن کې مه ساته راپاڅېږه
ما سره ملګریه محبت لـویه کاسه واخله

څو پوري به زړه ستا د غنم په شان چاودلی وي
راشه د یووالي د ښایست د باغ نغمه واخله

پرېږده نور فکرونه په‌سوچونو باندې کار نه شي
ګونګه ژبه مه ساته سپیڅلي عقیده واخله

ځان باندې باور وکړه منزل په لور مزل کوه
وخت درنه تیر نه شي د وختونو آینه واخله

پاتي له کاروان نشي کاروان بې تا نیمګړی دی
هم د نسیم‌ستوري د سهار نسیم وږمه واخله

# اختیار

دغه په رښتیا اوس پهلوانه ده
عقله جواب راکړه قیصه ګرانه ده

هغه ده لوی رب لره سجده کوي
هغه ده هندوه مسلمانه ده

اوس به د تیارو په مخ څپېړه شي
لاس کې ئې ډیوه بله روښانه ده

چا چې د ولس زړه ازار کړی دی
ګوره د هغې سره مې ورانه ده

پټ ئې د سینې پورې نیولی دی
دې باندې د هغې دنیا ودانه ده

هر څه ئې د خپل لاس په اختیار کې دي
ولې نسیم ستوریه پرېشانه ده

# تنده

وایه ښکلیه ستا تصویر په څه جوړ کړم
درد له د دوا تصویر په څه جوړ کړم

دلـته سختو تنګو کې ژونـدون ویـنم
دلـته د سبا تصویر په څه جوړ کړم

تنګ یم له پیغور له خپل ضمیر نه زه
تـشه لاسه دا تصویـر په څه جوړ کړم

دا مـنم چې هر څه اوس نېمګړي دي
ژوند او د حیا تصویر په څه جوړ کړم

نـشته د مـنزل په لـور ملګري مې
زه د یار اشنا تصویر په څه جوړ کړم

داسې یـو مـاحـول دی چـې ژړېـږمـه
زه د خپل مسکا تصویر په څه جوړ کړم

دا سـرې دروغـجن دی زړه مـې وچـادو
زړه ته د رښتیا تصویر پـه څه جوړ کـړم

سـوچ مـې نصحـت کـوې حـیران یـمه
دا منم چې بیا تصویر پـه څه جوړ کړم

زه هغې پردی کړم چې په تخت ناست دی
زه ددې باچا تصویـر پـه څه جوړ کـړم

ژبـه مـې ګـونګې سترګې ړندي شولي
غږ لـه د بینا تصویر پـه څه جوړ کړم

ما سـره قلـم پـه لاس کـې نشـتـه دی
ښکلی د بابا تصـویـر پـه څه جوړ کـړم

مـړ شـومه نسـیم ستوریه لـه تـنـدې زه
پوهې د رڼا تصویر پـه څه جوړ کـړم

# سیال

نــوم د ازادۍ شـــته ازادي نشـته
کور کلي کې ګوره خوشحالي نشـته

دلـته هـر یــو خان سرې باچا وینم
دلـته د غـریـب سـره دوسـتي نشـته

هـر سـړی پـه وېـره او پــه تیښـته دی
ځکـه خو د ژونـد هغه مسـتي نشـته

یـو د بـل د بـل د ویــنو تـــږی دی
ناست دي اوس مورچل کې ورورولي نشته

نوم د هغې نه اخلم چې خفه به شي
نن ئې په ځوانۍ کې خو ځواني نشته

روسـته نسیم سـتوریه مونـږه ځکه یـو
سیال سـره زمونږ چې سیالي نشـته

# ګیله

ملالــــه د مــــیوند ده قــهرمانه ده نسیمه
نـو هغه ښاپیرۍ خو په ما ګرانه ده نسیمه

په خوب کې مې د خپل جانان غـږونه اوریدلي
په وېښه ئې د ژوند قیصه روانه ده نسیمه

د زړه په سترګو ئې ګورم انځور ئې ښکلومه
پـدې بـانـدې زما دنـیا ودانـه ده نسیمه

خدمت ئې د عسکر او د غلام په شانتې کړمه
دا ځکـه خـو پـه مـا هـم مهربانه ده نسیمه

غـریـبه ده لوګره  په غرمو کې مـزدوري کړي
په خوې او په ښایست باندې خو خانه ده نسیمه

پښــتو ده پښتــــنه ده دا منـنمه چې زمـا ده
زما د نسیم ســتوري ګـــیله تا نه ده نسیمه

# طبيب

د ټـولـنې د هــنـدارې پر مخ کـرښې
د ژوندون د هـرې لارې پر مخ کـرښې

عـمل مـه کـوه زمـا پـه نصـحـت تـه
بې ګـنـاه او ګـنـګارې پر مخ کـرښې

دا ټوټې وجود به کله يو ځای کـېږي
پـه پـټـو کې دې د بـارې پر مخ کـرښې

غږ دې ځکه نن ګونګ شوي دی په خوله کې
د نـاراستي او بـيـدارې پر مخ کـرښې

چې د کرکې په لمن کې ئې ژوندون دی
د ښـايـست ددې بادارې پر مخ کـرښې

نسيم ستوريه د وطن د رنځ طبـيـب شـه
د هـغې د خـدمـتګارې پر مخ کـرښې

# حد

ګوتــې شــمارمه حساب ترينه راجوړ کړم
په سوالونو کې جواب ترينه راجوړ کړم

ماتې کرښې د يو بل سره پيوند کړم
نو د خپل ارمان ګلاب ترينه راجوړ کړم

د قلم په اوښکو لـيک وربانديې وکړم
د لفظونو لوی سيلاب ترينه راجوړ کړم

د خــپل فکــر ازاد ســوچ لــه برکــته
د رنګونو يــو درياب ترينه راجوړ کړې

چې ډالۍ ډالۍ پښتون ولس ته ورکړم
پاڼې ټولې کړم کتاب ترينه راجوړ کړم

خپل کوشش يم تر دې حــده رسولی
نسيـم ســتوري انتخاب ترينه راجوړ کړم

# وېنا

ژونـده تـيارو زه په رڼا نيولی يـم
دلمانځ نه پس ئې په دعا نيولی يـم

اخ ما نه هندو د کليمي تپوس کړې
حيران يم زه چې زه دا چا نيولی يـم

د اوښکو لـپي ګرځوم په ګريوان
زه پـه ژړا کـې پـه خـندا نيولی يـم

د زړه لـمن کـې راټولومـه مـيـنه
نـفرت هم زه نن بـرملا نيولی يـم

د زمکي سر باندې خپورشوی يم داسې
ما ده دنـيا کـه زه دنـيا نيولی يـم

نسيمه ستوريه دا به څه کېږي اوس
زه ئې د سولې پـه وېـنا نيولی يـم

# لمبې

د امــن په لاســونو مــو ټــوپک نیولی دی
مونږ خپله خپل ولس لـره کوټک نیولی دی

دروغـجـن زما فـکـرونه کـمزوري عـملونه
د چیتي په دې ښپو مې اوس فلک نیولی دی

په سترګو یم ړوند شوی ذهـن هم د بل غلام
بـادار ځکه زمـا مـلا ته چابـک نیولی دی

د جـنګ زه رهنما یم نـفرت خپروم زړه کې
ضمـیر مې د شـیطان دغـه مسلک نیولی دی

دا بد عادت مې واخیست ددې نه به وانه ورم
په سر باندې مې شکور او لوی خانک نیولی دی

نسیم ستوریه خپل ژوند مې د اور لمبو ته واچو
خپل لاس مې د بیلتون پەلاس کې کلک نیولی دی

# پاتي عمر

د زړه غـمه کـمولـی دې زه نـشم
په خفګان کې خندولی دې زه نـشم

نیمه شپه توره تیاره ده ډیوه مړه ده
باغي فکره نور تړلی دې زه نـشم

ستا یادونه دي خوبونه رانه اخلي
څنګ دې هیر کړم هیرولی دې زه نـشم

ستا د حال نه خبر نه یم پریشان یم
په بـیناء سترګو لیدلی دې زه نـشم

دا شیطان مي وسوسي په زړه کي اچې
ای ایـمانـه خرڅولی دې زه نـشم

نسیم ستوریه دنیا هر چا نه ده پاتي
پاتي عــمره ډیـرولی دې زه نـشم

# د سوال جواب

د ګناه په ځای ثواب شه
خوشبوئي ته د ګلاب شه

د دنیا شراب برباد ښه
د جنت یو ګوټ شراب شه

چې موسکا په زړه کې کر کړې
د خوښی ښکلی سیلاب شه

په نظر چې د هر چا شي
د خپل حسن انتخاب شه

بیا د ژوند په زمکه داسې
راوریږه بې حساب شه

د پښتو ښایسته ټپې ته
یا قربان او یا رباب شه

چـې بـدرنـګ مخونـو پـټ کړې
د هــغـه ژونـدون نــقاب شـه

اړوم دې پــاڼــې پــاڼــې
تـه زمـا د لوســت کـتاب شـه

سلطــنت کــوه پـه زوړنـــو
لـوی د مـیـنـې یـو دریـاب شـه

نـور بـدلـون پـه زړه کې راوړه
یـو ریښتـنی انـــقلاب شـه

پـه دوښـمن د پښــتنو هـم
تـه لـوی قــهر شـه عـذاب شـه

د نسیم ستوري پـه شــعر کې
تـه زمـا د ســوال جــواب شـه

# ولاړ

زما نه مخکې چې رانده ولاړ دي
دا ځيني ځيني خو کاڼه ولاړ دي

د حـرکت ښــپـي زلـونو نـيولـي
دا روان خلک چې پاخه ولاړ دي

اشنا ورجګ شه ورته سر ښکاره کړه
لارو کـوڅو کـې دا څـه ولاړ دي

نه خو اوس مخکې او نه روسته ځې نو
دا روسته پاتي پښتانه ولاړ دي

په بيدارۍ کې نور په خوب ويده دي
يواځې ستا اوچت بـاڼـه ولاړ دي

نسيمه سـتوريـه نـبـمه شــپه او رڼـا
څوک پکې سپک او څوک درانه ولاړ دي

# ځان

دا زمــا د ژونـدون ځــان دی
بې له تا مې ژوندون ګران دی

پـرې یــو بل نــه جدا کــېږو
پــه نــفرت کــې دا تــاوان دی

ستا پــه مینه کې رسوا یــم
ســتا د مینې دا احســان دی

زمــــا مینــــه ســمـــــندر ده
نو ستا مینه لوی اسمان دی

پــه لــیکلي بــه ئې زه درکـړم
زمـا زړه پــه تــا واوان دی

ستا نسیم ستوری دا ستا دی
ســتا نسیم ســتوری جانان دی

# جوړ

دا ګـنـاه بـه ای ملګـرو کلـه بـس کړم
دلمانځه چې زه روسته بیا اودس کړم

کـبرجن یـمه مـغرور یم نه پوهـېږم
درانه خلک چې زه سپک لکه د خس کړم

لوی شیطان زما په نفس چې باچاهي کړي
دا یـووالـی اتحـاد بـه تـسونس کـړم

د خـپل ځان پـه تـماشه یمه ولاړ یم
تا پسي به خنداګاني په کـړس کـړس کـړم

چـې پـه سـلو قدمونو نـه رسـېږم
باقي پاتـي قدمونه بـه زه لـس کـړم

د نسیم ستوري غزل ما ته پیغور کړي
تا ته جوړ به یو ذیـن کړی ښکلی آس کړم

# تود تنور

لاسـونه دواړه ئـې پـه اور نـیولي
پـه تـود تـنور کې ئې نسکـور نـیولي

پـه بیدارۍ کې چې ویـده دي خلک
پـه بیناء سترګو چې ړانده دي خلک
ژوند ئې د مات منګي کودوړی ښکاري
باران د اوښکو کې لامده دي خلک
د وجود ساه پـه شر او شور نـیولي
پـه تـود تـنور کې ئې نسکـور نـیولي

منګي ئې مات کړو د ګودر پـه غاړه
د تـنـدي مـرې د سمندر پـه غاړه
هغه ګـیلـه د خـپل ضـمیر نـه کوي
تـیاري خپـرې بـه شي د لـمر پـه غاړه
ویـده ضـمیر ئـې پـه پـیـغـور نـیـولي
پـه تـود تـنور کې ئې نسکـور نـیولي

پـه زلـونـو بـانـدې تـړلـی عـقـل
د خـپـل هـدف نـه غـورځـولی عـقـل

سولـه او مينـه د تمـبو شـاتـه شـوه
پـه کلـي کـور کـې دی وژلـی عـقل
د محــبت دوشـــمن پــه زور نـيولي
په تـود تــنور کې ئې نسکـور نـيولي

ليک په پښتو باندې ليکلی نه شي
پښــتو د ځــان سره کولی نه شي
پردي جنګونو چې راوړي خپل کور ته
د سولـې نـوم دی اخيستلی نـه شـي
پيـغور د جنګ پـه دغـه تور نـيولي
په تـود تــنور کې ئې نسکـور نـيولي

چې پـه خوږو کې بـه ترخه تلي نن
د بل به سپک خپل به درانه تلي نن
نسيمه ســتوريه وخــت راغلی داسې
دا بـې پښــتو چې پښــتانه تلي نن
هر يو سرې ئې لـور پـه لـور نـيولي
په تـود تــنور کې ئې نسکـور نـيولي

# د زورلاره

ژوندون دې راته اور کړو زه د اور په لاره ځمه
زه سوی لوغړن شومه د سکور په لاره ځمه

ستا رنګ رنګ تومتونو زه قسم ته کړم مجبوره
قسم دی ای جانانه د خپل کور په لاره ځمه

دې خپل ويده ضمير رابانديې داسې کاني وکړې
پيغور ئې راته جوړ کړو د پيغور په لاره ځمه

پردې مينه مې خپله نه کړه خپلې کړم پردی زه
د ځان سره په جنګ يمه د شور په لاره ځمه

پدې نامه کې خوښ يمه پدې نامه بدنام يم
په سپينه جامه تور يمه که تور په لاره ځمه

نسيم ستوري ته وکړمه د زړه قيصه که نه اوس
کمزوری يم کمزوری خو د زور په لاره ځمه

# یاد

اروا ئـې  ښـاده  ننګيالی پښتون وو
زمونږ  د  قام دا توریالی پښتون وو

وو په ژوندونې  د  پښـتو  خدمتګار
بیدار زیرک او دی ژوندی پښتون وو

هم په اسلام هم په پښتو مئين وو
ښـه یـو  پـیاوړی بریالی پښتون وو

مونږ به ئې یاد په زړه کې تل ساتو هم
ددغـې خـاورې  مـیړنی  پښتون  وو

ربـه  هغه  دنـیا  ښـایسته  کړې  ورتـه
د پاکې مینـې  رښتیانی  پښـتون  وو

نسیمه ستوریه  تا  تـه  یاد  دی  که  نه
په فکر دنګ په زړه زلمی پښتون وو

# ختېه

غـورې شه ای جانانه تا ته پته ده
دا جنـۍ رښتـيا تـه مــلامـتـه ده

داسـي راته مه وايه خفه به شم
ستا ګـناه وړه ده زما غـتېه ده

دې کې مې ارمان نېمګړی پاتي دی
ما خو دا خـبره کړې پـتېه ده

ځکه خو مظبوته ده ولاړه ده
دا د هغې پېرې ونې ځـتېه ده

ټول ويښ دي بيدار دي خوځيدل غواړي
هغه چې په خوب ويده ده لـتېه ده

څنګه نسيم ستوريه ته پوهېږې اوس
وچه خاوره نه ده لمده خـتېه ده

# سزا

اې وخـتـه تا بلا بـلا سولونه راپيدا کړل
هدف په لور دې ګـډوډ مزلونه راپيدا کړل

منم چې ليونتوب راباندې داسې اثـــر وکړو
تصوير دې زما ذهن کې فکرونه راپيدا کړل

طبيب مې د رنځ نه ئې هسې تيروتم درباندې
زمونږه پـه زخمونـو دې دردونـه راپيدا کړل

چې ما به درته ويلې زړه کې وساتـه ناصحه
دې ستا ورې خبرې لـوې جنګونه راپيدا کړل

نـظر ئـې د رڼا مخالفت کوې ړونـد شوی
دې خپل ويده قسمت ئې تورتمونه راپيدا کړل

نسيم ستوريه دا کوم درد دی د کوم درد سزا ورکړم
زمونږ په خوشحالۍ کې ئې غمونه راپيدا کړل

# پیغور

ما ښاغلي دلته د پښتو په نوم لیکلی دی
ستا د محبت کتاب مې سل ځلې لوستلی دی

څه به رقیبان وي څه نصحت د ناصحانو وي
ما د خپل جانان تصویر په کې زړه پټ ساتلی دی

غوږ شه رانژدې شه چې خبره باندې پوه شې ته
غږ مې د هغې غوږ ته پخوا لا رسیدلی دی

څه وکړم چې ځان رانه خفه نشې چې غلی شم
داسې لار راوښایه هغه چې پرې هم تللی دی

څنګ به ښایسته نه وي لړ زماپه سترګو وګوره
دا تصویر د ښکلو په دریاب کې ما منډلی دی

نور دې نسیم ستوریه پیغورونه ما ته نه راکې
ما د محبت پیغور په سر سترګو منلی دی

# مخالفت

تـوره شـپه چې د رڼا مخالفت کړي
بدرنګ ځکه د ښکلا مخالفت کړي

چې د خپلې لار لوری ترینه ورک وي
دی به نـن او د سبا مخالفت کړي

زه پدې باندې پوه نه شومه حیران یم
رښتیا ولی د رښتیا مخالفت کړي

پدې ځای کې ئې د سترګو جنګ ګټلې
پدې ځای کې بیا د چا مخالفت کړي

په سینه کې ئې دردونه دي نیولي
نو طبیب ځنګ د روغتیا مخالفت کړي

نسیم ستوریه یو پوښتنه ترینه وکړه
دا سـړی ولی زما مخالفت کړي

# بلا

دا چې مونږ په نېمو شپو راپاځیدلی یو
یـا د لـمر په راخـتو راپاڅیدلی یو

په تیاره کې مو غمی دی نن ورک کړی
چې پـه لـــتـه د هـغو راپاڅیدلي یو

د ښـوونځي او د دفــتر نـه مو شړلي
بیـا لا هم مونږ په پښتو راپاڅیدلي یو

د حجرې او د جومات دروازې بنـدې
مونږ لا اوس هم له سجدو راپاڅیدلي یو

خلک هر څه هر څه وائې مونږ خوځېږو
پـه دعـا او په خـــیرو راپاڅیدلي یو

نسیم ستوریه خپل پردي راتـه بلا شول
ددې زمکې پـه چاودو راپاڅیدلي یو

# اتبار

د هر چا په کار کې کار لـرو ناصحه
بس همدغه يو روزګار لـرو ناصحه

نصحت دې په مونږ ځکه اثر نه کړي
پـه کـړه لاره چې لار لـرو ناصحه

د ثواب په کار مو زړه داسې بدېږي
په ګناه چې مونږ اختيار لـرو ناصحه

پام کوه چې مونږ سينې ته نژدې نکړې
تـرخه ژبـه مونږ د مار لـرو ناصحه

قاتلان د خپل وطن د خپل ولس يـو
د سـرونو کارو بـار لـرو ناصحه

د نسيم ستوري قلم مو مخالف دی
پـه هـغه کلـه اتـبار لـرو ناصحه

# دار

په صفتونو کې دا یو صفت د چا لرمه
ملګرو زه خوې د ملنګ زړه د باچا لرمه

د خپل ارمان پوره کیدلو خوب رښتیا غواړمه
ګرځم په زمکه خو فکرونه په هوا لرمه

پدې مې سر جګ دی همزولو سره ګرځمه چې
شکر خدایه په وجود کې پښتو ساه لرمه

وخته دا تا سره چې ځمه ژوندی پاتې یمه
منزل ته رسم قدمونه چې دا ستا لرمه

مینه په تور او سپین خو نده چې مئین شي زړګی
د زړه په کور کې تور لونګ ښکلی اشنا لرمه

نسیمه ستوریه د پښتو په سر که دار ته خیژم
ویاړ ځان ته بولم چې پښتو ښکلې لیلا لرمه

# لیمو

دا ګونګوسی د چا د غوږ پردو ته ورسید
په ننګ ولاړ هغه سرې پښتو ته ورسیدو

مینه به کر کړم د نفرته به توبه توبه کړم
چې مې نظر د خپل نظر نیزو ته ورسیدو

د خپلي ساه په درشل ناست یمه خاپوړي کوم
ناڅاپه غږ مې د وجود دیرو ته ورسیدو

په دې پوهېږي درننبت څوک ورکوي چرته لاړ شي
هغه میلمه د پښتنو حجرو ته ورسیدو

دا چې د ځان نه خبر نه وو نه د قام نه خبر
ویده ضمیر د تود تنور لمبو ته ورسیدو

نسیمه ستوریه د قلم کرښې دې پاکي نه شي
باران د اوښکو د کاغذ لیمو ته ورسیدو

# چل

د ژوند په لارو کې ورک کېږي خلک
دا چې يو بل نه نن بيلـېږي خلک

نن ئې تصوير باندې ګردونه پراته
همدې تصوير ته اوس ژړېـږي خلک

خپلو کې وران دي يو بل نه مني دوي
دا چې په روغه نه پوهـيږي خلک

د چا ګناه هم د ثواب په نـيت شوه
پـه ګـــناهـونو کې ډوبـېږي خلک

راجګ به نه شي که کوشش وکړې بيا
دا چې د سترګو نه غورزېـږي خلک

نسيمه ستوريه دوې ته چل وښايه
منزل تـه ځنګه اوس رسېږي خلک

# دعا

د جـنـت غـونـدې هـوا وه تا ته ياد دي
چې دا ستا خوره وينا وه تا ته ياد دي

د هـيـواد خاورې دې ځان پورې مـرلې
خوشبوئې ئې برملا وه تا ته ياد دي

ټول مشران کشران حجره کې راغونډ شوې
تا تـه کړې ميلمســتيا وه تا ته ياد دي

ته په خپل کور کې ميلمه وې ته کوربه وې
مينـه تـا سـه د هـر چا وه تا ته ياد دي

خوشحالۍ نـه پـه جامو کې نـه ځايـدلې
ستا په خوله ټوله خندا وه تا ته ياد دي

نسيم ستوريه د خداى رحـم پـه تا شـوى
دا د مـور د خولې دعا وه تا ته ياد دي

---

سه « سره »

# ګړکیچ

ورک دې هغه شي چې سړو نه لرې لرې ګرځي
ځانته پښتون وائي پښتو نه لرې لرې ګرځي

د چا په زړه کې چې د قام د مینې کر نه کېږي
د پښتــنو دیـرو حجـرو نه لرې لرې ګرځي

قامي شعور د چا ویده چې وي بیدار نه وي هم
د قـام بچـو د قـام زلـمو نه لرې لرې ګرځي

چې د مـشرانو د شـملو ورسره قدر نه وي
سپکو سه ګـرځي د درنو نه لرې لرې ګرځي

چې د هر رنګ سره بدلـېږي پردی رنګ اخلي
داسې څوک شته دی ، دې اوبو نه لرې لرې ګرځي

نسیمه ستوریه په ذهني ګړکیچ اخته چې څوک وي
د کلـي کـور د دروازو نه لرې لرې ګرځي

سه « سره »

# غږ

هغه ده د بام سر ته ختلي ده
سوله ده رښتیا چې ځومره ښکلي ده

مـونـږه زورولي په مونږ څه شوي
سـوله ده ویاړلـي هم ښاغلي ده

دې د امن سیوري لاندې ژوند پکار
سوله ده نړۍ هم خپله کړي ده

ورشه په جـرګـه او منـتونو ته
سوله ده له تا نـه خـفه شـوي ده

دا د سوکالۍ او خوشحالۍ زېـرې
سوله ده د جنګ په مـرې غلي ده

وېښ قلـم نسیم ستوریه د امـن غږ
سـوله ده چې وېـښ قلم مـنلي ده

# ياد

نن مې د يو چا په زړه کې ستا تصوير ليدلی دی
ما خو د ملنګ سرې باچا تصوير ليدلی دی

حسن که قاتل دی خو په مينه سرې سر بيالي
مينې خو د مينې د وفا تصوير ليدلی

ورشه د هغه د فکر کور کې بيا تپوس وکړه
دروغو کې مې نن هم د رښتيا تصوير ليدلی

تا سره هنداره کې ولاړ دی مخامخ تا ته
خورم درته قسم چې ما همدا تصوير ليدلی دی

ګل دی که ګلاب دی د خزان نه پتيدی نه شي
توري شپې پسې مې د رڼا تصوير ليدلی دی

زه به د نسيم ستوري شعرونه په ياد ، ياد کړمه
ما ئې هر يو بيت کې د مانا تصوير ليدلی دی

# د شمار

د شپې نه خلک ټول دي د سبا په انتظار کې
راځه چې روانېږو يو د چا په انتظار کې

ای امنه دغې عقل مې بلا سوالونه جوړ کړل
ای سولې زر شه راشه ټول دا ستا په انتظار کې

تاريخ د پښتنو چې ټول پردو ، پردو ليکلی
قلمه زر راوېښ شه پاک صفا په انتظار کې

ساده الفاظ دې سخت کړل اوس پخپله نه پوهېږې
يو ستا هرې خبرې د مانا په انتظار کې

ژوندي په مړو حساب دي ته د مړو ګيله مه کړه
ژوندي د خپل ضمير د وېښې ساه په انتظار کې

کاروان کې نسيم ستوريه خو د شمار يو څوکسان دي
تيارو ئې زړه چاولی د رڼا په انتظار کې

# وخت

خپل نـظر دي چې اوچـت ساتلی نه شي
منـفي فکر چې مثـبت ساتلی نه شي

لاره ډیـره ده اوږده او تـه روان ئـې
راپـریوزي اوس همــت ساتلی نه شي

د سپیڅلی عقـیدي ټول خاوندان دي
بنیادي حق ئې درنـښت ساتلی نه شي

که پیغام د خپلواکۍ د غلام سوچ شي
ددې فـکـر تـه عــزت ساتلی نـه شي

چې د بل د امـر لاندې ستا ژوندون وي
په خپل ځان دي بیا وحدت ساتلی نه شي

نسیم ستوري تـه دا مـه وایـه چې کـینه
د غیـرت پـه وخت غیـرت ساتلی نـه شي

# خبري

دا خلک څوک دي د هر چا پسي خبري کوي
چې په تــيــارو کې د رڼا پسي خبري کوي

مائې د نوم تپوس ترې وکړو دي ويل ياد مه نه دی
زه تـرې روان شوم دی د ما پسي خبري کوي

خپله د وخت سره تلی نشي چې په فکر شل‌دی
نـن خـو لا څـه کې د سـبا پسي خبري کوي

د يو بدرنګ سړي فيتنه ځان سره جوړه شوه
مخالـفـت کـې د ښـکـلا پســي خبري کوي

دې د حالاتو د قسمت په ژرنده دل هم نه دی
په کور کې ناسـت دی او دنـيا پسي خبري کوي

د ژوند قانون ته ئې د کرکي يو لقب ورکړی
اوس د يـووالي پرمختـيا پسـي خبري کوي

عقل ئې پوندو کې چینچو د ځمکي ټول خوړلی
دغه کمعقل هوښیارتیا پسي خبري کوي

پدې هم قهر ورځي چې ولی خوشحالي کړې خلک
بد نیته خلک خوشحالتیا پسي خبري کوي

دا یو تضاد د محبت مخ ته نفرت ولاړ دی
دا چې د مینې د وفا پسي خبري کوي

سترګي ئې ګنډلي د لیدو دروازي بندي دی
دې کې دروغ نشته د ربښتیا پسي خبري کوي

زه دا منم چې د بیان ازادي، حق د هر چا
هم د ملنګ هم د باچا پسي خبري کوي

نسیمه ستوریه خپل لفظونه دې راغونډ کړه زر شه
ستا د لفظونو د مانا پسي خبري کوي

# وحدت

اى ويــده پښــتــونه اوس وېــښــيــږي او کـه نـه
وژنــي دې اغـــيــار چــې نــور پــاڅـــيــږي او کـه نـه

دلـتـه صـمـد خـان بـــنـدي
دلـتـه بـاچــا خـان بـــنـدي
دلـتـه کـبــيـر ســـتـورى هــم
دلـتـه افـــضـل خـان بــــنـدي
چـغـه د غـــيــرت دې اوس جـګـــيــږي او کـه نـه
وژنــي دې اغـــيــار چــې نــور پــاڅـــيــږي او کـه نـه
ســتـا ويـنـــه بـهـــيـږي اوس
ســتـا ويـنـــه تـويـــږي اوس
ډيـــره اوس ارزانـــه هـــم
ســتـا ويـنـــه خـرڅـــيـږي اوس
تـه اوس پـه خـپـل ځـان بـانـدې پـوهـــيږي او کـه نـه
وژنــي دې اغـــيــار چــې نــور پــاڅـــيــږي او کـه نـه
وېــښ شــه نــور پـاڅـون وکـړه
ژونــد وکـړه ژونــدون وکـړه

لاره ځـــانتـــه وټـــاکـــه
نـــنګ پـه خـپل پـښـتون
تـه د ویـــښ ضـمیر ســـره ودریـــږي او کـه نـه
وژنـــي دې اغـــیار چـې نـور پـاڅـــیږي او کـه نـه
ستا دی دروغـجـــن دوشـــمن
ستا دی مکـرجـــن دوشـــمن
ورک ئې کړه نور ورک ئې کړه
دا پـــمن پـــمن دوشـــــمن
تـــندر ئې دوشـــمن باندې غـورځـیږي او کـه نـه
وژنـــي دې اغـــیار چـې نـور پـاڅـــیږي او کـه نـه
لـــږ پـه ځـان غـیرت وکـــړه
پاڅـــه لـــږ هـــمت وکـــړه
وائـــې نســـیم ســـتوری هـــم
لـروبـــر وحـــــدت وکـــړه
قـام مـیـــنه پـه زړه کې دی ټـوکـــیږي او کـه نـه
وژنـــي دې اغـــیار چـې نـور پـاڅـــیږي او کـه نـه

# تول

چـــې رڼـــا مـــې پـــه لېـــمو ده
هــره ورځ مـــې د پـــښتو ده

خـوشـــبوې تـــرې نـــه خـــپرېږي
دا د عـــطرو د ورږمـــو ده

چـــې پـــښتون پـــرې ژونـــدی پـاتي
دا د هـــسکو د شـملو ده

هــم قـــانـون دی هــم مـــې ژبـــه
دغـــه مـــور د پـــښتنو ده

د خـــپل ســـر پـــه بـــدلــه هــم
دا ســـاتلـي مـــیړنـو ده

ډیـــري ســـختـي ئـــې لـــیدلـي
رالـــوی شـــوي پـــه غـــرمو ده

په اغـزيې اغـزيې ماحـول کې
دا ژونـدۍ هـم تـر پــيرو ده

دا زمــا او ســتا د ټـولـو
غــېرتمـــندو ننــګـيالـو ده

که خـوږه ده هـم ښـايســته ده
په ښــايـــست د پــلوشــو ده

ځـومـره پاکــه ئـې لـــمن ده
دا د پاکـــو عقـــــيدو ده

هــره ورانــه پـرې جـوړېـږي
دغــه ژبــه د جــرګـــو ده

نسـيم ســتوريه ځـومـره ښـکلې
چې په تــول هـم د درنـو ده

# پښتنه

د ښـايـست د پلـوشـو سره لـوبـېږم
زه د مـيـــنـي د لـيـمـو سره لـوبـېږم

د اسلام او د پښتو په پوله ناست يم
ددي پـاکـو عقــيـدو سره لـوبـېږم

دنـيا څه ده خو ژوندون له کلی کوردی
د دنــيا د ژونـد نغــمو سره لـوبـېږم

خورم قسم چي د هغه په زړه کي زه يم
د هـغه د زړه قيصـو سره لـوبـېږم

د سبا په تمه ما پرون رخصت کړو
د راتلونکو ورځـو شپو سره لـوبـېږم

نسيم ستوريه پښتنه مـور مي پښتو ده
شکر خـدايه چي پښــتو سره لـوبـېږم

# ټکور

ولـی دې خــپل غــږ داسې نسکــور راځـي
ژونــد د لـــیونــو لــره پیـــغـور راځـي

کـړی امتـــحان مــې ځــو ځــو ځـلـه دی
سختـه کې پکار بـه دې خپل وروور راځـي

کله چې دردونــو ئـــې نیـــــولــی تــه
داسې وخـت په یاد دې خپله مـور راځـي

ستا د خوشحالـۍ او د خفګان وخت کې
غــوږ تــه بــه دې غــږ د خپلې خــور راځـي

تـره ځـوي تــه تربـور ویل ښـه کار نـه دی
تـــا ســـره پـــدې مــې شـــر او شـــور راځـي

هـــغــه دی نســـیم ســـتوری راوړســـــید
شکــــر دی چې زړه لــه مــې ټکـــور راځـي

# کامیاب

ګـل ســـــړی ګـــــلاب ســـړی
مېــــنـــې د دریـــاب ســـړی

غـــږ ئــې پــه غـــږونـو کــې
غـــږ د انـــــــــقلاب ســـړی

داســــــې بــــه روان وي تــــل
دا لــکـــــه ســــــيلاب ســـړی

ژونـــد ئـې د پښــــتو خدمـت
نــه مـــرې د حــــساب ســـړی

ســـوچ ئـــې د ګـــناه دوښـــمن
ټـــول ثـــواب ثـــواب ســـړی

تــا چــې څه غـوښـــتل تـرینـه
ســـتا د ســـوال جـواب ســـړی

مـه اخـلـه امـــتـحـان تـرېـنـه
مـیـــنـه کـې کـــبـاب ســـړی

پـاڼـــې د تـــاریـــخ لـــــمـن
دا کــــتـاب کـــــتـاب ســـړی

ځـان چـې پـرې نـشـه ســاتـم
دا لـکـــــه شــــراب ســـړی

هـــغـه دې بـــربـــاد شـــي هـم
څـوک چـې وای خـراب ســـړی

ډیـرو کـې دا یـو بـــس دی
مـــا کـــړو انتـــخـاب ســـړی

ســـتا دعـــا نسـیم ســـتوریه
تـل دې وي کـامـــیاب ســـړی

# بهیر

خوب ته مې نه پرېږدي په خوب کې به تغیر راوړي
زما خوبونه به زما د خوب تعبیر راوړي

پدې حال شکر دی خدایه روغ صحت راکړه
عقل او پوهه مې لېږلي وېښ ضمیر راوړي

زه د یقین او د ایمان په لوی مورچل ولاړ
مونږ ته د سولې ښکلی زیری به اسیر راوړي

نور به د اوښکو په لمن باندې ژوندون نه وي
په کومه ورځ چې مونږ ته امن خپل امیر راوړي

شنه به نابتات شي ګلونه به غوټۍ سپړي
دې شړې دښتې ته سپرلی چې خپل سفیر راوړي

نسیمه ستوریه زما زړه دی زما ځان هغه
څوک چې وطن ته د خوشحاله ژوند بهیر راوړي

# مشغول

چې منزل په لورې ځم د سر تاوان دی
که په کور کې زه کېنمه کلی وران دی

پدې زمکه باندې کـر داسې خو شوی
محبت پکې خو ځکه سر ګردان دی

چې پيدا مې د ولس په مينځ کې نه کړ
دا خپل فکر او نصيب مې پرېشان دی

ربه سر ته ئې ته خير کړې خطرې دي
په سوري بام مې ولاړ ښکلی جانان دی

مات وزر مې اوس الوت ته نه جوړيږي
چې ټوټې ټوټې مې مات د زړه اسمان دی

پدې خپل سوچ مې خپل ځان دی مشغول کړی
نسـيم سـتوريه د فکرونو مې باران دی

# پوښتنه

محبت تـه بـه یـو ګـوټ محـبت ورکړم
خپل ژوندون ته به نور درس د همت ورکړم

د تبلیغ په جامه پټ ځان ته ولاړ یم
څومره ښه ده چې خپل ځان ته دعوت ورکړم

پاس د وریځو نه باران څاڅکي وریږي
جام را ډک کړم دې باران ته وحدت ورکړم

د خپل عقل په تول داسي انصاف وکړم
کـډه بـار کړي او نـفرت ته نـفرت ورکړم

راوتلـی ددې زمکـې پـه سـر تیـغ دی
د خوارک او د اوبو لوی دولت ورکړم

نسیم سـتوریه د پوښتـنو جواب راکړه
که ویـده شمه غیرت تـه رخصت ورکړم

# غم

لوست ته کتاب لیک ته قلم ښه دی
ښوونځـي په لوري مې قـدم ښه دی

ربه زمـا د میـنــي کـور اباد کـړې
د مینـــي کـور زړه د صـــنم ښه دی

د بام پـه سـر ســپوږمۍ ښا کوه
د ګل پـه پـاڼـو هم شبـنم ښه دی

طبیـــبه نـور راته څه مه لـــیکه
زما زخـــمونو ته مهـــلم ښه دی

خورمه قـــسم چې حقیـقت وایـم
دا ستاسو کلي ستاسو چم ښه دی

نسیـمه ستوريه دا ســتا خـــبره
پدغي وخت کې د قام غم ښه دی

# زلمي

تشي شوي چې څولۍ ئې د زړګي دي
خفه شوي موسمونه د سپرلي دي

زه د نن او د سبا انځور ته ګورم
په ديوال مې تصويرونه پخواني دي

پام کوه چې خپلي ګوتي سوري نه کړې
د ګلونو په ډنډرو کې غزي دي

اوس د خوب په درشل نه کيني روان دي
راويښ شوي مې فکرونه ليوني دي

دا د ميني لوی برکت دی سرېتوبه
چې په شونډو مې لفظونه اوس ژوندي دي

پيغلتوب سره مې يو ځای دي ليدلي
نسيمه ستوريه ستا شعرونه لا زلمي دي

# سود

دا خلک ولی د خپل ځان ډېر صفتونه کوي
د بل سرې د سرېتوب تل غیبتونه کوي

لکه بیلتون لکه دیوال د زړه په کور ولاړ دی
د ژوند وجود باندې د تبر ګوزارونه کوي

راته پیدا دغه پوښتنه شوه جواب ئې کړې
جانان مې ولې په پردی ژبه فکرونه کوي

د عقل ساه ته د ضمیر ساه په جرګه ورغلي
عقل بې عقله څه بې ځایه نفرتونه کوي

په دغو خلکو کې دا یو مرض د کومې راغی
څه بې اودسه بیا پېنځه وخته لمونځونه کوي

نسیمه ستوریه دا حلال او احرام څه پېژني
په ځان حلال ګڼي سود تا سره باحثونه کوي

# ملامته

ژړا وائـي چـې خـــندا ده مـلامتـه
خـــندا وائـي چې ژړا ده مـلامتـه

پدې سوي زهرجن شانتي ماحول کې
شګـې باد دي او هـوا ده مـلامتـه

د بیـناوو باز کـوډ، ړانـده غورځېږي
که دا حال وي نـو امسا ده مـلامتـه

چې سبا ته انتظار کـړې سبا نه شي
د تیـاري پـر مـخ رڼـا ده مـلامتـه

ویـښ ئې ځکه صفت نه کوې له ویرې
چې په دروغو تل رښتیا ده ملامته

نسیم ستوریه چیه خوله لوی باچاهي ده
د هـغې د خـولي ویـنا ده مـلامتـه

---

# خوښ

په محبت کې چې سردار یم اوس دې خوښ یم که نه
ستا د هر امر تابیدار یم اوس دې خوښ یم که نه

چې خوشالي دې یو په سل شي داسې زه کومه
ستا د غمونو خریدار یم اوس دې خوښ یم که نه

هـوا بدرنګـه دې اوربـل تـه خـطره نه شي هـم
چې ټوله شپه هم ویښ بیدار یم اوس دې خوښ یم کهنه

چې پـه ښکلا کـې دې یوه زره کـمي رانـه شـي
چې ستا د حسن څوکیدار یم اوس دې خوښ یم که

دا ستا په مینه کې د سر او مال نه تـیر یم داسي
ولاړ په سر باندې د دار یم اوس دې خوښ یم که نه

فکـرونـه ټول مې ستا سلام تـه ودرولي دلـته
د نسیم ستوري نه هوښیار یم اوس دې خوښ یم که نه

# خرڅ

د چا خو عـقل د چا خـیال خـرڅېږي
د چــا هـــنر د چـا کـمال خـرڅېږي

په ځـان بـاور د ځـان کولـی نه شـم
زړګـیـه سـتا د مینځ دیـوال خـرڅېږي

پـدې بـازار بـانـدې څـه تـنـدر پـریـوت
چې د پښـتو د حسن خال خـرڅېږي

چـا نـه هـم تـمه د پـښـتـو وکــړم زه
د پـښـتـــنو تـــوره او ډال خـرڅېږي

کـوم پـرهـر وګـنډم پـرهـر سـینه کـې
د سیاستوالو په کـې سـوال خـرڅېږي

نسیمه ستوریه پام کړه خرڅ نه شي ته
دلـته شـاعـر دلـته لـیکـوال خـرڅېږي

# سیلاب

په چا چې کبر کوو د هغې پسې ارمان کوو بیا
ددغې رنځ به مونږ څنګه اوس درمان کوو بیا

دغې عادت زمونږ د عقل دروازې بنـدې کړې
ناست یو په زمکه خو خبرې د اسمان کوو بیا

دې ته تیار یو د انسان انسانیـت بدنام کړو
هر انتقاد د ځان په ځای تل په جانان کوو بیا

اول کار وکړو بیا هم فکر مونږ ته روسته راشي
مونږه د ګټې په ځای تل داسې تاوان کوو بیا

په ناپوهۍ کې تـیروتنه مونږ نه داسې کیږي
نه د ژوندون او نه هم قدر د انسان کوو بیا

نسیمه ستوریه زمونږ زړونو کې د کاڼو سیلاب
په لاس کې راخلو ګوزارونه په ایمان کوو بیا

# لمر

زه چې په بل ګران وی تا به څه کول
زه چــې ستا جانان وی تا به څه کول

وايه څـنګ زړښـت بـدرنګه کـړې ئـې
زړه چې پکې ځوان وی تا به څه کول

اوښکـه مـې سلام تـه نـن راغلــې ده
وېښ چې مې ارمان وی تا به څه کول

خپلې نېمګړتيا مې نه پرېږدې په لار
وخــت ســره روان وی تا به څه کول

هـر چا تـه لــمن د ميــنې نيســمه
ميــنه کې تاوان وی تا به څه کول

زه د نسيم ستوري پـه شعرونو کــې
لمر غوندې روښان وی تا به څه کول

# اشنا

په ټوقو ټوقو کې بوډا شوم راته ووایه څه
ښکلي ځوانۍ نه چې جدا شوم راته ووایه څه

زړې کې د مینې کر دې وکړه د پخوا په شانتې
چې ستا په سترګو کې ځلا شوم راته ووایه څه

زه هغه لعل یم هم نظر د روند نظر لپاره
چې په تیارو کې زه رڼا شوم راته ووایه څه

فکر مې لاړ شي او د تیر وخت پکې یاد تازه کړې
چې ستا په مینه کې رسوا شوم راته ووایه څه

په باغ کې دوه ګلونه خوند کړې یو نرګس او ګلاب
چې د نرګس ګلاب ښکلا شوم راته ووایه څه

د نسیم ستوري په ژوندون دې هم برکت پریوزي
زه ئې د شعر سره اشنا شوم راته ووایه څه

# فکر

دا د چـا هـم بـــد نـــظر وو
مـا چـې کـړی يـو تـکـر وو

داسې پـروت ومـه پـه زمکـه
زخـمي شـوی مې ځـيګـر وو

دا چې فکر کې زه ناست وم
بـې اتـفاقـه مـو لښـــکـر وو

پـــه وړه ، وړه خــــــــــبره
يـار اشـــنا مـــې مـــرور وو

د غـــريـــت ظـــالـــم د لاســـه
هـــر ســـړی دلـــتـه نـــهر وو

چـــا وهلـــی وو پـه لـــتـه
دا زمـونږ د کـور لوی ور وو

د رښـتـيـا مـلا وه هـم مـا تـه
ټـول پـه دروغـو کـې سـفـر وو

د وحـــدت غـېـږه وه تـــشـه
پـه بـيـلـتـون بـانـدې اخــتـر وو

پـه محـفـل کـې ګـونګـسـي وو
خـلـک ټـول اوتـر اوتـر وو

زه چـې غلـی هلــته ناسـت وم
زړه زمـــا پـرهـــر پـرهـــر وو

خـــپـلـه خـــاوره پـــښــتـنه کـې
ژونـد زمـونـــږه در پـه در وو

نسـيـم سـتوريـه فــــکـــــر وکـړه
وايـه څـوک رانـه خــــبـر وو

# سترګي

مـا ژونـدون رښــتيا سـره تــړلـى دى
مـخ مــې تـل قـبلي تـه اړولــى دى

مونـځ كوم اودس كوم پـيـنـځـه وخـتـه
ژوند مې د پــښتو اسـلام منلى دى

اوس هـم د منـزل پـه لـور راوان يـمه
مـا هم خپل هدف ځان ته ټاکلى دى

تور داغ مې په سيينو جامو خوښ نه‌دى
ځکه مې لـه کـرکي ځان ساتلى دى

زه خـو خـوشـــبوي د ثـوابـونـو يــم
داسې انـتـخـاب مې ځان تـه کـړى دى

سترګي ئې زما چې خلاصي كړي دي
مـا د نسـيم سـتوري شـعر لوستلى دى

# ډوبيدل

زما پـه زړه کې چې اوســېږي جنـی
دا چې له ما نه اوس شرمـېږي جنـی

څـه پـه نخـــرو کـــړه وکـــړه راونـه
لکــه ډنـډر ځوانـې مـاتــېږي جنـی

غـــرور ئـې هســک ســره خــبري کـوي
پـه خپل غـيرت بانـدې نـازيـږي جنـی

رښتيا هم دا ده چې رښــتيا ښکلي ده
پـه ښـايـســتونو کې لـوبـيـږي جنـی

اوس لا هـنداره کې خپـل ځـان ويـنـي
پـه صفـــتونـو نـه مـړيــږي جنـی

نسيمه ستوريه ســتا پـه شـــعر مئيـنه
اوس چې پـه فکر کې ډوبـيږي جنـی

# ګوزار

د زړه کور باندې د غم کډه امبار کړې
هر څوک خپله جنازه په اوږو بار کړې

څوک له ويرې څوک له درده څوک له غمه
په قاتل غل او فاسيد باندې اتبار کړې

چې رڼا ئې خپروله دا ئې حال دی
د تيارو په سمندر کې ئې په دار کړې

د دې کلي د دې چم په لوی انګړ کې
ناپوهې په ناپوهانو ځان سينګار کړې

چې پرون نه مې د نن پوښتنه وکړه
را ته ويلې چې سبا ته انتظار کړې

داسې وشول داسې کېږي نسيم ستوريه
هر سړی په بل سړي باندې ګوزار کړې

# انتظار

دا چې خپل ځان درته ميلمه ښکاري
مـيلـمه رښـتيا درتـه کـوربه ښکاري

لـږ تـه نـظر وکـړه د ايـنې تصوير تـه
چې دي هـــنداره کې بـه څـه ښکاري

عــقلـه تـه مـه تلـه پـردي فکـرونه
فـکـر پـردی سـر کـې واښـه ښکاري

زمــا نـه ولـــي د هـــغې تـپوس کـړې
دا ســتا نــظر کـې بـس هـغه ښکاري

پـه انـتـظار ئـې دروازه کـې ناسـت يـم
هغه محـفل کـې چې اوس نـه ښکاري

زه د نســيم ســتوري نـه څـه وپـښـتم
د هـغـه شـعـر کـې زمـا زړه ښکاري

# خام

زمـا پـه مـات قـلـم بـه څـه ولـیکي
یـا بـه تـرخـه یا بـه خـواږه ولـیکي

چې د خـپل حق غوښـتنه نه کوي څوک
پـه بـــینا سـترګـو دې ړانـده ولـیکي

د ژونـد ښـوونځی مې بـې اسـتاده پاتي
پـرېـږده تخـتـۍ بـانـدې تـرخه ولـیکي

زمـا نـه اوس هـم پـه پـرده کـې ګـرځـي
زمـا نـوم څـنګـه پـه خـپل زړه ولـیکي

عـقل دې خـپل وجـود ته ورکـړو پـیغور
سپـک خلـک ولـې څـوک درانه ولـیکي

نسـیمه سـتوریه د دوې خــام فـکـرونـه
سـتا پـه شـعرونو څـنګ پاخـه ولـیکي

# هنداره

پـخـپلـو تـصــويـرونـو نـڅــولـي مې هنداري
په عـقل او شـعور کې پـوهـولـي مې هنداري

رقــيــب بـه په تـورونـو تـورولـي مې هنداري
پـه فکـر د نصـيب کې سپــيـنولي مې هنداري

هــغـې چـې بـه د قصـــته وړولـي مې هنداري
ما هـم نـه پريــښودلي غــټولـي مې هنداري

د خپل وجود په څمکه چې شيندلي مې هنداري
پـرهـر سيــنـو په ګـوتـو ټولولي مې هنداري

په ښار کې د رندو چې خرڅولي مې هنداري
هيـڅ چا نه اخيسـتلي ماتـولـي مې هنداري

نسـيم سـتـوريه وخــتـونـو ژړولـــي مې هنداري
ما پـتي پـتي پـتي خـنـدولـي مې هنداري

# ستا

میـــنه وکـــتی په میـــنه پابـــندي ده
د غـــلام ژونـــدون لـــپاره ازادي ده

نن د خـپلي دروازي درشـل کي ناست
مسافـــر یم مـــسافـره خـپلواکي ده

زه زړښـت یم بـدرنګ کـړی ځواني لاړه
پـسرلـیه سـتا د دوه ورځو یـاري ده

خپل ارمان مې د شیشي غوندي مات شوي
یا بې وخـته رژیـدلي مې ځـواني ده

پـیدایـش سره ژړا بانـدې سر شـوي
خوشحالی نه ځکه غـېږه مـې خالي ده

نسیم سـتوریه سـتا کـړې وکـړې خـبري
زمونږ ورځ هم شین اسمان کې باراني ده

# مات قلم

زما وجـود کې جوړ شـوی جـنګ دی
ښه په پوهـېږم جـنګ خو بدرنګ دی

نـفرت مـو غـــېږ کې داسې لـوی کړی
پردی مو دروند دی خپل راته سپک دی

وېـــښدی نـشم په خـوب ویـده یـم
ګونګه مې ژبه غـېرت مې ګونګ دی

یا خـو ویرېـــږو یا نه پـوهــــېږو
مـونږه یـو غلي مخـکې ګړنګ دی

مـا تـه مالـوم دی زمـا دوشـــمن دی
څوک چې مې وژني ناست مې تر څنګ دی

نسیمه سـتوریه قـلــم مـــات شـــوی
په اوږه پـروت مې پـردی ټـوپـک دی

# يو پـه سل

راځه چې دا موسم لکه سپرلی هم ګل په ګل کړو
بيدار اوسه جانانه چې پټکی هم ول په ول کړو
راځه چې د رقيب په زړګي اور همداسې بل کړو
بيدار اوسـه جانانه چې د ميــنې کـر اول کړو

ستا شونـډې پاڼې پاڼې او کتاب راسره نشته
د مينــې دې لـوګـی شـم ستا جواب راسره نشته
رنګونه مې راټول کړل خو تصوير مې ترې جوړ نه کړو
زه داســې بـد نصــيـب يــم انتخاب راسره نشته
راځه چې دا ژوندون د خپل نظر په لمن خپل کړو
بــيدار اوسـه جانانه چې ژوندون ځان ته بدل کړو

نـشه دا ســتا پـه مــينه يــم شراب راسره نشته
ثـواب په نــيت راغلـی يــم عذاب راسره نشته
ډالـۍ خو مې رانه وړه ستا ديدن مې لوی ارمان وو
تــش لاس درتـه راغلــی يــم ګلاب راسره نشته

راځه چې محبت ته غاړه ورکړو او دی ښکل کړو
بـیدار اوسه جانانه محـــبت  سره  ځـان مل کړو

ګـــــناه  راســــره  نـــشته  او ثواب راسره نشته
د خپل ارمان په غـبږ کې خپل رباب راسره نشته
د خیال د ژوند په ور کې مو دا خپل ښایست رنګین کړو
رنګـــین حســـن لـــپاره خـو  نقاب راسره نشته
راځه چې پدې لاره  لاس پـه لاس سـره مزل کړو
بـیدار اوسه جانانه چې دا میـنه خپل منزل کړو

د فــکــر د نفـــرت هـغه سیلاب راسره نشته
قــطرې قــطرې اوبـه یــمه دریـاب راسره نشته
نسیم ستوری یـم ستا د مینې فـن کې بندیوان یم
مـا دومــره میـنـه راوړلـه حساب راسره نشته
راځه چې ښـایستونه په خپل فکر کې غـزل کړو
بیدار اوسـه جانانه چې ښایست هم یو په سل کړو

---

# بدل

په دعـاوګانـو ئـي تـقدیـر بدل کړو
هـغې دا خـپل ویـده ضمـیر بدل کړو

څـه د حـالاتـو دا کـړکـیچ مخـونـه
په نازک وخت کې ئې خپل پیر بدل کړو

مینـه کې رنګ د لیونـتوب پـیدا شو
اوس ئي د غاړي خپل زنځیر بدل کړو

د خـپل قـدم پـه تـماشـه ودریـدو
چې ئـې د لاري خپل مسیر بدل کړو

فکــر د زړه د ســره وغـورځـیدو
بـیا ئـې د عـقل خـپل وزیـر بدل کړو

نسیمه ستوریه داسي وشـول کـه نـه؟
چا په کې خپل قلـم اسـیر بدل کړو

---

# لوګی

زلميتوب مې د زړښت په لور روان دی
بوډی وائې چې سپين ږيری مې جانان دی

لاس په لاس اوړه په اوړه ورسره ځمه
دا په ما باندې د خپله ځانه ګران دی

خدايه شکر چې پښتو ته دې پيدا کړم
په پښتو او پښتنو مې سر قربان دی

د اسلام په دايره کې يم خوشحاله
بې ايمانه نه يم پوښ زما ايمان دی

پاکه ربه خوږ ژوندون پښتون ته ورکړې
تريخ ژوندون کې د پښتون د سر تاوان دی

نسيم ستوريه ستا د مينې نه لوګی شم
ستا په مينه مې پوره دا خپل ارمان دی

# ترجمان

ساتلی مې جسد د خپل ارمان دی ای طبيبه
ارمان مې د زخمونو لوی درمان دی ای طبيبه

پاڅېږم کيناستی پدې محفل کې زه نور نشم
چې کينمه ارمان ته مې تاوان دی ای طبيبه

رقيب ته مې پناه ويوړه د جنګ نه مې زړه تور دی
پـه ما بانـدې راغلـی امتحان دی ای طبيبه

همېش به وو لښکر ورسه دا ورځ نه وه راغلې
تنها چې اوس ولاړ په تش ميدان دی ای طبيبه

زما د غـريبي انګـړ تـه بـد بـد ولې ګوري
مالـوم راتـه د هـــر سړي ايمان دی ای طبيبه

که داسې شاعري د نسيم ستوري وي نو ښه ده
زما د ســوي زړه دا تـرجمان دی ای طبيبه

# خفه

ګنګوسی دی چا پسي دی راروان دی
دغه نوم پکي زما د خوږ جانان دی

فکـره ويښ شه د شعور په أيـنه کي
نن راغلی وار په تا د امتحان دی

هر سړی په روسته روسته بل ته ګوري
نيمه لاره کي ولاړ ځکـه کاروان دی

چي د خپل او د پردي فرق چي ونکړو
بي‌کولتوره شي هغه په وير د ځان دی

انسانيـت په تله ځان به تلل غواړي
چي څوک ونه وائي دغه نيم انسان دی

د غربت کاسي ته هيڅ ويلی نشم
خو د ميني په دولت مي زړګی خان دی

پاڅـــيدلی ګـرځـــيدلی هــغـه نـــشي
چې په دواړو پښو شل د چا ايمان دی

د عمل دروازې بندې د خولې خلاصې
هر سړی د خپلې خولې نه قهرمان دی

د هدف ټاکل يـو ځـانـته هـنر غواړي
بې هــنره ژونـدون پاتې لـه دوران دی

انتـــقاد پـه انتـــقاد باندې نـن شوی
زمکه تـښتي لړځـيدلی اوس اسمان دی

چې د ژوند د رغيدو څرګ پکې نشته
ای طبيبه رنـځ وژلـی خـپل درمـان دی

نسيم ستوريه مـا ځـولۍ ګلـونه راوړل
پـــسرلی خفه خفه شو ويل خزان دی

# غزل

د چا لاس ئې په لاسونو کې نیولی
ښکلی ګل ئې په ګلونو کې نیولی

محــبت وریانـدې داســې اثــر کړې
لیـونتـوب ئې په فکرونو کې نیولی

چې په سترګو کې ځلیـږي ورته ګوري
دا تصـویـر ئـې کـتابونو کې نیولی

چې په وېښه ئې مندل ورته ډېر ګران دي
هـغه خوب ئې په خوبونو کې نیولی

په سینه کې ئې ساه لنـډه لنـډه کېـږي
شور د مینې ئـې دردونـو کې نیولی

نسیم ستوریه ګونګوسی دی خاموشي ده
غـږ ئې ځکـه په غوږنو کې نیولی

# پـخه

لاسونو کې مې ستا انځور نيولی شکايت دی
صنمه پـاڅه پاڅه دا د مينـې حـرکت دی

زما په ژوند دې بيا تيـاري روښـانـي کړې جانانه
دا ستا ښايسته خبره ده دا ستا هم نصحت دی

دا زړونه د يو بل نه شونډې غوارې او خوزيږي
زما ښکلی ملګريه وېښه شه وخت د محبت دی

ستا مينې د نړۍ ټول ښايستونه سلامې کړې
په ټول باندې پوره ده او په ټول کې برکت دی

نظر دې راوچت کړه لـږ نېـغ نېـغ ورته ګوره
پوهېږې چې دوه زړونه يو ځای کېږي او وحدت دی

نن ماته ئې په زړه کې د زړه راز راښکاره کړی
نسيم ستوريه پخه همدا وېنا ده حقيقت دی

# ازان

نصحت د چا په خوښه ځان ته وکړم
د غريب د خولې خبره خان ته وکړم

مينه پته ده رسوا خو دلته نه شوه
نن د زړه ګيله په جار جانان ته وکړم

خلکو پرې مې ږدي خپل زړه ورته نور تش کړم
د ويده ضمير قيصه ايمان ته وکړم

دا په کومه لار روان يم چرته ته ځمه
غږ د مينې هغه خوږ انسان ته وکړم

موده پس مې په وجود دی روغ ليدلي
خوشحالۍ نه چغه لوی اسمان ته وکړم

نسيم ستوريه د هيواد خاوره مې ښکل کړه
ازان غوږ کې ملامت ګريوان ته وکړم

# سوچ

شــپه چې د ورځ او ورځ د شپې نه تښتي
تصـویـر ئـې ځـکـه د آیـنــې نه تښتي

کلـي کـې بـس هـمدغه یـو سـړی دی
چې ئـې میـلـمه د دروازې نه تښتي

عقله په تا باندې اوس څـه شوي دي
لـکــه هـــنـدو د کلیــمې نه تښتي

پـدغه خـاوره کـې دا څه خـبر شوي
چې مـړي ټـول لـه هـدیـرې نه تښتي

هغه په ژوند کې به ناکام وي همیــش
څـوک چې منــزل د دایـرې نه تښتي

نسیـمه سـتوریه ســوچ پـرې ځلـه کـوي
سـوچ ئې د سـوچ لـه ایـرادې نه تښتي

# وارخطا

دا خـامـوشـي د سـړي ساه اخلي
د شـور نـه ژوند ځومره وړيا اخلي

زړښـت نيـولى د ځـواني مـورچل
ځـه پـه هـنر ترېـنـه ښـکلا اخلي

بيلـتون ظالـم تـه کـه نـظر وکـړي
ميئـنو سـتـرګـو نـه دنـيا اخلي

د خوشحالۍ پـه لمـن داغ پريـوت
د غــم ځـپـي ئـې بـرملا اخلي

غـوږ د هر چا په ديـوال مه ږده اوس
کـنـډر کـورنـه دي ژړا اخلي

نسيمه ستوريه ستا فکـرونه نـن
دا ستا لفـظونه وارخـطا اخلي

# انتخاب

دا خلـک ښکلي او درانـه خلـک دي
زمـونـږ د کلـي پښتـانه خلـک دي

هغه دي ورک شي چې بيلتون جوړوي
سـولـه او ميـنه پـيوسـتـون جوړوي
پـه امــن دا دنــيا اباده ښـکاري
امـــن زړګـي لـره سـکـون جوړوي
کوم چې په فکـر کې پاخه خلـک دي
زمـونـږ د کلـي پښتـانه خلـک دي

قلـم کـتاب د ژونـد هـوسا نـښه ده
دا هـم د پـوهـې د رڼـا نـښه ده
دا به دي سيال کړې د سيالانو سره
دا د نـړۍ د پـرمختـيا نـښه ده
څوک چې دا نه لري ړانده خلـک دي
زمـونـږ د کلـي پښتـانه خلـک دي

زمونږ هيواد پردي جنګونو وران کړو
بې اتفاقۍ او نفرتونو وران کړو
پردی ټوپک پروت دی زمونږ په اوږه
څه زمونږ خپل خراب نيتونو وران کړو
د ځان ځانۍ په اور نښه خلک دي
زمونږ د کلي پښتانه خلک دي

څوک چې ښکلا بدرنګول غواړي
د ژوند ډيوه نور مړه کول غواړي
دوې د تيارو په سمندر ولاړ دی
دې سمندر کې ډوبېدل غواړي
دغه که لوی او که واړه خلک دي
زمونږ د کلي پښتانه خلک دي

نسيمه ســتوريه وېښــيدل پــکار دي
ددې حـالاتـو ځان وېســتل پــکار دي
چې پښــتانه پـه سوکالـۍ ژوند وکړي
دې پښتــنو تـه دا ويـل پـکار دي
څوک چې غـږ نه اورې کاڼه خلـک دي
زمــونـږ د کلـي پښـتانه خلـک دي

---

## کنډلی

ډير په خفه شومه د چا نه غورځيدلی تصوير
لکه شيشي غوندې مات شوی ما منډلی تصوير

کوشش کومه چې ټوټي ټوټي پيـوند ونيسي
شي به يو ځای د زړه په وينو مې کنډلی تصوير

---

# اوبه

خیرې په تا باندې پاک کېږي اوبـو
هم د هـر رنګ سـره بدلـېږي اوبـو

سره ددې هم د ژوندون برخه ئـې
نړۍ پـر مخ ته د رغون برخه ئې
بیغـر لـه تا نه ژندګـي نه کـېږي
د نـباتاتو د زرغـون بـرخه ئـې
څاڅکي باران باران وربـږي اوبـو
هم د هـر رنګ سـره بدلـېږي اوبـو

دا ستا کمي ژوندون ته ساء کمي ده
د حـلال رزق پـه رښـتیا کمـي ده
د تـږو تـنده ماتول پـه تا دي
دي تـږو زړونو کې دا ستا کمي ده
دا چې هر څه کې پکاربـږي اوبـو
هم د هـر رنګ سـره بدلـېږي اوبـو

تـه ضـرورت او حقیقت د هر څه
ته ددې زمکې ئې رحمت د هر څه
دا ستا وجود هم د ګلې په شانتې
ته په رښتیا ئې خوږ نعمت د هر څه
دا ستا وجود دې نه وچیږي اوبـو
هم د هـر رنګ سره بدلـېږي اوبـو

بیغر له تا نه کور جوړیږي کله
بیغر له تا نه وچ شـنه کېږي کله
سپرلی په تا باندې اباد دی همېـش
بیـغـر له تا نه ښکلی کـېږي کله
دشـتې په تا هم سمسوریږي اوبـو
هم د هـر رنګ سره بدلـېږي اوبـو

زما وطن کې پام کړې کمې نه شي
په پردی لاره باندې سمی نه شي
دا نسیم ستوری دې په لـپه راخلي
غوسه ډنډونو کې چې جمعی نه شي
د کونـړ سیند کې تل نخیږي اوبـو
هم د هـر رنګ سره بدلـېږي اوبـو

## روان

د رڼا نه تښتيدل دي تورو شپو پسي روان وي
په پښتو چې نه پوهېږي د هغو پسي روان وي

د پښتو پښتون دوشمن ته شمله وتړي په سر دی
دغه وياړ بيا ځان ته بولي د پردو پسي روان وي

---

## هار

د لفظونو خوږ بنداره ډالۍ کومه
ددې دور ښه معيار ډالۍ کومه

چې لوستلو ته ئې سړی لېوال دی
د فکرونو ښکلی هار ډالۍ کومه

---

# مینه

دا ستا په زړه کې لیونۍ مینه ده
جانانه ځومره پخوانۍ مینه ده

ما نه اختیار د خپلې ژبې اخلي
د غلام ذهن غلچکۍ مینه ده

ځومره په شوخ نظر دې ما ته کتل
دا راښکاري د مستۍ مینه ده

لوګی لوګی ئې ځان ته کړمه کنه
د نظرماتي سپلنۍ مینه ده

نور د حالاتو انځور نه جوړوم
د تیر وختونو کلنۍ مینه ده

ژوبل احساسه کوم طبیب راولم
زړ راته وایه ننګیالۍ مینه ده

رڼا سـوګـند کوي غښـتلي ښکاري
د ښـګلانـو د ځـوانـۍ مـینه ده

وطنه ستا خاورو نه جوړ رانجه دي
د غـرو لـمن کې غرځنـۍ مـینه ده

مـړي دې ځانـته په دعا سـتړي شي
د ژونـدو خلکو خو ژوندۍ مـینه ده

لکـه اسمان په سر مې مه ودریږه
زما د سـوچ هم رښتیانـۍ مـینه ده

د درنـدو خلکو ښـه درانه فکـرونه
د سـپکو خلکو بـازارۍ مـینه ده

نسـیمه سـتوریه ډوبـیدل پـکې دي
د سمـندر د خـاموشـۍ مـینه ده

# مقام

په تول زمونږ پوره نه وو دا یو سړی ناکام دی
جانانه پدې کلي کې همدا سړی بدنام دی

ښکرونه جنګول د جنګیرکو په محفل کې
وطنه ددې خلکو عقل فکر څومره خام دی

په خیال ږده قدمونه په دې لاره پدې چم کې
دی هوښیاري مرغۍ ته اینښودلی هر چا دام دی

چې پاتې پکې رانه شي سیالۍ مقابله ده
زمونږه محبت ته د ولس رښتنی پام دی

د لوی خدای په قهر دی اخته شي هغه خلک
زمونږه په سرونو چې اخیستی چا انعام دی

ګیله رانه ونه کړې نسیم ستوریه هیر مې نه ئې
زما په زړه کې تا لپاره هغه لوی مقام دی

# قيصه

څـه خــيرنه ايـنه لـرې جانانه
دا بدرنـګه څه نـشه لـرې جانانه

د ربـا مخالفت کړې په هر ځاى کې
دا چې زړه کې توره شپه لـرې جانانه

سترګې مه غړوه سترګو ته دې دانګې
د ملغ په شانـتې خپه لـرې جانانه

د چا کور به هم پدې باندې ورانـېږي
دا تـيره ژبـه وربړه لـرې جانانه

د اخلاقو دايرې کې ژوندون نکړې
بـد اخـلاقـه تـربيه لـرې جانانه

د مـشرانو احترام ځاى پکې نشته
نسيم ستوريه دا قيصه لـرې جانانه

# چت

په خاوره به جوړېږي اوس جـنت د پښتنو
دا چـا راپـارولی دی غـــیرت د پښتنو

وېښـیږي پښتانه اوس د ویـښ انـد له برکت
دنـیا ته به مالـوم شي بـیا هـمت د پښتنو

نفاق رنځ نـیـولي ، خدایه روغه ستـه ورکړې
مئین چې په یو بل شي جوړ وحدت د پښتنو

تریخ په زنځیرونو باندې وتري بـندې شي
په خوب کې مې لیدلی خوړ نعمت د پښتنو

تاریخ ته موریخینو اوس نوي غـوټه ورکړه
اباد لـري سـرلـوړي نـور عــزت د پښتنو

شـمله د پښتـنو دې جـګه وي تـر اسمـانه
نسیم ستوري په سر دې وي هم چت د پښتنو

# زلمی

زړه نه چې باچا خوی د ملنګ زلمی به چـرته وي
مینې راته وایه ستا د څنګ زلمی به چـرته وي

ویلې ویلې شولـه چا تـه نـه کوي فریاد ګیله
شعمه چې ژړیږې نو پتنګ زلمی به چـرته وي

ای چیناره سر باندې مې سیوری شه ودریږه ته
دې کلې کې نشته هغه دنګ زلمی به چـرته وي

څمه اوس بلۍ سر ته سپوږمۍ نه زه پوښتنه کړم
ستا د رڼاګانو ستا په رنګ زلمی به چـرته وي

ای اسمانه ستا د لاندې ژوند کوم په زمکه یم
زمکې ما کرلی چې لونګ زلمی به چـرته وي

مه ځه نسیم ستوریه چې هغه وعده خلافه ده
قام وطن په مینه دا د ننګ زلمی به چـرته وي

# انتخاب

ځومره ښـه ده چې ډالۍ شي یو کتاب ښـه
د لفــظونـو د رنګــونـو لوی دریاب ښه

سـوچ او عـقـل پکـې دواړه شــي یــو ځـای
هر یو سوال ته شي پیدا پکې جواب ښه

د قـلــم کـاغــذ یـاري دې تـل ژونــدۍ وي
چې د اوښکو د قلم جوړ شي ثــواب ښه

لــکــه تــنــده د هـغه تــږي شـــي ما ته
د مـانـا نـه ډک دا تــوري د ســیلاب ښه

چې ویـده احسـاس د خوبـه کـړي بـیـداره
داسـي ګل شــي لکـه ګل هـم د ګلاب ښه

په لوسـتلو ئـې هوښــیار سړی غـني شــي
د نسـیم سـتوري لخـوا نـه انـتخاب ښه



خان محمد افضل خان «خان لالا»



شاه محمود میاخیل




قاضي منظور موسی خیل



ضیاالحق امرخیل



لیاقت وطنپال



پوهاند ډوکتور قاسم جمدر



پیر سید رحمدل شاه



عبدالغفور لیوال



علي خان محسود



محمد طاريق بزګر



محمد عباس خان



محمد اقبال وزيري




خالد خان حسرت



ډاکتر فیض محمد ځلاند



نظار یوسفزی




محمد حسن شیرزاد



طاهرساپی



جمال الرحمان



اسیرمنګل



ضیاالدین یوسفزی



نور رحمان شیرزاد



مطیع الله عابد او رحمان بونیری د سبا نسیم سره



پوهیال ستوری

## خوښنه

چې کوم وګړی د پښتو ژبې خدمت کوي
دغه ويښ اند به ورسره هم محبت کوي

ورنه خوښنه کومه ستوری نسیم‌ستوری زه
په صفا نیت او په اخلاص چې حرکت کوي

# مننه

د پښتو ګوګل د ژباړن مشر پرپښتو پښتونولۍ مست مئین زلمی ښاغلي پوهیال ستوري نه ځانګړي یوه نړۍ مننه چې ددې کتاب ډیزاین او کمپوز ئې پخپله پښتنه جذبه او هنري ګوتو چاپ‌ته تیارکړو.

د سل ګونو کتابونو د چاپ زیار ایستونکی د پښتو ژبې ستر لیکوال اوشاعر ښاغلي بصیر بیدار ستوري نه نړۍ نړۍ مننه چې د «ویښ اند» په‌چاپ کولو کې پوره پوره زیار ګاللی دی ، د پښتون فکر خاوندان پیاوړي ملګري ښاغلي وکیل سرور یوسفزي او ښاغلي اضغر یوسفزي یوه دنیا مننه چې ددې کتاب ځینې شعرونه ئې پخپلو خوږو اوازو نو دیکلمیه کړي دي .

په‌ډیر درنښت
نسیم ستوری



نسیم ستوری د ډاکتر کبیر ستوري زوی او د لعل محمد خان لمسی په هډ پښتون او په ټبر میرداخیل چې د پښتنو د یوسفزو د پرگنی پورې اړه لرې.

نسیم ستوری د خاص کونړ د تنر په کلي کې په ۱۹۶۹ / ۴ / ۲۰ عیسوي کال کې زیږیدلی.

نسیم ستوري لومړنی زده کړه دخاص کونړ په ابتدائي ښوونځي ، ننگرهار په تجربوي لیسه ، پېښور کې د ائي ار سي لیسه او د جرمني د کولن په ښار کې د پیش کیمنازم کې او مسلکي زده کړه ئې د جرمني د کولن او برول په ښارونو کې چې د موټرو میخانیک او د کمپوټر تخنیک ورسه مل سرته
رسولې ده.

نسیم ستوري د شاعرۍ الهام نېغ په نېغه د خپل قام پرست پلار ډاکتر کبیر ستوري د فکر نه اخیستی دی ځکه ئې په شاعرۍ کې د قام پرستۍ رنگ ښه ښکاره او جوت دی.

نسیم ستوري لمړنی شعر د « ځلاند ستوري » تر سرلیک لاندې په ۲۰۰۷ / ۵ / ۱۲ عیسوي کال کې لیکی.